نرے نرے لوګے ترې خېژي
د چا په نوې یارۍ اور اولګېدونه

# پښتو ناول

# میلمنه

**پرویز شیخ**
**(ایم اے اردو ، انګلش)**
Ex.Subject specialist in English
& Principal (r)
Mobil#:0343-9643320



**ټول حقوق محفوظ دي**

د کتاب نوم : میلمنه

لیکوال : پرویز شیخ

اشاعت : نومبر 2014ء

کمپوزنګ: حبیب الرحمن (صافی)

شمېر: (200)

پرېس: اعراف پرنټرز محله جنګی پیښور
091-2580006

بیعه: (400) روپۍ

**د موندلو دړکونه**

یونیورسټی بک ایجنسی پیښور
یونیورسټی بک شاپ
دانش کتب خانه ډهکی نعلبندی پیښور

## تړون :

زۀ د دے ناول تړون پښتو عالمي کانګرس او په خصوصی توګه دَ کانګرس پرېس سېکټر،نوموړے شاعر، ادیب، نقاد، کالم نګار، په پښتو او پښتنو مئین ښاغلي حمیدالرحمن نآدان ته کوم او هیله لرم چې دَ هغۀ او دَ کانګرس دَ نورو عهده دارانو په ایثار، قربانۍ او هلو ځلو به داتړلنه تړل عمري دوام اومومي .

پرویز شیخ

نومبر ۲۰۱۴ء



## ﴿ړومبے باب﴾

نن سم دَ سحره دَ ډاکټر لائبې ښۍ سترګه رپېده او هر رپ سره به دَ هغې په مخ شفقي مسکا خورېده . داسې معلومېده چې دَ کائنات ټول رنګونه دَ هغې په مخ ګډا کوي او په ګډا ګډا کښې دَ هغې دُرشل ته ، دَ هغې کور ته او دَ هغې غېږې ته د یوې لوې خوشحالۍ زېرے راوړي ، هغه خوشحالي چې دَ هغې دَ ژوند لوے ارمان وو او دَ هغې راتلو ته هغه دَ ډېرې مودې نه سترګې په لار وه . "خو دا څنګه او څۀ رنګه کېدېشي ...؟ دَ پنځلس کاله شنډې زوجیت نه پس چې زمونږ تولیدي امیدونه ختم شوي دي ؟ نو بیا دا څنګه کېدېشي ...؟ نو، ناممکن Impossible ...کېدېشي څۀ بله خوشحالي راتلونکې وي .... Oh,yes,I see, I see پوهه شوم پوهه شوم . کېدېشي انصار ته دَ امریکې ویزه لګېدلې وي، هغه سپېشلائزېشن کولو پسې لېونے شوے دے او په دغه چکر کښې پرې اکثر چکر راځي . کېدېشي دَ هغۀ کار شوے وي خو دَ هغۀ تلو سره زما دَ خوشحالۍ څۀ تعلق دے ؟ آیا زۀ دَ هغۀ په تلو خوشحاله یم؟ آیا زۀ دَ هغۀ جُدائي برداشت کولې شم؟ ظاهره ده چې چرې هم نه ." دَډاکټر لائبې دَ خود کلامي دغه سلسله لا روانه وه چې دَ هغې په موبائیل دَ هغې دَ خاوند ډاکټر انصار له خوا رېنګ راغے . هغه مسکے شوه ، موبائېل یې o.k کړو او وې وئیل : "هېلو ډیر انصار، چرته یې او څنګه یې؟ دَ هغۀ له خوا اواز راغے ، "لائبې ، زه په اسلام



www.pukhto.net

آباد کښې یم ، مبارك شه زما په پاسپورټ دَ امریکې ویزه هم اولګېده ، ټکټ هم o.k شو او سبا دوه بجې دَ نورخان اېرپورټ نه زمونږ فلائټ دے . زۀ کور ته درځم ، نورې خبرې به بیا دغلته اوکړو." دَ هغۀ جُدائي اګر چۀ دَ هغې دَ پاره ناقابلِ برداشت وه ځکه چې په ایم بي بي ایس کښې هم هغوي کلاس فېلوز وو، په هاؤس جاب کښې هم یو ځائے وو او دَ هاؤس جاب نه پس دواړه شریك حیات هم شو او شریك روزګار هم شو خو دَ هغۀ دَ زړه ساتلو دَ پاره یې ورته اووې ، "ځه شکر دے چې ستا دَ زړۀ ارمان پوره شو " دې سره یې موبائېل بند کړو او په شوکېس کښې لګېدلے دَ هغۀ تصویر ته یې په ځیر ځیر کتل .

په دغه کتو کتو کښې هغه په ولاړه ولاړه ډېره لرې لاړه. هغه لا هغۀ سره دَ تصور په ائینه کښې دَ ماضي په وادیو کښې ګرځېده او مشغولېده چې دَ هغې ډرائېور غلې غوندې راغلے او هغې ته یې اووے ، "مېډم ، ګاډے تیار دے ." دَ هغۀ په دے ناګهانه غږ هغې دَ یرې نه داسې ټوپ اووهو لکه په بې خیالۍ کښې چې په چا دَ باؤ اواز اوشي . دَ هغې خیالونه داسې منتشر شو لکه په پرته شیشه چې دَ پاس نه یو غټ کانړے راپرېوځي او زره زره شي. بهر حال هغې خپله یره په مُسکا بدله کړه او ګاډي له روانه شوه . ډاکټر لائبه دَ ډاکټر انصار ښځه وه . دَ وادۀ نه پس دواړو په خپل پرائېوېټ هسپتال انصار هیلتهـ سنټر کښې کار کوو . دا هسپتال هغوي دَ مېټرنیټي هوم دَ یو څو کمرونه شروع کړے وو او په خپل محنت او قابلیت یې دَ لوے





هسپتال درجې ته اورسوؤ. دَ هر قسم ټسټونو دَ پاره خپلې خپلې لېبارټرۍ وې. ECG او الټراساؤنډ سهولتونه هم موجود وو او په اپرېشن تهېټر اولېبر روم کښې جدید ترین مشینرۍ هم موجود وې . دې نه علاوه دَ مریضانو او دَ هغوي دَ لواحقینو دَ پاره کمرې هم وې او دَ هر قسم دوائۍ دَ پاره دوکانونه هم وو. دَ ضرورت هر یو څیز دَ یو چهت لاندې په اسانه موندے شو او بهر تلو ته ضرورت نه پېښېدو. دَ نورو بیمارو نه علاوه په دے هسپتال کښې به اکثر دَ ښځو او دَ هغوي دَ ماشومانو کېسونه کېدل . په دے فیلډ کښې دَ هغوي دومره تجربه شوې وه چې څوك به دغلته تلل نو شفا به یې موندله . دَ کامیاب ډاکټرانو په حېث دَ هغوي متعلق دا مشهوره شوې وه چې ، "دَ ډاکټر انصار په یوه ستنه مړے رغېدے شي او دَ ډاکټر لائبې په یوه ستنه شنډے بوټے بارداره کېدېشي. هم دغه وجه وه چې دَ بال بچ نه مایوسه زنانه او دَ هغوي نارینه به اکثر دغه هسپتال ته راتلل او خوشحاله به تلل . دَ هغوي په علاج په زرګونو غېږې ډکې شوې او دغه ډکې غېږې ډکې په ډکې چلېدې خو دَ پنځلس کاله زوجیت باوجود دَ ډاکټر لائبې خپله غېږه ډکه نشوه . کله به چې دَ هغې په زړۀ کښې دَ میراثې خیال راغے نو دَ ډېر خفګان نه به پرې لړزه راغله . دغه حال دَ ډاکټر انصار هم وو خو هغه خپل خفګان دَ هغې نه پټ ساتو او هغې له به یې تسلي ورکوله. هغه دَ چا خبره چې "څوك وائي ، څۀ اوکړو؟ او څوك وائي، "څۀ یې کړو".دا



www.pukhto.net

خبره دَ هغې په زړۀ کښې ګرځېده او دَ هغې سترګه لا هغسې رپېده چې هسپتال ته اورسېده . هغه چې خپل کلينك ته ورغله نو ګلۍ او دَ هغې خاوند سوچي کاکا ړومبے نمبر نيولے وو او دَ هغې په انتظار کښې ناست وو. هغه چې په خپله کرسۍ کښناسته نو سوچي کاکا ته يې اووې ، "ښه روره تاته څۀ تکليف دے ؟" سوچي کاکا لکه چې دَ مخکښې نه جواب تيار کړے وو او هغې دَ پاره يې ساتلے وو. هغه ورته زر اووے ، "ماته هيڅ تکليف نيشته بي بي ، تکليف زما ښځې ته دے ." ډاکټر لائبې هغې ته اوکتل او ورته يې اووې،"دلته راشه بي بي ، ماسره جخته په دې کرسۍ کښېنه" . سوچي کاکا هغه دَ لاس نه اونيوه ، دَ خپل ځاے نه يې پاسوله او لاس نيولې يې هغې ته مخامخ په کرسۍ کښنوله . هغه يې هلته پرېښوده او خپل ځائے ته واپس شو او کښناستو ، دَ ګلۍ کښناستو سره دَ ډاکټر لائبې دَ سترګې رپا نوره هم زياته شوه . بهرحال هغې خپل ځان قابو کړو او هغې ته يې اووې، "تاته څۀ تکليف دے بي بي ؟" دَ هغې په تپوس هغه اوشرمېده او وې وئيل : "بي بي ، زما نظر کارنه کوي، شمکوره شوې يم ". "بيا خوته غلط ځاے ته راغلې بي بي ، ته شپږم نمبر کمرې ته ورشه ، هلته زمونږ ډاکټره ، مس طاهره ناسته ده ، هغه به ستا دَ سترګو چېك اپ اوکړ ي او نسخه به درته اوليکي ، دا کمره دَ زچه وبچه دَ پاره ده ."ډاکټر لائبې هغې ته په نرمه او پسته لهجه کښې اووے خو سوچي کاکا او ګلۍ دَ هغې په جواب مطمئن نشو. دَ





سوچي کاکا نه برداشت اونشو او دَ ګلۍ په ځاے ورته هغۀ اووے ،"بي بي دا شمکوره ده خو د دې دَ شمکورتيا وجه نوره ده . تۀ دې نه تپوس اوکړه ، دا به درته ټوله خبره په زَور زېر اوکړي" . بيا ګلۍ ته وائي، "جينۍ بي بي ته ټوله خبره اوکړه ". دَ سوچي کاکا په شاړه او بې ډبه لهجه هغې بد اونه ګڼل او ګلۍ ته يې اووې ، "بي بي ستا د بيمارۍ وجه څه ده ؟"دَ هغې په تپوس ګلۍ اوشرمېده ، دَ لوپټې پلو يې خولې ته اونيوو او په يره يره يې اووې، "بي بي زما دَ شمکورتيا وجه زما اميد دے". "څۀ مطلب ؟ زۀ ستا په خبره پو هـ نشوم" ، ډاکټر لائبې هغې ته په غټو غټو اوکتل . ګلۍ سترګې ټيټې کړې او وې وئيل ، "بي بي زما چې کله اميد پېدا شي، نو دا بيماري راباندې راشي او چې دَ ماشوم زېږون اوشي نو بيماري په خپله ښۀ شي."

ډاکټ لائبه :. اوه ، داسې تاسره مخکښې هم شوي دي ؟

ګلۍ :. نه بي بي په ړومبي ځل هيڅ نه وو روغه جوړه ووم خو په دوېم او درېم ځل راباندې دا بيماري راغلې وه او اوس په څلورم ځل راباندې بيا دا چل اوشو.

ډاکټر لائبه :. ستا خبره باکل ټېك ده . دَ حمل په وجه کله کله داسې کېږي خو چې حمل ختم شي نو بيماري هم ختمه شي .زۀ به درته في الحال يو څو نسخې اوليکم . دا به واخلې او د دې استعمال سره به ښۀ شې انشاء الله . خو دا دارو به باقاعدګي سره استعمالوې."هغه په يو کاغذ نسخه اوليکي او کاغذ هغې له ورکړي . ګلۍ چې دَ دارو



www.pukhto.net

کاغذ په لاس کښې اونيسي نو هغې ته وائي، " بي بي زۀ به دا دارو تر کومې پورې خورم ".

ډاکټر لائبه:. ترڅو چې ستا دَ ماشوم زېږون نه وي شوے نو دا دارو به خورې.

ګلې :. بي بي ، بي بي مونږ غريبانان يو، بې وسه يو، دا خبره زمونږ دَ وس نه بهر ده . زۀ خو . . .زۀ خو . . .(هغه چپ شي )

ډاکټر لائبه :. وايه وايه ، تۀ څۀ وېل غواړې؟

ګلې :. بي بي ، زۀ خو دې له راغلې يم چې . . . چې دا زمانه لرې کړې او د دے غم نه مِ خلاصه کړې . دَ هغې په دے جرأت ډاکټر لائبه هغې ته نيغ نيغ ګورې او وائي ، "تۀ خپل حمل لرے کول غواړې؟" دَ هغې دَ تپوس په جواب کښې ګلې سراوړکوو. ډاکټر لائبه دَ هغې په مطلب پوهـ شوه . هغې هغې ته ډېره شېبه په حېرانتيا کتل او بيا يې ورته دَ نصيحت په طور اووې ،" ګوره بي بي ، اولاد دَ خدا ے رحمت هم دے او نعمت هم دے . په خپل اولاد ناشکري مۀ کوه اودَ خدا ے دَ رحمت او نعمت دروازې په ځان مۀ بنده وه" دَ ګلې په ځا ے سو چې کاکا جواب ورکوي او وائي ، "بي بي ، زۀ به هغه اولاد څۀ کړم چې زما ښځه پرې دَ مرګ شي . زۀ غريب اوبې وسه سړے يم خو دَ خپل ضرورت دَ پاره مِ لس زره روپۍ راؤړے دي. دا رانه واخله او دا غم ترې لرے کړه . زۀ مزدورکار سړے يم ، مزدوري به کوم او که بال بچ او دَ ښځې الته پالنه به کوم ." هغه ګلې له دَ پېسو غوټه ورکوي او ورته





وائي،"دا روپۍ بي بي لـه ورکړه ." ګلې چې ډاکټر لائبې ته دَ پېسو غوټه اونيسي نو هغۀ ورته وائي ، "نه بي بي ، دا ځان سره کېږده . زۀ دا کار نشم کولې " ګلې چې هغې ته په مايوسه نظر اوګورې نو هغه ورته وائي، "بي بي زۀ هغه کار څنګه اوکړم چې الله پرې رانه ناراضه کېږي . بلـه دا چې ډاکټر هرچاله دَ ژوند ورکولو کوشش کولے شي خو دَچا ژوند اخلې نه، البته که تۀ دَ شمکورتيا خبره کوې نو دَ اوس نه واخله ستا دَ ماشوم دَ زېږون پورې به زۀ ستا علاج کوم او تاته به هيڅ قسمه شکايت نه وي . ستا شمکورتيا به بالکل ختمه شي ."

ګلې:. بي بي زما شپږ بال بچ نور هم شته ، زۀ هغوي نشم پاللې نو دا راتلونکے به څنګه اوپالم ." د ډاکټر لائبې په ذهن کښې يو ځل بيا هغه خبره راغلـه چې ،"څوك وائي، څۀ اوكړو او څوك وائي ، څۀ يې کړو" هغې يوه شېبه هغې ته په چپه خوله کتل ، بيا يې په مُسکا اووې ، "ستا دَ علاج ټوله خرچه هم په ما اوستا دَ بچي پالل هم په ما."

ګلې:. زۀ پوهـ نشوم بي بي ؟

ډاکټر لائبه :. زۀ به تانه ستا دَ علاج پېسې نه غواړم او تۀ به ماشوم نه غواړې . دَ هغۀ الته پالنه به په ماشي." دَ هغې په خبره دَ سو چې کاکا او ګلې خولې په خندا وازې شوې او دواړو په يوه خوله اووے ، "ډېره ښـه ده ، مونږ دې ته تيار يو خو تختې به نه ." بيا ترېنه هغې دَ حمل دَ تاريخ تپوس اوکړو او هغې هغه تاريخ او دَ متوقع ماشوم دَ زېږون متوقع تاريخ په خپله ډائرۍ کښې اوليکو . بيا يې دَ هغوي نه په يو



www.pukhto.net

لوے کاغذ اقرار نامه واخسته ، دَ هغوي ګوتې يې پرې اولګولې او په خپلـه ذاتي الماری کښې يې محفوظه کېښوده . دَ اقرار نامې ليکلو نـه پس دَ هغـې دَ سترګې رپا ختمه شوه او هغې ته داسې محسوسه شوه چې هغـه بـذات خـود دَ يـو مـاشـوم مور جوړېدونکې ده . دې احساس سره هغه خوشحاله شوه او ټوله دنيا ورته خوشحاله ښکارېده . دَ ډاکټر انصار دَ راتلو په خيال هغه دَ نور کله په نسبت کور ته وختې لاړه . هغې تر ناوخته پورې دَ هغهٔ دَ راتلو انتظار کوو او په دغه انتظار انتـظار کښـې دَ هغـې سترګې ورغلې . غوټه نيمه شپه وه چې هغه کـورتــه راغـی . ګاډے يې يـوخـوا تـه اودرو او غلـے غوندې دَ هغې کـمـرې تـه ورغـی . هغه په خپل بېډ کښې اوده وه او دَ هغهٔ تصوير دَ هغې په سينه پروت وو . هغهٔ چې هغې ته اوکتل نو مسکے شو يوه شـېبـه يې هغې ته کتل او بيا دَ هغې دَ کمرې نه اووتو او خپلې کمرې تـه لاړو . سـحـر چې په ناشته باندې دَ هغوي ملاقات اوشو نو دَ ډاکټر لائبـه پـه تپـوس بـانـدې هغـهٔ هغـې تـه ، اسلام آباد ته دَ تلو ، هلته دَ ايسـارېـدو او دَ واپس راتـلـو ټـولـه خبـره په خوند خوند شروع کړه او دَ نـاشتـې نـه پـس يې دَ واپس تلو خبره ورته اوکړه . هغې هغهٔ سره بله خبـره اونـکـړه ، غـلـې غـونـدې پاسېده او دَ هغهٔ دَ سامان پېکنګ يې شـروع کـړو . هغـهٔ چې ناشته اوکړه نو هغه هم ورسره شو او دواړو په شـريـکه پېکنګ کوو. دَ پېکنګ نه پس چې ډرائېور دَ هغهٔ سامان په ګـاډي کښـې کـېښـودو نو هغې دَ هغهٔ جُدائی برداشت نکړې شوه او





ډکې سترګې خپلې کمرې ته لاړه . ډاکټر انصار ته چې دَ هغې دَ خفګان احسـاس اوشـو نـو هـغـې پسـې دَ هغې کمرې ته ورغی او په مُسکا يې ورتـه پـه خوشګوار موډ کښې اووے ، "اوه مائي ډير وائف ، ته زما په تلو بـانـدې خفـه يې ، دا هرڅهٔ خو زهٔ ستا دَ پاره کوم . . .زهٔ څهٔ هميشه دَ پاره خو نه ځم " . ډاکټر لائبه هغهٔ ته په ډکو سترګو ګوري او وائي، "انصاره ، دَ شلو کالو رفاقت او دَ پنځلسو کالو زوجيت څهٔ وړه خبره نه ده . دا ناګهانه جُدائی زهٔ څنګه برداشت کولې شم ؟ impossible .

ډاکټـر انـصـار:. ريـلېکس پليز . زهٔ څهٔ دَ ټول عمر دَ پاره خونه ځم. دوه څلـور کالـه بـه هم تېر شي او بيا به ټول عمر يوځائے يو. ستانه بغير زما بل څوك دي ؟

دَ هغهٔ په روستی خبره هغه مسکی شي او هغهٔ ته وائي، "داسې مهٔ وايـه پـليـز ، ستـا يـو مـېلمه يا مېلمنه هم راتلونکې ده . زمانه زيات دَ هغهٔ يا هغې دَ راتلو او مستقبل فکر پکار دے ." دَ هغې په خبره هغه هـغـې تـه په حېرانتيا ګوري او چې کله هغه په موسکو سترګو هغه لـه پـه سـترګـو سـترګـو کښـې يـقيـن دهـاني ورکړي نو دَ هغهٔ په مخ مُسکا خوره شي او وائي ، " Is it so? " هغـه يوځل بيا مسکی شي او وائي ، "Yes it is true " دَ هـغـې پـه انکشاف دَ هـغـهٔ پـه زړهٔ دَخوشحالی چپې او دَ هغهٔ په بدن کښې جُنبش راشي او وائي، "اوه، دومره لويه خوشحالي تامانه پټه ساتلې وه ؟"

ډاکټـر لائبـه :. انـصـار ، دا بـه تـر اخره پورې پټه وه خو که تهٔ فارن ته نهٔ



www.pukhto.net

تلـے. اوس چـونکه ته په لوے سفر روان یې نو تاته مې ځکه اووې چې په ما دے څۀ بدګماني رانشي ."

ډاکټرانصار: بدګماني او په تا؟ په تېرو پنځلسو کالو کښې آیا داسې څۀ شوي دي ؟ لائبې ، دا ستـا وفـا ده چې دَ بې اولادۍ باوجود یې زۀ ستـا پـه وفـا کـلك اودرولې یم او اوس چې ته ماله دَ یو ښکلے ماشوم ګُلـدسته تیاروې او دَ تحفې په طور به یې دَ هغۀ په شکل او دَ هغۀ په لاس راکـوې نـو زۀ بـه ستـا پـه وفـا څـنګه شك اوکړم . لائبه مائي ډیر لائبـه ، وایه د دے غیر متوقع زیري په خوشحالۍ کښې تاله څۀ انعام درکړم ؟"

لائبـه لادَ انـعـام پـه بـدله کښې څۀ سوچ کوي چې هغه ورته په فخریه لهـجه کښې په شاهانه انداز په اُردو کښې وائي ، " مانگ میری محبوبہ مانگ۔ جو کچھ مانگنا ہے مانگ، ابھی موقعہ ہے۔ بول کیا چاہیے؟ "دَ هغه په مصنوعي انداز او جلال هغه په خندا شوه او په خندا خندا کښې یې غلې غوندې اووې، "مُهـرِ وفـا " دَ هغې په دے دومره ورو کي خواهش هغه مُسکے شو، هغې ته ورنزدے شو او دواړو دَ یو بل په شونډو دَ وفا مهرونه اولګول، دې سره ډاکټر لائبې هغه په ډکو سترګو رخصت کړو.

دَ هغـۀ دَ تـلـو نـه پـس هغـې خپـل مصروفیات بیا شروع کړل. خپل هسپتال ته به دَ معمول مطابق تله او ماښام ماسخوتن به خپل کورته راتـلـه . ګلۍ به میاشت په میاشت چېك اپ دَ پاره هسپتال ته ورتله . هغـې له به یې دارو دُرمل هم ورکول او دَ ماشوم په حقله به یې ورسره





خبـرې اتـرې هـم کولـے. په دغه تلو راتلو کښې دَ ګلۍ او ډاکټر لائبه دَ مـریض او ډاکټر رشتـه په خورولۍ کښې بدله شوه او دَ سو چې کاکا او دَ ډاکټـر لائبـې رشتـه دَ رور خـور پـه رشته کښې بدله شوه. دَ هغوي دَ رورولۍ او خورولۍ دا رشتې دَ دواړه طرفېن دَ مجبورۍ په وجه جوړې شـوې کـېـنې هغه دَ چا خبره چې، "چرته لعل او چرته کوتی لعل" .دَ ډاکټـر لائبۍ او دَ هغې دَ خاوند شمار دَ ښار په معززینو او امیرو کورنو کښې وو او سو چې کاکا یو غرېب سړے وو . هغه په ذات شاه خېل وو او پـلار پـه نیـکـۀ دَ زوړ کـلي دَ خانانو کسب ګر وو. دَ هغۀ خپل نوم ګـلالـے وو او دَ مـور پلار ایکـے یو زوے وو. دَ ګلالي پلار تورخان بابا بـوډا سړے وو خـو پـه دغـه تپـه تـوپه ځانګې ډېر تابعدار او خدمتي سړے وو. دَ خپل کسب نه علاوه هغه به دَ هر چا منډه تړه کوله، که هغـۀ به دَ ډالۍ اوړنه راؤړنه وه ، څۀ سوال جواب به وو ، دَ چا له خوا دَ اښتـنـې پـوښتـنې بیګار به وو ، دَ کټونو بوټل به وو او که دَ غم ښادۍ خبر بـه وو. خبـرلـوث دومـره وو چې یـوه خبـره به یې شروع کړه نو په هغـې بـه لـګیـا شـو. بیـا به په هغه خبره کښې نورې خبرې راغلې او چې هغه به یې ختمه کړې نو خپلې زړې خبرې له به بیا واپس راغۍ او شروع بـه یې داسې اوکړه چې ،"ښۀ نو ماوے چې ...." دَ عمر دَ زیـاتي او دَ حافظې دَ کمي په وجه به چې ترېنه کله کله خپله بنیادي خبـره هېره شوه نو مخاطب نه به یې تپوس اوکړو ، "ماځۀ خبره کوله ګـله ؟ او بیا به یې ناګهانه په خپله اووے ، "هاؤ رشتیا رایاده شوه راته



www.pukhto.net

..."که چابه کټ ښلو له بوتلو او دَ هغه دَ حوصله افزائي دَ پاره به چا اووے ، "بابا تهٔ خو ډېر ښائسته او ګلدار کټ ښے ، دا چل درته چا ښودلے دے ؟" نو بيا به هغهٔ دَ خپلو مشرانو ، دَ هغوي دَ کارګردګي او دَ هغوي دشغل خبره شروع کړه . دَ هغوي دَ خرِ پړانګي سپي خبره به پکې هم راغله او دَ تور بو چي سپي خبره هم . په دې دې کښې به دَ هغوي دَ ښکاري سپي لړمي خبره هم راغله او دَ لړمي دَ مور سينګۍ او دَ هغوي دَ شجرې خبره هم راغله . که دَ هغهٔ دَ ذات په باره کښې به ترېنه چا تپوس اوکړو نو هغه به مسکے شو ، په ژامه کښې پرته دَ نسوارو چونډۍ به يې دَ مسواکې ګوتې په تهامکش دَ خولې نه اوويستله او لړه به يې کړه ، په نسوارو ککړه ګوته به يې متهې ګوتې پورې ترهغې مړله چې دَ نسوارو ټول پوټې به ترينه پرېوتل . بيا به يې دَ ډبلې نه يوه چونډي نسوار په تلي کښې واچول او تر هغې به يې ورسره متهے او اوږې وهلے چې دَ نسوارو دَ چونډۍ نه به يې بلورے جوړ کړو. دې نه پس به يې دَ دوو ګوتو په مرسته دَ بره ژامې په مخصوص ځاے کښې کېښودو او دَ شونډې موړه به يې په مسواکه ګوته داسې ټپوله لکه يوه مور چې خپل ماشوم زوے په بستره کښې سملو ي او په سينه يې رو رو ټپوي . بيا به يې دَ دواړو ګوتو نه دَ نسوارو پوټې اوڅنډل ، دَ تلي زيړ بخنه ګونه به يې په نوك اوګروله ، يو ځل به بيا مُسکے شو او په مُسکا مُسکا کښې به يې دَ نسوارو فالتو پوټېدَ خولې او شونډو نه په لمن يا دَ څادر په پسکي





صفا کړل او مخاطب ته به يې اووئيل ، ګله دا دَ ولاړې خبره نه ده ...کېنه ګله چې خبره دے راياده کړه نو اوس غوږ شه چې پوره يې وورے ." بيا به شروع شو ، "ګله زمونږ ذات شاخېل نه دے بلکه شاه خيل دے . شاه باچا ته ويلے کېږي او خېل کورنۍ او قبيلې ته وېلے کېږي . دَ شاه خېل معنیٰ ده شاهي کورنۍ ، تهٔ پو هـ شوے په خبره ؟ بالکل داسې لکه خان او خانخېل يا ميا او مياخېل ...دغسې ورپسې ځه" بيا به يې دَ خپل ذات او شجرهٔ نسب وضاحت شروع کړو او په دې دې کښې به يې خپله شجرهٔ نسب دَ بغداد عباسي خاندان ته اورسوو . که هغه به ترېنه دَ دليل تپوس اوکړو نو هغهٔ به په سړه سينه جواب ورکړو ، "زهٔ بې بنياده او بې دليله خبره نه کوم. ماسره اګر چه ليکلې شوې شجره نېشته خو د دے ضرورت هم نيشته ، زمونږ شجره سينه به سينه را روانه ده او ماته ټوله زباني ياده ده "بيا به شروع شو ، " زهٔ يعنی تورخان ابن انځر ګل ابن پشم ګل ..." او په دې دې کښې به عباسي کورنۍ ته اورسېدو . په شجره کښې به هغهٔ ځان سره دَ تاريخ اهم سياسي ، فوځي او مذهبي مشران هم رااولړل او هغوي به يې هم دَ خپل خېل په اهم شخصياتو کښې شامل کړل . بيا به شروع شو، "زمونږ مشران دې علاقوته دَ غذا په نيت راغلي وو او دا ټولې علاقې هغوي پتح (فتح) کړي دي . که هغوي غوښتل نو زمونږ دَ کورونو دېوالونه او ورونه به دَ سرو، سپينو وو خو هغو ي دا لالچ نه کوو. زمونږ مشران دَ خپل نيکه بالولِ دانه



www.pukhto.net

(بهلولِ دانا) په پل روان وو ، لکه څنګه چې هغه باچې (بادشاهۍ) له لتـه ورکړے وه او پکيـري (فقيري) يې کبوله (قبوله ) کړے وه ، دغه حال زمـونږ هـم دے ".دَ کلي دَ خلقو دَ نورو خدمتونه علاوه هغه به هنـډرغـوايـان او سخوندران هم خصيان کول . هغه په دے فن کښې دومـره مـاهر وو چې دَ لرې لرې نه به ورله خلقو سخوندران راوستل او هغـه بـه خصيـان کول ، هغه به چې کوم ښاروے يو ځل اوټکوؤ نو دَ بيا ټـکولـو ضـرورت نـه وو بـلکه په ړومبي ځل به دَ ښاروي توليدي رګونه مړۀ شو .

ګُلالـے چې بوغورکے شو نوپلار ورله وادۀ اوکړو چې نسل يې زيات شي او متے يې مضبوطے شي. دَ هغۀ وادۀ اوشو خو دَ څو کـالـونـو دَ انتـظـار بـاوجود هم دَ هغـۀ دَ زړۀ ارمان پوره نشو او دَ ړومبۍ ښځې نه يې هيڅ اولاد اونشو . دَ بې اولادۍ په غم او دَ ميراتې پـه پـېـغـور هـغـه څۀ مـوده کـړېده کړېده او اخره مړه شوه . دَ هغې په مرګ تورخان بابا ته سخته ذهني صدمه اورسېده ځکه چې دَ هغوي دَ اخلي پـخـلي کـارخـراب شـو نـو هـم په دې وجه يې ورله په مياشت کښې دنـنه دننه بل وادۀ اوکړو . څۀ موده پس د هغې هم دغه حال شو او هـغــه هـم دَ اولاد پــه ارمـان مـړه شوه. دَ پرلـه پسې دَدوو ښځو دَ بې اولادۍ او دَ هغوي دَ مرګ په وجه دَ کلي خلقو ګلالي پسې هم خبرې شـروع کـړے او دَ هـغـۀ پلار تورخان بابا پسې هم . ګلالي پسې داسې چې دَ هغۀ متعلق دا مشهوره شوه چې هغه نامرد دے او تورخان بابا





پسـې داسې چې هـغـۀ دَ بې زبانه ښاروو نسل کشی کړے ده او کوي نـو پـه دې وجـه خُدائے دَ سزا په طور دَ هغۀ نسل کشی کوي . دا خبره چې دَ تورخان بابا غوږ ته اورسېده نو هغۀ دَ سخوندرانو خصي کولو نـه تـوبـه اوويستـلـه خو هغه دَ کلي دَ خلقو دَ رويې نه دومره بددله شو چې دغـه صـدمـه يې برداشت نه کړے شوه او يو څو ورځې پس هغه هـم مـړشـو . دَ هغۀ دَ مرګ نه پس چې دَ ګلالي دَ نامردۍ خبره دَ هغۀ غـوږ تـه اورسېده نو هغه دَ ډېرخفګان نه سودائي شو . هر وخت به په لاروکـوڅـو او شـاړو ويـجاړو کښې اواره ګرځېدو ، خپلې ګوتې به يې شـمـارلـے او ځان سره به يې څۀ وئيلـے . ورځ به تېره شوه ،شپه به تېره شـوه خـو دَ هغه دَ ګوتو شمار به تېر نشو او هر وخت به په سوچونو او فـکرونو کښې ډوب وو. نۀ يې چاسره خبرې کولـے ، نه يې په چاسلام اچـوو او نـه يې دَ چا سلام اخستو . هم دغه وجه وه چې هغه دَ ګلالي نه په سوچي او بيا روستو په سوچي کاکا مشهور شو. دَ سوچي کاکا حـالت انتهائي قابلِ رحم وو. دَ هغه د خدمت او اخلي پخلي هېڅوك پـاتې نشـو. دې سره سره به هر چا ورپورې خندا کوله او په خندا خندا کښې به يې ورته عـکسې خبرې کولـے. تردے چې هغه ته په مخامخ څـوخـو ځله نامرده اووېلے شو. دَ کلي محلت ښځواو جينکو ته دومره سپك شـو چې هـغـوي بـه دَ هغه نه ستر پړده نۀ کوله او په خندا خندا کښـې بـه يې دا جـواز پـېـش کوو چې ، "خوارې دۀ نه به لاڅوك ستر اوکړي ، دے هم زمونږ غوندې دے ." دا ټولې خبرې به هغۀ اورېدے



www.pukhto.net

خو هغهٔ پرې داسې ځان کوڼ کړے وو لکه چې هغه نه دَ هغوي خبرې اوري او نه پرې پو هېږي .

دَ کوم ذهني اذیت او کوفت نه چې هغه تېرېدو دَ هغه دردناکو مرحلونه گلې هم تېرېده . دَ گلې او گلالي دَ ژوند قیصې که یوه نه ده خو یو شان ضرور ده . هغه هم دَ بې اولادۍ په وجه په ځوانۍ کښې دوه ځله طلاقه شوې وه او دَ ژوند نه مایوسه دَ پلار په کور ښهٔ په پخه ناسته وه . هغه په زنانهٔ کښې دَ میراتې او طلاقنې په نوم مشهوره وه . دَ کلي پېغلو به دَ هغې نه مخ اړوو چې چرته دَ هغې غوندې نشي . هغه دَ کلي دَ غم ښادۍ او مړې ژوندي نه اوتې وه او که چرې دَ خپلې یاندې به وادهٔ ښادۍ له لاړه او دَ ناوې دَ لیدو خواهش به یې اوکړو نو په څهٔ انه بهانه به دَ کوره اوویستلې شوه چې په ناوې دَ هغې سیورې اونشي . دَ هغې دَ مور پلار دَ مرگ نه پس دَ هغې دَ ژوند او امید ټولې سهارې ختمې شوې. هغې دَ ځو ځو کورونو بیبیانو ته دَ یوې خدمتگارې په حېث خپل خدمات پیش کړل خونه پرې چا جهارو اووهله او نه پرې چا لوښې او جامې اووینځلې . چې اونشوه نو بیا به یې په خپلو لاسونو گټهله او په خپله به یې ځټله . دَ هغې مزدورۍ دا وه چې په لاروکو ځو کښې به یې سوتې غونډولې ، دَ هغې نه به یې سپیاکې اوسکرې جوړولې او هغه به یې په کولالانو دَ پجې دَ پاره خرڅولې. په منې کښې به یې وړې سپینول او په غنم لو کښې به یې دَ غنمو موتې هم کولې او گونډے به یې هم صفا کوو.





په دغه درمنونو کښې دَ هغې اوسو چې کاکا ترمینځه خبرې جوړې شوې . سو چې کاکا به خپله زړهٔ ستړه هغې ته کوله او هغې به دَ خپل غمونو داستان هغهٔ ته وېلې . په دغه وېلو اورېدو کښې دَ هغوي یو بل سره همدردي جوړه شوه . دغه همدردي په یو ځو ورځو کښې په دوستانه کښې بدله شوه او دغه دوستانې دَ ښځې خاوند شکل اختیار کړو . چې دَ هغوي نکاح اوشوه او خلق ترې خبر شو نو دَ کلي خلقو وریورې خاندل او په خندا خندا کښې به یې دا وئېل "مولا جوړ په جوړ کړل ، سو چې کاکا نامرد دے او گلې مېراته ده ." هغوي پسې ډېرې خولې او ډېرې خبرې وې خو هغوي دَ هیچا دَ خبرو هیڅ پروا نه لرله . هغوي دواړه دَ یو بل ضرورت وو او دَ هغوي وادهٔ صرف دَ ضرورت او مجبورۍ وادهٔ وو . دواړه دَ ژوند ناکړدو ، کړمو او ترسکو وهلي وو ، دواړه دَ مینې اوږي او تږي وو او دواړه دَ یو بل په مینه نه مړېدل . هغوي دواړه به کور په صحرا یو ځائے وو . چې دَ غنمو په سیزن کښې به سو چې کاکا راشپېل ویشتو نو هغې به ورپسې جهارو وهله . دَ وړو په سپینولو کښې به هم دواړه یو ځائے وو او دَ وړو په تکولو کښې هم . دَ مشرخان حجره به هم دواړو یو ځائے جهارو کوله او خزله به هم دواړو یو ځائے غورځوله .

وېلے کېږي چې ښځه خوشحاله وي نو ټوله دنیا خوشحاله وي ، چې خاوند خوشحاله وي نو الله خوشحاله وي او چې دواړه خوشحاله وي نو دَ هغوي کور په ژوندني جنت دے . دا مثال دَ هغوي



www.pukhto.net

هم وو. دواړه ښه خوشحاله ژوند تېره وو . دا دَ هغوي دَ خوشحاله کور نتیجه وه چې هغوي له خدایے دَ وادۀ په رومبي کال دَ عادل او شېردل غونډے غبرګ نعمتونه ورکړل . دَ هغوي په زيګون يوخوا دَ سو چي کاکا خوله دَ ډېرې خوشحالۍ نه نۀ راغونډېده بل خوا ګلۍ په جامو کښې نه ځائېده ځکه چې دَ هغوي راتلو سره ترېنه دَ ميراتې نوم لرے شو. دَ هغوي زېګون سره دَ سو چي کاکا سوچ په ځائے شو او دَ هغه نه دَ نامرده ټکے هم لرے شو خو دَ سو چي ټکے ترې لرې نشو. دوه کاله پس دَ ګل ولي او خان ولي په شکل کښې خُدایے دوه نور غبرګوني اولاد ورکړو. درے کاله پس دَ قدير او کبير غونډې دوه نورې غبرګونې ډالۍ خدایے ورکړے او اخري نعمت يې ډاکټر لائبې له دَ ډالۍ په توګه اوساتو.

★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★

★★★

★





## دوېم باب

زوړ کلے دَ نوم په لحاظ هم زوړ وو او دَ ابادۍ په لحاظ هم زوړ وو . د دے کلي ټوله ابادي کچه او دَ خټو لوټو زاړۀ کورونه وو البته دَ خان بابا کور اودَ هغه لويه حجره پخه وه . زوړکلے ، همايون کلے او اکبر کلے ، دا درے واړه کلي او د دے کليو نه چاپېره په زرګونو جريبه جائيدا دَ خان بابا ملکيت وو. دا درے واړه کلي دَ سپين نهر په پرتيزه او اوچته غاړه په لږه لږه فاصله باندې پراتۀ وو . دا نهر دَ غريزو چينو اوټکرونه راوتے وو ، دَ خان بابا په زمکه کښې تېر شوے وواو مخکښې تلے وو . په دے باندې ځائے په ځائے ټکرونه وو او په دغه ټکرونو ورې ورې جرندې جوړې شوې وې چې هغه ټولې دَ خان بابا وې. د دے اوبه دومره سپينې وې چې دَ نهر په وېخ کښې شګې ، کانړي او دَ کانړو رنګونه صفا ليدے شو . دَ نهر ختيزې غاړې ته پوخ سړك وو چې د هغې سر دَ خان بابا حجرې ته رسېدلے وو او خوله يې دَ ښار په لوے سړك پرته وه . په نهر باندې واړۀ او لوے پولونه جوړ شوې وو چې دَ کلي خلق او ګاډي به پرې تلل راتلل . دَ نهر ختيزې غاړې ته ، دَ پوخ سړك او نهر ترمينځه په مناسبه مناسبه فاصله باندې ، تر لرې پورې دَ خراولو اونې ولاړې وې چې اکثر پکښې دَ نهر اوبو ته سلامي شوې وې او دَ هغوي نرۍ اوږدې ښانګې او پاڼې لکه دَ ترېو خولو په دغه يخو اوبو کښې به اوږې ژمې پرتې وې خو په مودو مودو يې تنده نه ماتېده . په اوړي کښې به دَ کليو بوډاګان ، مشران دَ



www.pukhto.net

اونو په سيوري بريندې خېتې په کتونو کښې پراتۀ وو، دَ ګرې شريتونه به يې کول اوڅکل ، دَ زړې زمانې خبرې به يې هم کولے او په اونو کښې به يې دَ چنچڼو ، خاروګانو ، توريانکو او ګوګو شتکو خوارۀ اوازونه هم اورېدل ، دَ اوبو دَ پاسه دَ شنو مچانو ډلو ته به يې هم کتل او دَ جنتي تنتنکو نظارې به يې هم کولے . هلکانو او زلمو به دغه اوبو کښې لامبل ، کله به يې يو بل اوبو ته ديکه کول او کله به يې په دوه کسه يو هلك دَ لاس پښو نه اونيوو ، ټالې به يې ورکولے او په دغه ټالو ټالو کښې به يې نهرته ويشتو . ځينے هلکان به اونو ته اوختل او دَبره نه به يې نهرته ورټوپ کړے . يو خوا به دغه مستۍ کېدې ،بل خوا به دَ مدرسې ځينے طالبان دَ اونو په سيوري پټ ناست وو، چا به خپل حفظ پخوو او چابه دَ ګرائمرو ګردان کوو . چې کله به دَ باران په وجه دَ نهر اوبۀ خړې شوې نو دَ زلمو وريځي به هم خړې شوې خو ورو هلکانو به پکښې په دے غرض لامبل چې په خړو اوبو ګرمکې ماتېږي او اوچېږي . دے نهر نه دَ خان بابا زمکه هم اوبۀ کېده او لاندې به دَ لېوني خپلو زمکه هم اوبه کېده . دَ خان بابا دَ زميدارو او دَ ليوني خپلو ترمينځه به دَ نهر دَ اوبوپه تړلو او پرېښودو اکثرجنګ جهګړې کېدې . دَ سوك سپېړي نه علاوه کله کله به پکښې غابن ماتې او سرماتې هم کېده خو چې مُليان او عالمان به ترمينځه شو نو روغه جوړه به اوشوه . خان بابا دَ غټې سينې او فراخه ذهن خاوند وو . هغۀ دغه وړو وړو جهګړوپسې مخه نه اوړه ، اکثر به





يې خپل زميدار ملامته کړو او دَ جرګې دَ مشرانو خبره به يې اومنله خو لېوني خپل فطري شرپسند او ځان خوښخي وو . دَ هغوي مشر دَ خپل سر دَ پاسه بل سر نه منو او په څۀ ناڅۀ طريقه به يې هغۀ ته اوبۀ خړولے : هغه اګر چه يو وزرے ووخو چې کله به دَ هغوي زياتې دَ هغه دَ زغم نه اووتو نو ټول زميدار ، نوکران او کسب ګر به يې په يو شپيلي راغونډ کړل او داسې حمله به يې پري اوکړه چې رڼا ورځ به يې پرې توره شپه کړه او په خپلو کورونو کښې به يې دَ پټېدو ځائے نه خوښخېدو . دَ پرله پسې دَ ماتې نه پس دَ هغوي لشه پسه شوه، ښه يې مړه شوه او دَ کبر نشه يې داسې ماته شوه چې هغه دَ چاخبره بيا غوښتو ته هم نه چغېدل . په دې دې کښې هغوي دومره پرېوتل چې خان بابا به پري لړې خپې اوترپولے نو سرونه به يې ټيټ کړل او کورونو ته به ننوتل . څۀ موده پس يې خان بابا سره ښۀ پخه روغه اوشوه او خپلو کښې اونختل . خان بابا دَ هغوي دَ دشمنۍ په تود تنور خپلې ډوډۍ پورې کولے ، په هغوي يې نړولے او په هغوي به يې خوړلے . په دې دې کښې يې دَ هغو ي نه ټولې زمکې بېعه واخستے او دَ هغوي دَ جنګ شر نه همېشه دَ پاره خلاص شو خو هغه دَ چا خبره چې پړے اوسوزي خو ول ترې لاړ نشي . بيابه هغوي په هغه زمکو ګرځېدل ، په زړونو کښې به خُټکېدل او دا به يې وئيل چې دا زمکې زمونږ نه په چل ول تلي دي ،نه ابۍ ګوته لګولي ده او نه سابۍ ، خو اوس هغوي هيڅ نشو کولے ، هغوي صرف دَ تبې دَ



www.pukhto.net

تاوه لګياوو.

دَ خان بابا درے زامن وو. دَ مشر نوم افضل خان وو، دَ دويم نوم همايون خان وو او دَ دريم نوم اکبرخان وو. دَ خان بابا دَ مرګ نه پس افضل خان ته دَ کورنئ دَ مشرئ پټکے په سر شو . دَ زوړ کلي کور او حجره هغهٔ ته ورکړې شوه او چې کله دَ جائيداد وېش اوشو نو سل جريبه زمکه ورته دَ حجرې دَ خرچې دَ پاره ورکړې شوه ، همايون خان په نوے کلي کښې ځان له خپله بنګله او حجره جوړه کړه او څهٔ موده پس دغه کلے دَ هغهٔ په نامه ، همايون کلے ، مشهور شو . دغه رنګې اکبر خان په سرکلي کښې ځان له خپله بنګله او حجره جوړه کړه او دغه کلے دَ هغه په نامه اکبر کلے ، مشهور شو. اګر چه دَ هغوي زمکې ، کورونه او حجرې او ګټه وټه بيله شوې وه خو دَ هغوي رورولي نه وه بيله شوې. دَ هغو ي غم ښادي ، اختر ادينه او هره مشوره او فېصله به دَ مشر خان په لويه او دَ مشرئ په حجره کښې کېده . يوائې دانه بلکه هغوي به دَ خپلو زميدارو او کسب ګرو فېصلې هم اکثر مشرخان ته سپارلے او چې هغه به کومه فېصله په کومه طريقه او په کوم رنګ اوکړه نو په هغې به بل رنګ نه ختو . همايون خان او اکبرخان سرکاري افسران وو او دَ خپلو زميدارو او کسب ګرو فېصلې ته اوزګار نه وو . همايون خان په اسلام آباد کښې DMG افسر وو او اکبر خان په اُرمي کښې کرنل وو. مشرخان اګر چهٔ سرکارى افسر نه وو خو په عوامي سطح باندې لويه ستړه وه او ډېر اثررسوخ يې لرلو. هرې





سياسي ډلې او سياسي ليډر سره دَ هغهٔ رابطې او دوستانې وې.

مشرخان له خُدائے ډېره ښهٔ کانتې ورکړے وه. دَ هغهٔ عمر دَ شپېتو کالو نه اوختے وو خو نه دَ هغهٔ په قيافه او اعضاء کښې څهٔ فرق راغلے وو او نه يې په ملا کښې خم راغلے وو. دَ هغهٔ همځولي بوډاګان شوي وو په همسا ګرځېدل او دَ هغهٔ روغ صحت ته پسخېدل. هغه په اونه غنه ، رنګ جُثه او خوي بوي کښې خپل پلار خان بابا ته تلے وو . لکه دَ هغهٔ لوړ دنګ دروند وجود ، درنې خبرې ، سورسپين مخ، غټې شهلا سترګې ، تورې سپينې ګورې روځې او لکه دَ هغهٔ به يې هر سحر کلين شيو کوو. په ژمي کښې به يې دَ خرې خامتا درنې جامې ، توپۍ او جېکټ اغوستو او په اوړي کښې به يې دَ ململ سپينې جامې ، سپينه توپۍ او سپين جېکټ اغوستو . دَ هغهٔ دَ حجرې رونق دَ مغلو دَ دربار نه کم نه وو. سو چې کاکا به هر سحر دَ هغهٔ حجره جهارو کوله ، دَ هغهٔ تربورانو به دَ حجرې چهړکاؤ کوو، چمن او بوټې به يې اوبهٔ کول دَ هغهٔ دَ حجرې په چهترې نما سپر کښې پراتهٔ دَ غټو غټو کټونو لنګې به يې راخکلے ، بټيارانو به منګي او چاټې دَ تازه اوبو نه ډکولے ، نائي به هر سحر دَ هغهٔ حجامت کوو ، دَ ضرورت مطابق به يې دَ هغهٔ دَ لاس پښو نوکونه پرېکول ، دَ هغهٔ اوږې او مټې به يې منډلے ، دَ هغهٔ دَ سرمالش به يې کوو او په اخره کښې به يې دَ هغهٔ دَ لاس پښو دَ ګوتو نه ټکونه ويستل . دَ هغهٔ دَ ټولو زميدارو دَ کورونو نه به يو يو مشر هر سحر دَ



www.pukhto.net

هغهٔ حجرې ته دَ هغهٔ سلام له ورتلو. هغهٔ سره به يې دَ زمکې او فصل په باره کښې خبرې هم کولے ، په نوې تازه به يې تبادله خيال هم کوو او دَ هغهٔ نه به يې هدايات هم اخستل ، چې کله به هغهٔ مطمئن شو نو بيا به يې دَ هغه نه اجازت واخستو او خپلو خپلو کارونو له به روان شو ، هره جمعه به دَ کلي باټ سحر وختی دَ هغهٔ حجرې ته راتلو او په خپل مخصوص انداز او اواز به يې دَ خلقو په مخکښې دَ هغهٔ منظوم شجره نسب بيانوو . کوم کار به چې بهر نارينه کسب ګرو کوو هغه کار به دَ هغهٔ په کور کښې زنانه کسب ګرو هم کوو. مشرخان دَ حجرې مغلِ اعظم وو او مشره بي بي دَ کور ملکهٔ عاليه وه . دا ټول زميدار ، کسب ګر او کسب ګرې په خپله مرضۍ او خوشحالۍ راتلې او هغه هيڅوك نه مجبورل . زميدارو دَ هغهٔ زمکه کرله او کسب ګرو دَ هغهٔ ملکانه خوړله . دې نه علاوه د هغوي دَ جنګ جهګړو فيصلې به يې هم کولې او دَ هغوي دَ تانې تحصيل منډه به يې هم کوله . دغه رنګې به مشرې بي بي دَ زنانهؤ دَ جنګ جهګړو او ورکړې راکړې فيصلې کولې او چې کله به هغوي ته په فيصله کښې څهٔ کړمه پيښه شوه نو خپلو کښې به يې يوبل سره مشورې هم کولې .

دَ مشرخان دوه زامن او دوه لونړه وې. شاکرخان ، زاهد خان ، حنا او بلقيس دَ هغهٔ دَ زامنو او لونړو نومونه وو. شاکرخان دَ پلار مشر زوے وو او دَ هغهٔ په صحبت کښې لوے شوے وو . هغهٔ هم لکه دَ





خپل پلار نيکهٔ خپلې زمکې سره ډېره مينه لرله . هغه لا دَ سکول طالب علم وو چې دَ مشرخان په وينا به يې خپلو زميدارو سره دَ فصل ، تخم او سرې حساب کتاب کوو ، هر زميدار له يې خپله خپله کهاته جوړه کړې وه او دَ زمکې دَ امدن ، خرچې او قرضې حساب به يې په هغې کښې ليکو . مشرخان په زمکه دَ ګرځېدو شوقي ووا و په هفته کښې به يو ځل دوه په خپله پوله پټي ګرځېدو خو دَ زمکې په فصل او اباده ، غېراباده يې هيڅ کار نه لرلو. کومې زمکې چې دَ خان بابا په وخت کومو زميدارو کرلے اوس هغه دَ هغوي زامنو او نوسو کرلے. هغوي دَ زمکې نه زيات خپلو څاروو او ډنګرو سره مينه لرله . هغوي به اکثر هغه فصل کرلو کوم به چې هغوي دَ خپلو څاروو دَ پاره دَ چارې په توګه استعمالوو، لکه شوتل ، رشکه ، خيد او مکۍ وغيره. ګنې ، غنم وجوار او شولې هم کرلې کېدې خو دغه فصلونه به دَ نورو فصلونو په نسبت خوار وو او بهوس ، ټانټې او پلاله به هم هغوي په خپل استعمال کښې راوسته . مشرخان دغه څيزونو پسې مخه نه اوړه . کوم فصلونه به چې دَ خان بابا په وخت کښې کېدل اوس يې هغه خوند نه وو. مشرخان دا پروا نه کوله څکه چې زمکه ډېره وه او هغه دَ چا خبره چې دَ ډېرو همسا او دَ يو ګېډے . دَ هغهٔ پرې خپله خانې چلېده خوشاکر خان دَ خپلو زميدارونه ډېر مايوسه وو. هغهٔ څو څو ځله دَ زميدارو خلاف دَ هغهٔ دَ غوړونو ډکولو کوشش اوکړو خو دَ هغوي دَ پشت په پشت دَ وفادارۍ او چاکرۍ په وجه هغه په خپل



www.pukhto.net

کوشش کښې ناکام شو. دَ هغهٔ خبرې به دَ مشرخان په يو غوږ لګېدې او په بل به وتې . چې کله هغه دَ خپل تعليم نه فارغ شو نو مشرخان هغهٔ له دَ ټولې زمکې اختيار ورکړو . هغهٔ ړومبے کار دا اوکړو چې ټول زميداريې خپلې حجرې ته راغونډ کړل او دَ هغوي نه يې دَ فصل او دَ حاصلات دَ کمي په باره کښې تپوسونه اوکړل . دَ هغه دَ تپوسونو په جواب کښې يو زميدار اووے ، ''خان جي زمکه راسره ډېره ده او زهٔ يو وزرے يم ، ټولې ته نشم رسېدے .'' دوېم اووے ، ''خان جي، مزدوران نهٔ پېدا کېږي او چې پېدا شي نو دومره خرچه پرې راشي چې زمونږ مول اوسود دواړه لاړ شي خپله دياړي هم راته نه پاتې کېږي.''درېم اووے ، ''خان جي، زميداري دَ کوهي ختمه ده ، دَ کوهي نه اوځي او په کوهي لګي .'' څلورم اووے ، ''خان جي ، مونږ ته دَ زميداري نه مزدوري ښهٔ پرېوځي . زميدارۍ کښې هيڅ نيشته، بس دغه څاروی مو پکښې ګټه ده ، چې اريان شو نو يو څارو ے خرڅ کړو او خپله اريانه پوره کړو .'' پنځم اووے ، ''خان جي دَ خپلې قلبې وس مِ نيشته او دَ ټرېکټر خرچه نشم برداشت کولے .کال راشي او کال تېر شي خو نه په خېټه ماړهٔ شو او نه موجامه نوې شي . مونږ باندې تخم ، ټرېکټر او سره تاوان شي.'' هغوي چې خپلې مسلې بيان کړے نو هغه په دې نتيجه اورسېدو چې زميدارو ته دَ ټرېکټر تکليف هم شته ، دَ تخم ، سرې بې وسې يې هم شته او دَ زمکې دَ کمي زياتي مسله هم شته . هغه ړومبے کار دا اوکړو چې نهري زمکه يې دَ





هغوي دَ استعداد مطابق په هغوي کښې تقسيم کړه . چې څوك يو وزرے وو، هغه له يې کمه برخه ورکړه او چې چا سره افرادی قوت زيات وو نو هغوي له يې زياته برخه ورکړه .

دې نه پس يې دَ مشرخان په اثر رسوخ وزير زراعت سره ليدل کتل اوکړل، دَ هغهٔ په ذريعه يې په خپله لويه حجره کښې دَ زرعي بېنك يوه څانګه پرانسته او دَ تخمونو او سرې دَ پاره يې يو ډېپو هم مقرر کړو. بېنك دَ ټرېکټرو ، سرې او تخمونو دَ پاره قرضه ورکوله او په هغه پېسو به هغوي خپل ضرورتونه پوره کول . ټرېکټرو دَ پاره هغه خپل نوکران اوساتل ، هغوي به دَ زميدارو دَ ضرورت مطابق دَ هغوي زمکې اړولے ، تنخواګانې به هغهٔ ورکولے او دَ تيلو خرچه به يې دَ زميدارونه اخسته .دې نه پس يې دَ محکمه زراعت ډائرکټر سره خبره اوکړه او دَ هغه په ذريعه يې دَ مختلف فصلونو نمائشي پلاټونه اولګول . دې نه علاوه مياشت په مياشت به يې زرعي ماهرين راغوښتل ،هغوي به دَ زميدارو په فصلونو ګرځېدل او هغوي له به يې دَ فصل په باره کښې مشورې ورکولے . کومه زمکه چې دَ سۀنو کالو راسې شاړه او جبه وه او دَ فصل په ځاے پکښې دَ اوبو ډنډونه او دَ لوخې ځنګلونه ولاړ وو، په هغې يې ټيوب وېلونه اولګول . دې سره زمکه هم اوچه شوه او دَ نورې زمکے دَ پاره دَ اوبو کمې هم پوره شو. بيا يې هغه زمکه څو څو ځله واړوله او چې کله سادين شوه نو بيا يې پکښې دَ خپل کلي ټول ډهېرانونه واچول او چې کله زمکه نرمه،



www.pukhto.net

پستـــه او بـور بـوری شـوه نـو دَ مشـرخـان پـه مشـوره یـې دَ زرعي یـونـېورستۍ وائس چانسلر سره لېدل کتل اوکړل او د دغه زمکې په بـاره کښـې یـې ورسره خبره اوکړه . یو څو ورځې پس وائس چانسلر او زرعي مـاهـریـن راغـلـل او دَ ټـولـې زمکې سروې یې اوکړه . بیا یې دَ مـخـتـلـفـو ځـایـونـو نـه دَ خاؤرې نمونې ځان سره یوړې او په لېباټرۍ کښـې یـې دَ هـغـې ټسټـونـه اوکـړل. یـو څـو ورځې پـس هغـه زرعـي یـونیـورسـټۍ تـه اوغوښتلـے شو او هغهٔ ته دَ یونیورستۍ دَ طرفه په دغـه زمکه دَ نماشي باغـونولګولو دَ پاره اووېلـے شو. هغه دَ مشرخان پـه مشوره هغوي سره متفق شو. دغه شان هغهٔ دَ زرعي یونیورستۍ په خرچه په دغه زمکه نمائشي باغونه اولګول .

کـوم بـوټـي چـې زیـات شـو هـغـه یې دَ زمیدارو پـه غاړو پولو اوکرل او هغو ي تـه یې اوسپـارل . اوس زمیـدار ډېر خوشحاله وو ځکه چې زمکې یې په ډېره کمه خرچه اړولې کېدې ، نوے نوے تخمونه او سرې هـم مـلاوېـدې او دَ ټیوب وېلونو په ذریعه دَ اوبو کمے هم پوره کـېـدو . دې نـه پـس یـې دَ زمیـدارو تـرمیـنځه دَ فصلونومقابلې شروع کړے . چې دَ کوم زمیدار فصل به ښهٔ او ډېر اوشو نو ټول زمیدار به یې خپـلـې حـجـرې تـه راغـونـډ کـړل او دَ هغوي په مخکښې به یې ورته دَ مشـرخـان پـه لاس دَ انـعـام پـه تـوګه په سر شنه لونګۍ اوترلې شوه . دا مـقابله به په هر فصل کښې کېده ، دې سره په زمیدارو کښې دَ مقابلې رجحان پیدا شو او دَ هر یو دا کوشش وو چې هغه انعام اوګټي.





## 《 دوېمه برخه 》

دَ سو چې کاکا ړومبۍ دوه ښځې دَ اولاد په ارمان مړې شوې او هـغـه کونډ او میراث پاتـے شو . هغه دَ نامردو په صف کښې شمار شو او پـه کـلـي مـحلت کښې یې هیڅ عزت پاتـے نشو. ګلی دَ بې اولادۍ په وجه دوه ځله طلاقه شوه او دَ میراتې او طلاقنې په نامه یاده شوه. دَ دوارو دَ قسـمـت ستوري دَ زمانې په ګردش کښې وو او دواړه سروهلي بهـروهـلي ګـرځـېـدل خـوکـلـه چې دَ هغوي دَ قسمت دغـه ګردشي ستوري پـه دغـه چـکر اوګردش کښې یوبل ته مخامخ شو نو دَ یو بل کـراس کـولـو پـه ځـاے دَ یـو بـل دَ ذات دَ مـحور نه تاوېدل او په تاوېدو تـاوېـدو کښـې یـو بـل تـه نـزدے کـېدل . چې څومره څومره دَ هغوي تـرمیـنـځـه فـاصـلـه کـمېده ، هومره دَ هغوي په کشش کښې اضافه کـېـده او اخـر دا چې دَ یوې چودنې غوندې دَ ښځې خاوند ، په شکل کښـې دواړه ملاؤ شو . دَ دغه درز اواز په زوړ کلي کښې هرچا وورېدو او چـې کله په هغوي دَخداے دَ طرفه دَ اولاد دَ نعمتونو سلسله شروع شوه نو دَ ټول کلي نارینه او زنانه ورته ګوته په خوله شوې. دَ پرله پسې دَ شپـږ نـعـمتـونو نه پس ګلی دَ بیمارۍ په وجه دَ اووم نعمت قبلولو نه انـکـار اوکـړو او دَ هـغـې پـه ګـېـډه کښې پروت ماشوم اوس دَ هغې نه بلکه دَ ډاکټر لائبي اولاد وو. ډاکټر لائبې به میاشت په میاشت دَ هغې چـېـك اپ کوو ، هغې له به یې دوایانې ورکولې او دَ متوقع ماشوم په بـاره کښـې بـه یـې هـدایات ورکول . ډاکټر انصار به هم څو په څوېمه



www.pukhto.net

هغې تـه کال کوو او دَ ماشوم په حقله به يې ترېنه معلومات هم کول او هغې له به يې هدايات هم ورکول. دا سلسله چلېده چلېده چې اخر هغه ورځ راغله چې دَ تولو ورته سترګې وې او ګلې له خدا ے په کور لور ورکړه . دَ هغې دَ زېګون نه پس سو چې کاکا په هغه ساعت انصار هېلتهـ سنټر تـه لاړو . هـلتـه يې ډاکټر لائبې سره ليدل اوکړل او دَ ماشـومـې دَ زېګون خبره يې ورته اوکړه . ډاکټر لائبې دَ مور لور دَ پاره دوايانـې او دَضـرورت نور سامان راواخستو، سو چې کاکايې ځان سره په ګاډې کښې کېښنوو او دَ هغۀ کورته روانه شوه .

دَ سو چې کاکاکور دَشاه خېلانو دَ مهلت په اخري برید پروت وو. دا هغه کـور وو چې دَ تـورخان بابا پلار موسم خان بابا دَ خټولوټو نه جوړ کړے وو او دَ بې شـمـېره بارانونو او طوفانونو مقابله يې ښۀ په نره کړے وه . هغـه بارانونه او طوفانونه تېر شو او هېر شو خو هغه لا هغسې ولاړ وو او په چپه خُله دَ خپل ژوند دَ داستان په خپله راوي وو. اګر چه دَ پنائی دَ مـخې دېـوال دَ تـورخـان بـابـا دَ ژونـد پـه اخري ورځو کښې پروتـے وو او سـو چې کـاکا دَ توت دَ خامبو او دَ پترۍ ، خزلې دَ شپول په شکل کښې خپـلـه پـنائی کړے وه خو چې کله به باد ،سيلي راغلـه نو پترۍ اوخزله بـه تـرېـنـه لاړه او هغوي به په ډاګه پاتې شو . په کور کښې يو لويه کوټه وه چې پـه ژمي او بـاد ، بـاران کښې به پکښې هغوي هم سملاستل او هغوي سره بـه يـوه غـوا ، يـوه سخۍ او دوه چېلۍ هم وې . دَ پنائی دَ دېـوال ښي طرف تــه يـو سپړ وو او سپـر سره خـوا کښې بيت الخلا او





غسـل خانـه وه . دَ کـس طرف دېوال ته چارګـے وو ، دَ چارګې نه په لږه فـاصـلــه بـانـدې ، شپـول سـره نـزدې دَ بـکيانـې اونـه وه او دَ اونې لاندې کـو هي وو . دَ پـنائی دَ دوارو دېوالونو سرونه دُوړېدلي او نري شوي وو او وېـخـونه يې خوړلي شوي وو . دَ دوارو دېوالونو په وېخونو کښې واړۀ ، لـوې سوري پـه ډاګـه ښکـارېدل. عادل، شيردل ، ګل ولي او خان ولي سـکـول تـه تـلـۀ راتـلـۀ ، قدير او کبير په توله ورځ دَ لارو کو څو په خاؤرو کښـې لـوغـړېدل او پـه لـوبـو لـوبو کښې به په دغه سورو کښې لکه دَ پېشو ګانو دننه بهر ته تلل راتلل اوتيان تان به يې کوله .

ډاکټر لائبه چې دَ سو چې کاکا کورته اورسېده او دَ ګلې لور يې اولېده نـو څـو څـو ځـلـه يې ښکل کړه او خپلې سينې پورې يې اونيوه. ګلۍ هغې ته په مُسکا اووې ، "بي بي دا خپل امانت دے ځان سره يوسه، زۀ د دې حفاظت نشم کولے ." هغه مسکۍ شوه ، هغه يې يوځل بيا ښـکـل کـړه او ورتــه يـې اووې ، "دا امـانـت بـه ځلوېښت ورځې تاسره پروت وي، د دې پـه ځـلـوېښتـمـه بـه زۀ راځم او تانه به يې اوړم .تۀ تر هغې پورې دَ خپلې سينې پې ورکوه ."بيا يې دَ پرس نه يو بلهاروپۍ را اوويستلې ، هغې له يې ورکړې او ورته يې اووې، " دا واخله بي بي، د دې دَ ځلـوېښتـۍ پورې دَ دې دَ پيو او خـصـمانې خرچه". سو چې کـاکـا چې روپـۍ اوليدے نو مسکے شو او ورته يې اووے ، "بي بي پـروا مـۀ کـوه ، دا ستا امانت دے چې کله تۀ غواړې دا اوړې شي". بيا ډاکټر لائبې دوايانـې راواخستې ، د ګلـۍ او دَ ماشومې دوايانې يې



www.pukhto.net

بیلې بیلې کړې او هغې ته یې دَ استعمال طریقه اوښودله . دې نه پس یې په خپل موبائېل دَ هغې تصویرونه اوویستل ، ګاډې کښې کېناسته او هسپتال ته روانه شوه . چې هسپتال ته اورسېده نو ډاکټر انصار ته یې کال اوکړو ، هغه له یې دَ ماشومې دَ زیګون مبارکي هم ورکړه او دَ هغې تصویر یې هم وراولېږو . ډاکټر انصار چې دَ هغې تصویر اولیدو نو په مُسکا یې ورته اووے ، "زما لور خو ماشاء الله دَ سپوږمۍ غوندې ښائسته ده ." هغې ورته زر اووې ، "ښائسته څکه ده چې مور ته تلې ده ."

ډاکټر انصار (په مُسکا) اوه، دا خبره ده . ستا دعویٰ به زۀ په عدالت کښې چیلنج کوم او چې عدالت کومه فېصله اوکړي نو دَ هغې دَ منلو نه ځوك انکار نشي کولے .

ډاکټر لائبه (خاندي) اوه مائي ګاډ ، تۀ دومره لرے لاړے ؟ دغه ماشومه به اوس په عدالتونو ګرځوو چې دا معلومه شي چې پلار ته تلې ده او که مور ته ؟ ټېك ده ، زۀ خپله خبره واپس اخلم، سوري، ډاکټر انصار خاندي اووائي ، o.k ، ته معاف شوې خو نوم به ورله څۀ اږدې؟"

ډاکټر لائبه :. ما ورله مهوش نوم خوښخ کړې دے او که ستا څۀ بل چوائس وي نو ویلے شے ."

ډاکټر انصار:. نه لائبې، دا نوم ډېر ښۀ دے . زۀ تاسره ایګري یم. ښۀ څه مبارك شه ، اوهنّ دَ خپل صحت او دَ هغې دَ صحت خیال ساته.

ډاکټر لائبه :. ستا دَ مشورې ډېره شکریه o.k. ، تینك یو . دَ خدائے په





امان ".

دې سره هغه موبائېل بند کړې او ډېره شېبه بند موبائېل ته په مُسکا ګوري . چې څومره څومره به ورځې تېرېدې نو دَ ګلۍ به خپلې لور سره مینه زیاتېده چې هغه ځلوېښتۍ ته رسېده نو دَ هغې مینه هم انتها ته اورسېده . چې کله به دَ هغې په زړۀ کښې دَ پردې امانت خیال راغلې نو په مخ به یې لړۍ لړۍ اوښکې راغلې . دَ ځلوېښتۍ دَ لامبولو نه پس چې هغې ورته نوې جامې واغوستې نو بیا خو سمه جاپاني ګوډۍ ښکارېده . کله کله به دَ هغې په زړۀ کښې دا خیال راتلو چې هغه د. ډاکټر لائبې نه پته کړې او هغې ته دَ هغې دَ مرګ بهانه اوکړې او هغه تشه غېږ اولېږي خو بیا به یې په زړۀ کښې راغله چې دَ مرګ نوم پرې نه اږدي ، هسې نه رشتیا مړه شي. بیا یې په زړۀ کښې څۀ نورې بهانې راغلې خو هغه ټولې نامعقوله او غېر منطقي وې. چې اونشوه نو په زړۀ کښې یې جوړه کړه چې "زمالور ، زما لور ده که دلته وي او که هلته وي . چې هلته وي نو په ګېډه به مړه او په جامه به پټه وي . دلته خو به نیمه پاتې نشي." دا خبرې لا دَ هغې په زړۀ کښې اوختې رااوختې چې ډاکټر لائبه او دَ هغې دَ کور خدمتګاره جان پري دَ هغې کورته وردننه شوې . ډاکټر لائبې چې هغه دَ مور په غېږه کښې اولیده نو مسکۍ شوه ، هغه یې دَ مور په غېږ کښې ښکل کړه او ښکلولو ښکلولو کښې یې خپلې غېږې ته واړوله. مهوش اودۀ وه او په اودو کښې دَ هغې په غېږه کښې موسېده . داسې معلومېده لکه دَ ګل غوټۍ چې دَ بوټې په غېږ کښې



www.pukhto.net

موسېږي او سپړدلې کېږي. دَ هغې په مُسکا ډاکټر لائبه هم موسېده او جان پرېږي هم، خو د ګلی سترګې دَ اوښکونه ډکې شوې. په دغه موسېدو موسېدو کښې هغې دَمور سينې پسې خوله وهله. دَ ګلی سينه وينبه شوه او دَ پيو نه ډکه شوه. هغې لور له دَ سينې ورکولو هڅه اوکړه خو دَ ډاکټر لائبې په وېنا جان پري دَ غوټې نه دَ پيو ډك فېډر راواخستو او دَ هغې په خوله کښې يې کېښودو. دَ مهوش دَ چُوس چُوس سره دَ ګلی په مخ غټې غټې اوښکې راماتې شوې. ډاکټر لائبې چې هغې ته اوکتل نو مسکی شوه او هغې ته يې اوويل، "اوه، بي بي ته ژاړې؟ دې پسې ژاړې؟ دا خو هغه ماشومه ده چې تاکچه په کچه غورځوله . . .ته ورته اوګوره څومره ښائسته ماشومه ده. که تهٔ ما منعې کړې نه وې نو دا به اوس خاؤرو سره خاؤرې وه. دې پسې مهٔ ژاړه بي بي دا تا دَ خپل طرفه په هر لحاظ مړه کړې ده." بيا يې دَ پرس نه يوه قوده روپی را اويستلې، دَ هغې لاس کښې يې کېښودې او دَ هغې دَ کوره اووتې. دَ مهوش په بوتلو دَ هغې پاتې اوښکې هم دَ هغې په مخ راماتې شوې او په چغو چغو په ژړا شوه. هغې ته يې خوره غبږ اونيوه او وې وئيل، "زما لورې. . ." دَ هغې خوره غبږه تشه پاتې شوه او هغوي په ګاډي کښې کېناستې او روانې شوې. چې ګاډے روان شو نو دَ هغې په سترګو توره تيارهٔ شوه او په زمکه نسکوره پرېوته او ترهغې پرته وه چې سو چې کاکا راغی او هغه يې اوچته کړه او په کټ کښې يې واچوله.

★★★





## 《دريم باب》

دَ مشرخان زوي زاهدخان اېل اېل بي کړے وه او په کچهری کښې يې وکالت کوو خو دَ وکالت خوند يې نهٔ وو ځکه چې هغه يو ازاد خياله سړے وو. نهٔ يې وکالت کښې دلچسپي وه او نه يې دَ کېس په تياری کښې محنت کوو. نتيجه يې دا شوه چې پرله پسې يې څو څو کېسونه بائلل نو وکالت يې پرېښودو او په يو غېر ملکي اين جي او کښې نوکر شو. په دې ملازمت کښې هغه ډېرخوشحاله وو ځکه چې دا نوکري دَ هغه طبيعت مطابق وه. دَ دغه ملازمت په سلسله کښې به په مياشتو مياشتو غېب وو او په دغه ګرځېدو ګرځېدو کښې ولايت ته اورسېدو او هلته ښهٔ په پخه پرېوتو. دَ هغهٔ په غېر موجودګی کښې دَ هغهٔ خور حنا دَ همايون خان زوي ياسر ته وادهٔ شوه او څهٔ موده پس بلقيس دَ اکبر خان زوي قېصر ته وادهٔ شوه. دَ هغوي دَ تلو نه پس کور مشرې بي بي ته پاتے شو، حجره مشرخان ته پاتې شوه او دَ زمکې کاروبار شاکرخان ته پاتے شو. چې کله مشر خان دَ زمکې لانجې ګونجې شاکرخان ته حواله کړے نو دَ هغهٔ وجود سپك شو. هغهٔ دَ حجرې خصمانه هم شاکرخان ته پرېښوده او د دې موقعې نه هغهٔ دا فائده واخسته چې دَ خپلو خپلوانو او يارانو دوستانو اختنې پوښتنې او مړې ژوندي ته اوزګار شو او داسے سېلانے شو چې هغه دَ چا خبره يوه پېښه به يې په انګاوه او بله به په بنګا وه. کله کله به ورسره مشره بي بي هم وه ګينې اکثر به يواځے وو او په هفتو هفتو به غېب



www.pukhto.net

وو . په دغه ګرځېدو ګرځېدو او اختنو پوښتنو کښې هغه دَ ټولو خپلوانو او یارانو دوستانو هغه ګیلې ختمې کړے کومې به چې هغوي دَ کالونو کالونو راسې دَ هغهٔ نه کولے .

دَ شاکر خان دَ څوځو ځله دَ وېنا نه پس هغه یوه ورځ هغهٔ سره په ګاډي کښې کېناستو او په زمکه دَ چکر وهلو دَ پاره اووتو . دَ کچه سپرلي شپې ورځې وي . موسم ډېر خوشګوار او مزېدار وو . زیړ مازیګر وو ، په شین اسمان کښې دَ سپینې ، سرې او زیړې وریځې غونډاري لکه دَ رنګینو کشتیو دَ اسمان په وسیع سمندر کښې دَ نرۍ هوا په سنګاوڼ په خوند خوند خورېدې او ګرځېدې . هغوي چې کله دَ کلي نه اوتل نو یو خوا په هغهٔ دَ خپلې زمکې او فصل وړمې ورغلي، بل خوا دَ هغهٔ په زمکه اوفصل دَ هغهٔ خوشبوئي ورغله . په ټوله زمکه دَ شین فصل شین څادر غوړېدلے وو . دَشین فصل سرونه په نرۍ هوا زانګېدل او داسې معلومېده چې مشرخان له سلامې ورکوي. ځنګلي ګلونه په غاړو پولو غوړېدلي وو لکه چې دَ هغهٔ قدم بوسۍ ته سترګې په لاروي . مېوه دارې اونې دَرنګین ګلونو په رنګین لباس کښې ملبوسه وې. داسې معلومېده چې دَ اونو څانګې او ګلونه خپلو کښې ګنګوسې کوي او په دغه ګنګوسي کښې یوبل سره دَ مشرخان پېژندګلو کوي . په اونو کښې مرغۍ چغېدې په ګلونو دَ شاتو مچۍ بنګېدې او دَ فصل او ګلونو وړمې دَ چپو په شکل کښې په هوا کښې تلې راتلې او خورېدې .





زمیدارو چې دَ مشرخان ګاډے اولیدو نو ټولو خپل خپل کارونه پرېښودل او دَ هغهٔ دَ استقبال دَ پاره دَ هغهٔ دَ ګاډي په لاره کښې اودرېدل . کله چې هغه دَ ګاډي نه کوز شو نو هریو به دَ هغهٔ سلام له په ټیټه ټیټه ورتلو ، هغهٔ ته به یې سلام کوو او دَ عقیدت په توګه به یې دَ هغهٔ لاسونه ښکلول . دې نه مخکښې داسې چرې هم نه وو شوې، دا رومبے ځل وو چې هغوي مشرخان ته دومره په مینه او عقیدت هرکلې اووے . دېکښې وجه دا وه چې دَ هغوي په ژوند او خیالاتو کښې یو لوے انقلاب راغلے وو . کومې زمکې به چې دَ فصل په ځائے ازغکي، زوزان ،ګنده بوټې ډډم او منداڼان زرغونول اوس په هغې کښې زانګېدلې فصل ولاړ وو . نتیجه یې دا شوه چې ټول زمیدار په ګیډه ماړهٔ او په جامه پټ شوي وو . هغه زمکه چې جبه وه او دَ اوبو ډنډونه او لوخه به پکښې ولاړه وه ، اوس پکښې مېوه دارې اونې هسکه غړۍ ولاړې وي . مشرخان چې فصل او باغونو ته اوکتل نو په سترګو کښې یې دَ خوشحالۍ اوښکي راغلې . هغهٔ چې دَ نمر په پلوشو کښې او دَ دغه اوښکو په ائینو کښې شاکر خان ته اوکتل نو هغهٔ ته داسې معلومه شوه چې دَ هغهٔ مخې ته دَ یو شاکر په ځاے بې شمېره شاکران ولاړ دي او هغهٔ ته په مُسکا مُسکا ګوري. مشر خان دَ ډېرې خوشحالۍ نه هغه ته ورترغاړه وتو او ورته یې اووے ، ''زویه ! زه ستا په محنت او مړانه فخر کوم''. مشرخان نورهم څهٔ ویل غوښتل خو شاکرخان دَ هغهٔ مخه اونیوه او وے وئیل ، ابو ما چې څهٔ کړي دي



www.pukhto.net

نو ستاسو په مشوره م کړي دي. دا هرڅۀ ستاسو دَ لاربنودنې په وجه شوي دي ، دېکښې زما هيڅ کمال نيشته . اوس تاسو نه دَ نورو مشورو هيله لرم ". مشرخان مُسکے شو او وے وئيل ."بچے مشران وائي چې هره زمکه درخو ده خو چې مالك يې ادم خان وي . زمکه دومره حساسه وي چې دَ خپل مالك دَ بدن ورمه او دَ هغۀ دَ پښو ښکالو په سره غرمه او توره شپه هم پيژني . او چې دَ هغې مالك په هغې ګرځي نو په مُسکا مُسکا دَ هغۀ پښې ښکلوي. په هغې ولاړ فصل او اونې بوټې دَ هغۀ جامې بويوي . زمکه دَ مينې اوږې وي ، که مينه دې ورکړه نو مينه به درکړي خو دې سره سره دومره ضدي هم وي که سپك دے ورته اوکتل نو په ازغو به درله پښې سورې کړي."

په دغه ګرځېدو ګرځېدو کښې هغوي يو ټيوب ويل ته اورسېدل. مشرخان ټيوب ويل سره اودرېدو،دَ ټيوب ويل خوا کښې يو ځائے ته يې په ګوته اشاره اوکړه او ورته يې اووے ، "بچے ، دغه لوړه زمکه باندي يو ارام ګاه جوړکړه چې په هغې کښې دَ ارام ټول سهولتونه موجود وي او مېلمانۀ پکښې دَ ساعت نيم دَ پاره دمه هم کولے شي او شپه هم تېرولے شي. چې دغه جوړ شي نو بيا يو څوکيدار اوساته، دَ ارام ګاه صفائي ستهرائي به هم کوي او دَ باغونو خصمانه به هم کوي." مشرخان ، کله پياده او کله په ګاډي کښې ټوله زمکه دَ نظر نه اوويستله او چې نمر پرېوتو نو هغه په ګاډي کښې کېناستو او کورته روان شو . دَ رسيدو سره شاکرخان په نورو مصروفياتو کښې اخته شو





او هغه خپلې کمرې ته لاړو او په خپل بيډ کښې خور وور پرېوتو . اوس هغه ډير خوشحاله وو او په خپل خيال کښې لا هغسې دَ خپل فصل او باغونو په غاړو پولو ګرځېدو . هغه لا په دغه خيالونو کښې ډوب وو چې مشره بي بي دَ هغۀ کمرې ته ورغله او دَ ورتلو سره يې هغۀ ته په مُسکا اووې ، "ولې ګرانه ، تۀ جوړ په ګرځېدو ګرځېدو ستړے شوے يې ؟" دَ هغې په تپوس هغه دَ خيالونو دَ دنيا نه اووتو او هغې ته يې اووے ، "هاؤ ناوې ،نن ډېره موده پس شاکرخان سره پټې ته تلے ووم ، په ګرځېدو ګرځېدو ستړے شوم ".

مشره بي بي :. په پښو درله زور کړم ؟

مشرخان مسکے شي او هغې ته وائي: دَ نېکۍ په کار کښې دَ تپوس ضرورت نيشته ، مشرخان پښې اوغزوي او هغه ورله په پښو زورکوي . مشره بي بي هغۀ ته ګوري او وائي ، "فصل څنګه وو"؟

مشرخان بالخت ته ډډه شي او هغې ته وائي،"فصل ډېر ښه دے ، زما دَ توقع نه څوڅو چنده زيات ښۀ دے خو يوه عجيبه غوندې منظر م اوليدو چې دَ هغې په ليدو تراوسه پورې حېران يم.

مشره بي بي (په حېرانتيا ) څۀ منظر ګرانه ؟

مشرخان:. نن ډېره موده پس شاکر سره پټو ته تلے ووم . زما په سؤنو جريبه زمکه کومه چې دَ خان بابا او زما په مشرۍ کښې شاړه او غېر آباد پرته وه ، اوس پکښې شنه لوخړه فصل ولاړ دے .مشره بي بي دَ هغۀ دَ خولې نه خبره اخلي او وائي ، "ولاړ به نه وي چې هغۀ شپه



www.pukhto.net

ورځ په ځان يو كړے ده ، خپل ځان ته يې شاكړے ده او زميدارۍ ته يې مخه كړے ده . غريب نيم پاتے نشو. دوه ګوتې مخ يې رااووتو تا دَ هغۀ مخ ته كتلي دي ؟

مشرخان (مسكے شي ) هاؤ ، هسې كتل خو زمونږ ډېر شوي دي خو نن مازيګر چې ماورته په ځېر ځېر اوكتل نو دَ هغۀ په مخ كښې راته يونه بلكه ډېر شاكران ښكاره شو اوټول لكه دَ هغۀ غوندې ښائسته ، خنده رويه او خوش اخلاقه .ماوے ګنې زه خوب وينم خو نه دا هر څۀ په وينښه وو.

مشره بي بي:. دا ښۀ ده چې تاته دَ خپلې وينښې احساس اوشو ګينې معلومه نه ده چې تر كومې پورې به په دغه وينښه كښې اودۀ وے ؟

مشرخان :. څۀ مطلب ؟ زۀ ستا په خبره پوهـ نشوم ؟

مشره بي بي:. مطلب دا چې تاكوم شاكر ليدو نو هغه ستا زوے شاكرخان وو او چې دَ هغۀ په مخ كښې دے ښوك ليدل ، هغه دَ هغۀ دَ اولاد او ستا دَ نوسو ځهرې وې .

مشرخان (خاندي) خبره دې واخسته او دَ چرته نه دې چرته اورسوله .

مشره بي بي :. هيچرته مې نه ده رسولې ګرانه . تانه مې واخسته اوتاسره مې پرېښوده . كه زما په وس كښې وې نومابه دَ هغۀ خبره ډېره مخكښې سرته رسولې وه .

مشرخان :. دېكښې نه تۀ څۀ كولې شې او نۀ زۀ څۀ كولے شم. مونږ هغه خپلې خوښخې ته پرېښے دے خوښخه دَ هغۀ كار دے او





راوستل يې زما كار دے او كه ستا خوښخه منې نو يابسم الله خبره ورسره اوكړه نور كار زما دے ".

مشره بي بي:.څو څو ځله مې ورته خبره كړے ده ، دَ همايون لالا دَ لور عنبرين شږنګ مې ورته اورولې دے ، دَ اكبرخان لالا لور نګهت مې ورته ياده كړې ده خو هغه په دغه دواړو كښې دلچسپې نه اخلي . تۀ به نه وېي. كه دَ زلميتوب هوا پرې لګېدلې ده .

مشرخان :. زما زوے انتهائی شريف او حياناك دے . هغه په خوي بوي كښې ماته تلے دے . چې څنګه په هلكانه كښې زۀ ووم هغسې زما زوے شاكرخان هم دے ."

مشرخان مخكښې نور هم څۀ وئيل غوښتل خو مشري بي بي دَ هغۀ دَ خولې نه خبره واخسته او وې وئيل :. بس دے خواره ، تۀ لا دَ خپل ځان صفت اوكړے .تانه او ستا دَ خطونو نه خو زه پوزې له راغلې ووم . ستا په هر خط كښې به دا ټكې ارو مرو وو، "په زړۀ سورے يم . . .په اور سوے تور لړګے يم . . .په خُله مې دَ ځنكدن سلګۍ دي او درنګ ساعت له روان دَ دنياګۍ يم.

مشرخان:.دروغ ، سپين دروغ ، ماچرې هم داسې نه دې ويلے .

مشره بي بي:. دروغ ولې ؟ ستا ټول خطونه او ستا دَ خطونو نه جوابونه ماسره پراته دي ، په هريو خط كښې تادغه ټكي څو څو ځله ليكلي دي .

مشرخان (خاندي) په دے چل ول خو مې راوستے ګينې دَ خان بهادر بابا



www.pukhto.net

مخې له څوك ورتلے شو.

مشره بي بي:. په چل ول نه ، زما پلار هله راضي شو چې خان بابا دَ خپل سر نه پټکے کوز کړو او دَ هغوي پښو کښې ئې کېښودو.

مشرخان (خاندي) ښه نو بیا ؟

مشره بي بي :. بیا زما پلار هغه پټکے اوچت کړو ، دَ هغهٔ په سر یې اوتړو ، کورته راغی او زما مور سره یې خبره اوکړه . زما مور چې زما نه تپوس اوکړو نو ما په زړهٔ کښې وې چې زهٔ داسے هلك سره څنګه وادهٔ اوکړم چې په زړهٔ سوړے دے ، په اور سوے تور لړګے دے ، په خُله یې دَ څنکدن سلګۍ دي او درنګ ساعت له روان دَ دنیا ګۍ دے؟ چې زهٔ چپ پاتي شو نو مورمِ خپله لوپټه زما پښو کښې اوغورځوله ما هغه لوپټه اوچته کړه او هغې ته مِ په سر کړه ".

مشرخان (خاندي) بیا څهٔ اوشو؟

مشره بي بي :. بیا دا اوشو چې ستا ضد پوره شو ، ستادَ کور شوم او دَ خېره دَ څلور بال بچ مور شوم .

مشرخان :. یره ناوي ، مشران وائي چې جواني دېواني . دَ هغوي دا خبره بالکل دَ کاڼي کرښه ده . څهٔ عجیبه شپې ورځې وې ، څهٔ دَ لیونتوب وخت وو. په هر څهٔ او هرځائے کښې راته تهٔ ښکارېدې . په کوڅه کښې تهٔ وې ،په حجره کښې ته وې . . .په کالج کښې تهٔ وې په پارکونو کښې ته وې . . .په لار کښې تهٔ وې په بازار کښې تهٔ وې . . .په فضا کښې ته وې په هوا کښې تهٔ وې . . .په وینبه کښې تهٔ وې او په





خوب کښې ته وې . اوس چې کله کله هغه وخت رایاد شي نو په خپل ځان باندې خدائېګو خندا راشي .اوس دَهغه عاشقانه او شاعرانه ذهن تصور هم نشم کولے . ماته دَ هغه ټکو هیڅ معلومات نیشته چې ما څهٔ لیکل او څهٔ مِ لیکلي دي ، تاسره واقعي زما خطونه شته ؟

مشره بي بي :. ماسره ستاخطونه هم شته او زما له خوا ستا دَ خطونو جوابونه هم شته . ما هغه ټول فائل کړي دي او په الماری کښې مې ایښلي دي .

مشرخان:.ته ورشه هغه فائل راوړه چې زاړهٔ یادونه تازه کړو .

مشره بي بي پاسي ، دَ کمرې نه اوځي او دَ بلې کمرې الماری له ورځي . لږه شیبه پس واپس راشي او هغهٔ ته وائي ، "سوري ګرانه، هغه فائل الماری کښې نیشته . داسې معلومېږي چې چرته بل ځائے پروت دے . اوس نشي کېدې خو که سبا بله ورځ راته موقعه ملاؤ شوه نو لټون به یې اوکړم .

﴿دویمه برخه﴾

سو چي کاکا به دَ خپلې لور دَ تپوس په غرض څو په څوېمه انصار هېلته سنټر ته تلو او دَ ډاکټر لائبې نه به یې دَ خپلې لور دَ خېر خېریت تپوس کوو . دَلور دَ تپوس نه زیاته دلچسپي دَ هغهٔ په هغه مراعات کښې وه کوم به چې هغې هرځل هغه له ورکول خو اخر تر کومې پورې ؟ هغه دَ هغهٔ دَ تلو راتلو او تپوسونو نه پوزې له راغلې



www.pukhto.net

وه.خو هغه يې خفه کولې نشو ځکه چې دَ هغې په خولۀ کښې لُومه وه او هغې سره دا يره ملګرې وه چې دَ هغوي ترمينځه راز چرې فاش نشي . چې کله به هغه انصار هېلتهـ سنټر ته ورغې نو په هغې به دَ يرې زلزل راغې او چې ترڅو به هغه هغې سره ناست وو نو دَ هغې په ذهن کښې په مختلف خبرې اوختې رااوختې او په زړۀ کښې به يې دا دعاګانې غوښتلې چې دَ هغۀ دَ خولې نه چرته غلطه خبره اونه ځي . دې دَ پاره به هغې دا کوشش کوو چې هغه له پټ په پټه په جېب کښې څۀ واچوي او هغه رخصت کړي .

هلته ډاکټر انصار په واشنګټن کښې په چائلډ سپيشلائزېشن کښې داخله اخستے او دَ هغه کلاسونه شروع شوي وو. هغۀ ډاکټر لائبې ته وېلے وو چې هغه به په مډټرم کښې کورته دَ راتلو کوشش کوي خو دَ خپلو مصروفياتو په وجه هغۀ دغسې اونکړے شو ، البته ډاکټر لائبې ته يې هلته دَ تلو دَ پاره وېزه را اولېږله . ډاکټر لائبې هم دا غوښتل او هغې هلته تلو دَ پاره خپل تيارې شروع کړو. مهوش ايله دَ دووکالو وه چې هغې ځان سره امريکې ته بوتله . ډاکټر انصار چې هغه په ړومبي ځل اوليده نو هغه دَ لائبې په غېږ کښې لکه دَ ړومبي سپرلي دَ ړومبۍ غوټۍ موسېدلې اوده پرته وه . دَ هغۀ په خپل ځان يقين نه راتلو چې هغه دَ دغه پرې رويه ماشومې پلار جوړېدېشي. هغه د دغې معصومې دَ مينې دَ جذبات نه دومره مغلوب شو چې هغه يې په دغه خوابيده حالت کښې دَ هغې په غېږ کښې ځوځو





ځله ښکل کړه . بيا يې هغه دَ هغې دَ غېږ نه واخسته او خپلې سينې پورې يې اونيوه . په دغه اړولو راړولو کښې چې دَ هغې سترګې اوغړېدي نو هغې فطرتي طور مور پسې هڅه اوکړه او وے وئيل : "ماما" دې سره دواړه مسکي شو. دَ ډاکټر انصار دَ خولې نه بې اختياره اووتل ، "مور واقعي مور وي ." لائبې هغه خپلې غېږې ته واړوله او ډاکټر انصار ورسره په ولاړه ولاړه دَ هغې په ژبه کښې وړې وړې او پرېکړې پرېکړې خبرې کولے . هغه دومره خوږه وه چې دَ هغې دَ ليدو نه پس پرې بهر وخت نۀ تېرېدو او چې کله به دَ هغۀ کلاس ختم شو نو زر تر زره به يې کورته ځان رسوؤ خو په راتلو کښې به يې هغې له څۀ ناڅۀ تحفه ضرور راؤړه . دَ راتلو سره به يې په چغه اووے ، "ډير مهوش ، راشه اوګوره ماستا دَ پاره څۀ راؤړے دي"؟ هغه به که هرځاے وه په يوه منډه به يې هغۀ له ځان اورسوو او ورته به يې په وړه ژبه اووے ، "پاپا، پاپا" او هغه له به يې ورمنډه کړه . هغه به هغه تحفه شاته پټه نيولے وه ، چې هغه به دَ هغۀ خوا له ورغله نو هغه به تحفه مخکښې روستو کوله ، هغه به دَ هغۀ نه تاوېده او په ټوپونو ټوپونو به يې دَ تحفې دَ نيولو کوشش کوو او چې کله به يې دَ هغۀ دَ لاس نه تحفه راخکله نو مور له به يې منډه کړه خو په دغه منډه کښې به هغه په دواړه لاسه دَ شانه اونيوله ، اوچته به يې کړه او په اوږو به يې کښېنوله . ماښام به درے واړه په ګاډي کښې کېناستل سپر مارکيټ ته به لاړل او هغې دَ پاره به يې ښۀ ډېر شاپنګ اوکړو.



www.pukhto.net

ډاکټر لائبې ، ډاکټر انصار سره په واشنګټن کښې دوه مياشتې تېرې کړې . په دې دوو مياشتو کښې دَ هغې ډېرې پښتنې خورينګې جوړ شوې . مهوش هم دَ هغوي ماشومانو سره بلده شوې وه او اکثر به يې هغوي سره لوبې کولې . په دغه لوبو لوبو کښې هغې دَ هغوي نه دَ انګريزۍ ژبې ډېر ټکي ازده کړل لکه ، انکل ، اَنټي، بوائے ، ګرل ، فرېنډ ، ډاټر ، سسټر ، بردر، واټر او دغه رنګې نور او نور . . . چې کله دَ ډاکټر لائبي دَ وېزټ وېزې وخت پوره شو او هغه خپل ملك ته راتله نو ډاکټر انصار هغې لـه دَ تلو اجازت ورکړو خو دَ مهوش دَ بوتلو اجازت يې نه ورکوو ځکه چې دَ هغۀ هغې سره دومره مينه پېدا شوې وه چې دَ هغې جدائی هغۀ برداشت کولے نشوه خو چې کومه مينه هغې سره دَ هغۀ وه ، دَ هغې نه زياته ورسره دَ ډاکټر لائبي وه . هغه دَ هغې روح وو او دَ هغې نه بغير هغې دَ خپل ژوند تصور هم نشو کولے . چې اونشوه نو ډاکټر انصار په يو ماهر مصوّر دَ هغې پورټرېټ جوړ کړو ، په فرېم کښې يې بند کړو او په خپل شوکېس کښې يې کېښودو . بيا يې هغوي دواړه رخصت کړل .

چې کله هغوي خپل کور ته اورسېدل نو بله ورځ يې سحر په ګاډي کښې کېنوله او په يو اعلیٰ انګلش ماډل سکول کښې يې په پلے ګروپ کښې داخله کړه . بيا به هره ورځ هغې سحر په ګاډي کښې سکول ته بوتله او دَ چھټۍ نه پس به جان پري کورته راوسته .

امريکې ته دَ تلو نه پس سو چې کاکا ځوځو ځله انصار هېلتهـ سنټر





ته راغلے وو خو چې کله ورته معلومه شوه چې هغه امريکې ته تلې ده نو بيا يې په کور دَ هغې انتظار کوو او دَ هغې دَواپسۍ ورځې يې شمارلے . دَ هغې دَ راتلو په څلورمه ورځ سو چې کاکا بيا راغۍ او ډاکټر لائبې سره يې لېدل کتل اوکړل . دَ هغې نه يې دَ خپلې لور تپوس او دَ هغې دَ ليدو خواهش اوکړو . ډاکټر لائبه دَ هغۀ دَ بيابيا راتلو او دَ لور دَ تپوسونو په وجه ډېر تنګه شوې وه هغې دَ هغۀ دغه حماقت نور نشو برداشت کولے او په څۀ ناڅۀ طريقه يې دَ هغۀ نه ځان خلاصول غوښتل . بله دا چې هغې سره دا يره هم ملګرې وه چې که دَ هغۀ دغه تلۀ راتلۀ دَ ډاکټر انصار دَ راتلو پورې دغسې جاري وي نو کېدېشي دَ هغوي ترمينځه دغه راز فاش شي . او که داسې اوشي نو دې باندې به دَ هغې ډېره بدنامي اوشي او دَ هغۀ په نظر کښې به دَ هغې هيڅ عزت پاتے نشي. په دې وجه هغې دا بهتره اوګڼله چې دَ هغۀ دَ بيا بيا راتلو لاره ، همېشه همېشه دَ پاره بنده کړي . دَ هغۀ په تپوس باندې هغې هغۀ ته اووې چې ”هغه په امريکه کښې مړه شوې ده او هلته دفن شوې ده “. دَ دے خبرپه اورېدو سره دَ سو چې کاکا سترګې ډکې شوې او په ډکو سترګو يې ډېره شېبه هغې ته کتل خو چې هغې دَ څۀ ردِ عمل اظهار اونکړو نو په چپه خوله پاسېدو او په درونـد وجود او درنو قدمونو دَ هغې دَ کمرې نه اووتو . دَ هغۀ دَ تلو نه پس ډاکټر لائبې يوه لويه ساه واخسته ، په ناسته ناسته يې ستوماني اوويستله ،مسکۍ شوه او په غړپ غړپ



www.pukhto.net

يې دَ اوبو ډك ګلاس خولې ته واړه وو . اوس هغه ډېره خوشحاله وه او دَ هغې په سترګو کښې دَ دغه خوشحالۍ ځلا ځلېده .

ډاکټر لائبې دَ مهوش دَ تعليم وتربيت ، خوراك څښاك او صفايۍ ستهرايۍ ډېرخيال ساتو . هغې دا غوښتل چې دَ هغې لور په هر لحاظ سره يو رول ماډل وي . دَ دنياوي تعليم نه علاوه هغې دَ هغې دَ ديني تعليم او ناظرې دَ پاره دَ يوې مدرسې مهتمم سره خبره اوکړه . مهتمم صيب دَ هغې دَ نېکې جذبې ډېره ستاينه اوکړه او په راتلونکي اتوارمازيګر شپږ بجې يې دَ يو طالب ورلېږلو وعده ورسره اوکړه . او هم دغسې اوشوه . دَ اتوار په ورځ ټيك شپږ بجې په داسې وخت کښې دَ هغې دَ کور په ګېټ رينګ اوشو چې هغې په خپله کمره کښې ارام کوو او جان پري بهرمهوش سره ناسته وه او دَ هغې دَ ګُډيانو لوبولو تماشه يې کوله . دَ رينګ اواز ډاکټر لائبې هم واورېدو خو دَ هغې دَ پاسېدو او وتو نه مخکښې جان پري ګېټ له ورغله ، دَ ګېټ کهړکۍ يې لرې کړه او طالب يې ځان سره کورته دننه کړو . هغه دَ پنځلسو شپاړسو کالو يو لوړ دنګ نوخېزه زلمے وو . شونډې يې ايله شنه شوې وه او په زنه يې دَ شلتالودَ پشم غونډې شنۀ نرې نرې وېښتۀ ټوکېدلي وو. هغۀ سپينې ريمنې جامې اغوستے وے ، په سر يې سپينه ټوپۍ وه ، په اوږه يې سپين څادر نما رومال وو او په پښو کښې يې خړې هوائي چپلې وې ، هغه اوتراو يرېدلے ښکارېدو. دَ هغۀ په ليدو ډاکټر لائبه مسکۍ شوه او هغۀ سره يې په مُسکا





مُسکا روغ جوړ اوکړل . دې سره دَ هغه يره کمه شوه او دَ هغه په رګونو کښې ولاړه وينه چلانده شوه . هغې هغه په عزت ډرائينګ روم کښې کېنوو او دَ هغۀ نه يې دَ هغۀ دَ نوم او ديني علم په باره کښې تپوسونه کول چې جان پري په تړۍ کښې شربت راؤړو او هغۀ ته مخامخ په يو وړوکي مېز ئې کېښودو . بيابهر اووته او ځان سره يې مهوش راوسته . ډاکټر لائبې هغۀ سره دَ خپلې لور پېژندګلو اوکړه او مهوش سره يې دَ چاچو په نوم دَ هغۀ پېژندګلو اوکړه . ډاکټر لائبه دَ هغۀ په راتلو ډېره خوشحاله وه او هم په دغه ورځ د مهوش دَ ديني تعليم سلسله شروع شوه .

هغې جان پري ته دَ هغۀ دَ عزت په باره کښې خاص هدايات هم ورکړي وو او مياشت په مياشت به يې تنخواه هم ورکوله خو دې سره سره يې ورته دا هم وېلي وو چې دَ هغوي په درس وتدريس کښې به هغه کېني او مهوش به هغۀ سره يوائې نه پرېږدي.

مهوش له خدائے ډير ښه ذهن ورکړے وو . يوخوا هغه دَ انګريزۍ په سبق لکه دَ روانو اوبو خوېده ، بل خوا په اُردو کښې ډيره ښۀ چلېده او په لړو ورځو کښې په نوراني قاعده کښې هم روانه شوه . هغه لکه دَ لوخې لوئېده او لکه دَ بلبلې چغېده . دَ هغې خبرې په ډاکټر انصار ډېرې ښۀ لګېدې او دَ پاکستاني وخت مطابق دَ هر اتوار په شپه اتۀ بجې به ورسره په انټرنېټ دَ هغۀ خبرې کېدې . دَ نورو خبرونه علاوه هغې به ورته په انټرنېټ دَ انګريزۍ ، اُردو او دَ نوراني قاعدې سبق هم



www.pukhto.net

اورولو او خپله خوشخطي به يې هم ورته ښودله . دَ هغې په قابليت يوخوا ډاکټر لائبه دَ ډېرې خوشحالۍ نه په جامو کښې نه ځائېده بل خوا دَ ډاکټر انصار خوله نه راغونډېده خو چې کله به دَ هغې خبرې ختمې شوې او سټ به آف شو نو دَ هغۀ ښه به مړاوے شوه او ډېره شېبه به خفه ناست وو. هغۀ دا غوښتل چې هغه امريکې ته اوغواړي او په هغه زرخېز ماحول کښې دَ هغې تعليم وتربيت اوشي . په دے غرض هغۀ څوځو ځله ډاکټر لائبې ته خواست اوکړو خو هغې دَ هغې جُدائي برداشت کولې نشوه او هغۀ ته يې ساپټ انکار اوکړو .

دڅو څو مياشتو دَ بحث وتکرار نه پس ډاکټر لائبه په دې راضي شوه چې کله هغه دَ پنځو کالو شي نو هلته به لاړه شي ، دے تجويز سره هغۀ بادل ناخواسته اتفاق اوکړو او دَ سپېشلائزېشن نه پس هغۀ هلته مستقل ملازمت اختيار کړو او دَ هغې دَ راتلو ورځې يې شمارلے.

## ﴿دريمه برخه﴾

دَ ډاکټر لائبې له خوا جان پري ته سخت هدايات ورکړې شوي وو چې دَ قاري صېب عزت به هم کوي او دَ هغۀ دَ چايې ، شربت خدمت به هم کوي خو مهوش به هغۀ سره يوائې نۀ پرېږدي. دَ هغې په هداياتو هغې ښۀ پوره عمل کوو او په ډرائېنګ روم کښې به دَ هغوي نه په لږه فاصله باندې بُوزۍ وهلې چپه خوله تر هغې ناسته وه چې ترڅو به دَ هغې سبق ختم شوے نه وو . چې کله به دَ هغې سبق ختم شو نو هغه به يې سره دَ سيپارې دَ ډرائېنګ روم نه ځان





سره بهر اوويستله . بيا به هغې خپلو ګډيانو سره لوبې کولې او جان پري به قاري صېب له چاې راؤړه .

جان پري ليک لوست نه وه خو چې کله به قاري صېب مهوش ته نوراني قاعده ښودله نو هغې به په زړۀ کښې دا غوښتل چې هغه دَ قاري صېب مخې ته دَ يوې شاګردې په حېث کېني او دَ هغۀ نه زده کړه اوکړي خو دَ وېلو جرأت يې نشو کولې . څۀ موده پس قاري صېب ته پته اولګېده چې هغه ناخوانده ده خو سبق کښې دلچسپي اخلي نو هغۀ ورته مهوش سره دَ کېناستو اجازت ورکړو . بيا به دواړو په يوه سيپاره کښې سبق وېلو . چې کله به دَ هغې سبق ختم شو نو مهوش به يې دَ لاس نه اونيوه ، بهر ته به يې بوتله او هغې به هغه دَ پاره چايې تياره کړه . چې هغې به چايې راؤړه نو هغۀ ته به يې په مېز کېښوده او هغۀ ته به مخامخ کېناسته . قاري صېب په هغې پوهـ شوے وو چې هغه دَ هغۀ نه څه تپوس کول غواړي خو وېلې نشي او هغۀ ترېنه واقعي يو ځل تپوس اوکړو "بي بي " که تۀ مانه څۀ تپوس کول غواړې نو کولې شي ، دَ هغۀ په خبره هغه مسکۍ شوه اوشرمېده ، سترګې يې خکته کړې او وې وئيل ، "نه قاري صېب، څۀ خاص خبره نيشته خو هسې ماوې چې لږې به خپلې خبرې اوکړو." قاري صېب دَ هغې په نيت پوهـ شو ، پيالۍ يې په سر راواړوله ،پاسېدو او روان شو .

چې په دې اونشوه نو بيا يې په مختلف طريقو هغه ځان ته دَ مائل



www.pukhto.net

کولو کوشش کوو. يو ځل يې دَ چاې ځکلو نه پس لوخې راغونډ کړل ، سمه لار يې پرېښوده او دَ هغۀ په خوا کښې په داسې انداز تېره شوه چې دَ هغې دَ لوپټې پسکې دَ هغۀ په مخ راخکلې شو او که چرې هغۀ ځان نه وې راغونډ کړې نو دَ هغۀ کونډې به هغې سره لګېدلې وې . هغه دَ هغې په حرکت مسکې شو خو په خولۀ يې هيڅ اونه وې . دَ هغۀ مسکا سره هغه ډاډه شوه او بيا به يې په ځۀ ناځۀ طريقه دَهغه دَ شهوانې جذباتو دَ مشتعل کولو او هغه ځان ته دَ مائل کولو کوشش کوو. هغۀ هغه دَ ذاتي تپوسونه منعې کړې وه نو بيا به يې دَ ذاتي تپوسونو په ځائې دَ هغۀ نه دَ هغه اسلامي مسلو تپوسونه کول کومي چې عمومًا ښځو ته پېښېږي . بيا به يې د دغه مسلو اطلاق په خپل ځان کوو او دَ هغه نه به يې دَ مشورې اخستو کوشش کوو. دَ هغې دَ طويل جائزې مطابق قاري صېب ډېر دَ کار سړې وو او هغې دَ هغۀ نه هغه کاراخستل غوښتل دَ کوم چې هغې خپل ځان مستحق ګڼلو .

ډاکټر لائبه چې دَ مهوش په باره کښې دَ کومې خطرې نه يرېده او هغه يې هغۀ سره يوائې نه پرېښوده ، هغه خطره هغې دَ خپل ژوند اخري اسره او دَ خپل مستقبل اخري منزل ګڼلو. هغه جان پرې چې دَ هغۀ په مخکښې به بُوزې وهلې په ادب ناسته وه ، اوس دَ هغې بوزې هم ختمه شوه او لوپټه هم ختمه شوه . بيا خبره دې له راغله چې په هغه جامو کښې به دَ هغۀ مخې ته ناسته وه چې هغې کښې





به دَ هغې دَ بدن تولې پټې خزانې سرګنده ښکارېدې او هغۀ به په نيم کخو سترګو ليدے .

قاري صېب نه اسماني مخلوق وو او نۀ دَ انساني جذباتو نه محروم روبوټ ووبلکه دَ وينې غوښخې نه جوړ يو عام انسان وو او انساني خواص يې لرل . هغه دَ عمر په هغه طوفاني دور کښې وو چې په هغې کښې دَ انسان دَ نفساني خواهشاتو نيرنګي او دَ هيجاني کېفياتو طغياني نسبتًا شديد وي . او چې څوك دَ دغه چپو ښکار شي نو دومره شرمسار شي چې ټول عمري توبه ګار شي.

يو ځل په تلو تلو کښې هغې دَ هغۀ تندے ښکل کړو او دَ هغې په بدل کښې يې دَ هغۀ نه هم دغه مطالبه اوکړه . بله ورځ يې دَ تبرك په طور دَ هغۀ شونډې ښکل کړې او هغه ته يې هم دَ خپلو شونډو ښکلولو خواست اوکړو . په دربمه ورځ دَ هغې دَ صبرپېمانه ډکه شوه او هغۀ ته بې اختياره ورترغاړه وته . هغوي دواړو دَ يو بل نه لاسونه تاؤ کړي وو او دواړه دَ عشق په رنګينو کښې پټې سترګې ولاړوو.

هغوي دواړو په يوه ساه ، ساه اخسته او دَ دواړو زړونه په يوه ساه درزېدل . هغوي دَ ليونتوب اخري منزل ته رسېدلي وو او په مدهوشه حالت کښې يك جان ويك قالب وو چې دېکښې ډاکټر لائبه ډرائېنګ روم ته راغله . هغې چې دا روماني منظر اوليدو نو غلې غونډې واپس شوه، هغه دواړه دومره ړاندۀ کانه وو چې نه دَ هغې په راتلو پوهـ شو او نه دَ هغې په تلو پوهـ شو. البته چې کله دَ هغوي دَ



www.pukhto.net

سترګو خړه ختمه شوه او دواړه په مُسکا مُسکا دَ کمرې نه بهر اووتل نو ډاکټر لائبه دَ هغوي په انتظار کښې ولاړه وه . هغې په ولاړه ولاړه دواړو لـه خپله خپله بقايا هم ورکړه او دواړو له يې رخصت هم ورکړو . هغوي دواړه پـه يـو ګيټ اووتل خو دا معلومه نشوه چې قارې صيب په کومه لاړو او جان پري په کومه لاړه .

جان پري دَ ډاکټر لائبې په کور کښې وړه لويه شوې او پيغله شوې وه . هغـهٔ دَ اتـهٔ کـاله په عمر کښې دَ ډاکټر لائبې کورته راغلې وه او دولس کـاله يې هغـې سره تېرکړل . هغې دَ خپل ژوند لويه برخه دَ هغې په کـور کښـې تـېره کـړه او اوس دَ شلو کالو پخه پيغله وه . هغه دَ انصار هـيلتهـ سنټر دَ يوي سابقه دائي لور وه . دَ هغې غوښتو پسې ځو ځو رشتـې راغـلې وې خـو دَ هغـې بوډۍ مور دَ خپلې لور دَ رشتې واك ډاکټر لائبې لـه ورکـړې وو . او ډاکټر لائبـې هغه ټولې رشتې واپـس کړې وې ځکه چې هغه دَ هغې قابلِ اعتباره خدمتګاره وه او دَ هغې نـه بـغير دَ هغې کور چلېدې نشو. هغې سره دَ خپل کور چلېدو او نه چلېدو فکر وو خو دَ هغې ځواني ، دَ هغې دَ ځوانۍ تقاضې ، دَ هغې دَ ژونـد اسرې او دَ هـغـې دَ مسـتـقبل تيرې ورته نه ښکارېدې . په دغه رشتـو کښـې ځيـنـې رشتې داسې وې چې په هر لحاظ غوړې هم وې او هـغـې تـه قـابـلِ قبـول هم وې خو دَ ډاکټر لائبې په انکار هغه ټولې رشتـې واپـس شوې . د هغې همځولې جينکۍ وادهٔ شوې او دَ بال بچ مياندې شـوې خـو دَ هـغـې ټول خواهشات دَ هغې دَ ژوند دَ ارمانونو





سـانـدې شوې . دَ جان پري مور دَ خپلې مور دَ رشتې واك ډاکټر لائبې لـه ځـکـه ورکـړے وو چـې دَ هـغـې دَ وادهٔ او دَ وادهٔ دَ ټولې خرچې ذمه هـغـې اخستـې وه . پـه دے وجـه دَ هـغـې انکار دَجان پري او دَ هغې دَ مـور انـکـار ګڼلے شو. هغه جان پري چې دَ ډاکټر لائبې په کور کښې يـې دَ لـوے داج سره دَ وادهٔ خوبونه لېدل ، په يوه غېر اخلاقي ګناه ډېر پـه بـې عـزتـۍ سره دوه لاسه ، دوه پښې اووتـه . دَ هغې په تلو باندې دَ ډاکټر لائبې ډېر کارونه نيمګړې پاتې شو خو هغه نه دَ خپلو کارونو په نيـمـګـړتيـا خفه وه او نه ورته دَ هغې په تلو افسوس وو بلکه هغې ته افسـوس پـه دے وو چـې هغه دومره موده دَ هغې دَ کردار نه ولې غافله پـاتـې شـوه او هـغـه يې مخکښې ولې رخصت نکړه . دَ هغې دَتلو نه پـس هـغـې دَ خپل هسپتال يوه بوډۍ ملازمه ، مرجان راؤغوښتله او دَ جان پري ډيـوټـې يـې هـغـې تـه حـوالـه کـړه . دَ جان پري دَ تلو نه پس هـغـې دَ هسـپـتـال ډيـوټـې مـخـتـصـر کـړه او زيات وخت يې مهوش له ورکـړو . هـغـې سره به يې په هوم ورك کښې هم لاس کوو او ناظره يې هـم ورتـه پـه خـپـلـه کـولـه . دې نه علاوه نمونځ يې هم ورته اوښودو او دَ نمونځ اودس طريقې يې هم ورته اوښودلې .

يـو څـو ورځـې پس جان پري خپله مورځان سره انصار هيلتهـ سنټر ته بـوتـلـه او هـغـې تـه يـې خپله صفائي پېش کول غوښتل خو هغې ، هـغـې سره خبره کـول مـنـاسـب اونـهٔ ګڼل او دواړه يې پـه ولاړه ولاړه رخصت کړې .جان پري چې دَ هـغـې نـه نااميده شوه نو بله ورځ يې



www.pukhto.net

مـور ځـان سـره کـړه او دَ قـاري صېب په لټون کښې دَ هغۀ مدرسې ته ورغـلـه او چې کـلـه يـې دَ هـغـۀ تپوس اوکړو نو هغوي ته اوويلے شو چې څـۀ مـوده مخکښې هغه چاسره تور شوے دے او دے مدرسې نه تلے دے . جان پري دَ هغۀ نه مايوسه هم شوه او دَ هغۀ په نامه توره هم شوه . دې نه پس هغه په خپل کور کښې ښۀ په پخه کېناسته.

دَ جان پري پـه تـلـو بـاندې مهوش ډېره خفه وه او کله کله به يې يادوله څـکـه چې هـغـې ، هـغـې لـه دَ مور مينه ورکړې وه . دَ هغې خوراك څـخـاك ، دَ هـغـې لامبلول ، دَ هغې صفائي ستهرائي ، دَ هغې جامې ويـنـځـل ، استري کول ، دَ هغې کتابونه سمبالول ، دَ هغې تيارول او دَ سـکـول نـه راوسـتـل بـه هغې کول . دَ هغې په يوويش سره به دَ هغې زړه درزېـدو او دَ هغې په يوه چغه به هغه ، هغې ته حاضره ولاړه وه او لـکـه د خـوږ لاس به يې زړۀ پورې نېولې وه . . .دې نه علاوه دَ هغې دَ زړۀ دَ پاره به يې هغې سره دَ يوې ملګرې په حېث ګُډيانې هم لوبولې ،هغـې سره بـه يې پټپټـونې ، کـو چامـورے ، شلفاتي ، چيندرو او اشتـاپـې هـم کـولـې ، دَ ښـاپـېـرو او شهزادګانو قيصې بـه يې ورته هم وېـلـې او چې لـړه بـه يـې دَ سـتـرګـو نـه اخـوادېـخوا شوه نو ترهغې به ورپسـې دَ کـور پـه ګـوټـونو کښې اوتره ګرځېده چې ترڅو به يې هغه مـوندلې نه وه . دَتولو نه لويه خبره دا وه چې هغه دَهغې کلاس فېلو هـم وه او بُك فـېلو هم وه . هغې به هغې ته انتې وېلې او قاري صېب ته بـه ى چاچو وېلې.





کله کله به هغې، هغې پسې ژړل او په ژړا ژړا کښې به يې هغه يادوله خوورې مهوش ته څۀ پته وه چې ژوند څه دے ؟ دَ ژوند اصول څۀ دي ؟ د ژونـد تـقـاضـې اوکړمې څۀ دي ؟ په ژوند کښې دَ ښځې حيثيت او مـقـام څـۀ دے ؟ دَ هـغـې ژړا سره به کله کله دَ ډاکټر لائبې سترګې هم ډکې شوې خو چې دَ هغې دَ بې حيای منظر به ورته مخکښې شو نو ډکې سترګې به يې اوچې شوې .

دَ جُدائـۍ پـه دغـه اور کښـې جان پري هـم سـوزېـده ، ژړېده او په هره سـلـګـۍ کښـې بـه ورتـه هغه يادېده .دَ هغې په زړۀ کښې څو څو ځله راغـلـه چـې هـغـه دَ هـغـې دَ ليدو دَ پاره دَ هغې دَ سکول په لاره کښې اودرېږي او هغه اووينې خو دَ ډاکټر لائبې نه يرېده .

★★★★★★★★★★★★★★★
★★★★★★★★★★★
★★★★★★★
★★★★★
★★★
★★
★



www.pukhto.net

## «څلورم باب»

دَ اوړي موسم وو . دَ عیسوي کال شپږمه میاشت په وتو او اوومه میاشت په راتلو وه . دَ اسمان نه دَ نمر سرې پلوشې دَ سرو لمبو په شکل کښې ورېدې او دَ سومبو غوندې په زمکه لګېدې . دَ زمکې نه تود تبهې او دَ فضا نه تود تنور جوړ شوے وو. دَ خُوپړې دا حال وو چې هر سړے په خپلو خولو کښې لکه دَ وېشېدونکي وړې خُټکېدو . مرغو په پاڼو کښې سرونه ورکړي وو، ژبې یې راویستې وې او وزرونه یې خوارۀ کړي وو . څاروو دَ اونو او سپرونو په سیورې په ولاړه او ملاسته ژبې راویستې وے او تشې یې وهل . دَ مېداني او ښاریې دَ هرشته من سړي دا خواهش وو چې دَ اوړي موسم تېرولو دَ پاره چرته یخې او غریزې علاقې ته لاړ شي او ډېرو کسانو دغسې اوکړل .دَ سوات دَ شورش په وجه اکثر سېلانیانو مري ، ګلیات ، ایبټ آباد ، کاغان ، ناران او دَ دیر یخو علاقو ته مخه اوکړو . په کلېو، بانډو کښې دَ بجلۍ دَ لوډ شېډنګ مسله وه ، بله دَ ګرمۍ اوږده او نۀ ختمېدونکې سلسله وه . مشرخان چې دَ ګرمۍ نه تنګ شو نو هغه هم مشرې بي بي او شاکرخان سره کاغان ته دَ تلو مشوره اوکړه . مشره بي بي هغۀ سره تلو ته تیاره شوه خو شاکرخان دَ خپلو مصروفیاتو په وجه تیار نشو البته هغوي له یې په خندا خوشحالۍ دَ تلو مشوره ورکړه .

کوم خلق چې دَ ګرمۍ سیزن تېرولو دَ پاره سوات ته تلي وو او دَ





مینګورې ، فضاګټ اوکانجو ، خوازه خېله ، بحرېن ، مدېن ، کالام بشام او دَ نورو علاقو په هوټلونو ، دَ کرایه په کورونو ، جماتونو او تبلیغي مرکزونو کښې پراتۀ وو ، هغوي ته زر تر زره دَ سوات نه دَ وتو آرډر اوشو. دَ هغوي دَ وتو نه پس دَ سوات مقامي خلقو ته په داسے وقت کښې دَ وتو اعلان اوشو چې نمر په غرغره وو. په دے اعلان کښې هغوي ته اووېلے شو چې په سوات دَ فضائي حملې او بمبارۍ آرډر شوے دے . خپل کورونه جرنده کړۍ او زر ترزره د دې علاقې نه اوځۍ ګینې دَ خپل هلاکت به په خپله ذمه وار یې . " دا اعلان دومره ناګهاني او ناصافي وو چې د دے په اورېدو دَ ټولو زړونه لکه دَ شګې دَ کمر رژېدل او دوړېدل . هېڅوك ، هیڅ ته جوړ نشو او هر چا سره دَ خپل بال بچ او دَ خپل سر یره شوه . دَ سرکار له خوا دَ ګاډو بندوبست شوے وو خو هغه په سوك کښې دَ نوك برابر هم نه وو. هر څوك په دے کوشش کښې وو چې خپل ضروری سامان دَ یوې غوټې دوه په شکل کښې ځان سره واخلي او زر ترزره دَ کوره اوځي. دَ هغوي دا هلې ځلې شروع وې چې په کبل کښې دَ قیامت خېزه چودنو بې شمېره اوازونه وورېدے شو او دَ تور او شین لوګي تورې شنې لُوخړې دَ پلالې دَ ټوپڼو غوندې لړۍ په لړۍ بره ختې او دَ اسمان په وسعتونو کښې خورېدې . چاچې دغه خوفناك اوازونه وورېدل او دغه تور، شنۀ لوګي یې اولیدل نو هرڅۀ یې په ځائے پرېښودل ، ورونه یې جرنده کړل او دَ لېونو غوندې پرېشانه ، بدحاله ، پښې یېله



www.pukhto.net

پښې او سرتور سر دَ کورونو نه اووتل .سرکاري گاډي دَ سرکاري کسانو او معززينو نه ډك شوي وو او دَ پرائيوېټ گاډو خرچه دَ هر چا دَ وس کار نه وو خو په دغسې موقعو کښې څوك پېسې ته نهٔ گوري بلکه خپل عزت او خپل سرته گوري .شتهٔ من په پرائيوېټ گاډو کښې کېناستل څوك دَ سورلو په بسونو کښې کېناستل او خوارانو غريبانانو پياده تپال شروع کړو. هيچا ته معلومه نه وه چې هغه چرته او کوم خوا روان دے خو دا هر چا ته معلومه وه چې دا علاقه پرېښودل او دې نه وتل پکار دي. دَ کلېو ، باندو نارينه ، زنانه ،سپين ږيرې بوډاگان ، ځوانان هلکان ، سپين سرې بوډۍ گانې ، تور سرې نيم زالې ، حياداري پېغلې ، ورې جينکۍ او ماشومان په ژړا انگولا ، کډې په سر دَ مينگورې په سړك روان وو . دَ نمر سترگه پرېوته خو دَ هغهٔ زيړې پلوشي دَ ششتي دَ زيړگل دَ زيړو پاڼو غوندې دَ يوې شيرازې نه دَ اسمان ترلمنې پورې رسېدلې وې. په شين آسمان کښې دَ وريځې سرې ټوپنې داسې ښکارېدې لکه چې په فراخه مېدان کښې ځائے په ځائے دَ قربانۍ وينې او دَ غوښخې ډهېرې پراتهٔ وي.سکني ماښام په مزه مزه دَ شپې په تورو زلفو شفقي ځلا جهارو کوله او دَ تېرې تور پړونې يې په فضا او ټول چاپېريال خوره وو. په سړك يوخوا دَ گاډو غرغور او پو ں پاں وو، بل خوا بې وزله کډوال ، نارينه او زنانه پياده روانې وې . چاخپلې ضعيفې مياندې دَ لاس نه نيولې وې، چا خپل واړهٔ سينې ته اچولي وو ، چا دَ ټيکري په شکل





کښې شاته اچولي وو او چا په اوږو راړولي وو. دَ مخالف طرف نه به دَ گاډو په رڼا دَ هغوي سترگي برېښېدې، کله به پټېدې او کله به غړېدې . يوخوا لوے لوے غرونه وو، بل خوا ژور گړنگونه وو. هغوي دَ گاډو دَ ډغرو نه هم يرېدې او لاندې دَ گړنگونو نه هم يرېدې . کوم کډوال چې په گاډو کښې وو هغوي شپه په شپه تخت بائي ،مردان ، صوابۍ ، چارسدې او پېښور ته اورسېدل . څهٔ خپلو رشته دارو کره لاړل او څهٔ په سرکاري سکولونو ، کالجونو او نورو سرکاري ځايونو کښې پرېوتل او څوك چې پياده وو نو هغوي پړاؤ په پړاؤ په څوڅو ورځو کښې سمې ته اورسېدل ، او کوم سرکاري ځاے ته به چې ورتلل نو دَ گنجائش دَ کمي په وجه به ترېنه مايوسه واپس تلل. کوم حال چې دَ سوات دَ کډوالو وو هغه دَ بونير او دَ خواؤشاعلاقو دَ کډوالو هم وو.

يوخوا سخته گرمي وه ، بل خوا مايوسي ، پرېشاني او ځان ځاني وه. هرڅوك په خپلو خولو کښې ډوب وو او دَ بل چا په سخته ، راخته يې هيڅ کار نه لرلو . دا بې اسرې قافلې پړاؤ په پړاؤ پريشانه گرځېدې او په دغه گرځېدو گرځېدو کښې دَ قي دست چپې اووهلې . ځينے بوډاگان ، ماشومان او زنانه دَ خپلو قافلو نه بې درکه او ورکې شوې. دَ سرکاري اهلِ کارو دَ ډېر کوشش باوجود هم دغه قافلې هغوي نشوي قابوکولے . چې کله دَ هغوي نه ناپوره شوه نو دَ هرکلي او محلت سماجي کارکنان دَ هغوي دَ خدمت دَ پاره مېدان ته اووتل . هغوي دَ هرکلي په جماعت کښې دَ لوډ سپکرو په ذريعه اعلانونه اوکړل او



www.pukhto.net

عـوام تـه يې دَ هغوي دَ پنائي ، خوراك ، جامه پېزار او دَ هر قسمه امداد اپيلونه اوکړل . دَ دغه کډوالو قافلې زوړ کلي، همايون کلي او اکبر کلي ته هم راماتې شوې او دَ سپين نهر په غاړه دَ اولو په سيوري پريوتې.
شاکرخان چې دَ هغوي دَ راتلو نه خبر شو نو دَ زوړ کلي ، همايون کلي او اکبر کلي په جماتونو کښې يې اعلانونه اوکړل او ټولو خلقو ته يې دَ هغوي دَامـداد خـواسـت اوکړو . دَ هغهٔ په اعلانونو دَ دربو واړو کلېو نـه ټول زميدار ، کسب ګر او مزدورکار رااووتل او ټولو ورته دَ خدمت دَ پاره خپـلې سيـنـې اوټپـولـے . هـغهٔ په دربووارو کلېو کښې امدادي کـېـمـپـونـه اولـګول . څهٔ کسان يې دغه کېمپونو ته اودرول او څهٔ يې بـازار تـه دَ خـېـمـو اخستـلو دَ پاره اولېږل . يو خوا امدادي کـېمـپـونو ته امـدادونـه راتـلـل ، بـل خـوا نـه خېمي راغلې او په دغه دربووارو کلېو کښې دَ سپين نهر په غاړه په داسې طريقه اولګولې شوې چې دَ هرې کـورنـۍ دَ زنانـهٔ او نـارينـهٔ دَ پاره بيـلې بيلې بيت الخلا او غسل خـانې وي . چې دا اوشـوه نـو بيـا يـې دَ خپـلـو سړو په ذريعه دَ هغوي کـډې اوچتـې کـړے او دَ هغو ي پـه خـوښـخـه يـې پـه خېمو کښې اولـګـولـې . چې دا کار اوشو نو بيا يې په هنګامي توګه بازار ته سړي اولـېـږل او دَ ورژو درے پـاخـهٔ دېـګونه يې راؤړل او په خپـل لاس يې په هغوي تـقـسيـم کـړے ، څـهٔ کـډوال دَ قي دست چيچې وهلے وو، څهٔ دَ شوګر او بلډپريشر مريضان او څهٔ دَ پياده مزل په وجه ستړے ستومانه وو او دَ دړدونـو نـه يـې فـريـادونه کول. شاکرخان چې دې مسلو نه خبر





شو نو DCO تـه يـې فـون اوکـړو او هـغهٔ نه يې دَ ميډيکل ټيم مطالبه اوکـړه . دَ هـغـهٔ پـه مـطـالـبـه فـوري طـور عمل اوشو اولږ شېبه پس دَ ډاکټـرانـو يـوټيـم راغـی چې پـه هغې کښې نارينه او زنانه ډاکټرانې شـامـلې وې . دَ سرکاري ډاکټـرانـونـه عـلاوه دَ پـرائېويټ هسپتالونو ډاکټران دَ خدمت خلق په توګه په مختلف کېمپونو ګرځېدل . هغوي بـه دَمـريـضانو دَ بيماريو تپوسونه هم کول او دارو دُرمل به يې هم وېړيا ورکـول . پـه دغه پرائېويټ ډاکټرانو کښې دَ نورو نه علاوه ډاکټر لائبه او دَ هغې معاونين هم شامل وو. هغوي ټول دَ شاکرخان په وېنا په دغه دربـو واړو کـېـمـپـونـو خـوارهٔ شـو . يـو خـوا دَ هغوي دَ علاج معالجې سـلسله جاري وه بل خوا دَ امدادي کـېـمـپـونونه جامې ، پېزار ، لوپټې ، څادرونـه ، پټـکي ، چـېـنکونه ، پيالۍ ، رکـېبۍ ، تېل مالګه ، دَ جامو ويـنـځـلو اولامبلو صابونونه ، اينې ګمنزې او دَ ضرورت نور سامانونه راتـلـل او هغوي تـه حـوالـه کـېدل. دې نه علاوه دَ کورونو نه به دَ يخو اوبـو او شـربـت کـولـرونـه ، دَ چايو ډك ډك چېنکونه ، دَ ترکارۍ ډکې کټـوۍ او دَ ډوډۍ ډکـې شـکـرۍ راتلې او هغوي له به ورکړې کېدې.
مـابـنـام هـغـهٔ دَ کلي قصاب او کولال خپلې حجرې ته را اوغوښتل، او قـصـاب تـه يـې اووے ، "تـهٔ بـه هـره ورځ يـو سخوندر راولـے ، هغه به حـلالـوے او هـغـه غـوښـخـه بـه دے کولال ته حواله کوے ". بيا يې کـولال تـه اووے ، تـهٔ بـه هـره ورځ دَ يـو يو کـېمپ دَ پاره يو يو دېـګ پـخـوے او پـه خپله به يې په کډوالو کښې تقسيموے " بيا يې دواړو



www.pukhto.net

تـه اووے ، ''تاسو دواړه به هرماښام ماسره ليدل کوئ او خپلې پېسې به اوړئ ''. چې کله دا ټول انتظامات اوشو نو هغه ډېرخوشحاله شو. يـوه ورځ هغهٔ ته شکايت اوشو چې دَ لېونې خېلو ځينـے اواره هلکان دَ کـډوالـودَ پړاؤونو مخې ته اوړي راؤړي ، سگرېټې څکي، غاړې تازه کوي ، شپـېلي وهي او په خيمو کښې دننه جينکو ته تيا ںتاں کوي. هغهٔ چې دا واورېدل نو دَ قهره داسے سور شو لکه چې دَ اور لمبه پرې ګرځېـدلې وي . هغهٔ فوري طور خپل مسلّح نوکران راؤغوښتل او دَ هغوي دَ سرکـوبۍ دَ پاره يې هغوي پسې اولېږل . هغوي پرې هډو اوچ اونـه خوړل ، يو څوکسـان يې راګېرکړل او ترهغې يې وهل او په سپيـن نهر کښې يې غوپې ورکولے چې هغوي يې په توبو کړل . بيا بـه دَ هـغهٔ دوه دوه سړو په هر پړاؤ وسله په لاس شپه ورځ څوکۍ کوله چې دغـه مېلمنو ته څوك څهٔ نقصان اونه رسوي . په څلورمه ورځ دَ کـېمپونو معائنې دَ پاره DCO پـه داسے وخت کښې راغۍ چې دَ هر کـېمپ مـخې تـه دَ غـوښـخي يـو يـو دېګ پخېدو . دَ هغهٔ په تپوس بـانـدې هـغـې تـه اوويلے شو چې دلته نه سرکاري امداد راځي او نه دَ څهٔ ايـن جي اولـه خـوا څـهٔ مـواد راځي . دا خـېمې شاکرخان په خپلو پـېسو دَ بازار نه راؤړې دي او دا دېګونه او دَ ډوډۍ تنورونه او دغه نوره خـرچـه هغـه دَ خپـلـه جېبه کوي . هـغـهٔ چې دا واورېـدل نو دَ هغه دَ ځـوانـمردۍ يـې ډېره ستـايـنـه اوکړه او هغهٔ سره يې دَ ليدو خواهش اوکـړو ، او چې کـله يې هغهٔ سره ليدل اوکړل نو دَ هغهٔ دَ شخصيّت نه





دومـره متـاثـر شو چې هغهٔ دَ ټولو فلاحي او ميډيکل ټيمونو کمانډر مقرر کړو. دې نه علاوه هغه يې اعلیٰ صوبائي او وفاقي اېوارډز دَ پاره نـامزد کـړو. دې سره دومره اوشـو چې دا درے واړه کـېمپونـه او پـه دېـکښـې پراته کډوال دَ سرکار په ريکارډ کښې راغلل او دَ حکومت او ايـن جـی اوز لـه خـوا خـوراکي مـواد او نـور امـدادي څېـزونـه بـه دې کـېمپونو ته راتلل او تقسمېدل . يوه ورځ هغهٔ ته شکايت اوشو چې دَ اکبر کـلي دَ کـېمپ پـه ړومبۍ خـېمه کښې شپه ورځ ژړا وي خو دا مـعـلـومات نيشتـه چې دَ هغوي دَ ژړا فرياد څهٔ وجه ده ؟'' هغهٔ چې دا خبـره واورېـده نـو دَ معلومات کولو دَ پاره يې يو سړے اولېږو خو هغه پـه خپـل مشـن کښـې نـاکـام شـو.دې نه پس هغه په خپله ورغۍ او دَ خـېمې خواکښې غلے غوندې اودرېدو. دَ ژړا نه هغه ته معلومه شوه چې دوه زنـانه دي او دواړه ژاړي. دَ هغوي په ژړا هغهٔ دَ خېمې دَ خوانه اواز ورکـړو ، " ببيـانو زهٔ ، شاکر تاسو نه تپوس کولے شم چې تاسو ته څـهٔ تکليف دے چې تاسو ژاړئ ؟ زهٔ ستاسو څهٔ خدمت کولے شم؟''
دَ هـغـهٔ پـه تپوس دواړو زنانهٔ خپل مخونه په لوپټو کښې پټ کړل .
بيـادَ يـوې بـوډۍ اواز راغـی ، ''زويه جو ته مونږ دَ پاره يوه قرباني جو ورکولے شے ''؟
شـاکـرخـان :. زهٔ هرې قربانۍ ورکولو ته تياريم . وايه مورې زهٔ ستاسو څهٔ خدمت کولے شم ؟
بـوډۍ :. زويـه ، زما نوسے جو زمونږ دَ قافلې نه بېل شوے اوجو بې



www.pukhto.net

درکه شوے دے .تۀ جو مونږ دَ پاره دَ هغۀ دَ موندلو هڅه کولے شے ؟
شاکرخان :. اوه ، دا مسله ده تاسو ته ؟ دا څۀ دومره مشکله نه ده . دَ
هغه څۀ نوم دے .
بوډۍ :.جوشُهېل .
شاکرخان:. جو شهېل؟ دا څنګه نوم دے ؟ ”دَ يوې پېغلې اواز راځي ،
”جوشهېل نه جو، سُهېل .
شاکرخان:. جو سُهېل .
پېغله:. جو سهېل نه ، صرف سهېل .
شاکرخان:. صرف سهېل.
پېغله:. صرف سهېل نه ، سهېل .
شاکرخان (خاندي) پوهـ شوم ، پوهـ شوم ، سهېل.ښه دَ هغۀ عمر څۀ
دے ؟
پېغله:. لس کاله .
شاکرخان:. بس اوشوه . زۀ وریسې نورو کېمپونو ته سړي لېږم خو په
یو شرط او هغه دا چې تاسو به ژاړی نه پليز؟ هغه بله خبره اونکړي او
دَ هغوي نه روان شي . هغه چې خپلې حجرې ته اورسېدو نو خپل
نوکران يې راغونډ کړل چې په هغوي کښې دوه ، درے کسه مختلف
کېمپونو ته اوليږي او دَ هغه معلومات اوکړي . هغۀ چې هغوي چان
کړل نو دوه کسه يې پکښې منتخب کړل او هغوي له يې دَ تلو او دَ
هغۀ دَ تلاش متعلق هدايات ورکول چې يو لوږ دنګ سړے او





بوغورکے هلك حجرې ته دننه شول . ميلمه چې هغه اوليدو نه
مُسکے شو او دَ هغۀ سلام له په مُسکا مُسکا ورغی . دَ روغ جوړ نه
پس مېلمه شاکرخان ته اووے ، ”جونائيکه زۀ دے جواونه پېژندم “؟
شاکرخان:. سترګې مِ درباندې خوږې شوې خودَ خيال نه مِ اوتے يې.
مېلمه (په مُسکا) نائېکه ، جوزۀ طالع مند يم (خاندي) اوس دے
اوپېژندم نائيکه ؟
شاکرخان (خاندي) او طالع مند کاکا په خېر په خېر (هغه له غاړه
ورکوي) ”ډېره موده پس مِ اوليدے . چرته وې او چرته يې ؟
طالع مند:. جونائېکه ، بره وطن کښې ووم . اوس دے کهوالو سره جو
خکته راغلے يم، په تخت بی. کښې پروت يم.
شاکرخان:. دلته ولې نه راتلے ؟
طالع مند:. دلته راتلم نائېکه جو په لاره مِ کډه ناروغه شوه .
شاکرخان (په حېرانتيا) کډه دے ناروغه شوه ؟
طالع مند:. هاؤنيکه ، جوکډه مونږ کور واله ته وايو ( خاندي) چې لږه
ښۀ شي نو هم دلته به راځم .
شاکرخان:. ډېره ښۀ ده . دا ستا خپل ځاے دے . . .دا ماشوم ستا
زوے دے ؟
طالع مند:. نه نائېکه . دے دَ قاضي صېب نوسے او ستامېلمه دے.
شاکرخان (په حېرانتا) زۀ پوهـ نشوم طالع مند کاکا.”طالع مند دَ جېب
نه يوخط را اوباسي او هغۀ له يې ورکوي. شاکرخان چې خط اوسپړي



www.pukhto.net

نو هغه دَ هغهٔ دَ پلار په نامه لیکلے شوے وي. خط داسے وو.

ګرانه افضل خانه خوشحاله اوسے .

سلامونه . هیله لرم چې روغ جوړ به یې. په سوات کښې اپرېشن شروع کېدونکے دے . ټولو مقامي او غېر مقامي خلقوته دَ علاقې دَ خالي کولو اعلان شوے دے . زهٔ په خپله درتلے نشم ځکه چې کمزورے هم یم او مریض هم یم . ماخپل ځان په مرګ شمېرلے دے . چې په لاره مرم نو بهتر دا ده چې په خپل کټ پوزي مړشم. دَ طالع مند په مرسته خپله کډه ، خپله نوسې هما قاضي او خپل نوسے سهېل قاضي درلېږم او هیله لرم چې ستا په سرپرستۍ کښې به محفوظه هم وي او خوشحاله به هم وي . زماله خوا بي بي ته ، سلامونه او شاکرخان او زاهدخان ته ډېره ډېره مینه .

والسّلام

ستا ورور قاضي عنایت الله مینګوره .

شاکرخان چې خط اولولي نو مُسکے شي او وائي ، "وعلیکم سلام" بیا سهېل ته ګوري او وائي ، "ستا نوم سهیل دے ؟" دَ هغهٔ په ځائے طالع مند جواب ورکوي او وائي ، "هاؤ نائېکه ، جو مونږ په یوه قافله کښې وو خو چې زما کډه ناروغه شوه نو مونږ په تخت بی کښې دَ ګاډي نه کوز شو او دے هم مونږ سره کوز شو . زمونږ جودا خیال وو چې ابۍ او خور بي بي هم مونږ سره کوزه شوه خو چې ګاډے روان شو او هغوي مِ او نه لیدل جو ماسره غم شو. نائېکه سهېل به جوتا





سره پاتے شي او زهٔ به دَ ابۍ او خور بي بي لټون اوکړم. که هغوي مِ جو اوموندل نو دلته به یې راولم .

شاکرخان (مُسکے شي)دَ هغوي لټون مهٔ کوه ، هغوي دلته راغلي دي او مونږ سره په کېمپ کښې دي . البته مونږ سره دَ سهېل غم وو او دَ دهٔ تلاش پسې مِ سړي لېږل چې تاسو راغلۍ . زمونږ مسله حل شوه که تهٔ ډوډۍ ته اېسارېږے خو ډېره ښه ده او که نه ایسارېږے نو ځه لاړ شه او خپله کډه کوډه دلته راوړه .

طالع مند:. نه نائیکه ، جو ایسارېدے نشم، اجازت راکوه چې ځم درنه . لاړم درنه ، سلام علیکم .

شاکرخان:. وعلیکم السلام . شاکرخان هغه له دَ رخصت لاس ورکوي خو په تلو تلو کښې ورته وائي ، "طالع مند کاکا" ستا هغه رور . . .بګا ځنګه دے؟

طالع مند (خاندي) ښهٔ دے نائیکه . هغه مِ جو وطن کښې مېښو ته پرېښے دے ." دې سره هغه ډېر په تیزۍ سره بهر اوځي . د هغهٔ دَ تلو نه پس شاکرخان په سهېل باندې چاې شربت اوڅکوي او چې کله هغه ښهٔ سُر کښې شي نو بیا یې ځان سره په ګاډي کښې کېنوي او هغه خېمې ته یې اورسوي چرته چې دَ هغهٔ نیا او خور وي. بیا سهېل ته وائي،"ځه ګله خپلې نیا اوخور له دے ورشه ." او هنّ خپله کډه کوډه مو راواخلۍ چې تاسو بل پړاؤ ته اورسوم ." سهېل چې خپله نیا او خور اولېده نو ډېر خوشحاله شو، هغوي دواړو لا هغه ښکلوؤ



www.pukhto.net

چې هغه ورته اووے ، "خان جي وائي چې خپله کډه کوډه راواخلې ، هغه مونږ بل پړاؤ ته بوځي" . هغوي هډو دَ هغهٔ نه دَ "ولي اوچرته" تپوس اونکړو، خپل سامان يې زر زر راغونډ کړو او دَ هغهٔ په ګاډي کښې يې کېښودو . چې ګاډے روان شو او لږه شېبه تېرېده نو هغوي يې "آرام ګاه ته اورسول . هلته نه يې هغوي ته دَ آرام کولو دَ پاره اووے او واپس کورته روان شو. چې کورته اورسېدو نو دَ خوراك څخاك سامان يې په ګاډي کښې کېښودو، خپله خدمتګاره يې ځان سره په ګاډي کښې کېښوله او دَ هغوي دَ خدمت دَ پاره يې هلته اورسوله . دا آرام ګاه هغهٔ دَ پلار په وينا دَ مېلمنو دَ آرام او قيام دَ پاره جوړ کړے وو . دَ قاضي صېب کورنۍ دَ هغهٔ رومبي مېلمانهٔ وو چې دلته دَ قيام دَ پاره راوستي شو ځکه چې دا ځاے محفوظ هم وو او دَ ژوند سهولتونه هم پکښې موجود وو . قاضي عنايت الله دَ قاضي ثناء الله ايکے يو زوے وو. قاضي ثناء الله دَ والي سوات دَ عدالتِ عاليه قاضي القضات يعني چيف جسټس وو او دَ خپلې ايماندارۍ او عدل وانصاف په وجه دَ سوات په ټوله سيمه کښې مشهور وو. قاضي عنايت الله دَ پېښور په اسلاميه کالج کښې دَ افضل خان (مشر خان ) کلاس فېلو هم وو او دَ هغهٔ ښهٔ ملګرے هم وو. هغوي دواړه به يو بل سره کلي ته تلل راتلل . قاضي صېب به دَ يخنۍ چهټيانې مشرخان سره په زوړ کلي کښې تيرولے او مشرخان به دګرمۍ سېزن هغهٔ سره په مېنګوره په نوے کلي کښې تېره وو. چې کله هغوي دَ





اسلاميه کالج نه فارغ شو نو مشرخان دَ خان بابا په وينا دَ خپلې زمکې خصمانه شروع کړه او قاضي عنايت الله په اسلام آباد کښې په محکمه داخله کښې افسر شو. دواړه په خپلو خپلو کارونو کښې مصروف شو خو دَدوستۍ رشته يې بحال وه او دَ يو بل کلي ته به تلل راتلل . قاضي عنايت الله چې دَ نوکرۍ نه ريټائر شو نو اکثر به مشر خان له راتلو او څو څو ورځي به هغه سره په حجره کښې پروت وو او چې کله به مشرخان او قاضي صېب دَ خپلې هلکانے ، پخوانۍ خبرې کولے نو شاکرخان او زاهد خان به اورېدې خو دَ تيرو څلورو کالو نه هغه نه وو راغلے ځکه چې دَ هغهٔ زوے نورالله قاضي چې په پاك آرمي کښې مېجر وو، دَ روډ په يوه حادثه کښې سره دَ خپلې ښځې مړ شوے وو او دَ هغوي دَ مرګ په وجه هغهٔ ته دومره ذهني او قلبي صدمه رسېدلې وه چې څوڅو ورځي دَ خفګان په وجه نسکور پروت وو په هغه وخت کښې دَ هما قاضي عمر يؤلس کاله وو او دَ سهيل قاضي عمر شپږ کاله وو.

مشرخان چې دَ هغوي دَ مرګ نه خبر شو نو سره دَ مشرې بي بي دَ هغوي تعزيت دَ پاره هلته لاړو او هغه سره يې غم خوري اوکړه . دې نه پس هم مشرخان څوڅوځله هلته تلے وو خو هغه نه وو راغلے البته دَ طالع مند او بګا په ذريعه به سلامونه تلل راتلل . طالع مند او بګا دواړه رونړه وو دَ هغوي خپل ذاتي کور نه وو. هغوي دَ پېښي په لحاظ ګوجران وو. په مېنګوره کښې دَ قاضي صېب په مېنه کښې



www.pukhto.net

اوسېدل او چې کله به په يخنۍ کښې سمې ته راخکته شو نو په زوړ کلي کښې به دَمشرخان په هغه مينه کښې پراتۀ وو چې دَ ګوجرمينه ، په نامه مشوره وه خو دَ تېرو دوو کالو راسې هغوي هم نه وو راغلے. ماسخوتن چې طالع مند دَ خپلې کډې او بال بچ سره را اورسېدو نو هغه دَ اکبر کلي دَ کېمپ په هغه خېمه کښې ډهېره شو په کومه کښې چې مخکښې دَ قاضيانو کورنۍ وه او اوس خالي پرته وه . سبا چې طالع مند دَ مشرخان حجرې ته راغی نو شاکرخان هغۀ ته اووے : طالع مند کاکا ، دا راته اووايه چې قاضي صېب خپل تېر سره ولې رانه غی او خپل تېر يې تاته ولې اوسپارلو؟

طالع مند:. نائيکه جو دېکښې ډېرې خبرې دي . يوه دا چې مونږ ټول تېر جودَ هغۀ په نغري او دَ هغۀ په تالي لوے شوے يو. هغه او دَ هغه بي بي مونږ ته دَ خپلې ابۍ ، بابا نه کم نه ښکاري او دَ هغوي نواسا نوسي زمونږ په لاس کښې لکه دَ خپل آئېل (اولاد) لوے شوي دي. زمونږ ذمه واري صرف دومره وه چې هغوي جو ستاسو کالۀ (کور) ته راؤرسوؤ او تاسو ته يې حواله کړو. دريمه خبره دا ده چې هغه جو ناتوانه هم دے او مريض هم دے . نايکه هغه به تاسو ته په خط کښې جو دغه عذر ليکلې وي .

شاکرخان :. طالع مند کاکا، زۀ دَ قاضي صېب په وجه ډېر پرېشان يم. که ابو مِ دې نه خبر شي چې قاضي صېب دَ بيمارۍ په وجه هلته پاتے شوے دے او تېر يې دلته رالېږلے دے نو هغه به ډېر خفه شي .





زۀ غوارم چې دَ ابودَ راتلو نه مخکښې هغه دلته خپل تېر له راولم. ستا څنګه خوښه ده .

طالع مند:. نائيکه جو ستا خبره مِ زړۀ ته پرېوته . که ستا خوښه وي جوزۀ به ورپسې جو يوه منډه اوکړم .

شاکرخان:. نه طالع مند کاکا ، ته به يو ائے منډه نه کوے بلکه مونږ دواړه به ورپسې ځو، په دواړه کسه به يې ډګنه ډولۍ اوچتوو او په ګاډي کښې به يې اچوو.

طالع مند (خاندي) ډېره مِ خوښه ده نائېکه ، کله به ځو.

شاکرخان :. کله کله نېشته ، زۀ ګاډے را اوباسم او اوس ځو. ته ځان تياره وه .

طالع مند:. زۀ تياريم جو نائېکه .

شاکرخان:. اوس اتۀ بجې دي . چې اوس روان شو نو يؤلس ،يؤلس نيمې بجې به هلته اورسوو او چې دَ هلته نه دولس بجې راروان شو نو درې ، درې نيمې بجې به دلته يو.'' دې سره هغه پاسي ، ګاډے را اوباسي ، طالع مند ځان سره کېنوي او روانېږي . په سوات کښې دَ ترهه ګرو خلاف سرچ اپرېشن شروع شوے وو . ځائے په ځائے دَ فوجيانو چوکۍ جوړې شوې وي او دَ هر ګاډي ، سامان او دَ هر سړي جسماني تلاشۍ به هم اخستلې کېدې او تپوسونه به ترېنه هم کېدل . په دې دې کښې هغوي دوه بجې نوي کلي ته اورسېدل . دَ طالع مند په ښودنه شاکرخان دَ قاضي صېب دَ کور مخې ته ګاډے



www.pukhto.net

اودروو او دواړه تـرېنه کوز شو . دَ قاضي صېب دروازه لرې وه او هغوي چې کور ته دننه شو نو قاضي صېب بهر په برنډه کښې ډډه وهلے وه ، دَ طالـع مـنـد کشـر رور بـګـا ورله په اوړو او متهو زور ورکوو او دَ هغه ښـځه شاهي لعله دَ هغهٔ دَ کور په صفائۍ ، ستهرائۍ کښې اخته وه . هغوي چې هغوي اولیـدل نـو بـګـا پـه خـندا خندا دَ هغوي مخې له ورغـۍ او دواړو سره یې سترې مشي اوکړل . دَ هغوي په لیدو شاهي لعـلـه هـم پـه خـنـدا شوه . زر زر يې لاسونه اووينځل او دواړو سره يې سترې مشي اوکـړل. دې نـه پـس قاضي صېب له ورغلل او هغه سره يې روغ جوړ اوکـړل . طـالـع مـنـد ، قـاضي صېب سره دَ شاکر خان پـېـژنـدګـلـو کـول غـوښتل خو دَ هغهٔ نظر دومره پوخ وو چې دَ هغهٔ دَ پـېـژنـدګـلـو ضـرورت پېښ نشو او هغه يې په ړومبي نظر اوپېژندو . هـغـهٔ دَ لاس پـه اشاره دَ طـالـع مـنـد خبره پرېکړه او شاکرخان ته يې په مـخـامخ کرسۍ دَ کېناستو ست اوکړو دَ کېناستو سره بګا ، طالع سره ګنګوسې اوکړو او دواړه کورته روان شو . دَ هغوي دَ تلو نه پس قاضي صـېـب ، شـاکـر خـان تـه اووے ، شاکره بچے ، ته ثنګه راغلے ؟ هغه مسـکـے شـو او هـغـه ته يې په معصومانه مُسکا اووے ، "کاکاجي ، زهٔ ستاسو سلام له راغلے يم"

قـاضي صـېـب:.سـلام خـو تـا دَ طالع مند په خوله هم رالېږلے شو. تا ولې تکليف کوو؟

شاکـرخان:. کـاکاجي، سلام دَ هغهٔ په خوله کېدېشو خولېدل کتل دَ





هغهٔ په خوله نشو کېدے .قاضي صېب مُسکے شي ، هغهٔ ته په خوږ نظرګوري او وائي ، "شاباش زويه ، زما تانه هم دغه توقع وه. پلار مور دې ثنګه دي؟ زاهد بچے ثنګه دے او نور کلے اولس ثنګه دے ؟

شـاکـرخـان:.ټول دَ خېره روغ جوړ دي . زاهد ولايت ته تلے دے او مور پلار مِ دَ ګرمۍ سېزن تېرولو دَ پاره کاغان ته تلې دي.

قـاضي صـېـب (ترخه مُسکا) هغه ګرمۍ ته دَ تېنګې نه دے . ماوے چې دلتـه مشکله ده خو چرته بل خوا به ضرور تلے وي . . .او دلته به ثـنـګـه راشي؟ د دے ځـائـے خـپـل حق چې پلار په نيکهٔ او نيکهٔ په نيـکـهٔ ، دَ پـېـړو پـېـړو راسې د دې سيمي اوسېدونکي وو هغوي ټول لاړل ، او هـغـوي لا ثـهٔ کـوے چې د دے سيـمې دَ هوا مـارغـان او دَ ځـنګل ځناور هم لاړل اوتختېدل ، صرف هغه خلق پاتي دي چې لکه زمـا بـې وسـه نـاتوان دي يا ثهٔ ډېر مجبور کسان دي . يا دا چې دَ خپـل ځـان دشـمـنان دي. دا اوس هغه سوات نه دے پاتـے چې دَ خوشګواره فـضـا، دَ فـطـرتي ښکلا او دَ امنيت دَ خېرصلا په وجه به ورته ملکي او غـېـرملکي سيلانيانو دَ پاکستان سوېزرلېنډ ويلے . اوس دے نه تود تـنـور جوړ شوے دے چې دَ بارودو لمبې ترېنه خېژي او انسان پکښې سـوزي ايره کېږي . يو خوا طالبان دي ، بل خوا فوجيان دي او دَ دوي په ميـنـځ کښې بې وزله عوام دي . عـوام مري ، عوام ژوبلېږي ، دَ عوامو کـورونـه ورانـېـږي ، فصلونه يې تباه کېږي ، او ثاروي يې هلاکېږي . دلته هېڅوك نشي ايسارېدے ، هر سړے په تېختـه دے .



www.pukhto.net

شاکرخان:. کاکاجي چې هر سړے په تېخته دے نو تاسو څۀ ته ايساريئ.
قاضي صېب:. په سوات او دَ سوات په حسن دَ ښکلا ډېرې قصيدې ليکلې شوي دي خو نوحه پرې چانۀ ده ليکلې . زۀ دَ سوات په حالت وواقعات نوحه ليکل غواړم .
شاکرخان:. آيا تاسو داسې کولے شئ ؟ دَ سوات دَتباهۍ اوبربادۍ په محرکاتو، زبان کشائي کولے شئ ؟ او ستاسو نوحه به څوك اوري؟ طالبان ؟ فوجيان او که عوام ؟ دَ سوات په حالت زار دَ نوحې لېکلو په ځاے دَ هغه خلقوپه حالت زار نوحه اوليکۍ کوم چې در په در او کړې په سر دَ سمې په رېګونو کښې ګرځي. تۀ دَ هغه کنډورنډو دَ ژړا اوازونه ووره دَ چا بچي او خاوندان چې بې ګناه بې خطا قتل شو، هلاك شو، دَ هغۀ ماشومانو چغې ژړا ووره چې په يتيم خانو کښې پراتۀ دي . سوات هيڅ نه کېږي ، دا به بيا اباد شي خو کوم بې ګناه عوام چې دَ دوو نظريو په تس کښې هلاك شو، هغوي چرې هم بيانشي راتلے.'' دَ شاکرخان په خبرو دَ قاضي صېب سترګې ډکې شي او هغۀ ته وائي ''زما نواسا نواسي څنګه دي؟ بوډۍ څنګه ده ؟
شاکرخان:. هغوي ښۀ دي خو ستاسو په وجه ډېرپرېشان دي.
قاضي صېب :. دغه حال زما هم دے بچے خو زۀ په دے مطمئن يم چې هغوي ستاسو دَ سيوري لاندې دي .
شاکرخان:. کاکاجي زۀ تاسو پسې راغلے يم او تاسو ځان سره بوتلل غواړم .





قاضي صېب :. شاکره بچے ، زۀ دَ يو څو ورځو مېلمه يم ، چې په خپل کټ پوزي او په خپله سيمه کښې مړشم نو دا به زما خوش قسمتي وي.
شاکرخان:. کاکاجي ،داسې دَ مايوسۍ خبرې مۀ کوۍ ، تاسو به انشاء الله تېك ټاك شئ هسې تاسو ته څۀ تکليف دے ؟
قاضي صېب:. زۀ نور ښۀ يم ، خوراك کولے شم ، خبرې کولے شم خو پښې مې شلې دي ، نه اودرېدے شم او نه ګرځېدے شم .
شاکرخان:.(خاندي) ما او طالع مند کاکا ، دا صلا کړے وه چې تاسو به په دواړه کسه ډنګه ډولۍ اوچتوو او په ګاډي کښې مو اړدو . ما ستاسو دَ پاره په خپل باغ کښې الوچې او امونه ساتلي دي . هغه به ځان له په خپله شوکوۍ او په خپله به يې خورۍ .
قاضي صېب (مسکے شي ) کاش داسې اوشي .
شاکرخان:. داسې به کېږي انشاء الله ، دَ هغۀ دَ خولې نه ايله دغه ټکي اووتل چې طالع مند ، بګا او شاهي لعله کورته دننه شوه . دَ راتلو سره طالع مند په برنډه کښې درۍ اوغوړوله او بګا او شاهي لعلې پرې ډوډۍ کېښوده . طالع مند ، شاکرخان ته اووے ، ''راځه نائېکه چې ډوډۍ اوخورے ''. هغه دَ چا خبره چې تړے شپېلۍ نۀ غواړي او اوږے ست نۀ غواړي . او هم دغسې اوشوه ، هغه ، هغۀ سره ډوډۍ ته کېناستو . ډوډۍ ډېره ساده ، دَ جوارو ډوډۍ ، دَ پيشتري ساګ، ماستۀ او شوملې وې دَ کېناستو سره شاکرخان دَ ماستو ډکه کاسه دَ ساګ په کاسه کښې واړوله ،دَ جوارو ډوډۍ يې پکښې ماته کړه او بيا



www.pukhto.net

شروع شو . هغه دومره په مړه خېټه ډوډۍ اوخوړه چې بیا په هغه
ځائے اوغزېدو . دَ هغهٔ سترګې مرغۍ مرغۍ کېدې چې طالع مند
شاهي لعلې ته اووے "شاهي لعلې ، جوتهٔ دَ قاضي صېب دَ جامه ،
پیزار غاړه غوټه تیاره کړه او جونائېك به لږ ارام اوکړي،
شاکرخان چې دا وورېدل نو پاسېدو ، په واش روم کښې یې اودس
اوکړو ، بیا یې سفرانه نمونځ اوکړو او دَ تلو تیارې یې شروع کړو. هغهٔ
دَ ګاډي تېل ، اوبه چېك کړے اولا په نور ټکو پکو کار کښې لګیا وو
چې شاهي لعلې دَ قاضي صېب سوټ کېس راؤړو. شاکرخان دَ هغې
نه سوټ کېس واخستو او په روستي سیټ کښې کېښودو لږه شېبه
پس بګا هغه په دواړه لاسه په غېږ کښې اوچت کړو او په فرنټ سیټ
کښې یې کېنوو.طالع مند هم روستو کېناستواو شاکرخان هم ګاډي
ته اوختو. په تلو تلو کښې قاضي صېب هغوي له دَ کور په باره
کښې هدایات ورکړل او چې کله ګاډے روان شو نو په ډکو سترګو
یې خپل کور ته اوکتل او بیا یې تربنه مخ واړه وو. بګا او شاهي لعله
تر هغې ولاړ وو او هغوي ته یې کتل چې ګاډے دَ نظر نه پناه شو.
ماښام ترږمے وو چې هغوي کلي ته اورسېدل . هغه طالع مند خپلې
حجرې سره کوز کړو او قاضي صېب یې آرام ګاه ته اورسوو . هغهٔ
چې دَ آرام ګاه ګېټ سره هارن اووهو نو دَ هغهٔ خدمتګارې زرتاجې
هغهٔ ته ګېټ لرے کړو. دَ قاضي ښځه خوش نصیبه ابۍ په مصله
ناسته وه او په ناسته ناسته یې نمونځ کوو. هما او سهېل په چمن





کښې لوبې کولے خو چې کله یې ګاډے اولیدو نو دواړه هغه ته
متوجه شو. هغه چې دَ ګاډي نه کوز شو نو سهېل هغهٔ له ورمنډه
کړه او هما دَ بوټو پناه پته شوه . هغهٔ دَ فرنټ سېټ کهړکۍ لرے کړه ،
قاضي صېب یې په غېږ کښې اوچت کړو او په تېزو قدمونو برنډې
ته روان شو . زرتاجه دَ هغهٔ نه مخکښې شوه ، زر زر یې ورته په کټ
کښې تولائي اوغوړوله او بالخت یې پکښې کېښودو . سهېل خپل
نیکهٔ بابا ته ورترغاړه وتو . قاضي صېب هغه سینې پورې کلك
نیولے وو لکه چې ډېره موده پس یې هغه لیدلے وي . قاضي صېب
چې بالخت ته ډډه اووهله نو سهېل دَ هغهٔ پښې اوغزولے او په مزه
مزه یې مندلے . زرتاجې دَ فریج نه یخې اوبهٔ راواخستې ، یوګلاس
یې قاضي صېب له ورکړو او بل یې شاکرخان له ورکړو . شاکرخان
لاهغهٔ ته مخامخ په کرسۍ ناست وو چې خوش نصیبې ابۍ سلام
اوګرځوو ، دَ مصلې نه پاسېده ، شاکرخان سره یې ستړې مشي اوکړل
او قاضي صېب ته یې سلام اوکړو . دَ هغې په مخ دَ نوراني ښکلا
مُسکا وه او په سترګو کښې یې دَ مننې غټې غټې اوښکې اوختې را
اوختې. او چې کله هغې دَ مننې په نظر هغه ته یو ځل بیا اوکتل نو دَ
هغې په مخ راماتې شوې . شاکرخان چې دَ هغې اوښکو ته اوکتل نو
وے وئیل "موري تهٔ ژاړې؟ هغې خپلې اوښکې دَ لوپټې په پسکي
اوچې کړې او هغه ته یې اووې ". "دا دَخوشحالۍ اوښکې دي زویه.
دا ستا دَ مننې او دَ هغه احسانونو اوښکې دي چې تامونږ سره کړې



www.pukhto.net

دي او کوے . زویه تا مونږ دَ زمکې نه اوچت کړو او په تخت دے کېنولو . مونږ دَ دومره لوې عزت تصور هم نشو کولے . زۀ به ستا دَ احسانونو او مهربانۍ کومه کومه خبره یادوم . اوس یوه شپه مخکښې مې په زړۀ کښې دَ قاضي صېب متعلق خبرې تلې راتلې او په زړۀ کښې مې وے چې درېغه قاضي صېب هم مونږ سره دلته وے نو زړۀ به مې جو جمع وو . دا خبره مې په زړۀ کښې جو تېره شوه او چې سلام مې اوګرځوو نو په تاسو مې سترګې اولګېدې."

شاکرخان:.مورې ، دېکښې دَ احسان هیڅ خبره نیشته . تاسو زما دَ پلار مېلمانه یې او مېلمه په هرحال کښې مېلمه وي. که هغه نیشته نو زۀ خو یم کنه . دا ستاسو خپل کور دے او چې تاسو ته څۀ ضرورت وي نو زرتاجې ته وایۍ . بیا زرتاجې ته وائي، "زرتاجې دَ دوي دَ ضرورت ټول څېزونو په دوي اولیکه او ماله یې راکړه چې هغه ورله راؤړم ."

خوش نصېبه ابۍ :. نه زویه نه . مونږ ته دَ هیڅ څیز ضرورت نیشته . هر څۀ ډېر دي . خُدائے دے ځواني نصیب کړه او خُدائے دے ډېر ډېر خوشحاله کړه .

قاضي صېب اخوا دېخوا اوتر اوتر ګوري او بیا سهېل ته وائي، "سهېله زویه هما مې اونه لیدله ؟ هغه څۀ شوه ؟

سهېل :. هغه د چمن په بوټو کښې پټه شوې ده .

قاضي صېب :. په بوټو کښې ولې پټه شوې ده .

خوش نصېبه ابۍ:. هغه دَ شاکر خان بچي نه سترکوي. قاضي





صېب څه وېلو ته خولۀ جوړه وي خوشاکرخان دَ هغۀ نه مخکښې شي او وائي، "بیاخو ماله تلل پکار دي . هغه به هلته ترڅو ناسته وي او زما دَ تلو انتظار به کوي."

قاضي صېب :. ستا دَ تلو انتظار به ولې کوي ؟ (سهېل ته) ورشه ورپسې هلکه اوورته وایه چې بابا مې راغلے دے ،تاغوارې، سهېل چې هغې پسې روان شي نو شاکرخان مُسکے شي اوقاضي صېب ته وائي ، "کاکاجي ، زۀ به درنه لاړ شم ."

قاضي صېب :. نه زویه تۀ کېنه ، هغه راځي .

شاکر خان (مُسکے شي ) دَ هغې دَ راتلو په وجه خو زۀ ځم چې دَ هغې انا مجروح نشي . دې سره هغه ډېر په تېزۍ سره بهر اوځي.

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net

## پنځم باب

ګلۍ دَ خپلې لور په مرګ ځو ځو ورځې ژړا انګولاوکړه خو اخر یې زړهٔ صبر شو . هغې داسې اوګڼل چې کوم حمل هغې کچه په کچه لرے کول غوښتل ، که هغه خپل وخت ته اورسېدواو دَ هغې زېګون اوشو نو څهٔ اوشو دغه حمل خو هغې مخکښې هم په ورکه حساب کړے وو او چې اوس مړه شوه نو هلهو دَ عمر نول یې ختم شو. هغه دَ خپل موجوده بال بچ نه هم پرېشانه وه او دَ هغې غم به پرې لا تېرے وو. عادل په یوه مدرسه کښې سبق ویلے او هم هلته ډېره وو. هفته کښې به یو ځل کورته راتلو خو دَ تیرو څو هفتو راسې یې هیڅ پته نه لګېده چې څهٔ شو او چرته دے . شېردل ترشپږم جماعت پورې رسېدلے وو خو څهٔ موده مخکښې دَ سبق نه هم اووتو او د مور پلار دَ ګوتو نه هم اووتو . نه یې دَ مور پلار خبره اورېدله او نه یې منله . تر سپېن سحر پورې به اودهٔ پروت وو او چې غرمه به دَ کوره اووتو نو غوټه نیمه شپه به په داسے وخت کښې کور ته راتلو چې دَ هغهٔ مور پلار به اودهٔ وو. هغوي ته دا معلومه نه وه چې هغه چرته ځې ، چا سره کیني پاسي او څهٔ کاروبار کوي . دغه رنګې به ګل ولي او خان ولي سحر دَ سکول په بهانه دَ کوره اووتل او ټوله ورځ به یې په لارو کوڅو او پولو پټو کښې جرلندے کوو. دَ ووړه مکوه او مخ راړولو یې څوك نه وو. دغه رنګې به قدیر او کبیر ټوله ورځ په خاؤرو کښې لوغړېدل . سوچي کاکا او ګلۍ به دَ مشرخان دَ حجرې صفائي هم





کوله او په زوړ کلي کښې به یې دَ کډوالو په کېمپ کښې جهارو هم وهله . هلته به یې غرمه ،ماښام ډوډۍ هم خوړله او ځان سره به یې دَ بال بچ دَ پاره هم راؤړه . دَ ماسپخین او مازیګر ترمینځه وخت کښې به دواړه پټهو ته لاړل او څاروو له به یې ګیاه کوله . سوچي کاکا دَ بال بچ پلار شو او ګلۍ دَ بال بچ مور شوه خو نه یې پرې زړهٔ ټکور شو او نه یې پرې لاس تور شو . کله کله خو به دَ هغې په زړهٔ کښې راغله چې دَ دغسے اولاد نه خو نهٔ اولاد ښهٔ دے خو ډېر زر به یې په خوله لاس کېښودو چې هسې نه دَ هغې دَ زړهٔ خبره دَ هغې په خوله راشي او په بې خیالۍ کښې ښېرې اوبد دعا شي. هغه دَ چا خبره چې اولاد، اولاد وي او مور ، مور وي ، دَ اولاد دَ قدر وقیمت پته هغه چاته لګي چې بې اولاده وي او دَ مور دَ خوږو پته هغه چاته لګي چې بې موره وي . اګر چهٔ دَ هغو ي اولاد نافرمان او اواره وو خو دَ هغوي دَ اوراګۍ باوجود هم دَ هغوي وجود دَ هغوي دَ پاره دَ قدر وړ وو . چې په خپلو عزیزانو او تربورانو کښې دَ هغوي قدر پېدا شو. هغې به په دے خیال خپل زړهٔ له تسلي ورکوله چې هغوي لا واړهٔ دي ، ناپوهه دي او چې کله پوهـ شي نو په خپله به ځاے له راشي. یوه ورځ هغه په خپل کور کښې یواځې ناسته وه سر یې ګُمنزه وو او چې دَ سر دَ ګمنزولو په دوران کښې به یې کوم ځائے کښه اوکړه نو په هغه ځاے به یې دَ سپږې ګمان راغی . هغې به دَ هغې نیولو پسې ګوتې وهلې خو نالېدلې سپږې په ګوتو نه ورتللې . په دغه وخت کښې دَ هغې دَ



www.pukhto.net

خولې نه یو سوړ اسویلې اووتو او په زړهٔ کښې یې راغله چې ، "کاش هغې په خپل اخري اولاد کبر نه وې کړې ، اوس که هغه ژوندۍ وه نو دَ سر نـه خو بـه یـې راله سپړې غونډولې." دَ هغې په زړهٔ کښې ایله دغـه خبره راغله چې دَ هغې دَ کور په ور په پړوني کښې پټه یوه زنانه دَ هغې کورته دننه شوه . ګلې چې هغې سره روغ جوړ اوکړل نو ورته یې اووې ، "لورې خفه نشي خوما اونهٔ پېژندې " هغې ورته په مُسکا اووې ، "بابي کـه ستا یاد شي نو زهٔ دلته یو ځل مخکښې ډاکټري بي بي سره راغـلي ووم . زمـانـوم جان پرې دے او زهٔ . . ." ګلې دَ هغې دَ خولې نه خبره اخلي او وائي ، " هاؤ ، هاؤ ، ښه ښه . اوس مِ اوپېژندې . . . ښهٔ څهٔ به کوې ، شربت درله اوکړم او که چاي درله پخه کړم".

جان پرې:. نـه بـابي هیـڅ تـه مِ زړهٔ نـهٔ کېږي. هسې ډېره موده اوشوه لیدلې مِ نه وې ماوې چې دَ مهوش دَ مخه یې لړه اووینم. "

ګلې :. مهوش ؟ مهوش څوك ده لورې؟

جان پرې :. مهـوش څـوك ده ؟ ستـا دَ لـور نوم مهوش دے کنه بابي. تانه دَ خپلې لور نوم هم هېر شوے دے .

ګـلـې :. هاؤ لـورې . چې هـغـه لاړه نـو په نوم به یې څهٔ اوکړم ." هغه ژاړي او پـه ژړا کښـې وائي، "هاې زما وړې لورې ، تابه خنګه وړې وړې سلګۍ وهلې وې. دریغه دَ مرګ نه مِ مخکښې یو ځل لیدلې وې.

جان پرې (په حېرانتیا) دَ مرګ نه مخکښې ؟ څهٔ مطلب؟

ګـلـې :. ولې تاته پته نیشته چې زما وړه لور، دَ چا ظالم دَ ګاډي لاندې





راغـلـه او چـق چـور شـوه . کـه مـاتـه پتـه وه چې هغې سره به دغسې کـېـږي نـو مابه . . ." جان پرې دَ هغې دَ خولې نه خبره اخلي او وائي، "نـه بـابي نـه ، خُـدائے دے نکړي . خُدائے دے نکړي. خُدائے دے دَ هغـې یـو وېښتـهٔ هم نه ازاره وي. هغـه خـو زما دَ غېږې ګوډۍ ده."

ګـلـې خپـلې اوښـکې اوچـوي او هغې ته په سوالیه نظر په ځیر ځیر ګوري. جـان پـرې یو ځل بیامسکۍ شي او هغې ته وائي ، "بابي ستا لـور مهوش ژوندۍ ده " "ژوندۍ ده " ؟ دَ ګلې دَ خولې نه بې اختیاره اوځي او بیـا ورپسـې زیاته کړي ، " زما لور ژوندۍ ده ؟ هغه چرته ده ؟ تهٔ رشتیا وائې."

جـان پـرې :. هاؤ بابي ، هغه نه صرف ژوندۍ ده بلکه ښائسته ښکلې لولکۍ ده .

ګلې :. که ته رشتیا واې نو ما ورله لړه بو ځه چې خپله لور اووینم.

جان پرې:. مـا دَ ډاکټـري بي بي نوکري پرېښې ده ،زهٔ هلته نشم تلې خـو که تهٔ هغه لېدل غواړې . نو زهٔ به تاسره دَ هغې تر کوره پورې لاړه شم، نور کار ستا خپـل دے .

ګلې :. بس، بس .تهٔ دومره اوکړه چې ماته دَ هغې کور اوښایه .

جـان پرې:. دا دومره لویه خبره نه ده . تهٔ چې څهٔ وخت غواړې نو زهٔ به دې هلتـه اورسوم .

ګلې :. څهٔ وخت نه ، هم نن او په دے ساعت .

جان پرې:. ښه بابي ته خپـل تیارې اوکړه چې ځو.



www.pukhto.net

گلۍ :. زۀ تیاره یم لورې. "هغه خپله بورقه راخلي او هغې ته وائي، "څه چې ځو لورې ." هغوي دَ کلي په ډاټسن کښې کېني او چې ښار ته اورسي نو بیا دَ حیات آباد په گاډي کښې کیني او دَ ډاکټر لائبې کورته رسي.

دَ ډاکټر لائبې او مهوش وېزې تیارې وې، او هغوي امریکې ته دَ تلو تیارې کوو. هغې خپله ټوله پراپرټي دَ مهوش نوم ته منتقل کړې وه صرف بینك بېلنس لانه وه منتقل شوے او دَ هغې په باره کښې دَ هغې هلې ځلې شروع وې . هغوي چې دَ ډاکټر لائبې کورته نزدې شوې نو جان پرې یوخوا ته اودرېده او هغې ته یې دَ گوتې په اشاره اوښودو . گلۍ ډېره په تېزۍ سره دَ هغې دَ کور پلو روانه شوه . هغه چې دَ هغې دَ کور گېټ له اورسېده نو دَ تلۍ په ځاے یې ور په زوره زوره اوډبوو . ډاکټر لائبې سره مرجانه هم ناسته وه او مهوش هم . دَ مرجانې په ځائے مهوش گېټ له منډه کړه او هغې ته یې دَ گېټ کهړکۍ لرې کړه . هغه چې کورته دننه شوه نو مخې سره یې خپله لور اوپېژنده . هغې چې دَ هغې دَ ښکلولو هڅه اوکړه نو هغه ترېنه اوېرېده ، منډه یې کړه او ډاکټر لائبې له یې ځان اورسوو. ډاکټر لائبې چې هغې ته اوکتل نو په رومبي نظر یې هغه اوپېژنده او رنگ یې تك زېړ شو . گلۍ چې بورقه په سر دَ هغې خواله ورغله نو هغه ورته پاسېده او روغ جوړ یې ورسره اوکړل . دَ روغ جوړ نه پس ورته هغې اووې ،"څنگه راغلې بي بي ؟"



**میلمنه** (پښتو ناول) **پرویز شېخ**

گلۍ :. دَ خپلې لور لیدو له راغلم .

ډاکټر لائبه :. دَ خپلې لور لیدو لـه ؟ څه مطلب؟ "گلۍ مهوش ته اشاره کوي او وائي ، "د دې لیدو له راغلې یم (مهوش ته) راشه لورې چې لړه دې ښکل کړم ."

ډاکټرلائبه :. معافي غواړم بي بي ، دا ستا لورنه ده . ستا لور مړه شوې ده . دا زما لور ده .

گلۍ :. نه بي بي ، دا زما لور ده . خپل اولاد چانه غلطېدې نشي. تا مونږ ته دروغ وېلې دي چې هغه مړه شوې ده . مرگ خو لا لویه خبره ده ، خداے دے دَ دې یونوك هم نه ازاره وي (مهوش ته) راشه بچې، ماله راشه ، مهوش دَ ډاکټر لائبې په سینه سر اړدي او هغې نه تپوس کوي ، "ماما ، دا ښځه څوك ده ."

ډاکټر لائبه :. دا لیونۍ ده .

گلۍ :. لیونۍ نه یم خو دَ اولاد مینې لېونۍ کړې یم . گلۍ مهوش ته خوره غېږه اودرېږي او وائي ، "راشه لورې چې لړه دې ښکل کړم او دَ مینې تنده مِ دَ دربانډې ماته شي." ډاکټر لائبه په هغې سترگې راؤباسي او ورته وائي ،"خبردار . . .که دې له گوتې یورې نوښۀ به نه وي . څه اوځه او چې بیا په دے طرف رانشې گېنې پښې به دربانډې ماتې کړم ".

گلۍ (په مایوسه لهجه) بي بي ، زۀ خپله لور ښکلولې هم نشم ؟

ډاکټر لائبه :. نه دا ستا لور ده او نه یې ښکلولې شې. څه اوځه . گلۍ



www.pukhto.net

یوه شېبه ډکې سترګې اوخوره غېږه ولاړه وه خو چې هغې مرجانې ته اووې، "مرجانې، دا ښځه دَ کوره اوباسه"، نو هغه خپل لاسونه راغونډ کړي، خپلې اوښکې اوچې کړې او په درنو قدمونو دَ هغې دَکوره اوځي . دَ هغې دَ تلو نه پس مرجانه ګېټ بند کړي او کورته واپس راشي . دَ هغې دَ تلو نه پس ډاکټر لائبه ځان سره غلې غوندې وائي، "ماته پته ده چې دا جان پرې رالېږلې ده، ګینې دې ته زمونږ کور معلوم نه دے ."

ګلې چې کورته اورسېده نو دَ سو چې کاکا په تپوس باندې، هغې هغه ته ټوله خبره اوکړه او هغه یې دومره اوپرسوؤ چې په کور کښې نور نشو ایسارېدے او په دروند سر او پرسېدلے وجود بهر اووتو.

**﴾دویمه برخه﴿**

دَ زوړ کلي، همایون کلي او اکبر کلي دَ کډوالو کېمپونو ته دَ سرکار او اېن جي اوله خوا دَ خوراك څښاك دَ موادو امداد هم شروع شوے وو او دَ امدادي کېمپونو له خوا جامه پېزار او دَ ضرورت دَ نورو څیزونو نه علاوه دَ هغوي دَ پاره دَ لوبو سامان او کهلونې هم وې چې د دغه کډوالو ماشومان په لوبو کښې مشغول وي. دغه ټول سامان به شاکر خان ته حواله کېدو او دَ هغهٔ په نګرانۍ کښې به دَ هغهٔ سرو تقسیمو و. دا کډوال اګر چهٔ دَ خپلې سیمې نه اوږي تږي او سرو هلے بروهلے راغلي وو خو چې کله دلته ډېره شو او په ګېډه ماړهٔ شونو بیا به اکثرو خپلو کښې جنګ جهګړې کولے . رور به رور سره مشت





وګرېوان وو او پلار به زوي سره انختے وو. دَ هغوي جنګ جهګړې به اکثر په دنیاوي سود زیان او ګټې تاوان وې . دَ خوراك څښاك او دَ ضرورت نور سامان کوم به چې هغوي ته دَ سرکار، اېن جي اوز او دَ امدادي کېمپونو نه ملاوېدو، هغه به هغوي بازار ته اوړو او په دوکاندارو به یې خرڅوو. په دغه سامان کښې وروژې، اوړهٔ، غوړي، دالونه، چایې چیني، بسکټونه، کمبلې، صابونونه او دغسې بلها ډېر څېزونه وو چې هغه به هغوي په بازار کښې خرڅول، هغه پېسې به یې جېب کښې اچولے او ډوډۍ به یې دَ شاکرخان دَ لنګر نه خوړه خو هغه دَ چا خبره چې مېږي ته خُدائے په قهر شي نو وزرے ورکړي . په دوي کښې ځینے کسان داسے وو چې هغوي لالچ لیوني کړي وو او دَ هغوي دا خواهش وو چې میم زرما، ټوله زما. په دے غرض به هغوي به په هرڅهٔ کښې ګوتې وهلے او هر چا پسې به یې خبرې کولے . دَ سرکاري، این جي اوز او دَ امدادو کېمپونو نه علاوه شاکرخان او دَ هغهٔ دَ لنګر خوړې پسې به یې خبرې هم کولے او پوزې به یې هم چونولے . نتیجه دا شوه چې هغوي دَ "تحفظ حقوقِ کډوال" په نوم ځان له یو خپل یونین جوړ کړو . دَ هر کېمپ نه درے درے سړي دَ هغې ممبران شو او یو پکښې صدر شو. یوه ورځ دَ نهٔه کسانو دا جرګه دَ شاکرخان حجرې ته ورغله او هغهٔ ته یې دَ لنګر دَ خوراك متعلق شکایت اوکړو او په اخره کښې یې ورته دا اووے چې، "مونږ ته دَ لنګر ضرورت نیشته، مونږ ته دَ خوراك څښاك دَ پاره



www.pukhto.net

مواد ملاوېږي .كـه څـوك لږه خـوري او كه ډېره خوري ، ځان له به په خپـلـه پخوي او سره وي ، البته كومه خرچه چې په لنګر كېږي ، هغه پېسـې دے مـونږ له راكړې كېږي او مونږ به يې دَ كورنۍ په حساب تـقسيمو و . دَ هغوي خبرې چې شاكرخان وورېدې نو ډېرغصه شو خو خپـلـه غـصـه يې پـه مُسـكـا بـدلـه كړه او ورته يې اووے ، "تاسو زما مـېـلمـانـۀ يې او كـوربـه ، مـېلمه له ډوډۍ وركوي ، نغدې پېسې نه وركوي چې دا واخـلـه اوځـه بـازار كښې ډوډۍ اوخوره . داسې نشي كـېدې" دَ هغۀ په جواب ټول ځان سره اوګونېدل او دَ هغه دَ حجرې نه بې دعـا او بـې سلامه پاسېدل روان شو. بله ورځ هغوي يو درخواست اولـيكو، ټولو پرې ګوتې اولګولے او دَ شكايت دَ پاره دَ DCO دفتر ته لاړل . DCO صېب چې درخواست اوكتو نو مُسكے شو او هغوي ته يې اووے ، " ښـه تـاسـو پـه درخـواسـت كښې ليكلي دي چې دَ لنګر انـتـظام نـاقـص دے . غوښه كله كچه او كله سوزېدلې وي . مالړه ، مـرچـكـې او غـوړي ترې هم پكښې نه وي . ډوډۍ هم پتيره ، اومه او سوزېدلې وي . ستاسو دا شكايت دے ؟"

صـدر صـېب:. هـاؤصـېب، يـو سـخـوندر هره ورځ حلالېږي ، په هر كـېـمپ كښې يـو يودېګ پخېږي خو چې كله تقسيمېږي نو مونږ ته صرف تشې اوبۀ ملاوېږي ، دَ غوښې درك پكښې نه وي .

DCO :. هغه غوښه څۀ شي؟

صـدر صېب:. هغه دَ شاكرخان سرې خوري او چې كومه پاتې شي نو





هغه كورونو ته اوړي . مونږ ته خپل حق نه ملاوېږي صېب.

DCO صېب:. تاسو ته دَ خوراك څخاك مواد ملاوېږي؟

صـدر صـېـب:. هـرڅۀ ملاوېږي خو دَ لنګر مسله صحي نه ده صېب زمـونـږ په مال كښې او زمونږ په حق كښې بې دريغه خرد، بُرد كېږي. مونږ دَ خپل حق دَ تحفظ دَ پاره راغلي يو .

DCO :. مختصرخبره كوۍ . تاسو څۀ ويل غواړۍ .

صـدر صېب:. مختصر خبره دا ده صېب چې زمونږ په لنګر څومره خرچه راځي ، هغه پېسې دے مونږ له راكوي او لنګر دے ختم كړے شي.

DCO :. تاسو شاكرخان سره خبره كړے ده ؟

صـدرصـېـب:. هـاؤ صـېـب ، مـونـږ هـغـه له دَ جرګې په شكل كښې ورغلي وو او دا خبره مو ورته اوكړه خو هغه اونه منله .

DCO صېب هغه څۀ اووے ؟

صـدرصـېـب:. صـېـب ، هغـه سياسي سړے دے او مونږ سره يې سيـاست اوكړو . هغۀ وے صېب چې ، "تاسو زما مېلمانه يې او كوربه ، مېلمه له ډوډۍ وركوي نغدې پېسې نه وركوي چې دا واخلۍ او بازار كښې پرې ډوډۍ اوخورۍ .

DCO صـېـب:.شـاكـرخـان هرڅۀ چې دے ، وي به خو سياسي سړے ځـكـه نـه دے چې دَ سياسي سړي نـظـر ډېر تـېـز او ژور وي. هغه يو پښتـون خان دے او تـاسـو تـه يـې دَ پښتـنـو پـه سترګه كتلي دي خو افسـوس دا چې تـاسو پُښتانۀ نه يې. تاسو نوړۍ وينۍ او تپېر پرې نه



www.pukhto.net

وینـی. دا تاسـو چې څۀ خوری نو دا نۀ دَ سرکار له خوا دي او نه دَ این
جي او لـه خـوا. ستاسـو مـېـلمستیـا هغه خپله پښتو ګڼي او خپله
پښتـو تـرسره کوي . که ستاسو دَ سپېنو ږکو خاطر نه وے نو اوس به
م ټـول په جـېل کښې اچولے وی . ځی او ځی او چې بیا مو اونه وینم
." هغـوي چې دَ DCO صـېب خبرې ووریـدے نو ټول خرې روځي
پاځـېدل او روان شو. دَ هغوي دَ تلو نه پس DCO صـېب شاکرخان ته
فـون اوکړو، هغـه یـې دَ ټـول صورتِ حال نه خبر کړو او هغۀ ته یې دَ
لنګر ختمولو آرډراوکړو.

دَ کډوالو په رویه او دَ لنګر په ختمېدو دَ هغۀ بڼه مړاوي شوه او هغۀ ته
خپـل ځان سپك او کـچـه ښـکـارېدو . هغۀ قصاب او کولال له خپل
خپل بقایاجات ورکړل او هغوي یې رخصت کړل . دغه شان هغۀ خپل
سړي خپـلـو کـارونـو لـه اولـېـږل او کـوم خوراکي مواد یـا دَ امدادي
کېمپونو سامان به چې دَ هغۀ په نګرانۍ کښې دَ هغه سړو تقسیمول
هغـه یـې سرکاري او دَ این جي اوز اهلِ کارو ته حواله کړو . دغه شان
هغـه دَ کـډوالـو دَ لانـجو ګونجو نه تر ډېرحده ازاد شو. کډوالو ته چې
کلـه دَ خپلو ملګرو دَ اعتراضونو پته اولګېده نو هغوي ټولو هغوي
تـه بـدرد اووے او هغـۀ لـه دَ جرګـې پـه شکل ورغلل او دَ هغۀ نه یې
معـافي اوغـوښتـلـه . هغۀ ، هغوي ټول معاف کړل خو دَ هغوي دَ سر
پرستـۍ نه یې انکار اوکړو .

شـاکـرخان دَ یـوې لارې او یـوې خبـرې سړے وو . چې چالـه بـه یې دَ





دوستـۍ لاس ورکـړو نـو دَ هـغـۀ لاس به یې ټینګ نیولے وو او په هره
سختـه راختـه او غم ښادۍ کښې به ورسره ښۀ په کلکه ولاړ وو او چې
پـه چابه نااعتبارۍ شونو بیابه ټول عمر نااعتباره وو . دَ لېوني خپلو او
خـواؤ شا کـلـېـو ډېـر کـارېه بدمعاشان هغۀ لکه دَ دُوك نیغ کړي وو . دَ
هغـۀ هیـڅـا سره خـپـلـه دشـمـني نه وه بلکه اکثر به دَ خپل همسایه
،کسبـګـر او خپـل زمیـدار پـه سر ولاړ وو او تـر هـغـې بـه ولاړ وو چې
مخالف به ورته ګونټې ماتـے کړے او معافي به یې ترېنه اوغوښتله .
هم دغـه وجـه وه چې دَ کـلي هـر سړے دَ هغۀ په یوه اشاره خپل سر
ورکـولـو تـه تیـار وو. دَ خپل بې لوثه خدمت او بې کچه جرأت په وجه
هغـه پـه خـواؤ شاکلېو کښې دَ "اوچ نر" په نامه مشهور وو. دَ هغۀ دا
اصـول وو چې کـلـه به هغۀ ته څۀ صدمه اورسېده نو دَ خپله کوره به
اووتـو، خپلو پټو ته به لاړو او هلته به په چپه خوله خپل فصل او اونو
بـوټوسره مشغولېدو خو دا ځل دَ هغۀ اصول بدل غوندې ښکارېدل .
هـغـه درې ورځې پرله پسې په خپل کور او حجره کښې تیرے کړے .
پـه درېـمـه ورځ هغـه پـه خپـلـه کـمـره کښې پروت وو چې دَ هغـه
خدمتـګاره ،زرتاجه دَ هغۀ په اجازت دَ هغۀ کمرې ته ورغله او هغۀ له
یې یـو چـټ ورکـړو . هغۀ چې چـټ ته اوکتل نو مُسکـے شو او تپوس
یې ترېنه اوکړو "دا څۀ دي زرتاجي ؟"

زرتاجه :. خان جي هغه بله ورځ تاسو دَ سهېل په مخکښې دَ هغوي دَ
ضـرورت دَ سامان په باره کښې خبره کړے وه نو هغۀ دا کاغذ اولیکو



www.pukhto.net

او ماله یې راکړو .
شاکرخان (مُسکے شي) دا خو دَ ضرورت سامان نه دے بلکه دَ کرکټ دَ لوبې سامان دے .
زرتاجه (مسکی شي ) دا دَ هغهٔ ضرورت اوګڼه خان جي.
شاکرخان:. او هما ته دَ څهٔ ضرورت دے ؟
زرتاجه :. دا سامان د دواړو مشترکه ضرورت اوګڼه خان جي، او رشتیا هغې په راتلو کښې دا کاغذ راکړې دې . هغه دَ قمېص دَ جېب نه یو کاغذ را اوباسي او هغهٔ له یې ورکوي . دې سره هغه مسکی شي او بهر اوځي . دَ هغې دَ تلو نه پس هغه چې کاغذ اوسپړي نو هغه دَ هغهٔ په نامه یو خط وي . خط داسے وو .

قدرمن خان جي خوشحاله اوسے .

سلامونه: هغه بله ورځ دَ نیکه بابا دَ راوستو په وجه تاسو راغلے وی، او مالیدلې هم وی خو دَ څهٔ وجو هاتو په بنا زهٔ ستاسو سلام له او ستاسو شکریه ادا کولو دَ پاره حاضره نشوم . زما دَ نهٔ درتلو په وجه که ستاسو خاطر دروند شوے وي نو دَ هغې بخنه غواړم خو دې سره سره یو وضاحت کول هم ضروري ګڼم او هغه دا چې زمونږ دَ کورنی دَ دود دستور مطابق هر پېغله د نامحرم سړي نه ستر کوي .خفه نشے.

هما قاضي

هغهٔ چې خط اولوستو نو مُسکے شو او ډېره شېبه یې دَ محرم او نامحرم په ټکو اود دے په فلسفه باندې سوچ کوو . په اخره کښې په





دے نتیجه اورسېدو چې دا ډېر ښهٔ اصول دي او دَ اسلامي او پښتنې معاشرې عین مطابق دي . که چرې دا اصول په ټوله معاشره کښې رائج شي نو دَ یوې لوې خرابی تدارك به اوشي . چې ځومره ځومره به هغهٔ دَ محرم او نامحرم په ټکو او فلسفه سوچ کوو هومره به دَ هغې په لېدو کښې دَ هغهٔ دلچسپي زیاتېده خو هغهٔ ته هم نه وه معلومه چې دَ محرم په حېث او که دَ نامحرم په حېث . دے خیال سره هغه مُسکے شو او دَ کمرې نه بهر اووتو . بیا بازار ته لاړو ، سهېل له یې د لوبو سامان هم واخستو او هغوي ټولو له یې کپړې ، دَ خوراك څخاك څېزونه هم واخستل او قاضي صېب له یې یو وهیل چېر هم واخستو . دغه ټول سامان هغه دَ زرتاجې په لاس ور اولېږل خو په خپله یې کورته دَ ورتلو هڅه اونکړه .

★★★★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★

★★★

★★

★



www.pukhto.net

## « شپږم باب »

دَ سبارښا خوره شوې وه خو نمر لاڅيره نه وه وهلے . نوې ورځ دَ ژوند دَ نوے پېغام په اُميد دَ نمر سترګې ته سترګې نيولې وې. ټول ذي روح مخلوق دَ خپلو خپلو جالو ، غارونو او کورونو نه وتي وو او دَ رزق په تلاش کښې د زمکې په فراخه سينه خوارۀ شوي وو. په باغونو دَ بوراګانو ، لولکو او تيتنکو لښکرے خورے شوے وے . په اونو کښې چڼچڼې چغېدې او په ګلونو دَ شاتو مچۍ بنګېدې . دَ ډاکټر لائبې دَ کور دَ جامن په اونه کښې هم دَ چڼچڼو شور خور وو . ځينو پکښې دَ خوشحالۍ نه ځانګه په ځانګه ټوپونه وهل او ځينو پکښې وزرونه خوارۀ کړي او لکۍ ببرې کړې وې ، يو بل سره يې پنجې اچولې او يو بل له يې په مخوکو ټونګې ورکولې. ډاکټر لائبه هم پاسېدلې او تياره شوې وه او مهوش هم تياره شوې وه . او په نوې رنګينو جامو کښې وړه رنګينه لولکه ښکارېده . هغې په فضا کښې دَ مارغانو روانو سېلونو ته کتل او په زړۀ کښې يې دا وئېل چې لږه شېبه پس به هغه هم دَ دغه مرغو غوندې په هوا الوځي او دَ خپل پاپا لېدو له به امريکې ته ځي .

مرجانه دَ کور په صفائ ستهرائ کښې اخته وه او ډاکټر لائبې دلکشه جامې اغوستې وې ، په برنډه کښې دَ لوې آينې مخې ته ولاړه وه او دَ خپل سنګار تماشه يې کوله خو غوږ يې دَ ګېټ تلۍ ته نيولې وو او دَ ډرائېور دَ راتلو انتظار يې کوو. دَ هغې دَ سنګارتماشې ته يو خوا نمردَ





ختيز افق نه سراوچت کړو بل خوا دَ هغې دَ کور دَ پناې په وړوکي دېوال چا سر اوچت کړو او دَ سر اوچتولو سره فوري طور په دېوال اوختو او کور ته يې ورټوپ کړو . دَ هغۀ دَ ټوپ ، کړپ چې مهوش ووريدو او هغۀ ته يې اوکتل نو اويرېده او مور له يې منډه کړه . ډاکټر لائبې چې کړپ پسې روستو اوکتل نو يو هلك يې اوليدو چې دَګېټ کهړکۍ يې لرې کړه . هغې په زړه اوخوړه چې خبره خرابه شوه ، او واقعي هم دغسې اوشوه . دَ هغې په ليدو ليدو سو چې کاکا ، دَ هغۀ زوے شېردل او ګلۍ بورقه په سر کورته دننه شوه . دَ راتلو سره سو چې کاکا کوتك په لاس او شېردل طماچه په لاس دَ هغې نه په لږه لږه فاصله باندې اودرېدل او ګلۍ مهوش له ورغله . هغه دَ هغې مخې ته خوره غبرِه اودرېده او ورته يې اووې ، "هله لورې ماله راشه ، هله هله" مهوش چې هغې ته اوکتل نو مور له يې غاړه ورکړه او هغې ته يې اووې ، "ماما، ماما دا ښځه څوك ده ؟" دَ ډاکټر لائبې په ځائے ګلۍ جواب ورکړو ، "يربږه مۀ لورې ، زۀ ستا مور يم. ماله راشه لورې" مهوش سترګې پټې کړې وې او دَ هغې په اوږه يې سراېښې وو. ګلۍ هغه دَ ملا نه اونيوه او دَ هغې دَ سينې نه يې دَ هغې دَ شوکولو کوشش کوو خو هغه دَ هغې سينې پورې داسې پله شوې وه چې دَ هغې دَ بدن يوه برخه ښکارېده ، نۀ په شوکولو شوکېده او نۀ په راخکلو بيلېده . هغې په چغو چغو ژړل او په ژړا کښې يې دا وئېل، "ماما ، ماما ، تۀ ورته اوګوره کنه دا ښځه ماتختوي اوحلالوي ، دې نه



www.pukhto.net

ماخلاصه کړه پليز . . . آئي لو يو ماما". هغې واقعې دَ هغې لاس اونيوو خو يوخوا گلۍ دَ هغې لاس له ځنډ ورکړو، بل خوا سو چي کاکا کوتك اوچت کړو او شېردل پرې دَ طماچې بولټ اووهو . ډاکټر لائبه چې دَ هغوي په نيت پوهـ شوه نو دَ مزاحمت هڅې يې ختمې کړې .
دَ هغې په ژړا ډاکټر لائبې هم ژړل خو هغې هيڅ نشو کولې . هغې هغه دَ مور دَ پنجې نه نشوه خلاصولې . يوخوا دَمور او لورمينه وه، بل خوا دَ مور وينه وه . يوې مور هغه خپلې سينې پورې کلکه نيولې وه او بلې مور هغهٔ دَ هغې دَسينې نه شوکوله ، په دغه هلو ځلو کښې هغه دَ يوې مور دَ سينې نه اوشوکېده او دَبلې مور سينې ته ووختله . يوخوا دَ مهوش دَ خولې نه دَ ماما ، ماما چغې وتې ، بل خوا دَ هغې دَ مور دَ خولې نه ، "مهوش مائي ډاټر، مهوش، مهوش مهوش ،" چغې وتې . دې نه پس مکمله خاموشي شوه . مهوش دَ گلۍ په غېږه کښې داسې چپ شوه لکه مرغۍ کښې چې دَ باخې په پنجه کښې غلي شي . مهوش دَ گلۍ په غېږه کښې ساه نېولي وه او ډاکټر لائبې دَ هغې مخې ته خوږه غېږه نيولې وه . گلۍ هغه خپلې سينې پورې نيولې وه او په فاتحانه انداز په مُسکا مُسکا دَ خپل خاوند او زوي سره په گېټ بهر اووتل او گاډي کښې کېناستل . چې لږه شيبه تېريده نو گاډے دَ زوړ کلي په پُل باندې ووختو او چې لږ مخکښې لاړو نو دَ سو چي کاکا دَ کور مخې ته اودرېدو.
نن اتهٔ بجې دَ پېښور اير پورټ نه دَ هغوي فلائټ وو. دَ هغوي





ټکټونه o.k شوي او کنفرم شوي وو. هغې ډاکټر انصار له دَ خپل فلائټ دَ رسېدو دَ وخت ټول معلومات ورکړي وو او هغهٔ ډېر په شدّت سره په مقرره وخت دَ هغوي دَ راتلو انتظار کوو. هغه ، هغوي له دَ vip پروټوکول ورکول غوښتل . په دے غرض هغهٔ خپل کور هم ښائسته کړے وو او هغو ي ته يې دَ گلدستو پيش کولو انتظام هم کړے وو خو قدرت ته دا منظوره نه وه او مهوش دَ امريکې په ځائے دَ سو چي کاکا کور ته اورسېده . ډاکټر لائبه ترناوخه پورې په خپل بيډ کښې ډبه ډوبه پرته وه . مازېگر چې دَ هغې سترگې اوغړېدې نو مرجانه ورته ناسته وه او دَ هغې پښې يې منډلې . دَ ويښېدو سره چې هغې ته دَ مهوش دَ اغوا واقعه مخکښې شوه نو سترگې يې بيا پټې کړې خو ډېر زر يې بيا اوغړولې او مرجانې نه يې تپوس اوکړو ،" دَ مهوش په باره کښې خو څهٔ نوې خبر نيشه ؟ "مرجانې هغې ته په غمگينو سترگو اوکتل او وې وئيل ، "نه بي بي هيڅ نيشته"
دې سره هغه پاسېده ، خپل پيك شوې سامان يې اَنُ پيك کړو او خپل خپل ځائے ته يې اورسوو. بيا يې دَ سفر خصوصي سوټ اوويستو او عامي جامې يې واغوستې . بيا يې په خپله کمره کښې لگېدلې دَ هغې گڼ شمېره تصويرونو ته يو په يو کتل او هغوي سره به يې په چپه خوله خبرې کولې . په مختلف فوزز کښې ويستلې شوي دَ هغې يو يو تصوير به يې ښکلوو او ځان سره به يې دا وې آئي لويو مهوش ، آئي لويو مائي ډاټر . بيا يې ځان سره غلې غوندې اووې،



www.pukhto.net

"لوري ، آئي ايم سوري فاريو ، ماتهٔ دَ ګلې دَ پنجې نه خلاصه نکړې شوې آئي ايم سوري مائي ډاټر". دَ هغې دَ واپس راوستو دَ پاره دَ هغې په زړهٔ کښې ډېرې خبرې تلې راتلې يو دا چې هغه تانې ته لاړه شي او دَ سو چې کاکا او ګلې خلاف دَ مهوش دَاغوا رپورټ درج کړي خو بيا يې په دې يره دَ خپل خيال په خپله ترديد اوکړو چې دې سره به دَهغې راز افشا شي او که دَ هغې خاوند ته پته اولګي نو دَ هغهٔ په سترګو کښې به هغه رسوا شي . بيا يې په زړهٔ کښې راغله چې هغه دَ ګلې کور ته لاړه شي او هغې ته منت زاري اوکړي نو کېدېشي هغه مهوش هغې ته حواله کړي خو بيا يې په زړهٔ کښې راګله چې دا ناممکنه ده . دَ هغې په زړهٔ کښې څهٔ نورې خبرې هم راغلې خو چې په کومه راغلې وې په هغې لاړې . هغه په دې ډېره پرېشانه وه چې که چرې ډاکټر انصار دَ هغې نه دَ نه راتلو دَ وجهې تپوس اوکړي نو هغه به څهٔ جواب ورکوي .

هلته مهوش دَ ګلې په غېږه کښې اودهٔ پرته وه خو چې کله ويښه شوه او ګلې ته يې اوکتل نو په چغو چغو په ژړا شوه . هغې دَ ماما، ماما چغې وهلې ، دَ هغې دَ غېږې نه کوزېده او تختېده خو هغې کوزېدو ته نهٔ پرېښوده . دَ هغې دغه چغې لړې او هلې ځلې روانې وې چې شېردل ورغې او دَ مور په غېږه کښې يې دَ هغې نه په مخ يو شړق اوويستو . دے شړق سره ګلې په قهرېدلې سترګو هغهٔ ته اوکتل او دَ هغې په مخ يې لاس کېښودو او هلته ډاکټر لائبې په خپل





زړهٔ لاس کېښودو . دلته دَ مهوش سترګې پټې شوې او هلته دَ ډاکټر لائبې سترګې پټې شوې ، دلته دَ مهوش دَ پټو سترګو نه لړې لړې اوښکې روانې وې او هلته دَ ډاکټر لائبې دَ سترګو نه بوتې بوتې اوښکې روانې وې . دلته مهوش په پټو سترګو سلګې وهلې او هلته دَ ډاکټر لائبې سلګې نه اودرېدلې . دلته ګلې دَ هغې اوښکې اوچولې او هلته مرجانې دَ هغې اوښکې اوچولې . دَ مهوش دغه اَتش فشاني سلګې او دَ اوښکو په شکل کښې دَ لارې دغه لړې لا روانې وې چې جان پرې راغله . هغې چې دَ ګلې په غېږه کښې مهوش اولېده نو مسکې شوه خو چې دَ هغې اوښکو ته يې اوکتل نو رنګ يې تاغير شو، وارخطا شوه ، ګلې ته يې په سواليه نظر اوکتل او وې وئېل ، "بابې زما ګوډې ولې ژاړې "؟ هغې لا څهٔ جواب نه وو ورکړې چې هغه يې دَ هغې دَ غېږې نه خپلې غېږې ته واړوله، دَ هغې اوښکې يې اوچولې او خپلې يې بهولې . هغې چې دَ هغې مخ ته په ځير ځير اوکتل نو دَ هغې په ګل پاڼه مخ دَ ګوتو بيله بيله نښخه پرته وه . هغې ته داسې محسوسه شوه چې هغې له چا په مخ سپېړه ورکړې وي. هغې په يره يره ګلې ته اوکتل او تپوس يې ترېنه اوکړو ، "بابې ، زما ګوډې تا په مخ وهلې ده ؟" دَ هغې په تپوس ګلې سترګې خکته کړې او وې وئيل ، "نه لورې مانه ده وهلې ." هغې دَ خپلې خبرې وضاحت اونکړې شو او دَ څهٔ کار په بهانه دَ هغې دَ خوا نه روانه شوه او بهر اووته . جان پرې دَ قهره سره لمبه شوه خو په خوله



www.pukhto.net

يې هيڅ اونه وې ، البته دَ هغې په مخ يې خوله کېښوده او دَ ګرمو ګرمو پوکو ټکورونه يې ورکول . دې سره دَ هغې دَ مخ دړدونه کم شو او سترګې يې اوغړولې . هغې چې جان پري ته اوکتل نو هغې ته کلکه ورترغاړه وته . جان پري دَ هغې غوږ ته خوله نزدې کړه او غلې غوندې يې ترېنه تپوس اوکړو ،"مهوش ته چا وهلې يې ؟ دَ هغې په تپوس هغې د هغې دَ غېږ نه سر اوچت کړو ، دَ بکيانې دَ اونې لاندې په کټ کښې پروت شېردل ته يې په يره يره اوکتل ، هغۀ ته يې ګوته اونيوه او وې وئېل ، "زۀ دغه سړي په مخ وهلې يم ." هغه په مخ لاس اړدي او هغې ته په ژړغوني سترګو ګوري. جان پري هغه ښکلوي او هغې ته غلې غوندې وائي ، "خېردے ګله ، دغه ستا لالا جي دے " مهوش دَ هغې په جواب دَ نفرت په انداز شونډې بوسې کړي او وائي ، "زما لاله جي نه دے ". دَ هغې دَ خولې نه ايله دغے ټکې اووتل چې سوچي کاکا جهارو په لاس کورته راغے . مهوش چې هغۀ ته اوکتل نو مخ يې دَ جان پري په لوپټه کښې پټ کړو. سوچي کاکا جهارو يو خوا ته کېښوده ، لاسونه يې اوڅنډل او مهوش ته يې اووئيل "هله لورې ، ماله راشه " دَ هغۀ په خبره جان پري مسکے شوه او هغۀ ته يې اووئېل، "مهوش ، تانه يرېږي باباجي" بيا مهوش ته وائي، "باباجي له ورشه مهوش " مهوش ته داسې محسوسېده چې دغه ټول دَ هغې او دَ هغې دَ مور د احساساتو قاتلان دي.

غرمه کورته ګل ولي او خان ولي هم دَ سکول نه راغلل او ګلے هم





يوه غټه کاسه اينګولې په لاس او يو سترے ډوډۍ په ترېښ کښې نيولې راغله. هغې اينګولې او ډوډۍ په کټ کښې کېښوده ، دوه زاړه ټکوري يې په زمکه اوغوړول او ټولو ته يې په چغه اووې ، يَه وړو ، راځئ چې ډوډۍ اوخورۍ " . دَ ډوډۍ دَ اواز په اورېدو سره قدير او کبير هم دَ خاؤرو نه خړ پړ دَ کور دَ کوټونو نه رااووتل او ټول ډوډۍ ته کېناستل . دَ ګلے په ست باندې جان پري هم دَ مهوش دَ خاطره هغوي سره کېناسته او ټول په يوه کاسه کښې لګيا وو. جان پري به کاسه کښې نوړۍ چوکه کوله او هغې له به يې خوله کښې ورکوله خو هغه دَ هغوي نه دومره يرېده چې نوړۍ يې نه تېرېده . بهرحال دَ جان پري په لاس هغې څۀ ناڅۀ اوخوړه . ګلے او سوچي کاکا هغې ته ډېر زاروقربان وېلے او چې څومره هغوي ځان ته نزدې کوله هومره به ترېنه هغه په يره يره روستو خوېده .

دَ ډوډۍ نه پس جان پري خپل کورته تلل غوښتل خو مهوش هغې پورې انختې وه او هغه يې تلو ته نۀ پرېښوده . چې اونشو نو ګلے ورته اووې ، "لورې دې سره يو څو ورځې ګزاره اوکړه چې دا دلته بلده شي نو بيا ..." جان پري دَ هغې دَ خولې نه خبره اخلې ، مسکے شي او هغې ته وائي ، "يو څو ورځې؟ زۀ خو لږ ساعت دَ پاره راغلې يم. زمونږ کورخوشے دے . ورته مِ جرنده اچولې ده . زما تګ ډېر ضروري دے .

ګلے :. مور دې چرته تلې دے ؟

جان پري:. هغه پنډۍ ته خور کره تلې ده .



www.pukhto.net

ګلې :. لورې ، ترڅو چې هغه نه وي راغلې ، ته مونږ کره اوسه . د دې جينۍ به درباندې زړۀ راغونډ وي او تۀ ځوانه جانه پېغله به په خوشے کور کښې څۀ اوکړې .

جان پري :. چې تۀ واې نو دَمهوش دَ پاره به پاتې شم خو هسې نه چې تنګ شۍ راباندې .

ګلې :. يه لورې مونږ به درباندې څۀ تنګ شو. زمونږ ډوډۍ د مشر خان دَ کوره ده . ستا دَ پاره به ترېنه يوه ډوډۍ ، دوه زياتې راؤړم . دَ چاې ، شربت تکليف نيشته . ځکه چې پۍ هم دَ خپله کوره دي او ګُړه هم دَ خپله کوره ده . چې تۀ کور يې نو زما به زړۀ جمع وي او دَ بهر کار ته به اوزګاره شم. دا کور خپل کور اوګڼه او ترڅو چې مور دې نه وي راغلې، تر هغې به مونږ کره يې .

**﴿دوېمه برخه﴾**

مشرخان او مشرې بي بي سره دَ شاکرخان خبرې شوې وې او هغوي يې دَ کډوالو او دَ قاضي صېب دَ کورنۍ دَ راتلو نه خبر کړي وو. دَ هغوي په راتلو مشرخان ډېر خوشحاله وو او هغۀ له يې دَ هغوي دَ خدمت هدايات ورکړي وو. قاضي صېب سره هم دَ هغۀ ډېرې خورې او اورېدې خبرې شوې وې او هما او سهېل سره يې هم دَ هغوي دَ مزاج مطابق خبرې شوې وې. مشرې بي بي هم خوش نصيبې ابۍ او هما او سهېل سره خبرې کړې وې او هغوي له يې ډاډ ورکړې وو. دې سره سره يې زرتاجې له هم دَ هغوي دَ خدمت او مېلمستيا





هدايات ورکړي وو. دَ شاکرخان داخيال وو چې دَ هغۀ مور پلار دَ قاضي صېب دَ کورنۍ دَ راتلو نه خبر شي نوخپل قيام به مختصر کړي او دَ هغوي ليدو له به زر تر زره راشي خو داسې اونشوه ، هغوي په خپله سېلانۍ سرګرمۍ کښې داسې انختي وو لکه چې دادَ هغوي دَ ژوند اخري ټور ( Tour ) وي او دَ راتلو يې هډو نوم نه اخستو . هغوي ته دَ راتلو ضرورت هم نه وو ځکه چې هغوي ته پته وه چې په هغۀ کښې دَ هر قسم مسلې حل کولو صلاحيت شته نو په دې وجه هغوي دَ هغۀ له خوا مطمئن وو. هما او سهېل به تر غرمې پورې دَ ارام ګاه په چمن کښې کرکټ کوو او مازيګر به دَ باغ سېل له وتل . هغوي سره به خوش نصيبه ابۍ هم وه او قاضي صېب به هم ورسره په وهيل چېر کښې ګرځېدو . هغوي به په خپله طبعه ګرځېدل او په خپله طبعه به يې دَ اونو نه مېوې شوکولے او خوړلے . دَ هما دَ خط نه پس شاکرخان نه دَ ارام ګاه په طرف تېرېدو او نه يې خپلو سړو له هغه خوا ته دَتلو اجازت ورکوو ، البته دَ زرتاجې په خُله به يې دَ هغوي ټول ضرورتونه پوره کول.

دَ هغوي بلکه دَ هما ضرورتونه او فرمائشونه هم عجيبه وو ، کله به يې ترېنه څۀ غوښتل او کله څۀ . او چې کله به هغۀ دَ هغې دَ فرمائش په پوره کولو کښې لږ لم لېټ اوکړل نو بيابه مروره وه . يو ځل ترېنه هغې بنګړې اوغوښتل . هغۀ چې بنګړي راؤړل او دَ زرتاجې په لاس يې ورله اولېږل نو هغه يې ورته واپس کړل چې دا نه بلکه شنۀ بنګړي



www.pukhto.net

. چې کله یې ورله شنهٔ بنګړي راؤړل او دَ زرتاجې په لاس یې ورله اولېږل نو هغه یې په لاسونو کښې تنګ وو. هغې ورته هغه واپس کړل او دَ زرتاجې په خُله یې ورته اووې چې دا تنګ دي. هغهٔ خپل ضروري کارونه پرېښودل ، هغه یې بیا یوړل او دَ هغې نه یې لږ لوي بنګړي راوړل . دَ بده مرغه هغه بنګړي دَ هغې په لاسونو کښې دومره ارت ووچې دَ هغې په لېچو کښې ایسارېدے نشو او تول به دَ هغې مړوندونو ته راغونډ شو. هغې ورته دَ زرتاجې په لاس بیا واپس کړل او دَ هغې په خوله یې ورته اووې چې "دا ارت دي " هغه چې ډېر تنګ شو نو بازار ته لاړو ، یوه بنګړي واله یې ځان سره په موټر کښې راوسته او ارام ګاه ته یې وردننه کړه ، او چې کله مطمئنه شوه نو بیا یې بنګړي واله په ګاډي کښې کېنوله او خپل مقام ته یې اورسوله. دغه شان یو ځل یې ترېنه دَبوتو دَ پاره سپینه کپړه او رنګین تارونه اوغوښتل . په هغه کپړا او هغه تارونو هغه پوزې له راغې ، دَ څو څو ځله راؤړلو او واپس کولو نه پس یې اخر دَ هغې فرمائش پوره کړو. یو ځل زرتاجې هغهٔ له دَ سودا یولوے فهرست ورکړو .هغهٔ چې فهرست اوکتو نو مُسکے شو او هغې ته یې اووې ، "دا فهرست چا لیکلے دے ؟ هغې ورته اووې ، "خان جي ، دا زما په وینا همابې بي لیکلې دې " هغهٔ ترېنه بیا تپوس اوکړو ،" رسی هم ستا په وینا لیکلې شوې ده "؟ هغې په یره یره جواب ورکړو ، "نه خان جي، رسی پکښې هما بې بي دَ ځانه لیکلې ده "؟





هغهٔ ترېنه په مُسکا تپوس اوکړو، " رسی څهٔ پکار ده "؟ هغه مسکی شوه او ورته یې اووې ، "رسی نه هغه زانګلو دَ پاره تال جوړول غواړي"؟

شاکرخان :. تال؟ تال په کوم ځائے کښې جوړول غواړي؟

زرتاجه :.ارام ګاه سره خوا کښې دَ باغ په اونو کښې .

شاکرخان :. دَ ارام ګاه په چمن کښې ولې نه جوړوي ؟

زرتاجه (مسکی شي ) خان جي ، هغه په زانګلو زانګلو کښې دَ اونو نه مېوي شو کول غواړي .

دَ هغې په خبره هغه تندي له لاس راچوي او وائي ، " دې مېلمنې نه خو زهٔ ډېر تنګ شوم . د دې دَ ستر په وجه زهٔ دَ ارام ګاه په خوا هم نهٔ تېرېږم او چې په باغ کښې تال واچوي نو بیا به رانه باغ ته تلل هم پاتے شي.

زرتاجه:. خان جي ، په دې کاغذ هغې خپل موبائېل نمبر لیکلې دې. تاسو ورسره په خپله خبره اوکړی ، هغه خپل موبائېل راخلي او هغې ته کال کوي . چې رینګ ورشي نو هغه وائي ، "هېلو ثوک پلیز؟"

شاکرخان:. زهٔ شاکر خبرې کوم .

هما:. شاکر . . .؟ ثوک شاکر پلېز؟

شاکرخان:. زهٔ ستا خان جي ، شاکر خبرې کوم .

هما:. اوه یس ، یس ، تاسو څهٔ وېل غواړی پلیز؟

شاکرخان:. زهٔ تانه دا تپوس کول غواړم چې تهٔ په کوم ځاے کښې تال جوړول غواړی ؟

هما:. تال . . .اوه یس تال . . .؟ یس ، په باغ کښې خان جي.



www.pukhto.net

شاکرخان:. دَ ارام ګاه په چمن کښې ولې نه ؟

هما(په افسرانه موډ) دا زما مرضي ده ، زۀ چې کوم ځائے جوړول غواړم ، جوړولې شم.

شاکرخان:. او که دَ څۀ مصلحت په وجه زۀ په باغ کښې دَ جوړلو اجازت درنکړم نو بیا؟

هما:. بیا دا چې تۀ دَ باغ مالك یې، چې اجازت نۀ راکوے نو مۀ راکوه. دا یو څو ورځې به ستا دَ تپال نه بغیر هم تېرې شي ، دې سره هغه موبائیل بند کړي ، هغه هغې ته څوځو ځله هېلو هېلو اووائي خو چې هغه جواب ورنکړي نو هغه مُسکے شي، زرتاجې ته ګوري او وائي، ”همالاړه مروره شوه ډېره نازك مزاجه غوندې ښکاري“.

زرتاجه:. هاؤ خان جي دېکښې هیڅ شك نیشته .

شاکرخان (په حېرانتیا او بې صبرۍ ) څۀ مطلب زۀ پو هـ نشوم ؟

زرتاجه :. خان جي ، هغه په تا باندې نازکوي ، چې تانه نااميده شوه نو دَهغې دَ امید نورڅوك پاتې شو؟دَ ماشوم دَ غوښتنې اخري حربه ژړاوي او دَ مئینو مرورتیا ؟

شاکرخان:. دا تۀ لا څنګه خبرې کوې زرتاجې؟ تۀ په هوش کښې یې؟ تۀ ماسره خبرې کوې ، دَ مئینو او مرورتیا خبره پکښې دَ کوم ځائے نه راغله ؟

زرتاجه:. خفه نشے خان جي ، خو زه هغه څۀ وېم کوم چې حقیقت دے هغه تاسره بې فنا مینه کوي .





شاکرخان:. مینه خو لالویه خبره ده ، هغې ته ما چرې په دے غرض کتلے هم نه دي ، بلکه دَهغې مخ مِ لېدلے هم نه دے .

زرتاجه :. تابه واقعي هغه نه وي لیدلے خو تۀ هغې لیدلې هم یې او ستا خبرې یې هم اورېدلي دي .

شاکرخان:. زمادَ همدردۍ دا مطلب شو چې هغه په سراوخته او زما همدردۍ له یې دَ مینې رنګ ورکړو ، دَ هغۀ په غصه زرتاجه مُسکۍ شي او غلې غوندي وائي ، دَ مینې رومبۍ قدم همدردي وي او اخري قدم یې دیوانګي وي .

شاکرخان:. زرتاجې ته نن داسې بل بل شان خبرې کوې . دا دې دَ چانه ازده کړي دي .

زرتاجه:. دا ازده کېږي نه بلکه پېښېږي او تېرېږي.

شاکرخان:. تاته هغې زما متعلق څۀ وېلې دي؟

زرتاجه:. هغه ستا متعلق په خُله هېڅ نه وائي خو دَ هغې دَکړو اوړو نه دَ هغې دَ مینې اندازه کېږي .

شاکرخان :. دَ کړو اوړو نه څنګه ؟

زرتاجه:. خان جي ، تا چې هغې له کومه سپېنه رېښمي کپړه او رېښمي رنګین تارونه راوړي وو په هغې یې ستانوم دَ ګلونو او بوټو په شکل کښې په داسې انداز لیکلې دي چې په اسانه پرې څوك نه پو هېږي .

شاکرخان:. چې په اسانه پرې څوك نه پو هېږي نو تۀ پرې څنګه پو هـ شوې. تۀ خو لیك لوست نه یې؟



www.pukhto.net

زرتاجه: زۀ پرې ځکه پوهـ شوم چې ماورته یو ځل اووې چې دَغسې ګلونـه مالـه هـم جوړ کړه دا خو ډېر ښائسته دي،" هغې زما په خبره اوخاندل او وې وئیل ، " دا بوټي ، ګلونه نه دي بلکه دا دَ چانوم دے".

"دَ چانـوم دے "؟ ماتـرېنـه پـه حېرانتیا تپوس اوکړو دا خو بالکل دَ ګلونو غوندې ښائسته دے ، " هغه مُسکې شوه ، اوشرمېده او غلې غـونـدې یې اووې ، "چې څـنګه هغه ښائسته دے ، دغسې یې نوم هم ښائسته دے ." زما دَ بیا بیا تپوس په جواب کښې هغې اووې ، "دا دَ خان جي نـوم ، شاکرخان دے ." دَ هغې په خبره هغه مُسکے شي او وائي ، "ښه نو بیا ؟ "

زرتاجه : بیا دا چې دَ هغه کپړې نه یې خپل بالخت له ابره جوړه کړه، اوس توله ورځ او شپه دَ هغې دَ سر لاندې او ډېو ته هغه بالخت پروت وي ."

شاکرخان: اوه دا خبره ده . . . .ښه نو خبره دے حد ته اورسېده .

زرتاجه : نه خان جي ، دے نه هم ورتېره ده .

شاکرخان : هغه څنګه ؟

زرتاجـه : هغې په خپلو دواړو لېچو ستا نوم په پخه سیاهي لیکلې دے او چې په هر اړخ سملي نو مخ او سر یې ستا په نوم پروت وي.

شـاکرخان: اوه خبره دے حد ته اورسېده او ماته پته هم نېشته . . .ښه نـو دا راته اووایه چې دَ هغې مینه دے حد ته رسېدلے ده نو بیا زما نه ستر ولې کوي ؟

زرتاجه : خان جي، مینه په خپل ځاے ده او ستر په خپل ځائے دے .





مینه دَ هر چا حق دے او ستر دَ هرې پښتنې پېغلې حسن دے .

شاکرخان: چې ما هغـه لیـدلي نـه ده نـو زۀ هغې سره څنګه مینه کولے شم ؟

زرتاجـه : زۀ تانـه دَ هغې دَ پاره مینه نه غواړم او نه درته هغې سره دَ مینې خواست کوم خو دَ یوې مېلمنې په حېث دَ هغې زړه ساتل ستا فرض دے .

شاکـرخان: واقـعي تـه ښـه وایـې ،زرتـاجې، ماله واقعي داسې نه وو پکار؟ څه تۀ ورځه .

دَ هغـې دَتـلـو نـه پس هغه ډېره شېبه په کټ کښې پروت وواو دَ هغې متـعلق یې سوچ کوو . چې څومره به هغۀ دَهغې متعلق سوچ کوو، هـو مـره بـه یې ورسره همدردي زیاتېده او اخر هغه دې ته مجبور شو چې دَ هغې خواهش پوره کړي . په دے غرض هغه پاسېدو ، دَ کمرې نـه اووتـو او حـجـرې تـه لاړو . پـه دغه سوچونو او فکرونو کښې هغه ډېـره شـېبه تېـلانـي کوله ، بیا په ګاډي کښې کېناستو او بازار ته روان شـو . چې بازار ته اورسېدو نو نوره سودا یې هم واخسته او دَ هما دَ ټال دَ پاره یې رسۍ هم واخسته . چې کله دَ بازار نه واپس شو او ارام ګاه ته اورسـېـدو نـو هغه توله سودا یې زرتاجې ته حواله کړه او خپل کور ته روان شـو. هغـه لا ایـله خپلې کمرې ته رسیدلے او ډډه شوے وو چې زرتـاجـه راغـلـه او هغه رسۍ یې هغۀ ته واپس کړه کومه چې دَ هما دَ ټال دَ پاره هغــه راوړے وه . هغـۀ تـرېنـه پـه حېرانتیا تپوس اوکړو ،



www.pukhto.net

"رسې دې ولې واپس راوړه ".

زرتاجه :. خان جي ، هغه وائي چې اوس د دې ضرورت نېشته .

شاکرخان:. ضرورت ولې نېشته ؟ چرته يې بله پېدا کړه او که تال اچول نه غواړې؟

زرتاجه :. ماته پته نېشته خان جي ، ته ترېنه په خپله تپوس اوکړه ، هغه موبائېل راخلي او هغې ته رېنګ کوي ، چې رېنګ ورشي نو هغه موبائېل بند کړي . هغه زرتاجې ته په سواليه نظر ګوري او وائي، "موبائېل يې بند کړو، داسې معلومېږي چې دَ هغې غصه لا ختمه نه ده.

زرتاجه :. خان جي ، تا خپل فرض ادا کړواودَ هغې ارمان دې پوره کړو اوس چې هغه ستا خلوص نه قبلوي نو دېکښې نه تۀ څۀ کولے شې او نه زۀ څۀ کولې شم .

شاکرخان :. داسې مۀ وايه زرتاجې ، زۀ دَ هغې خفګان نشم برداشت کولے او په هره طريقه چې وي، هغه خوشحاله لېدل غواړم ځکه چې هغه دَ يو څو ورځو مېلمنه ده خو تاسره دا مشوره کول غواړم چې ماله څۀ پکار دي .

زرتاجه :. خان جي، زۀ ستاسو دواړو خدمتګاره يم. زۀ ستاسو په مېنځ کښې هيڅ نشم وېلې .

شاکرخان:. مشوره خو راکولې شې کنه .

زرتاجه :. مشوره دا ده چې تۀ ورله په باغ کښې تال واچوه نورکارزما دے.





شاکرخان:. ډېره ښۀ ده . تۀ دا رسۍ دلته پرېږده او تۀ ځه . دَ هغې دَ تلو نه پس هغه هغې ته کال کوي ، چې رېنګ ورشي نو هغه موبائېل اوکړے کړي او وائي ، "سوري رانګ نمبر " دې سره موبائېل بند کړي.

دَ هغۀ دَ خولې خبره په خلۀ او دَ زړۀ خبره يې په زړۀ پاتې شي . يوه شپه يې موبائېل ته کتل ، بيا يې يو خوا ته کېښودواو په کټ کښې بوړې بوړې پرېوتو .

سبا چې هغه دَ خپلو مصروفياتو نه اوزګار شو نو رسۍ او نور لوازمات يې په ګاډي کښې کېښودل او دَ تال اچولو دَ پاره باغ ته لاړو . هغۀ ته دا نه وه معلومه چې هغې دَ تال دَ پاره کوم ځائے او کومه اونه خوښه کړې ده . بهرحال ارام ګاه سره خوا کښې چې کوم ځائے او کومه اونه هغۀ ته غوره ښکاره شوه په هغې کښې يې ورله تال واچوو . چې دے نه اوزګار شو نو په ګاډي کښې کېناستو او چې کورته تلو نو په لاره کښې دَ قاضي صېب کورنۍ په مخه ورغله . قاضي صېب په وهيل چېر کښې ناست وو او دَ هما په سهاره مخکښې روان وو. هغوي پسې روستو خوش نصيبه ابۍ وه چې سهېل دَ لاس نه نيولے وه او دَ هغۀ په مدد رو رو روانه وه . هغه چې دَ هغوي خواله ورغې نو ګاډے يې اودرو ، دَ هغوي سلام دَ پاره دَ ګاډي نه کوز شو او دَ هغوي خواله ورغې ، هما چې هغه اوليدو نو مسکۍ شوه او مخ يې دَ لوپټې په پلو پټ کړو او کله چې هغۀ قاضي صېب سره روغ جوړ کول نو هغې ترېنه مخ واړواو هغه ته يې شاکړه. قاضي



www.pukhto.net

صېب دَ هغـهٔ په ليدو ډېر خوشحاله شو ، په ناستې ناستې يې هغه ښکـل کـړو او دَ ګيلې په انداز يې ورته اووے ، "شاکره بچے ، تهٔ هډو زمـونـږ خوا لـه نـهٔ راځـے . ولې زمونږ نه خفه يې او که په مونږ تنګ شوے يې". دَ هغـهٔ پـه تپوس هغـه مُسکے شو او وے وئيل ، نـه کـاکاجي ، داسې هيڅ خبره نښته ، زړهٔ مِ غواړي چې ټوله ورځ تاسو سره وے خـو د دې ميـلـمنې دَ ستر په وجه درتلے نشم ( هغه هُما ته اشاره کو ي ) . قـاضي صـېب مُسـکے شي ، شاته ګوري او هغې ته وائي ، "هـما لورې ، تهٔ دَ شاکر بچي نه ستر کوې ، دے خولکه ستا او سهېل زما خپل بچے دے . دَ مخ نه لوپټه لرې کړه ، شابه سلام ورته اوکړه او مـعافي ترېنه اوغواړه ، " هغه دَ هغهٔ په زورنه دَ مخ نه لوپټه لرې کړې او هغـهٔ ته وائي ، "خان جي سلام عليکم " هغه چې هغې تـه اوګـورې نـو دَ هغـهٔ سترګې دَ هغې په مخ کښې ښخې شي او په خولـهٔ کښـې مـې لاړې اوچې شي ، هغـه پـه خپلو اوچو او رېږدلي شـونډو وائي، "وعليکم ، سل . . .سلام ". دَ هغهٔ دَ سلام الفاظ لا پوره شـوې نه وې چې قاضي صېب هما ته وائي ، "شابه ، دَ شاکر بچي نه مـعافي اوغواړه " . هغه چې دَ قاضي صېب خبره وورې نو وائي، "نه کـاکاجي ، دَ معافۍ غوښتو ضرورت نښتـه . د دې معافي شوې ده " دَ هغـهٔ پـه جـواب کښـې هـمـا مُسـکۍ شي او وائي ، "تهېنك يو خان جي" پـه دېکښـې خـوش نـصيبـه ابۍ او سهېل هم دَ هغوي خواله راځي ، هغه چې هغې ته سلام اوکړې نو هغه دَ هغهٔ لاسونه ښکلوي





او وائي ، "بـچـے تـه مـونږ کره ولې نه راځـے ، مونږ خو جوستاسو په اَسره پـراتـه يـو . . ." هغـه نور هم څهٔ وېل غواړې خو قاضي صېب دَ هغـې دَ خُـلې نـه خبـره اخـلي او وائي ، "شاکر بچے ، دَ هما دَ ستر په وجـه مـونـږ کـره نـه راځي "خوش نصيبه ابۍ هماته ګوري او وائي، " داسې مهٔ کوه کنه لورې. شاکرخان خولکه دَ سهېل زمونږ بچے دے. پـه خپلو کښې جو سترنه کېږي لورې" . شاکرخان مُسکے شي او په فاتـحانـه انـداز هـمـا تـه ګوري . دَ هغهٔ دَ مُسکا په جواب کښې هغهٔ غـاښونه چيچي او هغهٔ ته ګوته نيسي لکه چې هغه له څهٔ دهمکي ورکوي . هغـهٔ لا هغو ي سره خبرې کـولـے چې دَ هغهٔ په موبائېل رېـنګ راغـۍ . هغـهٔ موبائېل او.کے کړو او غلې غوندې يې اووے، "زهٔ درغـلـم " بيا يې قاضي صېب ته اووے ، "قاضي صېب ، تاسو نه مِ تـلوته زړهٔ نه کېږي خو څهٔ مېلمانه راغلي دي او په حجره کښې زما انتـظار کوي. " قاضي صېب مُسـکے شو او هغهٔ ته يې اووے ، " ځه ورشه بچے ، مېلمنو له جو ورشه ".

دې سره هغـهٔ دَ هغوي نه رخصت واخستو ، په ګاډي کښې کېناستو او روان شـو . مـاسـخوتن تېر چې هغه دَ مېلمنو نه اوزګار شو نو خپـل کـوراو خپلې کمرې ته ورغـۍ . هغه په خپل بېډ کښې سملاستو او دَ هـمـا پـه بـاره کښـې يـې سـوچ کوو. هغه دَ هغې دَ حسن نه ډېر متاثر شـوے بـلـکـه مسـحـور شـوے وو. هـغه لا دَ هغې دَ حسن په خيالي تـمـاشـه کښـې بـوخـت وو چې دَ هغهٔ په موبائېل رينګ راغـۍ . هغهٔ



www.pukhto.net

موبائېل او.کې کړو نو په مُسکا يې اووے ، "هېلو ، څوك پليز" په موبائېل اواز راغی ، "څوك پليز؟ تهٔ زما موبائېل نمبر نه پېژنے ؟"

شاکرخان:. اوه، دا تهٔ يې ، سوري هما ، زما سترګې برېښنې او څهٔ پرې لېدے نشم ."

هما:. ستاسترګي کله نه برېښني؟ مازيګر خو ټيك ټاك وے .

شاکرخان:. مازيګر ټيك وې خو ستا دَ لېدو نه پس برېښني .

هما:. ښه دا خبره ده هنّ ، ته په ما طنز کوے ؟

شاکرخان:. طنز نه کوم هما ، بالکل رشتيا وايم .

هما:. داسې معلومېږي چې تهٔ دَ نظره شوے يې.

شاکرخان:. دَ نظره شوے نه يم . په ما نظر نه لګي ځکه چې ما کښې هيڅ داسې خوبي نيشته چې دَ نظربه شم .

هما:. ته دَ خپل ځانه څهٔ خبرېږې ، دا تپوس دَ هغه چا نه اوکړه چې څوك ستا په مينه کښې شپه ورځ کړېږي . تهٔ خو دَ هر چا دَ زړه سرېې.

شاکرخان:. داسې بې وقوفه څوك کېدېشي چې تورې شپې ته روڼ سحر وائي او ماغوندې بنده ته دَ زړه سر وائي .

هما:. په دغه بې وقوفو کښې زهٔ هم شامله يم .

شاکرخان:. اوه ، چرې هم نه . تادې خُدائے دَ بې وقوفودَ ډلې نه اوساتي.

هما:. خان جي ،يوه خبره م منے ؟

شاکرخان:. بالکل منم ، وايه زهٔ ستا څهٔ خدمت کولے شم .

هما:. خدمت نه ، يو خواست درته کوم او هغه دا چې ته لږ راشه پليز .





تاسره م يوه ضروري خبره ده .

شاکرخان :. اوس په دې توره شپه ؟

هما:. هاؤ ، اوس په دې توره شپه.

شاکرخان:. که څهٔ ضروري خبره وي نو ماته په فون هم کولے شي. وايه پليز.

هما:. دا په فون دَ وېلو خبره نه ده . ته راشه پليز ، زهٔ دَ ارام ګاه په چمن کښې ستا انتظار کوم .

شاکرخان:. ډېره ښهٔ ده ، زهٔ درغلم ، دَ هغهٔ دې خبرې سره دَ کور په ګېټ دَ رېنګ اواز راغی . هغه چې بهر اووتو نو ګېټ سره دَ هغهٔ نوکر کمال ولاړ وو او هغه سره خوا کښې دَ سوچې کاکا دوه زامن ګل ولي او خان ولي ولاړ وو. دَ هغهٔ په تپوس باندې کمال هغه ته اووے چې "دَ سوچې کاکا په کور پوليس چهاپه وهلې ده . سوچې کاکا ، دَ هغهٔ ښځه دَ هغهٔ زوے شېردل او يوه مېلمنه جينۍ پوليس دَ کوره اوويستل او تهانې ته يې بوتلل . دوي غواړي چې تاسو هغوي پسې ورشئ او هغوي دَ پوليس نه خلاص کړی ".

شاکرخان:. دَ پوليس دا مجال چې زما دَ اجازت نه يې بغېر ، زما دَ همسايه په کور چهاپه اووهله او تانې ته يې بوتلل . دې سره هغه حجرې ته روانېږي ... چې حجرې ته اورسي نو ګل ولي او خان ولي ته وائي . "زهٔ هغوي پسې ورځم ، تاسو کور ته ځئ .يرېږئ مه ، اوس به يې راولم ". هغه په ګاډي کښې کېني او په يو شغ دَ حجرې نه اوځي .



www.pukhto.net

چې لږ مخکښې لاړ شي نو هغۀ ته هما سره کړے خپله وعده وریاده شي. هغه هغې ته په تلو تلو کښې رېنګ کوي او ورته وائي ، "هما ، زما انتظار مۀ کوه ، ماته یوه ایمرجنسي پېښه شوه ، زۀ هغې پسې روان یم " هغه ، هغۀ له هېو څۀ جواب ورنکړي او په چپه خُله خپلې کمرې ته روانېږي . لږه شېبه پس هغۀ ته دَ تانې دَ SHO له خوا رېنګ اوشو او ورته اووېلے شو چې ، "خان جي، ستایو څو همسایو باندې مونږ چهاپه وهلے ده او هغوي موتانې ته راوستي دي".

شاکرخان :. په څۀ کېس کښې ؟

SHO :. دَ اغوا په کېس کښې.

شاکرخان:. ایف آئي آر خودرج شوے نه دے ؟

SHO :. لا فی الحال درج نه دے ، ستاسو دَ مشورے انتظار دے.

شاکرخان:. مهرباني ، هم په دے کېس کښې زۀ تانې ته در روان یم . شکریه ؟ هغه چې تانې ته اورسېدو نو SHO دَ هغۀ سلام له دَ خپل دفتر نه بهر اووتو . بیا یې هغه دفتر ته بوتلو او په عزت سره یې په کرسۍ کېنوو. دَ SHO په دفتر کښې دوه مېلمانۀ ناست وو . هغوي هم دَ هغۀ په احترام کښې پاسېدل خو شاکر هغوي سره دَ شکریې په خپلو خپلو ځایونو کېنول . په دغه دوو کښې یوه ډاکټر لائبه وه او بل دَ هغې خاوند ډاکټر انصار وو. ډاکټر لائبې او شاکرخان یو بل پېژندل ځکه چې دَ سوات دَ کډوالو دَ کېمپ په مېډېکل ټیم کښې هغه هم شامله وه او کله کله به نورو ډاکټرانو سره دغه کېمپونو ته تله. شاکر





خان سره دَ هغې څو څو ځله ملاقات هم شوے وو او دَ هغوي دَ علاج معالجې په باره کښې دَهغوي خبرې هم شوې وې . هغۀ دَ هغې نه په مُسکا تپوس اوکړو ، "تۀ تانې ته څنګه راغلې یې ؟" هغه مسکۍ شوه او وې وئېل :. دا کېس مونږ سره شوے دے ".

شاکرخان:. اوه ، دا خبره ده دا صېب ستا هسبېنډ (Husband )دے.

ډاکټرلائبه :. هاؤ جي دا زما هسبېنډ دے . هغوي لا خبرې کولې چې یو سپاهي په یوه وړه شان مجمه کښې دَ شربت یو ګلاس راوړۀ او هغۀ ته یې په مېز کېښودو .

شاکرخان هغه ته وائي ، "دوه ګلاسه نور راوړه" . هغه ډېره په تېزۍ سره بهر اوځي ، لږه شېبه پس دوه ګلاسه شربت راوړي او هغوي له یې ورکړي . شاکرخان او ډاکټر لائبه شربت هم څکي او دَ کډوالو دَ علاج معالجې او دَ خپلې مشاهدې او تجربې په باره کښې خبرې هم کوي . چې هغوي شربت اوڅکي نو SHO یو سپاهي ته وائي، ورشه هلکه ، مرزا صېب ته وایه چې هغه ملزمان دَ حوالات نه را اوباسه او دلته یې راوله . " دَ هغۀ دَ تلو نه لږه شېبه پس هغوي ټول دفتر ته راوستې شي. هغوي ټول شاکرخان ته سلام اوکړي او په فرش کېني.

SHO ډاکټر لائبې ته وائي ، "بنۀ بي بي دَ شاکرخان په مخکښې خپل بیان ورکړه . ډاکټر لائبه دَ سو چي کاکا ، ګلۍ ، مهوش ، جان پرې او دَ قارې صېب په باره کښې ټوله واقعه بیان کړې او دَ ثبوت په طور هغه ستامپ پېپر پېش کړي کوم باندې چې هغوي ګوتې



www.pukhto.net

لګولې وې. چې هغه خپل بیان ورکړي نو بیا ګلۍ خپل بیان ورکوي . په خپل بیان کښې هغه دَ خپل جرم اعتراف اوکړي . شاکرخان ګلۍ نه تپوس کو ي ، "ستا لور مهوش څۀ شوه ؟" هغه ژاړي او په ژړا کښې وائي ، خان جي ، دَ تېرو لسوورځونه هغه بې درکه ده او مونږ ه ته دَ هغې باره کښې هیڅ پته نۀ لګي چې چرته ده ؟

شاکرخان:. SHO ته ګوري او وائي SHO صېب ، دا کېس پېچېده دے که ستاسو خوښه وي نو دا به جرګې ته حواله کړو .

SHO :. زما پرې هیڅ اعتراض نیشته البته دَ مدعیانو راې معلومې کړي . شاکرخان ډاکټر لائبې او ډاکټر انصار ته ګوري او وائي، "ستاسو څنګه خوښه ده ."

ډاکټر لائبه :. زما ستاسو په فېصله هیڅ اعتراض نیشته ، چې څنګه تاسو جوړه کړه ماته منظور ده ."

شاکرخان:. (SHO ته) صېب مدعیانو او ملزمانو دَ فېصلې اختیار ماله راکړو تاسو ته منظور ده .

SHO :. هاؤ خان جي ، ماته بالکل منظور ده خو دوي به ماله لیکلې راکړي چې دوي خپل کېس واپس واخستو او جرګې ته یې حواله کړو . دې نه علاوه چې کله فېصله اوشي او دواړه طرفېن او دَ جرګې مشران پرې لاس لیك اوکړي نو دَ هغې یوه کاپي به ماته راکوۍ".

شاکرخان:. ډېره ښۀ ده صېب . دا زما ذمه شوه او داسې به ضرور کېږي . بیا ډاکټرلائبې ته وائي، "تاسو او دوي به سبا مازېګر پنځه





بجې زما حجرې ته راشئ او ستاسو فېصله به جرګې ته حواله کړو".

ډاکټر لائبه او ډاکټر انصار:. ډېره ښه ده خان جي ، هم دغسې به اوکړو.

شاکرخان:. ستاسو دے خُدائے عزت اوکړي چې په مامو اعتماد اوکړو . بیا SHO په یو کاغذ دَ هغوي اقرار نامه لیکي چې هغوي خپل کېس دَ کلي جرګې ته حواله کړو او چې جرګې څۀ فېصله اوکړه هغه به دَ ثبوت په لور دَ تانې SHO ته حواله کوي . بیا په هغې دَ دواړو فریقو ګوتې اولګولې شوې او دې نه پس SHO دواړو ډلو ته دَ تلو اجازت ورکړو . شاکرخان دَ SHO شکریه ادا کړي او دَ تانې نه اوځي.

سبا مازېګر پنځه بجې دَ شاکرخان په حجره کښې جرګه راغونډه شوه . په جرګه کښې دَ زوړ کلي، اکبر کلي ، همایون کلي او دَ نورو کلېو ، عالمان ، سېدان او سپین روبي مشران شامل وو . هغوي ټولو متفقه طورشاکرخان دَ جرګې صدر اونمانځلو . جرګې ته مدعیان او ملزمان حاضر شو . ډاکټر لائبې دَ مشرانو مخکښې خپل بیان وورو . دې نه پس ګلۍ خپل بیان وورو او سوچې کاکا په خپل بیان کښې دَ خپلې ښځې دَ بیان تائېد اوکړو ، شېردل دَ خپل پلار او خپلې مور دَ بیان تائېد اوکړو چې هغۀ ، دَ هغۀ پلار او دَ هغۀ مور دَ ډاکټر لائبې دَ کوره مهوش اغوا کړې ده او خپل کور ته یې راوستې ده . دغه رنګې جان پري هم دَ خپل جرم اعتراف اوکړو . دَ ملزمانو دَ بیانونه ثابته شوه چې هغوي ملزمان نه بلکه مجرمان دي . کله چې دَ ګلۍ نه دَ مهوش دَ حواله کولو په باره کښې تپوس اوشو نو هغې



www.pukhto.net

لکه دَ مخکښې غونډې اووې چې ،"هغه دَ تېرو لسو ورځو نه بې درکه شوې ده او هغې ته ، دَ هغې خاوند او دَ هغې زوي ته هيڅ معلومات نيشته ."

مشرانو دواړه طرفين دَ کمرې نه اوويستل او خپلو کښې صلاح، مصلحت شروع کړو، دَ ډېر بحث وتکرار نه پس هغوي په دې فېصله متفق شو چې ملزمانو له لس ورځې مهلت ورکړې شي او په دغه کښې دننه دننه مهوش جرګې ته حاضره کړې شي چې دَ جرګې مشرانو له خپل بيان ورکړي اوکه ملزمان دَ هغې په راوستو کښې ناکام شي نو دَ هغوي خلاف به فېصله کېږي ." په دې مختصر فېصله باندې دَ جرګې ټولو مشرانو اوصدر جرګه دستخطونه اوکړل. بيا هغوي ټول را اوغوښتلې شو او هغوي ته دَ جرګې فېصله اوروله شوه . دې فېصلې نه پس کېس ائنده تاريخ پورې اوځنډولے شو او مدعيان او ملزمان لاړل .دَ هغوي دَ تلو نه پس شاکرخان دَ جرګې په مشرانو چايې او څکوله او هغوي ټول يې په عزت رخصت کړل .

## ﴿دريمه برخه﴾

شاکرخان دَ سوچې کاکا او ګلۍ په حماقت سخته ذهني صدمه رسېدلې وه هغه اګر چه دَ هغوي په حرکت سخت غصه وو خو هغه نه غوښتل چې هغوي ته سزا ورکړې شي ځکه چې دَ موسم بابا او تورخان بابا نه واخله تر سوچې کاکا پورې دغه ټول پلار په نيکهٔ دَ هغوي دَ کورنۍ کسب ګر او خدمتګار وو خو چې په خپله





يې په خپل جُرم بوهٔ وانه چول نو هغهٔ سره دا يره ملګرې شوه چې که چرې په ټاکلې شوې موده کښې مهوش اونه موندلې شي او دَ هغوي فېصله اونشي نو هغوي ټول به دَ مجرمانو په حېث پوليس او عدالت ته پېش کېږي او دَ جرګې ټول ممبران او دَ صدرِ جرګه په حېث به هغه په خپله دَ هغوي په جرم ګواه وي . هغهٔ دَ خپلو سړو په ذريعه دَ خواؤشا ټولو کليو دَ جماتونو په لوډ سپيکرو کښې دَ مهوش دَ بې درکۍ اعلانونه اوکړل خو چې په دې اونشوه نو بيا يې خپل ټول نوکران او کسب ګر راغونډ کړل او دَ هغې تلاش پسې يې دَ پېښور نه واخله تر صوابۍ پورې دَ کډوالو کېمپونو ته اولېږل او په خپله به هم دَ سحر نه تر ماښامه پورې ګرځېدو . په دغه ګرځېدو ګرځېدو کښې هغهٔ خپل ټول ياران دوستان او خپل خپلوان خبر کړل چې که چرې دَ هغې څهٔ پته اولګي نو چې فوري طور هغه خبر کړي . دې نه علاوه هغه دَ رېډيو او ټي وي ټولو چېنلو ته هم دَ هغې دَ بې درکۍ خبر ورکړے وو.

هلته ډاکټر لائبه خپل خاوند ته دروغژنه هم شوه او مخ تورنه هم شوه . هغې چې دَ دروغو کومي کړې يوبل سره يوځائے کړې وې او دَ دروغو کوم شړنګېدلے امېل يې ترېنه جوړ کړې وو ، هغه ټولې يوه په يوه ختمې شوې او هغې سره دَ شرمندګۍ او رسوائۍ نه بغېر هيڅ پاتې نشو. هغه دَ ډاکټر انصار په نظر کښې دومره سپکه شوه چې دَ هغې هيڅ حيثيت پاتې نشو. هغه دَ هغې نه دومره متنفر شو چې



www.pukhto.net

کله هغه هغې سره دَ شاکرخان دَ حجرې نه کور ته لاړو نو هم په هغه شپه دَ کوره اووتو ، دَ هغې نه پټ په پټه اسلام آبادته او بیا دَ اسلام آباد نه امریکې ته واپس لاړو .

دغه شان سوچې کاکا ، ګلۍ او شېردل هم په خپلو ترېورانو او په کلي محلت کښې سپك شو ، اوخلقو ترېنه دا جوړه کړه چې هغوي خپله لور په ډاکټر لائبې خرڅه کړې وه خو چې هغه پېسې یې هضم کړے نو دَ نورو پېسو مطالبه یې ترېنه اوکړه . چې هغې انکار اوکړو نو بیا یې ترېنه هغه اغوا کړه . ځېنو پکښې دا شوتۍ هم اوویشلې چې هغه یې په بل چا خرڅه کړې ده او په هغه پېسو خپل زوي شېردل له وادهٔ کول غواړي . وادهٔ چاسره کوي؟ ظاهره خبره ده چې نابللې مېلمنې جان پرې سره . دَ جان پرې او شېردل اګر چې خپلو کښې نکاح نه وه شوې خو دَ خوشګواره تعلق په وجه دَ هغوي خپلو کښې انډرسټېنډنګ انتها ته رسېدلے وو . سوچې کاکا او ګلۍ خپلو کښې صلاح کړې وه چې دَ هغوي نکاح زر تر زره اوشي او دَ هغوي خبره شرعې ته درسته شي . هغوي په دغه تکل کښې وو چې یو خوا دَ هغوي لور مهوش بې درکه شوه بل خوا ډاکټر لائبې دَ هغوي خلاف پولېس ته شکایت اوکړو . جان پرې هم دَ مهوش دَ اغوا په کېس کښې لړلې شوې وه او هغې هم اعتراف جرم کړې وو . اوس هغه هغوي کره بنۀ په پخه ډېره وه . یو خوا سوچې کاکا او دَ هغۀ کورنۍ دَ خپلو ترېورانو دَ خندا شوه ، بل خوا په کلي کښې رسوا شو ،





درېمه دا چې هغوي سره دا یره ملګرې شوه چې که چرې په ټاکلې شوي موده کښې مهوش اونه موندلې شي نو هغوي به تانې ته بوتلې کېږي او دَ هغوي خلاف به دَ اغوا مقدمه درج کېږي . دَ مهوش دَ لټون په ځائے هغوي په کور کښې ناست وو ، دَ مهوش او دَ ټاکلې شوي تاریخ دَ راتلو انتظار یې کوو .

شاکرخان ، هما سره دَ لیدو کتو او ملاوېدو ځوځو وعدې کړے وے خو دَ هغې ملاقات ته اوزګار نشو ځکه چې دَ مهوش په لټون کښې او دَ هغې دَ موندلو په هلوځلو کښې هغه شپه ورځ په ځان یو کړې وه . په دې دوران کښې دَ هغې ځوځو کالونه او مېسجونه راغلل او هر ځل ورسره هغۀ دَ ملاوېدو نوې نوې وعدې اوکړے . په دغه نن سبا کښې پوره نهۀ ورځې تېرې شوې. په لسمه ورځ چې هغه ماسخوتن تیاره دَ حجرې نه کورته او خپلې کمرې ته لاړو نو دَ ورتلو سره دَ هغۀ سترګې په هغه مېز پرېوتې کوم چې دَ هغۀ بېډ سرته لګېدلے وو. په مېز دَ ماتو شنو بنګړو یوه لپه پرته وه . د ماتو بنګړو په لیدو هغه مسکے شو ، په بېډ کښې کېناستو او ځان سره یې اووے ، داسې معلومېږي چې همابې بې بیا مروره شوې ده . دې سره هغۀ خپل موبائېل راواخستو او هغې ته یې کال اوکړو خو چې هغې څۀ جواب ورنکړو نو بیا یې ورته مېسج ورکړو . مېسج کښې ورته هغۀ اولیکل ، "ډېر هما ، ماته ستا دَ جذباتو احساس دے خو زۀ في الحال درتلے نشم . ماله دَ یو څو ورځو مهلت راکړه پلېز". هغه لا دَ هغې دَ جواب انتظار کوو چې



www.pukhto.net

زرتاجه دَ هغۀ کمرې ته راغله . هغې لا هغۀ ته څۀ ویل غوښتل چې هغه پرې مخکښې شو او تپوس یې ترېنه اوکړو ، "هما بي بي بیا مروره شوې ده ؟" هغه مسکی شوه او وې وئیل:. خان جي ، تاته څنګه پته اولګېده چې هغه مروره شوې ده ." هغه په مېز پراتۀ ماتو بنګړو ته اشاره کوي او وائي ، "یوخو د دے ماتو بنګړو نه پته لګي چې هغه مروره ده ، بله دا چې ماسره په موبائېل خبرې نه کوي ."

زرتاجه :. هاؤ خان جي ، هغه تانه خفه ده .په دې وجه یې خپل بنګړي مات کړل .

شاکرخان :. مانه ولې خفه ده ، هغه څۀ وائي ؟

زرتاجه :. خان جي ، ماترېنه څو څو ځله تپوس اوکړو خو هغه هېڅ نه وائي، زما په هر تپوس به یې دَ یو یو بنګړي نه ټك وېستو او لاندې به یې غورځوو . په دې دې کښې یې دواړه لېچې تشې کړې"

شاکرخان :. تاته څنګه پته اولګېده چې هغه مانه خفه ده ؟ کېدېشي څۀ بله وجه وي .

زرتاجه :. بله وجه نیشته خان جي ، هغه تانه خفه ده او ماته هله پته اولګېده چې هغې چاړۀ راواخسته او ستا هغه نومونه یې په چاړه ګرول کوم چې هغې په خپلو لېچو په پخه سیاهۍ لیکلي وو.

شاکرخان:. اوه مائي ګاډ، دومره حماقت ، دغسې خو به دَ هغې څرمن ژوبه شوې وي ؟ تاورته کتل او هغې دغسې کول ."

زرتاجه :. نه خانجي ، زۀ چې دَ هغې په نیت پو هـ شوم نو ماترېنه





چاړه واخسته او هغې له مِ د لاسه ورکړه .

شاکرخان :. بیا څۀ اوشو ؟

زرتاجه :. بیا دا چې هغوي ټولو ډوډۍ اوخوړه خو هغې دا بهانه اوکړه چې هغه مړه ده او زړۀ ته یې نه کېږي .

شاکرخان:. کېدېشي هغه مړه وه او نوره یې زړۀ ته نۀ کېده . دېکښې دَ بهانې څۀ خبره ده .

زرتاجه:. نه خان جي ، داسې نه ده . هغه مړه نه ده ، نن درېمه ورځ ده چې دغه بهانه کوي .

شاکرخان (په حېرانتیا)نن درېمه ورځ ده او هغې لا هیڅ نه دي خوړلي . هغه خو به نیمه نه وي پاتې شوي . هغه مانه ولې خفه ده ؟ اخر څۀ شوي دي ؟

زرتاجه:. خُدائے دَ پاره خان جي ، ته ماسره لاړ شه او دا تپوس ترېنه په خپله اوکړه . او که تۀ نۀ ځے نو زما هم هلته دَتلونه توبه ده .

شاکرخان :. (په بې صبرۍ) .نه ، نه ، داسې به نۀ کوې زرتاجې. زۀ درسره ځم ...ځه چې ځو، هغوي چې دَ کوره اوځي نو هغه حجرې ته لاړ شي ، دَ حجرې نه ګاډے را اوباسي ، هغه ځان سره کېنوي او چې لږ ساعت تېرېږي نو هغه ارام ګاه ته اورسي . هغوي چې دَ ګاډي نه کوز شي او ارام ګاه ته دننه شي نو شاکرخان هغې ته وائي، "زۀ دَ هغې کمرې ته ورځم او تۀ ډوډۍ ګرمه کړه او هلته یې راوړه ."

زرتاجه:.ډوډۍ په هارډ پاټ کښې ګرمه پرته ده ، ته ورشه ، زۀ یې



www.pukhto.net

دراوړم".

شاکرخان دَ هغې دَ کمرې ور سره اودرېدو او په ور يې رو غوندې ناکنگ اوکړو . هغهٔ درې ځله دغسې اوکړل خو چې هغې څۀ جواب ورنکړو نو بيا يې ورله ديکه ورکړه . وربولټ شوے نه وو بکه هسې پورے وو . په کمره کښې زيروبلب بلېدو او پکے چلېدو . هغه په سيلپنگ سوټ کښې ملبوسه وه او په بېډ کښې خورې زلفې دانه دانه پرته وه . هغهٔ لا دَ هغې دَ حسن په تماشه وو چې زرتاجه دَ ډوډۍ خوانچه په لاس راغله ، په مېز يې کېښوده او يوخوا ته غلې غوندې اودرېده . هغهٔ ، هغې ته دَ تلو اشاره اوکړه . هغه چې دَ کمرې نه بهر اووته نو هغه وربولټ کړو، زيرو بلب يې مړ کړو راډ يې اولگوو او هغې سره خوا کښې مېز ته کېناستو . دَ راډ بلېدو او دَ هغهٔ دَ کېناستو سره دَ هغې سترگې اوغړېدې او چې هغهٔ ته يې اوکتل نو سترگې يې ځوځو ځله اوزبولې بيا دَ کټ نه پاسېده، برېنډې پښې هغهٔ ته مخامخ په فرش اودرېده او ورته يې اووې ، "ته دلته دَ چا په اجازت راغلے ؟"

شاکرخان :.ماته دا معلومات نيشته چې کمره دَ چاده خو زۀ اوږے شوے ووم او چې ډوډۍ خوړلو دَ پاره ارام گاه ته راغلم نو زرتاجې دلته راوستم "هغه دَ غورۍ نه پلېټ کښې برياني اچوي بيا ترېنه يوه قاشوغه ډکوي او خلې ته نيسي چې هغه ورته په غصه وائي ، "زۀ تانه دا تپوس کوم چې تۀ دلته دَ چا په اجازت راغلے ؟ هغه دَ بريانۍ





ډکه قاشوغه په پلېټ کښې واپس اړدي او هغې ته وائي ، " ماخو درته مخکښې اووے بې بې چې زه دلته زرتاجې راوستې يم . که ستا په ارام کښې خلل راغلے وي نو دَ هغې درنه معافي غواړم ."

هما(په غصه) اوځه زما دَ کمرې نه ، زر اوځه شابه .

شاکرخان :. ترڅو چې مِ ډوډۍ نه وي خوړلے تر هغې نه اوځم . هما هغه ته نيغ نيغ گوري . هغه ورته وائي ، "ماته ولې نېغ نېغ گورے، که تۀ اوږے شوے يې نو تۀ هم راځه کېنه ، ډېر خوند به اوکړي چې دواړه يو بل ته مخامخ ناست يو او په رومبي ځل يو ځائے ډوډۍ خورو . دغه کرسۍ راکاږه پليز".

هما: زۀ ډوډۍ نه خورم .

شاکرخان:. چې ډوډۍ نه خورې نو ورشه ماله دَ باورچي خانې نه دَ پېپسي يو يخ بوتل راؤړه .

هما: زۀ نه ستا بېره يم او نه ستا نوکره يم.

شاکرخان (مُسکے شي ) اوه سورې ، ته واقعي په دغه دواړو کښې نۀ يې . . .داسې معلومېږي چې تۀ زما په راتلو او دلته زما په ډوډۍ خوړلو خفه يې . بهتره دا ده چې زۀ دا خوانچه اوچته کړم او باورچې خانې ته لاړ شم ." هغه پاسي او دَ خوانچې اوچتولو هڅه کوي.

هما: دَ تلو کوشش مۀ کوه چې راغلے يې نو ځان موړ کړه او بيا ځه.

شاکرخان:. بس زۀ موړ شوم ، نوره مِ زړۀ ته نه کېږي ، "هغه خوانچه اوچتوي . هما دَ هغهٔ دَ لاس نه خوانچه اخلي ، په مېز يې اړدي او



www.pukhto.net

ورته وائي ، "داسې مۀ کوه پلېز ډوډۍ اوخوره نوبيا څه ."

شاکرخان:. يواځې خوړل مزه نه کوي . که تۀ راسره کېنې خو ډېره ښه ده ګينې زۀ درنه ځم .

هما:. او،کے ، او،کے ، زۀ درسره کېنم خو په يو شرط .

شاکرخان:. کوم شرط؟

هما:.مخکښې شرط اومنه ، بيا به هغه پوره کوے .

شاکرخان:. ډېره ښۀ ده . ماته ستا هر شرط منظور دے . دې سره هغه مسکۍ شي دَ کمرې نه اوځي ، باورچي خانې ته لاړه شي، هلته نه دَ پيپسي دوه بوتلې راؤړي او هغۀ ته مخامخ په کرسۍ کښې کېني. هغه چې قاشوغه را واخلي او دَ بريانۍ نه يې ډکوي نو شاکرخان زر خپله قاشوغه ډکه کړي او دَ هغې خُلې ته يې نيسي . هغه مسکۍ شي او خپله ډکه قاشوغه دَ هغۀ خُلې ته نيسي . يوځل چې دَ هغې خوند دَ خولې شي نو بيا ورته وائي ، "داسې نه ، په خپله خوره او په خپله به خورم . . .شابه دَ خوړلو مقابله به کوو." دَ بريانۍ نه پس چې کله دَ ترکارۍ خوړلو وار راشي نو دَ هغې د سپېډ نه پته لګي چې هغه په ګټه کښې روانه ده چې ټول پلېټونه اوڅټي نو لاس اوچت کړي ، مسکۍ شي او وائي، . Hurra! I have won the match ، هغوي چې ډوډۍ اوخوري نو دواړه دَ پيپسي بوتلې اوچتې کړي .

شاکر خان چې دَ بوتل نه يو ګوټ واخلي نو بوتل په مېز کېږدي ، دَ هغې برېنډو لېچو ته ګوري او وائي ، "هما بنګړي دې څۀ شو ؟" هغه





ورته په لاپروائۍ وائي ، "هغه مې مات کړل ، اومې غورځول ".

شاکرخان:. ولې دې مات کړل ؟ مادرله څومره په مينه راؤړے وو.

هما:. ميرى مرضى ، زۀ تاته جواب ده نه يم .

شاکرخان:. او دَ څنګل دَ پاسه دا مټ دے ولې ژوبل دے ؟

هما:. اوه دا . . .؟ ما په ناپوهۍ کښې دَ يو کبرژن محبوب نوم په خپلو مټو ليکلې وو. هغه مې ګرول او ورانول خو وران نشو .

شاکرخان:. زما نه علاوه ستا څوک بل محبوب شته ؟

هما:. دا هم ستا نوم دے . که زرتاجې نه وې منعې کړې نومابه د دے دواړو مټو دَ نومونو غوښخه پرېکړې وه او تاله به مې درلېږلې وه .

شاکرخان:. اوه مائي ګاډ ، تۀ زمانه دومره نفرت کوي؟ داخبره خو زما په خيال وګمان کښې هم نه وه . ستا کمرې ته په راتلو ماته ډېر افسوس دے . او،کے زۀ درنه ځم.

هما:. په دې شپه چرته ځے .

شاکرخان:. هرچرته چې ځم ، ميری مرضی ، زۀ تاته جواب ده نه يم، هغه پاسي او دَ تلو هڅه کوي . هما هغه دَ لاس نه نيسي او وائي، خفه شوے ؟

شاکرخان:. زۀ تانه خفه نه يم ، دَ هغه ظالمې محبوبې نه خفه يم دَ چا تصوير چې ما په خپل زړۀ جوړ کړے دے . ځم چې هغه تصوير لکه ستا په چاړۀ اوګروم .

هما:.تۀ به داسې چرې هم نۀ کوے .



www.pukhto.net

شاکرخان:. ولې به نه کوم . چې ته دَ خپلو مټو نه زمانوم ګرولې شې نو زهٔ هم دغسې کولے شم . هما دَ هغهٔ په اوږه لاس اېږدي او وائي، "خان جي ، ته رومبے سړے یې ، دَ چا نه چې ماستر مات کړو . شاکر خان دَ هغې په اوږه لاس اېږدي او وائي ، "هما،ته رومبۍ جینۍ یې ، چې ما ورته په ځېر ځېر اوکتل "

هما:. ته رومبے سړے یې چې زهٔ ورسره ډوډۍ ته کېناستم او په خپل لاس مې دَ هغهٔ خلې ته قاشوغه اونیوه .

شاکرخان:. ته رومبۍ او اخري جینۍ یې چې ستا نوړۍ مې قبوله کړه او خپله نوړۍ مې تا ته اونیوه .

هما:. رومبۍ او اخري؟

شاکرخان:. هاؤ بالکل رومبۍ اواخري.

هما:. د دې مطلب دا دے چې زما ځائے بل څوك نشي اخستې، بیا خو زما او ستا جهګړه ختمه شوه .

شاکرخان:. جهګړه ختمه نشوه بلکه جهګړه اوس شروع شوه .

هما (مسکۍ شي) هغهٔ څنګه ؟

شاکرخان:. هغه دا چې تا بنګړي ولې ماتول او زما نوم دے ولې ورانوو؟

هما(مسکۍ شي) د دے دواړو سوالونو په جواب کښې که زهٔ تاته سوري اووېم نو معافي ملاوېدي شي .

شاکرخان:. ستا دَ سوري وېلو نه مخکښې ته معاف شوے . ښه اوس ماته اجازت دے ، تلے شم ؟





هما هغه دَ لاس نه نیسي او ورته وائي ، "ته لږ کېنه ، تانه یو تپوس کوم . هغوي دواړه په بېړه کښې کېني . هما هغه ته په مُسکا ګوري او وائي، "ته رشتیا اوږے شوے وے او ډوډۍ خوړلو له دلته راغلے وے ."

شاکرخان:. نه داسې نه ده، ډوډۍ ماپه حجره کښې خوړلے وه خو چې کورته راغلم او په خپل مېز مې ستا مات بنګړي اولېدل نو پوهـ شوم چې بي بي مروره شوې ده .

هما:. زما مات بنګړي هلته څنګه اورسېدل .

شاکرخان:. زرتاجې راؤړي وو او ماته یې په مېز اېښې وو. ماتاته کال هم اوکړو او مېسج مې هم درکړو خو چې تاجواب رانکړو نو بیا زرتاجه راغله او هغې راته اووې چې ته دَ درېو ورځو نه په بهوك هړتال یې. اوس ماته پته نېشته چې ته مانه په څهٔ خفه وې ؟

هما:. زهٔ تاڅنګه پوهـ کړم چې زهٔ تانه په څهٔ خبره خفه ووم ؟ ګوره تا ماسره دَ ملاوېدو څو څو وعدې اوکړے او یوه دے هم پوره نه کړه . مخکښې خو زما دَ ستر په بهانه نه راتلے او چې تانه مې ستر مات شو نو بیا مینځ کښې څهٔ پاتې شو ؟

شاکرخان:. هما، تاسو مېلمانهٔ یې او زهٔ نه غواړم چې زما په وجه تاسو ډسټرب شۍ ." هما دَ هغهٔ دَ خلې نه خبره اخلي او وائي ، "مېلمانهٔ ؟ مونږ ستاسو مېلمانهٔ نه بلکه کډوال یو .مېلمانهٔ داسې وي لکه مونږ چې یو . مېلمانهٔ دَ کور لیدو له نه راځي بلکه کوربنو له راځي . سړو او ښځو له راځي . په دے دومره موده کښې ، تهٔ دلته په دوېم ځل



www.pukhto.net

راغلے . په روميبي ځل بابا سره راغلے وے او اوس زما دَ پُرزوره احتجاج په وجه راغلے . دې نه علاوه نه ستا خوياندې راغلې نه انكل خان بابا او نه مشره بي بي . ځه ، هغوي كور نيشته خو تا باندې څۀ شوي دي . ته ولې نه راځې ...خان جي تا زما يوشرط منلے وو ، تاته ياد دے .

شاكرخان:. هاؤ ماته ياد دے خو دَ شرط نوعيت راته معلوم نه دے .

هما:. دَ شرط نوعيت دا دے چې ته چې تږله ورځ هر چرته يې، په هغې زما اعتراض نيشته نو دَ ماښام ډوډۍ به هم مونږ سره خورے او شپه به هم مونږ سره دلته كوے تاته دا شرط منظور دے .

شاكرخان:. په ډوډۍ خوړلو مِ مۀ مجبوره وه خو چې په كلي كښې يم نو شپې له به راځم "هغه ، هغۀ ته په مُسكا "تېنك يو" وائي او دَ هغۀ په غېږ كښې سراږدي بيا وائي چې ،"خان جي چې يوه خبره درته اوكړم نو خفه كېږے خو به نه ؟"

شاكرخان:. تۀ خبره اوكړوه ، خفګان سره به بيا ګورو.

هما:. خان جي ، دلته دَ راتلو نه مخكښې تۀ ما ځوځوځله په خوب كښې لېدلې يې ...هم هغه ځواني ، هم هغه شكل وصورت، هغه خبرې او هغه كړۀ اوړۀ ...هم هغه مُسكا او هغه خندا . ما په خوب كښې تاسره ځوځوځله خبرې هم كړې دي ...په دغه خبرو خبرو كښې تازۀ يو ځل دَ لاس نه اونيوم او ماته دے اووے ، " ماسره كلي ته ځې" . ستا په دې خبره زما په وجود دَ خوشحالۍ يوه لرزه راغله او





چې سترګې مِ اوغړېدې او تۀ مِ اونه لېدے نو بيا مِ ځوځو ځله سترګې پټې كړې خو نه خوب راغۍ او نه مِ ته په ويښه اوليدے . دې نه مخكښې مِ په داسے حال كښې ليدلے وے چې تاسره دوه ميله چريز ټوپك وو او دَ سيند په غاړه دے دَ مرغابيو ښكار كوو . زۀ تاسره څنګ په څنګ ګرځېدم او لكه ستا مِ دَ مرغابيو سېلونو ته كتل . كله چې تا په مرغابيو ډز اوكړو نو هلته مرغابۍ اولګېدې ، لا پرېوتې او دلته ما په خپل كټ كښې ټوپ كړو . دغه شان ډېرو ځايونو كښې مِ ليدلے يې خو اوس هغه خبرې او هغه واقعات راته پوره يادونه دي. خان جي ...ما په زړۀ كښې وېلې وو چې زۀ به د دغه سړي نه بغېر دَ هېڅا نه ستر مات نكړم او زما خبره رشتيا شوه .

شاكرخان:. تاخو زۀ ډېر مخكښې لېدلې ووم نو بيا دې مانه سترولې كوو.

هما:. زړۀ مِ غوښتل چې تانه ستر مات كړم خو دَ څۀ وجو هاتو په وجه ما دغسې اونكړې شو .

شاكرخان :. دَ څۀ وجو هاتو په وجه ؟

هما:. يو دا چې خپلې پښتو او شرم وحيا اجازت نۀ راكولو چې دَ يو نامحرم نه ستر مات كړم . دوېم دا چې ستا معلومات كول ضروري وو .درېم دا چې دَ نيا، نيكۀ دَ عزت په وجه . څلورم دا چې ماځان سره وېلې وو چې زۀ به دَ هغه چانه ستر ماتوم ، چاسره چې زۀ وادۀ كول غواړم .

شاكرخان خانديې او هغې ته په خندا كښې وائي ، "كه زۀ تاته دا اوويم چې تۀ ماځوځوځله په خوب كښې ليدلې يې نو ته به زما په خلۀ



www.pukhto.net

باور اوکړي ؟

هما:. تازۀ په کوم ځائے او په کوم حالت کښې ليدلي ووم.

شاکرخان:. يو ځل م په داسے حال کښې ليدلې وې چې ته سرتور سر او پښې يبله پښې په بام ختلې وې او باديوه دې الوځوله . هماخاندي او وائي ، "دا خو بالکل رشتيا ده . دلته دَ راتلو نه لږ مخکښې ، زۀ به اکثر دَ کور په بام ختلم او باديوه به م الوځوله . ښه بله واقعه ؟

شاکرخان:. دې نه مخکښې م دَ يو کور مخې ته ليدلي وې چې نورو جينکو سره دې شلغاتې کوو ."

هماخاندي او په خندا کښې وائي ، "مونږ به چې دَ سکول نه راغلو نو اکثر به موشلغاتې کوو. ښه بله واقعه ."

شاکرخان:. په دريم ځل م په داسې حالت کښې ليدلي وي چې لکه دَ مرغۍ دې لاسونه خوارۀ کړي وو او پورته په فضا کښې ګرځېدي.

هما:. دا هم رشتيا ده ، (هغه هغۀ ته په خوبولو سترګو ګوري او وائي)

"زۀ به چې دَ شپې اوده کېدم نو دَ الله نه به مې دا سوال کوو چې ، ياالله ما مرغۍ کړے چې . . . چې . . . دَ . . . ټولې دنيا . . . سېل . . . سېلونه . . . کوم". دې سره دَ هغې سترګې پټې شوې او دَ هغۀ په غېږ کښې اودۀ شوه . هغه په سپينه پاجامه او سپين بنېن کښې هغه ته داسې ښکارېده لکه يو ماهر سنګ تراش چې په خپل لاس جوړه شوې دَ سنګِ مرمر مجسّمه په خپله غېږ کښې ايښلې وي اودَ هغې دَ حسن کشش ته په ځېر ځېر ګوري. دَ هغې دَ سپين لباس او دَ سپين بې





باسه بدن فرق ډېر په مُشکله کېدو . هغه لکه دَ ښاپېرۍ دَ هغۀ په غېږ کښې اودۀ وه او دَ هغې دَ بدن ورږمې لکه دَ ګلِ شبو دَ خوشبوئې په کمره کښې خورېدې . هغۀ په چپه خولۀ دَ هغې دَ بدن يويو عضو ته کتل او دَ قدرت د دے ناياب شهکار دَ يو يو اندام ستاينه يې کوله. شپه پخېده او دَ هغۀ دَ کتنې اشتها زياتېده . هغه لکه دَ ثوارلسمې سپوږمۍ دَ پلوشو په پړدو او دَ ورږمو په چپو کښې ډوبه دَ هغۀ په غېږ کښې پرته وه . دَ هغې دَ ښائست ټولې خزانې ، دَ هغۀ په غېږ کښې دَ هغۀ اوږو ترږو سترګو ته برسېره پرتې وې . يو ځل دَ هغۀ په زړۀ کښې راغله چې هغه دَ هغې په خولۀ خولۀ کېږدي ، دَ هغې دَ خولې په اَب حيات خپله تنده ماته کړه ، دَ هغې دَ پېغلتوب دَ رس نه ډک ، دَ هغې دَ خوږو خوږو اننګو نه ډک ډک چکونه اووهي او دَ تبرك په طور دَ هغې هريو اندام ښکل کړي خو بيا يې دَ خپل خيال په خپله ترديد اوکړو چې دَ شرعي تړون نه بغېر هغه دَ هغۀ د پاره شجرِ ممنوعه ده .

دَ ړومبي ملا په بانګ سره هغه دَ هغۀ په غېږ کښې په ډډه ووخته. دَ دوېم ملا په بانګ هغې بيا ډډه بدله کړه . دَ دريم ملا په بانګ هغه دَ هغۀ په غېږ کښې راغونډه شوه او کله چې دَ بانګونو سلسله شروع شوه نو هغۀ هغه په ډډه واړوله او غلې غوندې يې ورته په غوږ کښې اووے ، "هما، پاسه پليز ، ناوخته دے . دَ سحر رڼا خوره شوې ده " دَ هغۀ په ګنګوسې چې دَ هغې سترګې اوغړېدې نو په زبېدلو سترګو يې هغه ته اوکتل مُسکۍ شوه خو ډېر زر وارخطا شوه او هغۀ ته يې



www.pukhto.net

اووې، "اوه مائي ګاډ، تـه لا وېښ يې"؟ هغه دَ هغهٔ دَ غېږ نه پاسېده او هغـهٔ تـه يـې اووې، "سوري خان جي، زهٔ په ځان پوهـ نشوم او اودهٔ شوم. تازما پـه وجه ټوله شپه په ناستې رونړه کړه." دَ هغې دَ تپوس پـه جـواب کښـې هغـه مُسکـے شو او وے وئيل:. "دريغه ټول عمرمِ رونړ وے خـو چـې ستـا سـرمِ پـه پتون وے". ښـه اوس اجازت راکړه چې ځم درنه. که چا اوليدو نو ښه خبره نه ده.

هما:. نه، ته به چرې هم نه ځے. تهٔ به دلته زما په بېډ کښې او زما په غېږ کښې اودهٔ کېږے.

شاکرخان:. Come on huoma. اوس درنه ځم. بيا به راشم. "هما دَ ور مخې ته اودرېږي، دَ هغهٔ لار نيسي او هغه ته وائي، "نه خان جي، زهٔ تابهر تلو ته نهٔ پرېږدم، ته نشے تلے."

شاکرخان:. هما، لږه په هوش کښې شه پليز او بهر دُنيا ته اوګوره.

هما:. زهٔ بالکل په هوش کښې يم.

شاکرخان:. تهٔ په هوش کښې مدهوشه يې. منت درته کوم پليز.

هما:. ښه چې ځے خو دَ بيا راتلو وعده اوکړه.

شاکرخان:. هغه خو ما کړے ده. اجازت راکړه پليز.

هـمـا:. چې ځے او خـامـخاځـے نو داسې نه بلکه داسې. "چې هغه لاسونـه خوارهٔ کړي نـو هـغـه ورلـرے کـړې او ډېـر په تيزئ سره بهر اوځي."

★★★





## ﴿څلورمه برخه﴾

دَ مهـوش دَ اغـوا کېس په باره کښې دَ مشرخان په لويه حجره کښـې جرګـه ناسته وه. ډاکټر لائبه هم راغلې وه او په بله کمره کښې يې دَ جرګې دَ فېصلې انتظار کوو خو دَ سوچي کاکا ډله نه وه راغلي او دَ جرګې ممبرانو ته دَ هغوي دَ راتلو انتظار وو. چې دَ هغوي دَ غېر حاضرئ لمحې اوږدې شوې نو شاکرخان ورپسې خپل ګاډے اولېږو او ډرائـېـور لـه يـې هـدايات ورکړل چې ټول ملزمان په ګاډي کښې کينوي او ځـان سـره يـې راولي. دَهـغهٔ دَتلو نه پس دَ جرګې ممبرانو دَ کـېـس پـه بـاره کښـې يو بل سره تبادلهٔ خيال کوله او دَ يو بل رايې يې مـعـلـومـولـه. دَ هغو ي مشـورې لا روانې وې چې ډرائـېـور راغئ او شـاکـرخـان تـه يـې اووے، "خان جي، دَ سـوچي کـاکـا کـورخـو بالکل خـوشـے تشـے پـروت دے نـه پـکښـې سـوچي شته او نه سوچنه"، شـاکـر خـان او دَ جـرګې نـورو مشـرانو چې دَ هغهٔ انکشاف وورېدو نو ټـولـو پـه سـواليه نظريو بل ته اوکتل. دَ جرګې يو ممبروائي، "دې نه مـعلومه شوه چې هغو ي مـلـزمان نه بلکه مجرمان دي"، بل وائي، "اوس بـه څهٔ کيږي"، شاکرخان هغه له جواب ورکوي او وائي، "اوس بـه دا کېږي چې تاسو به دَ ملزمانو متعلق خپله خپله رايې ورکړئ او يوه مشترکه فېصله به اوکړو.

دريـم مـمـبـر:. دا خبره ښکاره ده چې هغوي مجرمان دي او هغوي له د دے جرم سزا ورکول پکار ده.



www.pukhto.net

څلورم نمبر:. چونکه ملزمان حاضر نه دي نو سزا نشو ورکولے خو دَ هغوي دَ جرم اطلاع دَ متفقه تحريری دستاويز په شکل کښې پوليس ته ورکولے شو .

پنځم:. زما خو دا خيال دے چې دا کيس يو څو ورځې وځنډه وو او چې کله ملزمان حاضر شي نو دَ هغوي په وړاندې به په دغه کيس بحث اوشي اوکيس به فيصله شي .

صدرجرګه:. ستا په رايي به ووټنګ اوکړو که اکثريت ته منظوره وه نو دغسې به اوکړو .

(بيا وائي )" کوم ممبران صيبان چې دَ محترم ميا ں سعيدصيب رايې سره متفق دي نو هغوي لاسونه پورته کړی". دَ هغهٔ په حق کښې چې څوك لاس پورته نکړي نو صدرِ جرګه وائي ، "دې نه معلومه شوه چې دَ جرګې اکثر ممبران صيبان دَ ميا ں سعيد صيب رايې سره متفق نه دي . په دې وجه دَ دوي رايې ځنډولې شي . چونکه اکثر ممبران صيبان دا غواړي چې فيصله دې دَ هغوي په غير موجودګي کښې اوشي نو تاسو دَ هغوي دَ جزا يا سزا باره کښې خپله خپله رايې ورکړی . دَ ډير بحث وتکرار نه پس هغوي په دے متن متفق شو چې :.

" نن دَ کل په ورځ دَ عيسوی کال د. نهمې مياشتې په دويشتم تاريخ کال دوه زره څوارلس ، دَ مازيګر شپږ بجې دَ مشرخان په حجره کښې دَ ماشومې مهوش دَ اغوا کيس چې دَ صدر جرګه له خوا دَ جرګې





ممبرانو ته پيش شو نو مدعيه او ملزمانو ته جرګې ته دَ حاضريدو حکم اوشو . مدعيه مسمات ډاکټر لائبه جرګې ته حاضره شوه خو ملزمان سوچي وغيره دَ ماشومي مهوش دَ عدم دَ ستيابۍ په وجه جرګې ته حاضر نشو او شپه په شپه دَ کورنۍ ټول ملزمان او غير ملزمان افراد دَ کلي نه کډه په سر دَ نامعلوم مقام په لور تلي دي . چونکه جرګې ته نهٔ دا اختيار شته او نه ورسره دومره وسائل شته چې دَ ملزمانو لټون اوکړي او جرګې ته دَ هغوي حاضري يقيني کړي. په دے بنا دَ ملزمانو په غير موجودګۍ کښې دَ جرګې له خوا دا فيصله اوشوه چې که چرې مدعيه ډاکټر لائبه غواړي نو هغه دَ ماشومي مهوش دَ اغوا رپورټ په مقامي تانه کښې درج کولې شي او که چرې هغه غواړي نو دَ صدرِ جرګه بشمول ټول ممبران به متفقه طور دَ مدعيه ډاکټر لائبي ډاډګيرنه کوي ." په دې فيصله باندې دَ جرګې ټولو ممبرانو او صدرِ جرګه لاس ليك اوکړو . بيا صدر جرګه ، شاکر خان خپل ډرائيور راغواړي او دَ هغهٔ په لاس دَ دغه فيصلي اووهٔ کاپۍ اوباسي . اوريجنل کاپي صدر جرګه ځان سره اړدي ، يو يو کاپي ممبرانو له ورکوي ، يوه کاپۍ دَ تانې SHO له اوليږي او يوه کاپۍ ډاکټر لائبې له ورکړي . ډاکټرلائبه چې دَ فيصلي متن اولولي نو په هغې کښې هيڅ داسې خبره نه وي چې دَ هغې زړهٔ پرې مطمئن شي .هغه دَ فيصلي نقل په لاس دَ ممبرانِ جرګه په موجودګۍ کښې صدر جرګه له ورځي ، دَ فيصلي کاپي هغهٔ ته په مېز اړدي او وائي،



www.pukhto.net

"صدر صېب ، زۀ ستاسو دَ فېصلې په مغز پوهـ نشوم دا لږ په ساده ټکو کښې ماته واضحه کړۍ . دَجرګې ممبران چې هغه دَ بحث په موډ کښې اووینې نو یو یو اوځي . شاکرخان لا هغې ته وضاحت کوو چې ممبران اووتل او هغه هغۀ سره یو ائې پاتې شوه . ډاکټر لائبې هغۀ ته په رنجیده لهجه کښې اووې ، "خان جي ، خفه کېږه مه خو تا ما سره ډېر زیاتې اوکړو." شاکرخان خپل نوکر ته په اشارو کنایو کښې څۀ وائي . چې هغه اوځي نو هغه ترېنه تپوس کوي، "څۀ زیاتې مېډم".

ډاکټر لائبه :. زیاتې دا چې تا زما ترلي ملزمان دَ حوالات نه اوویستل ، هغوي له دې مخه ورکړه . او ماله دې دا کاپي راکړه . زۀ په دې څۀ اوکړم ؟ زۀ ښځه ذات به هغوي پسې کوم ځائې ګرځم . ماخوستا دَ نېك نامۍ او ځوانمردۍ ډېرې چرچې اورېدلې وې خو چې واسطه مِ درسره راغله نو معلومه شوه چې تاکښې انصاف نېشته ." په دېکښې نوکر راځي ، هغوي ته په مېز دوه بوتلې اږدي او بهر اوځي. هغه یو بوتل هغې ته نزدې کړي او وائي ، "مېډم بوتل واخله ."

ډاکټر لائبه دَ هغۀ په خبره غوږ نه ګره وي او هغسې لګیا وي، "تا دَ خپل کسب ګرو دَ خلاصي دَ پاره زما دَ لور ژوند تباه کړو . لورمِ لور لاړه او خاوند مِ خاوند لاړو . زۀ په دواړه اړخه اووهلې شوم ."

شاکرخان:. مېډم زۀ ستا دَ جذباتو او احساساتو قدر کوم خو تا څنګه پوهـ کړم چې دا هرڅۀ دَ یو خاص مصلحت په وجه شوي دي. ما او زما سړو ستا دَ لور په لټون کښې دَ پېښور نه تر پېښور پورې یو کېمپ





پرې نښود . ټول خواؤ شا کلي مِ ورپسې لټ په لټ چهاڼ کړل خو پېدا نشوه . مېډم زۀ لا قلار نۀ یم او زما هلې ځلې لا هغسې رواني دي . مېډم ، مهوش هغوي ستا دَ کوره اغوا کړي ده خو ماته پته ده چې اوس هغوي سره نېشته بلکه دَ هغوي نه بې درکه شوې ده . مېډم ما دَ ریډیو او ټي وي ټولو چېنلو ته دَ هغې دَ بې درکۍ خبر ورکړے دے.

ډاکټر لائبه :. هاؤ! ماته پته ده . ماپه یو څو T.V چېنلو دَ هغې دَ بې درکۍ خبر اورېدلې دے او دا خبر هم ستا له خوا خور شوے دے.

شاکرخان :. مېډم یو خواست درته کوم او هغه دا چې زماپه خلوص شك مۀ کوه . زما هلې ځلې به تر هاغې روانې وي چې ترڅو مِ ستا لور ستاغېږ له نه وي راوستے . دَ مقدمه بازۍ نه هیڅ نه جوړېږي. دا په کالونو او نسلونو چلېږي او زۀ نه غواړم چې تۀ په دې لانجو کښې پرېوځي او دَ ژوند نور مهم کارونه درنه پاتې شي . مېډم ، دا کېس یوائې ستا کېس نه دے بلکه دا زما کېس دے ځکه چې دا زما دَ کلي بدنامي ده او زما دَ کلي بدنامي زما او زما دَ پلارنیکۀ بدنامي ده څه خورې څه، ته بې غمه اوسه دا کار زما دے او زه به یې کوم ."

ډاکټر لائبه :. خان جي ، تاماته خور اووے ؟

شاکرخان (مُسکے شي) تۀ ډېره مخکښې زماخور وې خو مېډم درته ځکه وېم چې عمر کښې رانه مشره یې .

ډاکټر لائبه :. خان جي ، ته واقعي عظیم انسان یي .

شاکرخان:. نه مېډم نه ، زۀ یوادنیٰ مخلوق یم خو تۀ راته انسان وېلې



www.pukhto.net

شي ځکه چې دَ انسان نه پېدا يم او دَ انسانانو په معاشره کښې اوسېږم . مېډم بوتل اوڅکه پليز . هغه مسکۍ شي ، بوتل اوچتوي او په يو ځو غړپو کښې يې ختم کړي . خالي بوتل لا دَ هغې په لاس کښې وي چې زرتاجه ډېره په تېزۍ سره کمرې ته راځي او په سلګو سلګو کښې وائي ، "خان جي ، خان جي ، هما بي بي ،اوه خُدايه ." شاکرخان هغې ته په حېرانتيا ګوري او وائي ، "ولې په هماڅۀ اوشو. زر وايه زرتاجې "

زرتاجه :. خان جي ، هغې په ټال ځانګل او بازي ګرې يې اړولې چې بازيګرۍ سره بازيګره شوه . دَ ټال نه پربوته او بېهوشه پرته ده . زر کوه خان جي شابه ."

شاکرخان ډېر په تېزۍ سره دَ کمرې نه اوځي او په ګاډي کښې کښېني. هغۀ پسې ډاکټر لائبه هم اوځي او هغه سره په ګاډي کښې کښېني. هغوي چې باغ ته اورسي نو هما په زمکه پرته وي او قاضي صېب ، خوش نصيبه ابۍ او سهېل ورته ژاړي. شاکرخان چې هغې ته اوګوري نو وارخطا شي . ډاکټر لائبه چې دَ هغې نبض چېک کړي نو هغۀ ته وائي ،"Come on , it's a seriaus case . هسپتال ته اوړل پکار دي . هغه ، هغه په غېږ کښې اوچته کړي او ګاډي کښې اچوي . ډاکټر لائبه هغې سره په روستي سيټ کښې کښېني او شاکر خان ډرائېونګ ته کښېني . هغه ډېر زر په حجره تېرشي او په يو شغ دَ کلي نه اوځي . ډاکټر لائبه دَ هغې نبض بيا بيا چېک کوي او هرځل





هغۀ ته وائي ، هري اپ ( Hurry up ) چې لږه شېبه تېرېږي نو هغوي انصار هېلتهـ سنټر ته اورسي . دَ هسپتال عمله چې ډاکټر لائبه او مريضه اووينې نو ډېر په تېزۍ سره دَ هغوي خوا له راځي او هغه فورًا آئي سي يو ته رسوي . هغې ته اکسېجن اولګي او ډاکټر لائبه هغې سره په خپله کښېني او هر لس منټه پس دَ هغې نبض چېک کوي . ټيک لس بجې هغه په هوش کښې راشي او سترګې اوغړوي. ډاکټر لائبه چې هغې ته اوګوري نو دَ هغې په ساه کښې ساه راشي او مسکۍ شي . هغه دَ هغې نه اکسېجن لرې کړي او يو ځل بيا دَ هغې چېک اپ کوي . بيا هغه په سټرېچر کښې واچولې شي دَ Ecg ، الټراساؤنډ او دَ نورو ټسټونو دَ پاره بوتلې شي. چې دا ټول ټسټونه اوشي نو هغه يوې کمرې ته منتقل کړې شي . ډاکټر لائبه هغې ته په خپله ډرپ اولګوي او دَ يوې نرسې په نګرانۍ کښې يې پرېږدي . چې کله هغه خپل کارختم کړي نو هغه خپل دفتر ته ورځي . شاکر خان دَ هغې په انتظار کښې هلته ناست وي . شاکرخان چې هغه اووينې نو وائي ، "مېډم ، هما څنګه ده ؟" هغه مسکۍ شي او ورته وائي ، "مبارک شه خان جي هغه په هوش کښې راغلې ده . او دَ خطرې هېڅ خبره نيشته ."

شاکرخان:. مېډم هغه کوم ځاے ده ، زۀ هغې سره ليدل کولے شم.

ډاکټرلائبه :. اوس نه ، ټيک يوه ګهنټه پس. . . هسې يوتپوس درنه کولې شم خان جي، چې دا جينۍ ستاڅۀ ده ؟



www.pukhto.net

شاکرخان:.مېډم دا مېلمنه ده ؟ هغه مسکۍ شي او بيا وائي، "صرف مېلمنه ؟"

شاکرخان :. مېډم ، داسې اوګڼه چې زما دَ مينې دنيا او زما دَ مستقبل شريكِ حيات ده .

ډاکټرلائبه (مسکۍ شي) دا تهٔ څکه دومره پرېشان وے . . .دا جينۍ يعنې هما بي بي ستاسو دَ خپله ثوك خانخپله ده ؟

شاکرخان:. نه مېډم، دا نه زمونږ دَ خپله ده او نه خانخپله ده بلکه يوه بې کوره کډواله ده او نورو کډوالو سره راغلې ده .

ډاکټر لائبه :. ته صرف دَ خپلې مينې په وجه دا جينۍ شريكِ حيات جوړول غواړے او که دَ بل څهٔ مقصد دَ پاره ؟

شاکرخان:. مېډم ، زهٔ ستا په مقصد پو هـ نشوم ؟

ډاکټر لائبه :. زما مقصد دے چې تهٔ صرف دَ هغې دَ حسن په وجه هغې سره وادهٔ کول غواړے که دَ څهٔ نورو لوازماتو په خاطر ؟

شاکرخان:. دَ نورو لوازماتو نه ستا څهٔ مقصد دے ؟ زهٔ پو هـ نشوم ؟

ډاکټرلائبه . تعليم ، پېشه ، پېسه او خانداني وقار وغېره .

شاکرخان:. زهٔ دَ هغې دَ مينې په وجه هغې سره مينه کوم ، البته دَ هغې دَ حسن دَ کشش نه انکار نشي کېدے .

ډاکټرلائبه :. حسن خو يوناپائېدار او عارضي څېز دے . يو حسين انسان دَ څهٔ دبيمارۍ ، حادثې يا دَ عمر په لحاظ دَ حسن نه محروم کېدېشي . دا ظاهري چمك دمك او طبعي کشش چې ختم شي نو





بيا دَمينې هغه معيار او هغه خوند پاتے نشي .

شاکرخان:. مېډم ستا خبره ، څهٔ حده پورې صحي ده . حسن له زوال شته خو مينې له زوال نيشته . مينه په هر حال کښې مينه وي . دا کمېدې نشي البته د دے حالت بدلېديشي . دا په ځوانۍ کښې لېونۍ وي، په پوخ عمر کښې دَ ګوړې چکۍ وي او په بوډاوالي کښې مرهم پټۍ وي. په هندوپاك ، چين ، جاپان ، يورپ او دَ افريقې په سياه فام ملکونو کښې دَ حسن نوعيت يو شان نه دے .خو دَ مينې نوعيت يو شان دے. مينه حسن ته محتاجه نه وي خو حسن مينې ته محتاجه وي . حسن دَ فطرت دَ ښکلا يوه جلوه ده او مينه هغه پټه پلوشه ده چې لکه دَ بجلۍ دَ کرنټ دَ بدن په رګونو کښې پټه وي . . .مېډم ، لکه څنګه چې دَ انسان بدن ته دَ وينې ضرورت وي دغه شان دَ هغه روح ته دَ مينې ضرورت وي . دَ انسان دَ ژوند دَ پاره دا دواړه څيزونه ضروري دي. حسن يو فطرتي څيز دے . تعليم ، پېشه ، پېسه او خانداني وقار د دے لوازمات نه دي بلکه دا دنياوي څيزونه دي او که مينې ته په دغه بڼ څټ اوکتلې شي نو بيا هغه مينه ، مينه نشوه بلکه دَ زوجين دَ پاره دَ مفادو يو اېګريمنټ شو. ډېرکسان داسې شته چې هغوي دَ خپلو مفادو دَ پاره دَ خپلې حقيقي مينې قرباني ورکوي او هغه چا سره وادهٔ کوي چې دغه څلور خوبۍ پکښې وي. مينه هغه سو چه پاسه ده چې دَ مفاد پرستۍ ګډون پکښې نه کېږي او که بالفرض پکښې اوشي نو بيا هغه مينه ، مينه پاتې نشي بلکه کوټ بنګار شي. که مونږ دَ زوجيت دَ نظريې نه



www.pukhto.net

راکوز شو او ميني ته په هغه نظر اوګورو کومه مسله چې تاته درپيښه ده نو دا بـه نـوره هـم واضـحه شي. لکه دَ ماشومې مهوش مثال به واخلو . مهـوش ستـا وينـه نه ده بلکه ستا مينه ده او ستا مينه ځکه ده چې تاته دَ خپـل مستـقبـل دَ سهـارې دَ پاره دَ هـغـې ضرورت دے . تـهٔ هغې سره دَ هغـې دَ حسـن پـه وجـه ميـنـه نه کوې بلکه په اَئنده ژوند کښې دَ خپلو مـفـادو دَ تـحفظ دَ پاره هغې سره مينه کوې. که هغه ستا په معيار او ستا پـه تول پوره اوخته خو ډېره ښهٔ ده ګېنې ډېره زر به يې لاتعلقه کړې. ګلې هغـې سره دَ هغـې دَ حسن په وجه مينه نه کوي بلکه په دې وجه ورسره کـوي چې هـغـه دَ هـغـې ويـنـه ده . مينه کښې دَ دنياوي مفادو ګډون نهٔ کېږي او چې کله پکښې اوشي نو بيا مينه ، مينه پاتې نشي بلکه دَ مفاد پرستـۍ هـغــه ليتـۍ پاتې شي چې نـهٔ پکښې خوند رنګ وي او نـهٔ پکښې خوارهٔ ، نهٔ په کښې خلوص وي او نه پکښې وفا . هم دغه وجه ده چې کله په دوو کښې دَ يو مفادو ته خطره شي ، نو مينه وته شي. دواړه در پـه ديکـه شي ، لـئـۍ پـه لـئـۍ او دَ عدالت او کچهرۍ پـه خاؤرو کښې لـوغـړيـږي او دواړه دَ انـصاف مطالبې کوي." دَ هغهٔ تقرير لا روان وو چې يـوه نـرس راغـلـه او شاکرخان ته يې اووې ، خان جي، ستاسو مريضه تاسو ليـدل غـواړي." دې سره هغهٔ خپلې خبرې ختمې کړے، مُسکے شو او ډاکټر لائبې ته يې اووے ، "مېډم اجازت دے ورشم".

ډاکټـرلائبه :. داسې نه ،دواړه يو ځائے ورځو. هغوي چې دَهغې کمرې تـه ورغلل نو هغه په بېډ کښې پرته وه خو چې هغوي يې اوليدل نو دَ





مـلاستې نه کېناسته . ډاکټرلائبې يو ځل بيا دَهغې چېك اپ اوکړو. بيـا يې شاکرخان ته په مُسکا اووې ،"مبارك شه خان جي ، ستاهما بالکل ټيك ټاك ده کـه تاسو تلل غواړۍ نو تلے شۍ. خو ښهٔ به دا وي چې نن شپه دلته اوکړۍ او سبانۍ شپه به ماسره په کور کښې اوکړۍ.

شـاکـرخـان (مُسـکـے شي) چې نن شپه دلته تېره کړو نو په سبانۍ به بيا غور کوو .

ډاکټر لائبه . o.k ماته اجازت دے تلے شم .

شـاکـرخـان:. تـهٔ بـه څـهٔ کښـې ځـې مېډم ، ستاګاډے خو هلته حجره کښې پاتـے شو .

ډاکټرلائبه:. پروا نيشته ، زهٔ به ټيکسي کښې لاړه شم .

شاکرخان:. ټيکسي کښې ولې ځې . زهٔ به تااورسوم اوبيابه واپس راشم.

ډاکټرلائبه:. نه خان جي ، ما دَ پاره تکليف مهٔ کوۍ پليز.

شـاکـرخـان:. نـه مـېـډم دېـکښـې دَ تکليف څـهٔ خبره ده . تولـه دَ يوي ګهنټې لاره ده .

ډاکټـرلائبـه :. ښه بيا داسې اوکړۍ چې ماسره ډرائيور شته .مابه هغه اورسوي او تهٔ هما بي بي سره پاتـے شه .

شـاکـرخـان:. ډېره ښهٔ ده مېډم چې څنګه ستاخوښه وي. زهٔ به خپل ډرائيور ته کال اوکړم هغه به سبا له ستا ګاډے دلته راولي. هن مېډم، دا چابي واخـلـه .ډاکټـرلائبـه دَ هـغهٔ دَ لاس نه چابي اخلي ، ټېنك يو، وائي او روانېږي . دَ هغې دَ تلو نه پس هغه هما ته متوجه شي او ورته



www.pukhto.net

وائي "هما ، طبیعت دے څنګه دے ؟"

هما:. طبیعت مې ښه نه دے خان جي زړۀ راته کچه کچه کېږي، هغه په یره پاسي اوهغې ته وائي،" زۀ ورځم چې ډاکټره خبر کړم ".

هما:. ډاکټر مۀ خبره وه هوټل والاخبر کړه او ماله ډوډۍ راؤړه .

شاکرخان:. ډوډۍ ما هم نه ده خوړلے خو ستا دَ بیمارۍ په وجه ماته هډو دَ اولږې احساس اونشو.

هما:. زۀ اوږي شوې یم ځکه چې ما دَ غرمې ډوډۍ په دے غرض او نـه خوړه چې مابنام له به تاسره ځان موړ کړم . چې ناصافه پکښې دا واقعه پېښه شوه .

شاکرخان:. زۀ ورځم چې ډوډۍ راؤړم . دې سره هغه دَ کمرې نه اووتو. لږه شېبه پس چې کمرې ته واپس راغے نو ځان سره يې څۀ فروټ هم راؤړل او بـوتـلې هم .هغه پسې دَ هوټل بیره هم ډکه خوانچه په لاس کـمرې تـه راغے ، خوانـچه يې په مېز کېښوده او بهر اووتو ، هغوي چې پـه واش روم کښې لاسونه اووینځل نو دواړه ډوډۍ ته کېناستل. دَ ډوډۍ خـوړلـو پـه دوران کښـې شاکرخان مُسکے شو او هغې ته يې اووے ، "ښه نو تا په ټال بازي ګرې اړولې "؟

هما:. تاته چا وې چې مابازیګرې اړولے؟

شاکرخان:. ماته زرتاجې وې.

هما:. دې سره به زۀ ګورم خو چې یو ځل هلته لاړه شم .

شاکرخان:. ولې هغې دروغ وېلي دي . آیا تا بازیګرې نه اړولې؟





هما:. ما بازیګرې اړولې خو دَ هغې په خوله کښې خبره نه ټینګېږي؟ دا خبره هغې تاته ولې کوله ؟

شاکرخان:. هغـې مـاتـه ځـکـه اوکـړه چـې ماترېنه ستا دَ غور ځېدو وضاحت اوغوښتو . هغې خو ماته ستا متعلق ډېرې خبرې کړې دي. ته به هغې سره په کومه کومه خبره ګورې ؟

هما:. هغې تاته نور څۀ وېلي دي؟

شاکرخان:. هغې ماته ستا دَ بالخت دَ ابرې او په ابره زما دَ نوم لیکلو، په خپلو لېچو زما دَ نوم لیکلو ، ستا دَ بهوک هړتال او احتجاج ټولې خبرې کړې دي . هـغـې ماته دا هم وېلي دي چې تـا دَ ټال یـو لړ پرانستې وو. که زمونږ مینځ کښـې هـغـه نـه وې نـوماته به ستا دَ مینې معلومات څنګه کېدل .زۀ خو دَ هغې ډېر احسان من یم، اوتۀ؟ هغه ، هغې ته په غټو غټو ګورې .

هـما(مسکے شي)واقعي، .She is a loving woman . هغه ډېره ښۀ ښځه ده .

شاکرخان:. ښه نو تا دَ بازیګرۍ وضاحت اونکړو .

هـما:. لکه څنګه چې تا اووے ما واقعي دَ احتجاج په طور دَ ټال یو لړ پـرانسـتـې وو. خو چې په کومه شپه زما او ستا جوړه اوشوه نو په سبا مـازیـګر باغ ته لاړم ، اونې ته اوختم او هغه لړ مې په خپله اوتړو . جو بیا پـه ټال اوختم . زرتاجې جوټې راکولې او ما دَ بازیګرۍ مظاهره کوله. په دغه جوټو او بازیګري کښې هغه لړ پرانستے شو کوم چې ما تړلې وو. بیـازۀ پـه ځان نه یم پوهـ شوې اوچې کله په ځان پوهـ شوم نوزۀ په



www.pukhto.net

ICU کښې پرته ووم .

شاکرخان: . شکر دے چې زما ترلے لړ پرانۀ نستے شو ګېنې بیا به درته تول عمري ملامته ووم.

هما: . او زما دَ ترلي لړ په پرانستے کېدو خفه نه یې؟

شاکرخان: . دَ هغې په پرانستې کېدو او ستا په غورځېدو خفه یم خو چونکه دا هرڅۀ تا په خپله کړي وو نو ستا دَ عمل دَ کمزورۍ سزا تاته درکړې شوه . دَ هغۀ په دې خبره هغه په سوچ کښې لاړه. هغوي چې ډوډۍ اوخوړه نو په واش روم کښې یې لاسونه اوخولې اووینځلې . په دېکښې دَ هغوي دَ کمرې په ورناکنګ کېږي . دَ شاکرخان دَ " yes come in " سره دَ هوټل بېره راځي او هغۀ له بل ورکوي . هغه هغۀ له پېسې ورکړې او هغه خپل لوښي اوچت کړي او بهر اوځي. دَ فروټ خوړلو او پېسې څکلو نه پس هما خپل بېډ له ورشي او هغه لا هغسې په کرسۍ کښې ناست وي . هما هغه ته نیغ نیغ ګوري او وائي ، "خان جي ، زما دَ تال دَ لړ په پرانستې کېدو تاولې اعتراض اوکړو ؟ که دا پرانستې شوې نه وې بلکه شلېدلے وے نو بیا ؟

شاکرخان: . رومبۍ خبره دا ده چې ستادَ ترلي لړ په پرانستې کېدو ما اعتراض نه دے کړے بلکه ستا لاپروائي او ناپوهي مِ په ګوته کړے ده . که تا مضبوط ترلې وې نو چرې به هم نۀ وو پرانستې شوې. او که بالفرض ترلے لړپرانستے شوے نه وے بلکه شلېدلے وے نو د دے نوعیت به جُدا وو . هغې کښې به ستا قصور نه وو بلکه هغه به





دَ قدرت له خواه یو پېښه وه .

هما: . په دېکښې دَ قدرت عمل دخل نیشته ؟

شاکرخان: . نه چرې هم نه ، خپله کمزوري دَ قدرت په ذمه مه اچوه اوس که یو سړے هغه ځانګه پرېکوي په کومه چې هغه ناست وي نو آیا دَ هغۀ غورځېدو کښې به دَ قدرت عمل دخل وي؟ نه چرې هم نه.

هما: . تاخو دَ خواخوږۍ په ځائے زۀ مجرمه ثابت کړم .

شاکرخان: . بالکل هم دغسې ده . که تا زما ترلے لړ نه وې پرانستې نو هیڅ به نه وو.

هما: . " ماته ستا دَ فلسفې او دلیلونو ضرورت نیشته . ما په خپل حال پرېږده پلیز."

هغه په بېډ کښې اړخ بدل کړي او سترګې پټې کړي. هغه یوه شېبه چپه خوله په کرسۍ ناست وي ، بیا پاسي او دَ هغې بېډ سره نزدې په بل بېډ کښې ډډه اچوي . هماکله کله په نیم کخو سترګو هغه ته ګوري خو چې دَ هغۀ له خوا پرې څۀ غرض اونشي نو بیا په بېډ کښې ډډه په ډډه اوړي راؤړي . هغه څوځو ځله کله په څۀ بهانه او کله په څۀ بهانه دَ بېډ نه پاسېده ، په هغۀ تېره شوه خو دَ هغۀ سترګې پټې وې نو دَ هغې په تلو راتلو پوهه نشو. چې اونشوه نو بیا دَ هغۀ بېډ ته اودرېده او هغۀ ته یې اووې ، "خان جي ، ته ویښ یې که اودۀ ؟" چې هغۀ څۀ جواب ورنکړو نو بیا یې دَ کمرې وربولټ او هغۀ سره په بېډ کښې کېناسته . هغه یوه شېبه ناسته وه بیا دَ هغۀ بېډ ته اوخته او دَ



www.pukhto.net

هغـهٔ پـه څـنګ کـښې ورننوته . هغهٔ چې دَ هغې په موجودګۍ پو هـ شو نـو دَ بـېـډ نـه پاسېدو او هغې ته يې اووے ، "تهٔ زما بېډ ته دَ چاپه اجازت راغـلي يـې" هـغـه مُسکۍ شوه او ورتـه يې اووې ، "ما دَ پاره دَ چا نه دَ اجازت غوښتو ضرورت نيشته . زهٔ چې کله غوارم راتلې شم او چې کله غوارم نو تلې شم ."

شاکرخان:. تهٔ چې زمانه خفه شوې وې ، بيا ولې راغلې ؟

هـمـا:. هـغـه وخت دے خُداے چرې هم نه راولي چې زهٔ به تانه خفه شم ، تانـه بـغـېـر زما بل څوك دي چې هغهٔ ته به خپل غم اوژارم خو البتـه يـوه ګـيلـه مِ درنـه کـېږي او هغه دا چې تا دَ لړ دَ پرانستې کېدو خبره دومـره اوشاربله چې زما دَ مينې احساسات دې ټول ګډوډ کړل" هـغـه هغې سر په بېډ کښې ډډه شي ، هما دَ هغهٔ سر په خپل پتون او خپـل لاس دَ هغهٔ په سينه اړدي . هغه هغې ته په سنجيده نظر ګوري او وائي ، "زه اګرچـه دَ دے خيـزونو قائل نه يم خودا بدشګوني ګڼلې شي . . دَ شاعـرانـو او دانشـورانو په نزد هما دَ هغه بابرکته ، باعزته او قيـمـتي مرغۍ نوم دے چې دَ اسمان په وسعتونو کښې پائي، او کله چې پـه فـضـاکښې دَ الوت په دوران کښې دَ هغې سيورې دَ چا په سر راشي نـو هـغـه سـر دَ تـاج او هغه سړے دَ بادشاهت مستحق شي . . . هما ، ما دَ پاره تهٔ هم هغه هما يې . زماسر ستا په پتون او ستا لاس زما پـه زړهٔ پروت دے . دې نه لوے عزت بل څهٔ کېدېشي؟ مونږ دواړه يو بـل سره لازوالـه مينه کوو . . .خو مشران وائي چې تال دَ دوو مئينو دَ





ازدواجي ژونـد تـړون دے او د دے لـړونـه دواړه شريك حيات دي. چې دواړه لـړونه سلامت وي نـو دَ هغوي ازدواجي حيثيت سلامت وي . چې په دغه دوو کښې يولړ پرانستے شي نو دښځې او خاوند ازدواجي حيثيت ختم شي .چې دغه دوو کښې يولړاو شلېږي نويوکس پکښې مړ شي او چې دواړه اوشلېږي نـو دواړه مړه شي اګر چهٔ زهٔ پـه دے فضول واهيانو يقين نه لرم خو يريږم ضرور .

هـمـا:. اوه مـائي ګاډ.که مـاتـه پتـه وه نـو مابه چرې هم دغسې نه وو کړي. مـامـعـاف کـړه پليز . بيا به داسې چرې هم نه کېږي . هغوي تر نـاوختـه پـورې خبـرې کولې . په دغه خبرو خبرو کښې هغوي په ځان پـو هـ نشـو ، پـه يـو بل ورپرېوتل او په دروند خوب اودهٔ شو. هغوي تر غرمې پورې اودهٔ وو او که ډاکټرلائبې هغوي ته ناکنګ نه وې کړې نو معلومه نه ده چې تر کومې پورې به اودهٔ وو . دَ ويښېدو او فرش کېدو نـه پـس هـغـهٔ دَ هسپتال دَ خرچې بل ادا کړو ، بيا يې دَ ډاکټر لائبې نه رخصت واخستو ، په ګاډي کښې کښاستل او خپل کلي ته روان شو . دَ هـغـوي په ورتلو په ارام ګاه کښې بې اختره اختر شو او ټولو يوبل له مبـارکي ورکـولـه . پـه دغه مبارکو کښې خوش نصيبې ابۍ شاکرخان تـه اووې ،"زويـه ، د دې جيـنـۍ څـهٔ چـل اوکړه ، يا يې ځان سره کورته بـوځه يا تهٔ دلته راځه جو مونږ د دې دَ قابو کولو توان نه لرو" . دَ هغې په خبره هغه مسکے شو او په مُسکا مُسکادَ ارام ګاه نه بهر اووتو.

★★★



www.pukhto.net

## ﴿ اووم باب ﴾

دَ سوات اوبونېر ملټري اپريشن ختم شوے وو او ټولو کډوالو ته خپلو خپلوکورونو ته دَتلو اجازت ورکړے شوے وو. دَ هغوي قافلې شپه ورځ رواني وې يوه لويه هله ګوله وه . دَ همايون کلي ، اکبر کلي او زوړ کلي کېمپونه پاسېدلي وو او په ټلو ټلو کښې يې هغه خېمې هم يوړے کومې چې شاکرخان په خپلو پېسو دَ هغوي دَ پنالۍ دَ پاره اخستے اولګولے وے . البته يو دَ فراموش خېمه پاتې ده . هغهٔ چې خپله کډه اوتړله نو خپله خېمه يې په اوږه کړه او دَ شاکرخان حجرې ته يې يوړه. هغهٔ خپله خيمه هغهٔ ته حواله کړه خو شاکرخان دَ هغهٔ دَ خېمې نه انکار اوکړو او ورته يې اووے "چې سوبارے لاړو نو تخته دې هم ورپسې شي". هغهٔ دَ هغهٔ نه دَ خوړلې څکلې اخنه بخنه واخسته او بيا قاضي صېب سره دَ ملاوېدو دَ پاره ارام ګاه ته لاړو . هغهٔ چې قاضي صېب ته دَ سوات دَ اپريشن دَ ختمېدو او دَ کډوالو دَ تلو خبره اوکړه نو دَ قاضي صېب په سترګو کښې دَ اميد څلا او په مخ يې دَ خوشحالۍ رڼا خوره شوه . دَقاضي صېب دَ خولې نه بې اختياره اووتل "جو په سوات کښې امن راغی"؟

فراموش:. بالکل جو داسې امن کوم چې جو دَ والي سوات په وخت کښې وو. دَ هغهٔ په دے زېري هغه دواړه لاسونه اوچت کړل ، بره اسمان ته يې کتل ، په غټو غټو يې ژړل او بيا بيا به يې دا وئېل ، "ياالله دا امن دائمي کړے ، ياالله دا امن دَ خوشحالۍ او سُکالۍ باعث





اوګرځولے کړے ، ياالله ته دَ دے خوارو کډوالو په خواره ورځ رحم اوکړے . ياالله ته دَ سوات سيمه دَ خوشحالو ګهواره کړے. ياالله ته دَ دغه سيمې په خپله تحفظ اوکړے ." دَ قاضي صېب دَ دُعا الفاظ خوش نصيبې ابۍ او هما په خپلو خپلو کمرو کښې اورېدل.دَقاضي صېب نه علاوه دَ فراموش او سهېل سترګې هم دَ اوښکو نه ډکې وې. دغه حال دَ هما او خوش نصيبې ابۍ هم وو. دَ هغوي ټولو اوښکې دَ شکرېې اوخوشحالۍ وې خو دَ هما اوښکې دَ شاکرخان نه دَ جُدائۍ وې . دې نه پس فراموش دَ قاضي صېب نه اجازت واخستو او لاړو . دَ هغهٔ دَ تلو نه پس هغوي ټولو خپلې خپلې اوښکې اوچې کړې او دَ خپلې سېمې او کور کلي په باره کښې يې خبرې کولے خو دَ هما اوښکې نه اوچېدې او دَ هغې په مخ لړۍ لړۍ رواني وې اوپه خپله کمره کښې ډېره ډوبه پرته وه . هغې دَ خوړلو څکلو نه هم انکار اوکړو او چا سره دَ ملاوېدو نه هم.ځان پسې يې وربند کړې وو او ځان يې مراقبه کړې وو. مازېګر چې هغه نورو سره دَ باغ سېل له اونهٔ وته نو زرتاجې سره غم شو چې که چرې دَهغې دغه ژړا اوږده شي نو هغه خو به نيمه پاتې نشي . په دې وجه هغې شاکرخان ته دَ هغې دَ خفګان او ژړا اطلاع ورکړه . هغه چې دَ هغې نه خبر شو نو خپل ټول مصروفيات يې پرېښودل او دَ هغې ليدو له ارام ګاه ته ورغې. هغې دَ زرتاجې نه دَ هغې دَ خفګان دَ وجهې تپوس اوکړو . هغې ، هغهٔ ته دَ فراموش دَ راتلو او قاضي صېب نه دَ رخصت اخستو ټوله خبره اوکړه



www.pukhto.net

هغـهٔ چې دَ هـغې خبـره وورېـده نو وے وئېل، "دې نه معلومه شوه چې هغهٔ دَ خوشحالۍ اوښکې بهوي."

زرتـاجـه:. نه خان جي ، دَ هغې دَ خفګان وجه نوره ده ." دَ هغې دَخفګان وجـه نـوره ده زهٔ پـو هــ شـوم . شـاکـرخـان پـه بې صبرۍ سره دَ هغې نه تپـوس اوکـړو . هـغـې په مُسکا جواب ورکړو او وے وئيل ، " مانه ولې خبرې اوباسے خان جي ، دَهغې کمرې ته ورشه ، هغه به درته ټوله خبره اوکړي" هغه دَ هغې په خبره مُسکے شواو دَ هغې کمرې ته روان شو او زرتـاجـه دَ اخلي پـخـلي پـه کـار کښې اخته شوه . هغه دَ هغې دَ کمرې ورتـه اودرېـدو او نـاکـنـګ يـې ورتـه اوکـړو خـو دَ څـو ناکنګ باوجود هم هـغـې ورلـرې نـه کـړو . بيـا يـې ورتـه کـال اوکـړو . دې سره هغې خپلې اوښـکـې اوچې کـړې او دَبېډ نه پاسېده . هغې چې ورلرې کړو نو هغه ورته په مُسکا اووے ، "څهٔ مسله ده هما؟ ته په دې خوږه کښې په بنده کـمـره کښې پـرتـه يې ؟ راځـه چې بهر ته اوځو او دَتازه هوا خوندونه واخـلـو." هغه ، هغهٔ ته په مړځپنو سترګو ګوري او وائي، نه خان جي ، زهٔ دلته په خپله کمره کښې خوشحاله يم، مادلته پرېږده پليز.

شـاکـرخـان:.وَه دَ ځـان دشـمـنې ، دې سـره بـه ستا په صحت خراب اثر پريوځي. ناجوړه به شې .

هما:. کاش زهٔ مړه شم او دَ دنيا دَ غمونو نه بې غمه شم .

شـاکـرخـان (خاندي) اوه مـائي ګـاډ ، مـاتـه خـو سـتـا دَ غـمونو هډو پته نيشتـه . سوري ويري سوري . ستا څهٔ غمونه دي پليز؟ زهٔ ستا شريکِ





غم جوړېدېشم ؟

هما:. زهٔ دَ بحث په موډ کښې نهٔ يم خان جي ، ماپه خپل حال پرېږده پليز.

شـاکـرخـان:. نه هما نه . زهٔ تا په داسے حال کښې نشم ليدے. څه چې بهـر پـه چـمـن کښې کېنو ، نورې خبرې به هلته اوکړو. هغه ، هغه دَ لاس نـه نيسي اوځان سره يې چمن ته بوځي ، هلته دَ ګلونو دَ بوټو په شا کيني او ورته وائي ، " څهٔ مسله ده هما؟ زهٔ دَ زرتاجي په وينا ډېر په تېزۍ سره راغلم چې ستا دَ خفګان وجه معلومه کړم ." هغه، هغهٔ ته پـه لـونـدو سترګو ګوري او وائي ، "ولـې تاتـه جـو پتـه نيشـتـه چې دَ سـوات ټـول کـډوال لاړل ، صـرف مـونږ پاتي يو او کېدېشي چې مونږ هم جو يو څو ورځو کښې کډه اوکړو ."

شـاکـرخـان:. ښـه ښه ، لکه ته خپل کور کلي پسې خفه يې او زرترزره دلته نه تلل غواړې داسې ده کنه ؟

هـمـا:. نـه خـان جي ، زهٔ ستـا پـه جُدائۍ خفه يم . زهٔ ستاجُدائي نشم برداشت کولې .

شـاکـرخـان:. دغه حال زما هم دے هما. دا جُدائي به مونږ ته ډېره ګرانه پـريـوځـي خو دے حقيقت نه انکار نشي کېدے . چې دا جُدائي به يو ځل راځي خو دَ ډېر لږ وخت دَ پاره . بيا به دَ ټول عمر دَپاره يوځائے يو.

هـمـا:. څـهٔ مـطـلـب؟ زهٔ پـو هـ نشوم؟ چې يو ځل بيلتون راشي نو بيا ګډون مُشکل دے .

شـاکـرخـان:. که ته غواړې نو هيڅ مُشکل نه دے . هما، زهٔ غواړم چې



www.pukhto.net

مونږ همېشه همېشه دَ پاره يوشو. (هغه مسکۍ شي،اوشرمېږي او ستركي خكته كړي)"چې امي ، ابوراشي نو څۀ اميد به پيدا شي"
هما:.هغوي به كله راځي ؟ دَهغوي لارې ته خو زماستركي سپينې شوي.
شاكرخان:.دې يو څو ورځو كښې دَهغوي دَ راتلو امكان دے .
هما:. خان جي، زما زړۀ دورېږي ، داسې معلومېږي چې څۀ كېدونكي دي يا كېږي ، زۀ په دې يرېږم چې هغوي انكار اونكړي.
شاكرخان:. داسې هيڅ خبره نيشته هما ته مطمئنه اوسه چې زۀ ستا او تۀ زما يې . دَ دنيا يو طاقت هم تازمانه نشي اخستے .
هما:. خان جي ، ستاله خوا زۀ مطمئنه يم او په دے اُميد ژوندۍ يم خو دَ زمانې دَ ګردش هيڅ پته نه لګي چې مخكښې به څۀ كيږي او زمونږ مستقبل به څۀ وي "؟ هغه هغۀ ته په مايوسه نظر ګوري لكه چې هغه ته دَ خپلې خدشې اظهار كوي هغه ، دَهغې ډكو ستركو ته داسې په ځېر ځېر ګوري لكه چې دَ هغې دَ اوښكو په ډنډونو كښې خپل تصويرونه لټوي . هغوي دواړه خاموش ناست وي او په خپل خپل تصور كښې ډېر لرې تلي وي . نمر په غرغره وو او په تلو تلو كښې دَ هغو ي په تماشه وو خو هغوي دَ دے هرڅۀ نه بې نيازه په خپلو خپلو خيالوكښې ډوب وو په ديكښې هغوي دَ چا دَ خبرو او خندا ګڼ اوازونه واورېدل . لږه شېبه پس قاضي صېب او هغه سره په څنګ كښې مشرخان دَ خندا په ډكو خولو دَ ارام ګاه په ګېټ دننه شو. هغوي پسې روستو سهېل وو چې دَ قاضي صېب دَ وهيل چېر په





ديكه كولو كښې يې هغه سره مرسته كوله . هغوي پسې خوش نصيبه ابۍ وه او هغې سره اوړه په اوړه مشره بي بي وه . شاكرخان او هغوي چې هغوي اوليدل نو يو بل ته يې په مُسكا مُسكا اوكتل او په ستركو ستركو كښې يې يو بل ته ډېر څۀ اووے . بيا دواړه پاسېدل او دَ هغوي سلام له ور روان شو . مشري بي بي چې هغوي اوليدل نو مسكۍ شوه او هغوي ته يې اووې ، داسې معلومېږي چې ستاسو ډله دَ دوي نه بيله ده . " دَ هغې په خبره دواړه مسكي شو. شاكرخان هغې ته دَستړي مشي په وخت غلې غوندې اووے ."زمونږ ډله به هله بيله شي چې خبره پخه شي او ستاخوله خوږه شي." مشره بي بي يو ځل بيا مسكۍ شي او ورته وائي ، "ډېر سپين ستركي شوے؟ هغه ورته په خندا كښې وائي، " "دا ستاسو لارې ته سپينې شوې" هغه هما ځان ته رانزدې كړي ، په دواړه مخه يې ښكلوي او ورته وائي، "زما ښاپيرۍ لورخو دَ خېره لويه شوې ده ." بيا هغۀ دَ لاس نه نيسي او ځان سره يې برنډې ته روانه كړي. شاكرخان چې دَ مشرخان ستړي مشي له ورشي نو هغه يې ځان ته راترغاړه باسي او ډېره شېبه يې خپلې سينې پورې كلك نيولے وي . بيالكه دَ دوو دوستانو لاس تر لاسه برنډې ته روان شي . زرتاجي چې هغوي اوليدل نو خپل ضروري كار يې پرېښودو او دَ هغوي سلام له په منډه راغله . مشره بي بي هما سره خوا كښې ناسته وه . دَ هغې سر يې په خپله سينه اېښې وو او لاس يې ترينه تاؤ كړې وو .كله كله به يې دَ هغې غوږ ته



www.pukhto.net

خُـلـه نزدې کړه او پټ په پټه به يې ورته غوږ کښې څۀ اووې . دې سره بـه هـغـه مُـسـکۍ شوه او په مخ به يې دَ رڼاګانو او رنګونو ګډا شروع شوه . دَ هغوي په خبرو څوك نه پو هېدل البته شاکرخان به کله کله په نيـم کـخو سترګو هغوي ته کتل او دَ هغوي دَ خندا او مُسکا نه به يې دَ هغوي دَ خبرو انـدازه اخستـه . بـل خـوا مشـرخان او قاضي صېب خپـلـو کښـې خـولـې ورکـړے وے او دَ زړې زمانې او خپلې هلکانې خبرې يې کولے . په دغه خبرو کښې دَ کډوالو دَ راتلو او بيا دَ تلو خبره هـم راغله . په اخره کښې قاضي صېب هغۀ ته اووے ، "افضل خانه، مونږ هم تلونکي وو خو ستاسو راتلو ته ايسار وو." مشرخان مُسکے شـو او ورتـه يـې اووے ، "ولـې دا ستـا کـور نـه دے ؟ تاسو ته دلته څۀ تـکليف دے . دلته ښۀ بې غـمه ، بې دړده پراتۀ اوسې ، زما هم دَ خبرو څوك نيشتـه . دواړه روڼه به په خپلو کښې په زړه شخوند وهو."

قاضي صېب (مسکے شي ) خبره دې بده نه ده افضل خانه ، که ژوند وي نو بيا به راشو ، بيا به راشو خو في الحال زمونږ تګ ضروري دے ځـکـه چـې دَ سهـېـل دَ سکول او دَ هما دَ کالج مسله ده . سکولونه او کـالـجونه کهلاؤ شو ي دي . دَ دوي دَ تـعـلـيـم مسله ده ګينې دلته خو مونږ دومره خوشحاله يو چې خپل کلي کور رانه هېر شو.

مشـرخان:. کـه ستـا خـوښـخـه وي نو دوي به دلته داخل کړو . دا هډو هيڅ مسله نه ده .

قاضي صېب:. نه افضل خانه ، خفه کېږه مه ، اوس به لاړشو؟ بيا به راشو ،





ګينې تاسو راشې ، يو څو ورځې به جو مونږ سره هلته تېرې کړې.

مشـرخان (مسـکـے شي) واقـعي ستـا خبـره بـالـکل صحي ده . زړۀ مې غواړي چـې مـونـږ دواړه درشـو خو که تۀ دلته مونږ ته ښه اوکړے نو مونږ به مطمئن او خاطر جمع شو .

قاضي صېب ( په حېرانتيا) افضل خانه ، زۀ ستا په خبره پو هـ نشوم.

مشـرخان:. قاضي صېب ، زۀ غواړم چې زمونږ دا دوستانه په ښيخۍ کښـې بدله شي . زۀ دَ خپل زوي شـاکـر دَ پاره تـانه دَ هما لور خواست کـوم. دَ مشـرخان پـه خبـره يو خوا شاکرخان مُسکے شي او سر خکته کـړي ، بـل خـوا هـما اوشرمېږي او سترګي خکته کړي . دَ مشري بي بي پـه مخ دَ خوشحالۍ ځلا خوره شي او دَ خوش نصيبې ابۍ په مخ يـوه مـعـصـومـه نـوراني ښُـکـلا راشي . قـاضي صېب هغـۀ تـه پـه سـنـجـيـده نـظر ګـورـي او وائي ، "نه افضل خانه نه ، ياري دوستي په خپـل ځـائـے ده او ښيخي په خپل ځائے ده . ديکښې نه زما واك شته اونـه ستـا. ښيـخي پـه خـوښـخـۍ کيـږـي . دواړه ماشاء الله ښه بالغ او تعليم يافته دي. دواړه مخامخ ناست دي ، دوي نه تپوس اوکړه که دوي راضي وي نـو نـۀ پـرې ستا اعتراض کېدېشي او نه زما ." په دېکښې زرتـاجه په ترۍ کښې چايې اوخواږۀ راؤړي او په ميز يې اږدي . مشره بي بي ، هـمـا تـه غلې غوندې وائي ، "لورې دَشاکرخان په باره کښې تـۀ څۀ وېل غواړي؟" هغه هغې ته په ټيټو سترګو وائي،"دَ نيا، نيکه پـه مخکښې ماته دَ څۀ وېلو ضرورت نيشتـه . چې دوي څۀ جوړه کړه



www.pukhto.net

نو ماته منظور ده ." دې سره هغه خپل مخ ته دَ لوپټې پلو نيسي، پاسي او خپلې کمرې ته روانېږي . دَ هغې دَ تلو نه پس شاکرخان هم دَ هغوي دَ ډلي نه پاسي او بهراوځي . دَ هغوي دَ تلو نه پس ټول يوبل له مبارکي ورکړي . زرتاجه په خوشحالۍ خوشحالۍ په ټولو خواږۀ تقسيم کړي. دَ هغوي په ټرون زرتاجه ډېره خوشحاله وه ځکه چې دا هر څۀ دَ هغې په هلو ځلو اوشو . مشرې بي بي هغې ته وېلې وو چې په هره طريقه چې خو چې شاکرخان وادۀ ته تيار کړي. هم دغه وجه وه چې هغې په خپل کوشش دَ دواړو په زړو کښې دَ يوبل دَ پاره هغه مينه پېدا کړه چې دَ هغې لمبې هغې په خپله ليدلې . هغه شاکر خان چې په زړۀ کښې يې دَ مينې بڅري هم نه وو او هغه هما چې دَ هغۀ نه به يې سترکوو اوس دَ مينې په هغه انګار کښې سوزېدل چې دَ يوبل په غېږ کښې هم ارام نه ورتلو . مشرې بي بي به هره ورځ هغې سره رابطه کوله او دَهغې نه يې دَ هغوي متعلق زړه، نوې پوښتله. مشرې بي بي خوش نصيبه ابۍ هم په اعتماد کښې اخستي وه او هغې دغه رشته قبوله کړي وه . دغه شان ، مشرخان هم په خبرو خبروکښې قاضي صېب ته اورونه کړې وه او هغه منلے وه . دغه ټول پټ په پټه خبر وو خو شاکرخان او هما ته پته نه وه . زرتاجي دَ هما برخه خواږۀ په پليټ کښې واچول ، دَ هغې کمرې ته ورغله او دَ مبارکي سره يې ورله خولۀ دَ خوږو ډکه کړه .

هغوي ترناوخته پورې خپلو کښې خبرې کولې .په دغه خبرو خبرو





کښې هغو ي دَ وادۀ نېټه هم کېښوده او دَ جنج او ډولۍ په حقله هم خبرې اوشوې . په دغه خبرو خبرو کښې هغوي په غُنډه ډوډۍ هم اوخوړه . بيا ترېنه مشرخان او مشرې بي بي رخصت واخستو اوروان شو. هلته شاکرخان په خپله کمره کښې ناست وو او يو فائل يې کتو. چې دَ هغۀ مور دَ هغۀ کمرې ته ورغله . دَ هغې په ليدو هغۀ فائل بند کړو او هغې ته يې اووے ، "راځه امي کېنه . هغې چې فائل ته په ځېر ځېر اوکتل نو مسکۍ شوه ، هغه سره خوا کښې کېناسته او ورته يې اووې "دے فائل کښې څۀ دي ؟" دې سره هغه دَ هغۀ دَ لاس نه فائل اخلي او چې کهلاؤ يې کړي نو هغه پوهـ شي چې دا هغه فائل دے په کوم کښې چې دَ هغې او دَ مشرخان دَ ځوانۍ عشقيه خطونه وو ، کوم چې دَ هغې نه بې درکه شوي وو. هغه پو هه ځان ناپو هه کړي او هغۀ نه تپوس کوي ، "دا څه دي ؟" شاکرخان هغې ته په لا پروائۍ وائي، " دا څۀ خطونه او دَ خطونو جوابونه دي ، خو دا معلومه نه ده چې دَ چا دي ځکه چې دَ نومونو په ځائے پرې څۀ کوډ ورډز دي. هغه چې دَ فائل سرسري جائزه واخلي نو ځينے الفاظ پکښې انډرلائن شوي وو او هغې ته ليکلي شوي وو، "ډير ښۀ ټکے دے . . . ډېر ښه خيال دے " وغېره وغېره . هغه فائل بند کړي يو خوا ته يې کېږدي او هغه ته وائي، "اوس د دے ضرورت نيشته. ستا دَ وادۀ نېټه کېښودې شوه او دَ خپل وادۀ تياري کوه " هغه په حېرانتيا او خوشحالۍ دَ هغې خولې ته ګوري او وائي، امی ، وادۀ کله دے ؟



www.pukhto.net

مشره بي بي :. ټيك يوه مياشت پس .
شاكرخان:. يوه ميا . . .شت؟"هغه مسكې شي او هغۀ ته وائي ، "يوه مياشت ډېره نه ده زويه ، په دېكښې به ايله خپل كارراغونډ كړے . . . او رشتيا زاهد ته فون اوكړه چې دَ وادۀ نه يو څو ورځې مخكښې راشي او تاسره كار راغونډ كړي .
شاكرخان:. ډېره ښۀ ده امي، زۀ به ورته هډو اوس فون اوكړم او خبر به يې كړم . دې سره هغه ، هغۀ ته شب بخير وائي او دَ هغۀ دَ كمرې نه اوځي . دَ هغې دَ تلو نه پس هغه زاهد خان ته فون اوكړي او هغه خبر كړي. دې نه پس هغه يوه لويه ساه واخلي او په خپل بېډ كښې خور وور پريوځي . هغه لا دَ خپل وادۀ او هما په باره كښې سوچ كوي چې دَ هغۀ په موبائېل رېنګ راشي . هغه چې موبائېل نمبر ته اوګوري نو مُسكے شي او وائي ، "هېلو مائي ډير هما. كال دې څنګه اوكړو؟ ته لا اودۀ نه يې ؟
هما:. خوب نه راځي خان جي.
شاكرخان:. دَ خوشحالۍ نه كه دَ خفګان نه .
هما:. دامعلومه نه ده خو تۀ راشه پليز، تاسره مِ يوه ضروري خبره ده.
شاكرخان:. څۀ خبره ؟ وايه پليز.
هما:. داسې نه . دا په موبائېل دَ وېلو قابله نه ده . تۀ راشه پليز.
شاكرخان:. o.k ، زۀ درغلم . دې سره هغه دَ بېډ نه پاسي، غلې غوندې دَ كمرې او كوره اوځي او ارام ګاه ته پياده روانېږي چې هلته اورسي نو





هغه دَ ارام ګاه په ګېټ باندې دَ هغۀ انتظار كوي. دَ هغۀ ناكنګ سره هغې هغۀ ته دَ ګېټ كړكۍ لرې كړه چې هغه ارام ګاه ته ورننوتو نو غلې غوندې ئې بنده كړه . هغه يې لكه دَ ماشوم دَ لاس نه اونيوو او خپلې كمرې ته يې روان كړو . هغۀ دَ هغې نه غلې غوندې تپوس اوكړو ، " څۀ مسله ده هما؟" هغه مسكې شوه او ورته يې اووې، "ستا دَ راتلو سره مسله ختمه شوه "
شاكرخان:. اوه ، دومره په اسانه . هغوي چې په بېډ كښې كېني نو هما هغه ته په څېر څېر ګوري او وائي . "خان جي ، تاته پته چې . . . .
شا كرخان دَ هغې دَ خُلې نه خبره اخلي او وائي ، هاؤ ماته پته ده چې زمونږ دَ وادۀ نېټه كېښودې شوه او يوه مياشت پس به مونږ دَ ښځې او خاوند په حېث يو بل سره ملاوېږو."
هما:. زۀ دَ وادۀ خبره نه كوم هغه به چرې وي زۀ دَ جُدائۍ خبره كوم .
شاكرخان :. دَجُدائۍ ؟
هما:. هاؤ خان جي ، سبا له زمونږ روانګي ده . زۀ وېم چې نن شپه مونږ ښۀ ډېرې خبرې اوكړو او ټوله شپه په خبروخبرو كښې تېره شي .
شاكرخان:. هما ډير هما . ته دومره وارخطا ولې يې. زمونږ په وادۀ كښې صرف يوه مياشت ده . لكه څنګه چې دا دومره موده په سترګه رپ كښې تېره شوه ، دغسې به دا يوه مياشت هم تېره شي او بيا به همېشه همېشه دَ پاره يو يُو .
هما:. خان جي ، آيا داسې نشي كېدې چې دا يوه مياشت تۀ مونږ



www.pukhto.net

سره په کلي کښې تېره کړے .

شاکرخان:. داسې نشي کېدې هما، تاسره سوات ته تلل او هلته پاتېکېدل خولا لويه خبره ده چې دَترون نه پس زما او ستا ملاقات هم معيوب گڼلې شي .

هما:. چې مونږ سره هلته پاتېکېدے نشے نو مونږ هلته رسولے خو شے کنه .

شاکرخان:. نه هما، دَ وادۀ نه مخکښې زۀ نه تاسره ملاوېدېشم ، نۀ تا ليدېشم او نه درسره تلے شم ، البته زما ډرائېور به تاسو کلي ته اورسوي.

هما:. تانه بغير به زما تګ دَ يو مړي تګ وي. هغه اجنبي مړے چې دَ جنازې او کفن دَفن دَ پاره دَ کلي هديرې ته اوړلے شي.

شاکرخان:. هما، زۀ ستا دَ مينې او جذباتو قدر کوم خو ما دومره مۀ مجبوره وه چې دَمور پلار او دَ خپلو خپلوانو په نظر کښې رسوا شم او دَ کلي دَ خلقو دَ خندا شوم . ستا مينه دَ دنيا دَ ټولو خزانونه درنه او دَ ټولې دنيا دَ خوږو نه خوږه ده خو زما دَ عزت نفس مخکښې هيڅ نه ده ...“ هغۀ نور هم څۀ وېل غوښتل خو دَ څۀ مصلحت په وجه چپ شو . هغه ډېرشېبه خاموش وو. هما دَ هغۀ دَ پام راګرځولو دَ پاره به کله کله هغۀ ته په نيم کخو سترګو کتل خو هغه په يو لوې سوچ کښې ډوب وو . هما چې په خپل فرمائشونو کښې ناکامه شوه نو مُسکې شوه او هغۀ ته يې اووې ، ”خفه شوے خان جي ، سوري“

شاکرخان:. هما، تۀ اګر چۀ بالغه يې خو ستاخوي لا هغسې دَ





ماشومانو دے او دَ ماشوم نه څوك خفه کېږي نه .“ هغه دَ هغۀ په غاړه کښې دواړه لاسونه اچوي او ورته وائي ، ”ښه يوه بله خبره مِ منے؟“.

شاکرخان:. که دَ منلو قابله وه نو ولې نه . وايه څۀ وېل غواړې؟

هما:. ماسره وعده اوکړه چې زما دَ تلو نه پس به هره شپه لس بجې ماسره په موبائېل خبرې کوے .

شاکرخان:.ټېك ده ، وعده ده خو که دَ څۀ مصروفياتو په وجه مانه هېر وو نو ماته مس کال راکوه چې راته يادېږي، دَ هغوي دَرازونياز او مينې محبت خبرې ترسحر پورې جاري وې . سحر مشرخان او مشره بي بي دَ هغوي دَ رخصتولو دَ پاره راغلل او هغوي يې په عزت او احترام په ګاډي کښې کېنول . په تلو تلو کښې هما دَ خپل تګ په حقله هغه له دَ يو شعر په ژبه ميسج اولېږو چې

جگر چھلنی ہے دل گھبرا رہا ہے ،
محبت کا جنازہ جا رہا ہے ۔

دې سره هغه ډکې سترګي په ګاډي کښې پټ مخ کېناسته او چې ګاډے روان شو نو دَ هغې په مخ غټې غټې اوښکې روانې شوې.

## ﴿دوېمه برخه﴾

شاکرخان دَ خپل وادۀ دَتيارۍ په هلو ځلو کښې مصروف وو. دَ وادۀ کارډونه چهاپ شوي وو او دَ کلي او دَ مېلمنو دَ خوړې په حقله مشورې روانې وې. مشرخان او مشري بي بي غوښتل چې دَ هغۀ په وادۀ دَ خپلو زړونو ارمان اورژوي او دَ چاپېره کلېو خلقو او مېلمنو له



www.pukhto.net

هغه خوره ورکړي چې دَ ټول عمر دَ پاره یو مثال جوړ شي. په دې حقله هغوي همایون خان او اکبرخان سره مشوره کړې وه اوحنا او بلقیس سره هم . البته یو زاهدخان سره مشوره نه وه شوې ځکه چې هغه لا دَ ولایت نه وو راغلے . دې نه علاوه دَ هغوي دَ کور، حجرې ، رنګ روغن او دَلارو کوڅو صفائي ستهرائي روانه وه . مشرخان غوښتل چې قاضي صېب له هم دَ وادهٔ کارډونه اولېږي او هغه یې په خپلو خپلوانو اویارانو دوستانو کښې تقسیم کړي. هغه او شاکرخان په حجره کښې ناست وو او په دې حقله یې خبرې کولے چې فراموش دَ یوې ماشومې جینۍ سره حجرې ته راغی . دَ هغهٔ په لیدو مشرخان او شاکرخان دواړه ډېر خوشحاله شو . دَ علېك سلېك نه پس فراموش هغوي ته مخامخ په کټ کښې کېناستو او ماشومه په یره یره دَ هغهٔ نه په لږه فاصله باندې دَ کټ لنګې سره جخته غلې غوندې اودرېده. هغه پښې یېله او سر توره وه . دَ هغې رېمنې ، خیرنې جامې ځائے په ځائے شلېدلې وې . دَ سر وېښتهٔ یې ببر او دَ خاؤرو خیرو نه ډك وو. دَ هغې دَ خیرن مخ او چخنو سترګو نه معلومېده چې دَ څو څو میاشتو راسې نه ده لمبېدلې . هغه یرېدلې او اوتره ښکارېده . دَ هغې په لیدو دَ شاکرخان په زړه کښې دَ فراموش نه نفرت پیداشو او په زړهٔ کښې وے چې دَ دهٔ غریبې په خپل ځاے ده خو آیا په غریبۍ کښې لامبل او دَ بدن صفائي ستهرائي هم نشي کېدې ؟ هغهٔ دَ کرکې په نظر بیا فراموش ته اوکتل او په طنزیه مُسکا یې ترېنه تپوس اوکړو ،





"فراموش کاکا، دا ماشومه ستا لور ده ؟ دَ هغهٔ مقصد دا وو چې که هغهٔ هاؤ اوکړل نو بیا به هغهٔ ته دَ څهٔ وېلو او دَ هغهٔ په لا پروائي ، دَ زړهٔ تشولو موقعه په لاس ورشي ، خو نه داسې اونشوه . دَ هغهٔ په تپوس فراموش مُسکے شو او هغهٔ ته یې اووے ، "نه خان جي دا زما لور نه ده بلکه ستا مېلمنه ده . زما مطلب دے چې دا هغه ماشومه ده چې تهٔ یې بې قراره کړے وے . اوس دے اوپېژنده خان جي؟"

شاکرخان هغې ته اوګوري خو ډېر زر ترېنه مخ واړه وي او دَ خپلې لاعلمۍ اظهار دَ "نهٔ" په طور دَ سر په ړکولو اوکړي . فراموش یوشېبه نور هم دَ هغهٔ دَ جواب انتظار کوي خو چې هغه څهٔ جواب ورنکړي نو بیا ورته په خپله وائي ، "دا دَ سو چې کاکا لور ده" ، "خان جي ، دَ سو چې کاکا لور ده ؟" شاکرخان دَ خپل یقین پخولو دَ پاره هم دَ هغهٔ په الفاظو دَ هغهٔ نه تپوس کوي. هغه یوځل بیا هغې ته اوکتل او تپوس یې ترېنه اوکړو ، "ستا څهٔ نوم دے جینۍ ؟" هغې په خپله رېمنه لمنه دَ چخو ډکې او بلنې سترګې صفا کړې او په یره یره یې ورته اووې ، "مهوش" . دَ مهوش نوم په اورېدو سره دَ هغهٔ زړهٔ دَ ډېرې خوشحالۍ نه یو ټوپ اووهو. دَ خپل ځائے نه پاسېدو، هغه یې په غېږ کښې اوچته کړه ، خپل کټ کښې یې ځان سره خوا کښې کېنوله او دَ هغې په سر یې لاس کېښودو . بیا یې فراموش نه تپوس اوکړو ، "دا چرته وه او تاڅنګه اوموندله ."

فراموش:. خان جي ، جوزهٔ دَ روغ جوړ پوښتنې دَ پاره خپلې



www.pukhto.net

سخرګنۍ کره بټ خېلې ته تلے ووم چې واپس تلم نودا جینۍ مې اولیده چې یوې زنانه سره ولاړه وه او خبرې یې غوښتو . ماچې ورته اوکتل نو په ړومبي نظر مې اوپېژنده چې دَ سوچي کاکا لورده . ما ترېنه تپوس اوکړو چې ، "یَه جینۍ ته دلته څۀ کوي . ستا پسې خو خان جي سرې خوارۀ کړي دي او ستا لټون کوي." زما په خبره جو هغه زنانه په ما راغبرګه شوه او ماته یې بدرد وېل شروع کړل . زما دَ سخرګنۍ په وجه دَ بټ خېلې اکثر دوکانداران ما پېژني. هغوي او نورو لاروو چې دَ دغه ښځې کنځل وورېدل نوټول زمونږ خوا له راغلل او لویه ګڼه ګونه جوړه شوه . چې ما ورته جو د دې قیصه شروع کړه نو زنانه پښې اوویستلې ، لاړه ، چرته غېبه شوه او دا ماته پاتې شوه . بیا مې دَ هغه ځائے دَ پېژندګلو په مشوره دلته تاله راوسته چې تاته یې حواله کړم ."

شاکرخان:. فراموش کاکا داخو دې یوه ناقابلِ فراموش کارنامه او ما سره دے لوے احسان اوکړو . وایه ، د دے احسان په بدله کښې تاله څۀ انعام درکړم .

فراموش :. خان جي ، زما او ستاسو ترمینځه دَ احسان او انعام خبره نیشته . زۀ په دې ډېره خوشحاله شوم چې زما محنت په ځائے راغی او زما دَ لاسه هغه کار اوشو چې نور چا اونکړے شو.

شاکرخان:. ښه دا راته اووایه چې دا جینۍ تا څنګه اوپېژنده چې دَ سوچي کاکا لور ده ؟





فراموش:. دا ما ځکه پېژنده چې دا به ګلۍ او سوچي کاکا سره زمونږ کیمپ ته راتله او مور سره به یې جهارو وهله . زما دَ کډې او دَ ګلۍ دَ مخکښې نه خورینګي وه . هغه به چې کله دَ کیمپ دَ صفائي ستهرائۍ نه اوزګاره شوه نو بیابه زما کډې سره ناسته وه او ټوله ورځ به یې تاوېلي ماوېلي او پردۍ سپکه خپله درنه وېلې . دَ ګلۍ او دَ ډاکټرې دَ کېس نه هم خبریم خان جي:. مشرخان دَ هغوي خبرې ښه په غور سره اورېدے خو دَ هغوي په خبرو نه پو هېدو. دَ هغۀ نه چې نور صبر اونشو نو دَ شاکرخان نه یې دَ هغې په باره کښې تپوس اوکړو. شاکرخان هغۀ ته دَ ګلۍ او ډاکټر لائبې ټوله قیصه اوکړه . دَ هغۀ خبره لا روانه وه چې یو نوکرد فراموش د پاره چایې راؤړه او هغۀ ته یې په مېز کېښوده . شاکرخان چې خپله خبره ختمه کړه نو هغۀ یې دَ لاس نه اونیوه او ځان سره یې کور ته بوتله او خپلې خدمتګارې زرتاجې ته یې حواله کړه . دې نه پس هغه ګاډې کښې کېناستو او بازار ته لاړو . هلته یې هغې دَ پاره یو څو جوړه رېډي مېډ جامې ، پېزار څۀ دَ لوبو او خوراك څیزونه واخستل او واپس راغی. دَ هغۀ دَ راتلو نه مخکښې زرتاجې هغه واش روم ته بوتله او هلته یې ښۀ صفا اولامبوله . هغۀ هغه ټول سامان زرتاجې ته حواله کړو او په خپله حجرې ته لاړو . فراموش لا هغسې په حجره کښې ناست وو او مشرخان سره یې دَ سوات دَ امن وامان او دَ قاضي صېب دَ کورنۍ په باره کښې خبرې کولے . دَ هغۀ په ورتلو باندې هغه پاسېدو او هغه ته



www.pukhto.net

يې اووے ، "خان جي ، زۀ تاته ايساروم ، که قاضي صيب ته څۀ سوال وجواب کول وي نو هغه راته اووايه . زۀ به درنه کلي ته لاړشم.

شاکرخان:. نه فراموش کاکا ، ايسار شه ، شپه اوکړه ، سبا له به لاړ شے.

فراموش :. نه خان جي ، شپه نشم کولے جو ډېرکارونه راته پراتۀ دي، زۀ به وختي تلے ووم خو ستا راتلو ته ايساروم . که قاضي صيب له څۀ اوړنه راؤړنه وي خو ډېره ښۀ ده ګيني زۀ درنه لاړم.دَ هغۀ په ځاے مشرخان جواب ورکوي ، نه ، نه د دغه ضرورت نيشته ، زمونږ هغه سره په فون خبرې کېږي . البته په تلو تلو کښې خپل او دَ هغۀ کارډونه يوسه ." شاکرخان هغۀ نه دَ قاضي صيب او دَ هغۀ دَ خپلوانو کارډونه هم ورکوي او دَ فراموش او دَ بګادَ نامے کارډونه هم ورکوي . دَ هغۀ دَ تلو نه پس هغه خپلو مصروفياتو کښې اخته شي او مشرخان کورته لاړ شي.

زرتاجه چې مهوش اولامبوي نو نوې جامې ورته واغوندوي، دَ سر وېښتۀ ورله ګمنز کړي ، دَ لاس پښو نوکونه ورله واخلي خو رانجۀ يې ورله وانچول ځکه چې هغې سره دا يره وه چې هسې نه دَ هغې خوږ سترګې نورې خوږ شي . دې نه پس يې هغه دَ مشرې بي بي کمرې ته بوتله . دَ مشرې بي بي په تپوس هغې ، هغې ته دَ هغې متعلق ټوله قيصه اوکړه .بيا يې هغه هغې ته حواله کړه او په خپله دَ کور په نورکار کښې اخته شوه . هغه دَ مشرې بي بي په غېږ کښې ناسته وه . دَ چپسو دَ ګوتۍ نه به يې يوه يوه دانه خوړه او هغې ته يې په خپله وړه ژبه کډوالو سره دَ تلو ، دَ هغوي نه دَ ورکېدو او يوې ملنګې سره دَ





خېر غوښتو خبره کوله . په دغه خبرو خبرو کښې هغه دَ هغې په غېږ کښې اودۀ شوه .شاکرخان چې دَ خپلو مصروفياتونه اوزګار شو او کورته لاړو نو زرتاجه دَ هغۀ مخې له ورغله او ورته يې اووې ، "خان جي، هغه جينۍ مې اولامبوله ، صفا جامې مې ورته واغوستولې خو هغه ناجوړه ده او دَ مشري بي بي په غېږ کښې ډبه ، ډوبه پرته ده . بي بي وائي چې هغه ډاکټر له بوتلل پکار دي."

شاکرخان:. ناجوړه ده ؟ څۀ ناجوړه ده ؟

زرتاجه :. خان جي هغه تبې هم نيولې ده او سترګې يې هم خوږېږي.

شاکرخان:. ځه، ته ورځه زۀ دَ هغې څۀ بندوبست کوم .دې سره هغه خپلې کمرې ته روان شو. چې کمرې ته اورسېدو نو ډاکټر لائبې ته يې کال اوکړو . چې رېنګ ورشي نو هغه وائي،خان جي سلام عليکم . تاسو څنګه يې ، هما بي بي څنګه ده . او رشتياوادۀ کله دے.

شاکرخان:. ټوله ښۀ دي مېلم . دَ وادۀ نېټه مواخلے ده او په ديرشم تاريخ، دَ اتوار په ورځ وليمه ده . که کارډ درشي او که درنشي ، وادۀ له به خامخا راځي .

ډاکټرلائبه:. ولې نه ، ولې نه . دا خو زما خپله خوشحالي ده . ضرور به درځم . . .خان جي زما دَ مهوش څه پته اولګېده که نه ، زه خو دَ هغې غم اوخوړم .

شاکرخان:.دَ هغې غم مۀ کوه مېلم . هغه زما کاردے اوستا غېږ له به يې راولم ، ته بي غمه اوسه خو في الحال ماته يوه بله مسله پېښه



www.pukhto.net

شوي ده او هغه دا چې زما يوه خورزه ناجوړه ده . او ناجوړه څۀ چې ډېره سيريس ده . تۀ دلته راتلې شې پليز.''

ډاکټر لائبه :. اوه مائي ګاډ .ستا خدمت په داسې ورځ په ما راغې چې زۀ ډېره مصروفه يم. نن زما دَ لور مهوش کليزه ده . زۀ په هغې کښې مصروفه يم خفه نشې . مېلمانۀ راغلي دي ، ټول ناست دي او پروګرام شروع کېدونکے دے .

شاکرخان:.مېډم ، زۀ ډير په مشکله کښې يم. دَ ډاکټرانو دَ هړتال په وجه ټول سرکاري هسپتالونه بند دي.'' ډاکټر لائبه دَ هغۀ دَ خُلې نه خبره اخلي او وائي ، ''ستا خبره بالکل صحي ده . دَ هغوي دَ هړتال په وجه ټول پرائېوېټ هسپتالونه ، کلينکونه هم بند دي او ټول هغوي سره په هړتال کښې شريك دي . بله دا چې دَ سرکاري ډاکټرانو يونين سره زمونږ دَ پرائېويټ هسپتالونو او کلينکو ډاکټرانو يونين معاهده شوې ده چې مونږ به دَ هغوي هر قسم اخلاقي، مالي زباني او جاني مرسته کوو او که چا دَ معاهدې خلاف ورزي اوکړه نو دَ هغه کس او دَ هغۀ دَ ادارې خلاف به تاديبي کار روائي کېږي . هغه کس به لس لاکهه روپۍ جرمانه هم ورکوي او دَ هغۀ اداره به هم بلېك لسټ کېږي.

شاکرخان:.مېډم ، زۀ ستا جرمانه هم ادا کولے شم او ستا هرقسم اخلاقي ، قانوني او جاني مرسته هم کولے شم خو تۀ راشه پليز او زما دا مشکله اسانه کړه . او که تۀ نشې راتلې نو زۀ به خپل مريض کورته درولم .

ډاکټرلائبه :. خفه نشے خان جي ، زۀ ډېره مجبوره يم. دَ مهوش دَ





سالګرې په وجه نن ټول لوې لوې ډاکټران دلته راغلي دي . . .''

شاکرخان:. دا خو ډېره ښۀ خبره ده . هغه ټول به يې معائنه اوکړي.

ډاکټر لائبه:. نه خان جي نه . ماته ډېر افسوس دے چې زۀ ستا هيڅ مدد نشم کولې خفه نشے .

شاکرخان :. مېډم زما دَ خاطره نه ، بلکه دَ انسانيت دَ خاطره زما مشکله اسانه کړه پليز .

ډاکټر لائبه :. خان جي ، زۀ دَ خپل لوظ قول او معاهدې خلاف ورزي دَ خپلې خوږې لور مهوش دَ پاره هم نشم کولې. خفه نشے پليز.

شاکرخان:. ټيك ده . ډېره ښۀ ده خو يوه خبره مِ په پرانستو غوږونو ووره ډاکټرې چې خدائے مۀ که که چرې زما خورزۀ مړه شوه نو ستا لور مهوش به هم ژوندۍ پاتې نشي. دې سره هغۀ موبائېل بند کړو او دَ هغې په رويه يې ډېر وخت سوچ کوو. هغه دَ هغې نه سخت متنفره شو. دَ هغۀ په زړۀ کښې يو ځل راغله چې هغه دَ هغې لور مهوش دَ دغه بيمارۍ په حالت کښې هغې له اوليږي او هغې سره خپل رسمي او غېر رسمي تعلق همېشه همېشه دَ پاره ختم کړي خو بيا يې دَ خپل خيال په خپله ترديد اوکړو او ځان سره يې اووے چې ، ''نه داسې نشي کېدې . دا دَ ډاکټر لائبې دَ لور مسله نه ده بلکه دَ يو انسان او انسانيت مسله ده او هغه به تر خپله وسه پورې په هرلحاظ او هر قيمت دَ هغې دَ بچ کولو کوشش کوي . هغه حېران په دے وو چې هغه څۀ اوکړي او دَ هغې ژوند څنګه او څه رنګه بچ کړي. هغه



www.pukhto.net

کوم خوا او کوم هسپتال ته یوسي . ټول ملك سرې لمبې او اړې ګړې وو. دَ خیبر نه تر ګوادر او دَ کراچۍ نه تر لاچۍ پورې او ټوله قبائلي سیمه کښې تاؤ، تربخوالې وو . انسانیت سوز ډرون حملې کېدې ، ترهه ګرۍ کېدې ، دَ ډرون حملو او ترهه ګرۍ خلاف دَ سیاسي ګوندونو مظاهرې کېدې . دې سره سره دَ وکیلانو او دانشورانو له خوا دَ جاني تحفظ او دَ لاقانونیت ، ګرانۍ او دَ بجلي دَ لوډ شېډنګ په وجه دَ عوامو چغې سورې او نعرې وې. دې نه علاوه ډاکټران ، استاذان او نور سرکاري ملازمان دَ مراعات او خپل حقوق دَ غوښتنې دَ پاره دَ نامعلومه مودې پورې په هړتال وو . هر سړے دَ حکومت نه ګیله من وو او په خپل مظلومیت یې ژړل ، خپل حقوق یې په کلکه او په پرلته غوښتل خو خپل فرائض یې نه پیژندل . هر سړي بل ته ګوته نیوله خو خپله بې حسي ورته نه ښکارېدله . په دغه ځان ځانۍ کښې ورته خپل ځان ښکارېدو خو دَ ملك وقوم مجبورۍ ورته نۀ ښکارېدې . دَ هغۀ مینه خپل قوم او خپل وطن سره نه وه بلکه خپل خېټې او خپل تن سره وه . یوخوا په مُلك کښې اندروني خلفشار وو بل خوا دَ ملك په شرقي پوله دَ اغیار یلغار وو پاکستاني فوجونه یو خوا بیروني دشمن سره جنګېدل ، بل خوا په اندروني سیمو کښې پټ دشمن پسې ګرځېدل . دا ټول حالات دَ هغۀ نه پټ نه وو او هغۀ لا په دې باره کښې سوچ کوو چې دَ هغۀ مور مشره بي بي دَ هغۀ کمرې ته راغله او هغۀ ته یې اووې ، ''یَه زویه ، تۀ دلته پروت یې او هغه





جینۍ ډېره ، ډېره پرته ده .'' هغۀ چې مور اولیده نو دَ هغې په احترام کښې پاسېدو او هغې ته یې اووے ، ''دَ هغې په تبه کښې څۀ کمے نه دے راغلے ؟ هغې دواړه لاسونه اومروړل او هغۀ ته یې اووې ، ''نه زویه کوم دے . پښې لاسونه او مخ مِ ورله ښو ښو ځله اووینځو. یخې پټۍ مِ ورله په سرپښو کېښودې، لږ ساعت دَ پاره ښۀ شي خو چې لوندې پټۍ اوچې شي نو بیا هغسې شي. تۀ راشه زویه ، لږه یې اوګوره ، لمبې ترې خېژي ، شابه زر کوه ، ډاکټر له یې رسوه ګینې خُدائے مۀ که ...'' هغه مخکښې نور څۀ اونۀ وېلې شي او په چپه خُله دَ کمرې نه اوځي . هغې پسې هغه هم دَ کمرې نه اوځي او دواړه په یو وخت دَ هغې کمرې ته ورشي. هغۀ چې هغې ته اوکتل نو هغه واقعي پټې سترګې پرته وه ، هغۀ چې دَ هغې مخ او تندي له ګوتې یوړے نو هغه اوېربدو، ډېر زر یې خپل لاس روستو کړو، په یره یره یې مورته اوکتل او وے وئیل ، ''دا خو واقعي ډېره سیریس ده '' دې سره هغه دَ کمرې نه اووتو او زرتاجې ته یې په چغه اووے ، ''زرتاجې ، ته ځان تیاره وه ، زۀ ګاډے راولم چې دا پکښې یوسو'' هغۀ دَ هغې دَ جواب انتظار اونکړو او ډېر په تېزۍ سره بهر اووتو . لږه شېبه پس یې ګاډے راوستو ، هغه یې پکښې واچوله ، زرتاجه یې ورسره کېنوله او ډېر په تېزۍ سره دَ کوره اووتو .

دَ هغۀ دَ تلو نه پس مشرخان ته زاهدخان کال اوکړو او ماښام اووۀ بجې یې دَ پېښور په ایرپورټ دَ کوزېدو اطلاع ورکړه . دَ مشرخان نه پس



www.pukhto.net

یې مشرې بي بي سره هم خبرې اوشوې . دَ هغۀ دَ اطلاع نـه پس هغوي ائیرپورټ ته دَ تلو تیارې شروع کړو. هلته شاکرخان په داسې حال کښې هغه CMH تـه اورسوله چې هغه پټې سترګې پرته وه . دَ هغې دَ چیک اپ نه پس پته اولګېده چې دَ هغې تبه 104 درجې ته رسېدلې ده او هغه بېهوشه ده . دَ هغې دَ پټو سترګو نه زیړې اوبۀ روانې وې . چې کله هغه داخله شوه نو ټول ډاکټران ترینه چاپېره شول او په جدید ترین طریقو او تکنیکونو یې هغه نارمل حالت ته راوسته . بیا هغې ته ډرپ اولګېدو . په ډرپ کښې انجکشن ماتېدي اولګېدي دَ ټولې شپې دَ کوشش نه پس دَ هغې سترګې اوغړېدې خو زیړې اوبه ترې هغسې روانې وې . سحر چې هغه دَ ICU نه وارډ ته منتقل شوه نو دَ هغې تبه بالکل نارمل وه . بیا چې دَ هغې دَ یورین ټسټونه او مکمل چیک اپ اوشو نو ډاکټرانو ته معلومه شوه چې دَ هغې تبه دَ سترګو دَبیمارۍ په وجه سره وه چې کله دَ هغې دَ سترګو چیک اپ اوشو نو هغوي ته معلومه شوه چې دَ هغې په دواړو سترګو کښې سرې خولې زخمونه دي . هغه دَ میډیکل وارډ نه آئي وارډ تـه منتقلـه شوه او دَ هغې دَ سترګو علاج شروع شو . دَ احتیاط دَ پاره دَ هغې په سترګو پټۍ اولګولې شوې چې هغه سترګې نه غړه وي . دې نه علاوه هغې سره په خبرو سخته پابندي اولګولې شوه .

شاکرخان ، دَ زاهد خان دَ راتلو نه خبر شوے وو هغه سره یې خبرې هم





شوې وې خو دَ مهوش دَ بیمارۍ په وجه یې ورسره ملاقات نه وو شوے . هلته ډاکټر لائبه په خپلو کړو باندې پښیمانه وه . هغې ته خپل ځان هم ملامته ښکارېدو خو دَ هغۀ دَ دهمکۍ په وجه هغې سره دَ خپلې لور دَ ژوند یره هم وه . شاکرخان سره اګر چې دَ هغې ملاقاتونه ډېر کم شوي وو خو دَ هغۀ دَ شخصیت په باره کښې هغې ډېر معلومات حاصل کړي وو. هغې ته پته وه چې هغه دَ یوې خبرې سړے دے . دوست یا دشمن . دې نه علاوه هیڅ . دا دَ هغه اصول اودَ هغه طریقه وه . هم دغه وجه وه چې کله به هغې ته دَ هغۀ هغه الفاظ ورمخکښې شو چې "ډېره ښۀ ده خو یوه خبره م په پرانستو غوږونو وروه چې خُدائے مۀ که که چرې زما خورزۀ مړه شوه نو ستا لور مهوش به هم ژوندۍ پاتې نشي ؟ نو دې سره دَ هغې بدن دَ یرې نه اوړچېدو او رنګ به یې تک زیړ شو . هغې دَ هغۀ نه دَ معافۍ غوښتو دَ پاره څو څو ځله موبائیل اوچت کړو خو دَ کال کولوجرأت یې نشو کولې دَ څو څو ځله کوشش نه پس هغې په زړۀ لاس کېښودو او یوه ورځ یې ورته فون اوکړو . دَ رینګ ورتلو سره هغه هېلو اووے خو چې دَ هغې دَ سلام اواز یې اوپېژندو نو نه یې دَ هغې سلام واخستو او نه یې خبره اوکړه بلکه موبائېل یې بند کړو .د څو څو ځله کوشش باوجود هم چې کله ورسره دَ هغې رابطه اونشوه نو بیا ښۀ په یخه کېناسته خو خپل ضمیرقرار ته نۀ پرېښوده . چې دَ هغۀ نه مایوسه شوه نو بیا یې خپله ملازمه مرجانه دَ هغۀ کورته



www.pukhto.net

اولېږله او دَ هغې په ذريعه يې دَ مشرې بي بي نه دَ هغهٔ ځائے ، ځائېږے معلوم کړو. هغه چې دَ پېښور CMH ته لاړه نو هغې غوښتل چې په انکوائري آفس کښې معلومات اوکړي . په دے غرض چې هغه دَ انکوائري آفس په لورروانه شوه نو په لرِه فاصله باندې يې زرتاجه اوليده . دَ هغې په لاس کښې دَ جوس گلاس وو او ډېر په تېزۍ مخکښې روانه وه . دَ هغې په ليدو هغه ډېره خوشحاله شوه . او زر يې اواز اوکړو . دَ هغې په اواز هغه پښه نيولې شوه او اواز پسې يې اخوا دېخوا کتل چې ناگهانه يې په هغې سترگې اولگېدې. دَ هغې په ليدو هغه مسکۍ شوه او دَ هغې راتلو ته ډېرۍ شوه . دَ روغ جوړ نه پس ترېنه زرتاجې تپوس اوکړو ،"خان جي سره ليدل غواړې ؟ هغې دَ هغې دَ جواب انتظار اونکړو او ورته يې اووې، "ماپسې راځه " هغه هغې پسې روانه شوه په څو څو کمرو دَ تېرېدو نه پس هغه دَ يوې کمرې مخې ته ، ورسره جخته اودرېده او هغې ته يې اووې ، "بي بي ماپسې راځه " هغې غلې غوندې ورلړې کړو او کمرې ته ننوته . هغې پسې ډاکټر لائبه هم کمرې ته ورغله . مهوش په بېډ کښې پرته وه او شاکرخان ورته په خوبولے انداز په کرسۍ ناست وو. زرتاجې دَ جوس گلاس په شيلف کښې کېښودو او هغې ته يې په گنگوسي کښې اووې ، "بي بي دې کرسۍ کښې کېنه " دَ هغوې په ښکالو چې دَ هغهٔ سترگې اوغړېدې او هغې ته يې اوکتل نو نه ورته پاسېدو او نه يې ورته سترې مشي اووے بلکه مخ يې





ترېنه واړه وو. هغه په ژړا شوه او په ژړا ژړا کښې دَ هغهٔ په پښو پرېوته هغهٔ هغه هم په دغه حالت کښې پرېښوده ، پاسېدو او دَ مهوش بېډ له ورغۍ. هغه ، هغه په بېډ کښې کېنوله او دَ جوس گلاس يې دَ هغې خُلې ته اونيوو. زرتاجې هغه دَفرش نه اوچته کړه او په کرسۍ کښې يې کېنوله . مهوش په خوند خوند جوس څکل چې دَ ډاکټر لائبې دَ سلگو اواز يې ووربېدو . په دغه څکلو څکلو کښې هغې دَ شاکرخان نه تپوس اوکړو، "خان جي انکل ، دا څوك ژاړي؟دا اُنټي ده "؟ زرتاجه زر دَ هغې خوا له راغله او ورته يې "هيڅوك نه ژاړي گله، تهٔ خپل جوس څکه خبري مهٔ کوه ته ډاکټر دَ خبرو نه منعې کړې يې" بيا دَ ډاکټر لائبې خواله ورځي ، دَ هغې اوښکې اوچوي ، دَ هغې په خولهٔ لاس اړدي او ورته غلي غوندې وائي ، "ژاړه مه بي بي، زمونږ مريض له دَ ژړا اواز اورېدل ښهٔ نه دي".دَ هغې په تنبيهه دَ هغې دَ سلگو اواز بند شي . خپلې پاتې اوښکې اوچوي او په بېډ کښې پرته ماشومې ته په ځير ځير گوري. هغهٔ په زړهٔ کښې وائي، "دا جينۍ خو هوبهو زما دَ مهوش په شان ده " کله چې دَ هغې يقين پوخ شي نو ځان سره وائي، "مهوش ، مائي ډاټر" مهوش چې دَ هغې اواز وورې نو وائي "ماما، ډيرماما". ډاکټر لائبه چې دَ مهوش دَ خولې نه دَ "ماما ، ډيرماما" تکي ووربېدل نو دَ هغې زړهٔ لکه دَ ماهۍ بې آب تهوپونه وهل او دا يې غوښتل چې هغې له ورشي او دَ هغې په تکور خپل دردمن زړهٔ قلار کړي . هغه په ځان پوهـ نشي او په



www.pukhto.net

چغـه وائي ، "مهوش مائي ډاټر ، آئي لویو" هغه خوره غېږ هغې له دَ ورتلـو کـوشش کـوي . شاکرخان هغې ته په غضبناك نظرګوري او زرتاجې تـه دَ هـغـي دَ ویستـو اشاره کوي . زرتاجه ډېره په تېزۍ سره هغـه پـه غـېږ کښـې نیسي او دَ کمرې نه یې بهر اوباسي . دَ هغې په وېنا یـواردلي راځي او هـغه دَ هسپتال نه دَمین ګېټ نه بهر اوباسي. هغـه ډېره شېبه بهر ولاړه او دَ هسپتال په لوریې په ډکو سترګو کتل خوکـلـه چې دَ هر څۀ نه مایوسه شوه نو په ګاډي کښې کېناسته او کور ته روانه شوه .

★★★★★★★★★★★

★★★★★★★★★

★★★★★★★

★★★★★★

★★★★

★★★

★★

★





## اتهم باب

دَ شاکـرخان دَ وادۀ تیاري ښـۀ پـه درز روانـه وه . غوړي، وروژې راغلې وې، قـصابانـو تـه دَ غـوښـخي دَ پاره ، کولالانو نـه دَ دېګونو پـخـولـو او حـلـوايانو ته دَ قتلمواو نورو خوږو ترسکونو تیارولو دَ پاره وېلـے شوي وو . دَ قـاضي صـېب لـه خوا دَ ناوې داج او نور سامـان راغـلـے وو او دَ مشـرې بي بي په مشرۍ کښې دَزرتاجې په محنت او خوارۍ دَ هـغـۀ کـمره او ډبـل بېډ سنګار شوے وو.یو خوا هغۀ دَ وادۀ پاتې لمحې شمېرلے بل خوا په هما دَ جُدائي دغه پاتې ورځې شپې ډېرې پـه ګـرانـه تـېرېدلې . هغې به هره شپـه هغۀ ته مس کال کوو او هـغـۀ بـه دَ وعـدې مـطابق هره شپه لس بجې دَ ارام ګاه په چمن کښې هـغـې تـه کال کوو. دَ هغوي دَ مینې محبت او رازونیاز دغه خوږې او نیازبینې خبرې به ترناوخته پورې روانې وې .

دَ وادۀ پـه تیاکلي شوي نېټـه کښـې لاورځې وې خو دَ کورخدمتګارو، کسب ګریو، همسایوجینکو او دَهغۀ خویاندو حنا او بلقیس ټنګ ټکور شـروع کـړې وو . مهـوش تـر ډېـره حـده ښۀ شوې وه . په دغه ټنګ ټکور کښې به هغې هم برخه اخسته او دَ بهر نه راغلي جینکو سره به ګډېده. دَ زاهـدخـان راتلو سره شاکرخان دَ خپل وادۀ هلې ځلې هغه ته پرېښودے او پـه خپـلـه دَ کـور او زمیدارو په نورو لانجو ګونجو کښې مصروف شو. زاهـدخـان غـوښـتـل چې دَ خپل مشر رور په وادۀ او دَ وادۀ په جنج راغلـے جـنـجیانو ته دَ خپل طاقت مظاهره اوکړي . په دې وجه هغۀ دَ مشرخان او



www.pukhto.net

دَ شاکرخان دَ مشورې نه بغیر سوات ته لاړو او دَ مینګورې په یو لوے هوټل کښې یې دَ جنجیانو دَ خوړې دَ پاره هغه بُک کړو. چې دې نه مطمئن شو نو بیا قاضي صېب کره لاړو. هلته یې هغوي سره ملاقات هم اوشو او دَ جنج دَ خوړې دَ پاره یې ورته دَ هوټل دَ بُک کېدو خبره هم اوکړه. دې نه علاوه خپله بابي یې هم یو نظر اولیده. دَ هغې په لیدو او دَ هغې په سلام هغه مُسکے شو او غلې غوندې یې اووے، "دَ لاله جي انتخاب لاجواب دے" دَ هغهٔ دَ تعریف په جواب کښې هغه مسکۍ شوه، اوشرمېده او خپلې کمرې ته روانه شوه خو په تلو تلو کښې یې ځان سره غلې غوندې اووې، "جي، شکریه"

هغه قاضي صېب سره ترناوخته پورې ناست وو او دَ ولایت او یورپ خبرې یې ورسره کولے په دغه کښې شربت هم اوڅکلے شو او دَ غرمې ډوډۍ هم اوخوړلے شوه. دې نه پس هغهٔ دَ قاضي صېب، خوش نصیبې ابۍ او سهېل نه رخصت واخستو. دَ هما نه یې هم دَ رخصت اخستو طمعه لرله خو هغه دَ کمرې نه را اونه وته او دَ هغې دَ دوباره لیدو ارمان هغه ځان سره یوړو.

چې وادهٔ ته درې ورځې پاتې شوې نو قاضي صېب مشرخان ته فون اوکړو او ورته یې اووے چې، " ماته دَ یوې عسکري ډلې له خوا دَ جنج په موقع دَ خودکش حملې کولو خبر راکړے شوې دے. زهٔ ستاسو په خوشحالۍ کښې خنډ جوړېدل نه غواړم خوزهٔ دا هم نه غواړم چې دَ وادهٔ په دې مبارکه موقع خُدائے مهٔ که څهٔ ناخوشګواره





واقعه پېښه شي. زما تجویز دا دے چې دَ جنج راوستو خیال دَ زړهٔ نه اوباسۍ او دَ وادهٔ دَ تاکلې شوې تاریخ نه مخکښې مخکښې تهٔ او اورندار جو دواړه راشۍ او خپل امانت پټ په پټه ځان سره بوځې. داسې به زما اوږې هم سپکې شي، تاسو به هم مطمئن شۍ. ستاسو دود دستور به هم په اسانه اوشي او دَ تلوراتلو تکلیف نه به هم خلاص شۍ" مشرخان هغهٔ ته اووے، "زهٔ به زاهد، شاکر او دَ هغوي مور سره مشوره اوکړم او تابه خبر کړم".

ماښام هغهٔ درې واړه کېنول او هغوي ته یې ټوله خبره اوکړه. مشره بي بي او شاکرخان چپ پاتې شو خو زاهدخان پوزه اوچونوله. مشرخان چې دَ هغهٔ په خفګان پوهـ شو نو په موجوده حالاتو یې یوه لویه تبصره اوکړه او په خواؤ شا کلیو بانډیو کښې شوي دَ خودکش حملواو قتلونو مثالونه یې ورکړل. زاهدخان ته چې دَ زانګېدلې خطرې غږ ترغوږ شو نو مشرخان ته یې اووے، "ابو، تاسو مشر یې او زمانه ښهٔ پوهېږۍ، تاسو چې څنګه جوړه کړه نو هغسې به کېږي". دې سره هغه پاسېدو او بهر ته روان شو. په تلو تلو کښې یې دَ مینګورې دَ هوټل منېجرته ټوله خبره اوکړه او خپله اراده یې اوځندوله. مشرخان هم قاضي صېب له خبر ورکړو چې سبا له به هغوي ورشي او هلته به تفصیلي خبرې اوکړي. په سبا مشرخان او مشره بي بي دواړه زاهدخان سره په ګاډي کښې کېناستل او سوات ته روان شو. چې هلته اورسېدل نو قاضي صېب دَ هغوي انتظار کوو. دواړه دوستان یو بل ته ورترغاړه



www.pukhto.net

وتل او ډېره شېبه غېږ په غېږ وو. دې نه پس هغه هغوي ته تولـه قېصه اوکړه او په اخره کښې يې ورته هغه خط اوښودو کوم چې دَ عسکري ډلې له خوا رالېږلے شوے وو ، هلته هغوي زيات وخت تېر نکړو. تياره ډوډۍ يې اوخوړه او دَ واپسۍ تيارۍ يې شروع کړه . هما دَ مخکښې نه تياره وه . نيا، نيکهٔ هغه ښکل کړه او په ډکو سترګو يې رخصت کړه . دَ هغوي دَ تلو نه پس چې سهېل کور ته راغلې او دَ هما دَ تلو نه خبر شو نو هغهٔ ، هغې پسې ژړل او هلته يې تلل غوښتل. قاضي صېب هغه په دې وعده قلار کړو چې ، "بله ورځ چې فراموش وادهٔ له ځي نو هغه به هم ورسره لاړ شي."

هما چې هلته اورسولې شوه نو دَ شاکرخان دَ کمرې په ځاے هغه هغې کمرې ته بوتلې شوه په کومه کښې چې بلقيس پاتې کېده . دَ هغې په راوستو حنا او بلقيس دواړه ډېرې خوشحاله شوې او دا يې خپل اعزاز ګڼو چې ناوې دَ هغوي په کور کښې تياره شي او دَ هغوي په کور کښې پاتې شي . حنا او بلقيس تولـه شپه هغې سره توقې ټقالې او خندا خوشحالۍ کولې چې هغې ته دَ اجنبيت احساس اونشي خو هغوي ته دا پته نه وه چې هغې ډېر مخکښې ځان د دے کور يو فرد ګڼلې دې.

په سبا چې هغه پاسېده او ناشته يې اوکړه نو بلقيس ورته اووې ، "راځه بابي چې بهر اوځو". هغه مسکۍ شوه او ورته يې اووې، "بهر ته مِ زړهٔ کېږي خو په دې يرېږم چې چرته هغه بل رانشي"بلقيس





خاندي او په خندا کښې وائي ، ترڅو چې ستاسو نکاح نه وي تړلې شوې هغه "بل " نشي راتلے ، هغه مونږ په کور بند کړے دے . هغوي لا دا خبرې کولې چې مشره بي بي او حنا، دواړه کمرې ته راغلې. هما د هغوي په احترام کښې دَ بېډ نه پاسېده او هغې ته يې سلام اوکړو . مشرې بي بي دَ هغې سلام په مُسکا واخستو ، هغه يې خپلې غېږې ته جخته کړه او څو څوځله يې ښکل کړه . بيا يې ورته اووې ، " دا جينکۍ ، حنا او بلقيس دواړه وادهٔ شوي دي او دَ خپلو خپلو کورونو مېرمنې دي . دا کور اوس ستادے ، تهٔ دَ دے کور مالکه يې او تهٔ به يې چلوې ."

هما: مورې ، زهٔ د دے کور مالکه نه ، بلکه يوه ادنیٰ وينځه يم. تا دې خُداے حيات لري، چې ستا لارښودنه راسره وي نو ستاسو ته به هيڅ شکايت نه ملاوېږي . "مشره بي بي دَ هغې په سر لاس اړدي او وائي، "خوشحاله اوسې لورې ، برکتي شې، بختوره شې" بيا حنا او بلقيس ته وائي ، "يَه جينکو دا ناوې ، نوې راغلې ده ، په تول کور کښې اوګرځوۍ او تولې کمرې ورته اوښايۍ . ځي ورشۍ." دَ هغې دَ تلونه پس بلقيس هغه دَ لاس نه اونيسي او ځان سره يې دَ کمرې نه بهر اوباسي . بلقيس او حنا هغه دَ کور په تولو کمرو کښې ګرځوي. هغوي هغې ته باورچي خانه ، واش رومونه ، تي .وي لاؤنج ، ډائننګ روم ، ډرائينګ روم او ګسټ روم اوښائي او په اخره کښې يې دَ شاکر خان کمرې ته بوځي هغه چې دَ هغې سنګار ته اوګوري نو حېرانه شي چې



www.pukhto.net

دا کمره دَ نورو نه ولې بدله ده خو چې په مخامخ دېوال دَ شاکرخان تصویر ته اوګوري نو مسکی شي. دَ هغې شونډلا هغسې په مُسکاخورې وي چې بلقیس ورته په مُسکا وائي ، ''دا کمره دَ لالاجي یعنې ستاسو ده ، خو دېکښې اوس تاته دَ پاتېکېدو اجازت نېشته . دلته به مونږ بلې شپې له تا دَ ناوې په حېث راولو''. هما یو ځل بیا مُسکې ، سترګې خکته کړي خو ډېر زر سر اوچت کړي، دَ شاکر خان تصویر ته ګوري او وائي ''I will kill you'' حنا او بلقیس خاندي، حنا هغې ته په خندا خندا کښې وائي ، ''دَ هغه دَ وژلو ضرورت نیشته ، هغه ستا حسن او اداګانو ډېر مخکښې وژلے دے .'' دَ هغې په خبره بلقیس هم خاندي او هما هم خاندي ، په دغه خندا او خوشحالۍ کښې هغوي دَ کمرې نه اوځي او ټي وي لاؤنج ته لاړې شي. هغوي لا ټي،وي لاونج کښې ناستې وي چې بهر په غولي کښې دَ جینکو ټنګ ټکور شروع شي . هغوي چې دَ ټنګ ټکور اواز وورېدو نو حنا او بلقیس غلې غوندې بهر اووتې او هغه یواځې پاتې شوه . هغې په ټي.وي یوه ډرامه کتله او دَ هغې په کتو کښې داسې بوخته وه چې دَ ټنګ ټکوراواز یې په غوږونو نه لګېدو . په دېکښې زاهدخان غلے غلے راغے او دَ هغې شاته اودرېدو . هغه دَ هغۀ په راتلو هله پوهـ شوه چې هغۀ ورته په مُسکا اووے ، ''بابي سلام علیکم'' دَ بابي ټکے دَ هغې دَ پاره دومره ناګهاني وو لکه په بې خیالۍ کښې چې په چا دَ باؤ آواز اوشي . دے اواز سره هغې دَ یرې نه ټوپ کړو خو چې هغۀ ته یې





اوکتل نو خپله یره یې په مُسکا بدله کړه او هغۀ ته یې سلام اوکړو . بیا دَ هغۀ په احترام کښې پاسېده خو هغۀ پاسېدو ته پرې نه ښوده او ورته یې اووے . ''پاسه مه ، کېنه کېنه پلیز .''

هما:.تاسو کینۍ پلیز.

زاهدخان:. نه بابي زۀ کېنم نه . ستاسو دَ وادۀ په سلسله کښې ډېر نا اوزګاریم خو ستا سلام او پوښتنې له راغلم .

هما:. ډېره شکریه ، ډېره مننه .

زاهدخان :. بابي څۀ تکلیف خو درته نیشته ؟

هما:. نه لاله جي، ماته هیڅ تکلیف نیشته .مشره بي بي ، حنا خور او بلقیس خور زما ډېر خیال ساتي .

زاهدخان:. بابي ، لاله جي دَ بهر سرے دے . دَ ټول کلي لانجې ګونجې او دَ زمیدارو قیصې بودې دَ هغۀ په سر دي . تۀ هغۀ پسې ډېره مخه مۀ اوره . دا کورستادے او تۀ د دے کور مالکه یې او چرې هم زړۀ له دا رانه ولې چې تۀ پردي کور ته راغلې یې.لالا جي زما مشر رور دے او زۀ هغۀ ته دَ رور نه بلکه دَ پلار په سترګه ګورم. چې تاته څۀ تکلیف وي یا دَ څۀ څیز ضرورت وي نو ماته وېلې شې .

هما:. ډېره شکریه ، تاسو نه بغیر زما څوک دي؟

زاهد:. ښه لاړم درنه ، سلام علیکم .

هما:. وعلیکم سلام په مخه مو ښه . دَ هغۀ دَ تلو نه پس هغې ټي.وي بند کړو او دَ بلقیس کمرې ته لاړه . دَ زاهدخان په خبرودَ هغې حوصله



www.pukhto.net

اوچتـه شـوه او هـغـې ته دا احساس اوشو چې هغه د دے کور مېرمنه ده . هـغـې یـوه شـېـبـه دَ خپل نوے کور په حقله سوچ کوو چې شاکر خان ورتـه یاد شـو . هـغـې غـوښتـل چې هغه ته کال اوکړي او یو څو خبرې ورسره اوکړي خو بیا یې په دے غرض دَ خپل خیال په خپله تردید اوکړو چې دا ټولې راغونډې شي نو هغۀ ته به یې اوکړي. بهر دَ جینکودَ ټنګ ټکور پروګرام جاري وو زرتاجې خانك او دېګچې وهلو ، دَ محلت جینکو سندرې ویلې او وړه مهوش ورته ګډېده . حنا او بقلیس چې دَ هغوي خواله ورغلې نو هغوي ورته لاسونه پړقول ، دَ هغوي په سیالۍ کښې نورو جینکو هم لاسونه پړقول شروع کړل او بیا دَ لاسونو پړقولو یو پړق پړوق شو. مهوش چې ستړې شوه نو دَ میدان نه اووته . دَ هغې په ځائے حنا میدان ته ورغله او ځان سره یې بلقیس هم راخکله او دَ ګډا مقابله شروع شوه . دَ هغوي مقابله لا روانه وه چې دَ کلي مهلت نه نکریزې راماتې شوې او بیا هغه دغه دوېره شروع شوه چې راشه که یې ګورې .هما سره دا یره وه چې هسې نه حنا یا بلقیس هغې پسې راشي او هغه هلته ګډا دَ پاره بوځي . په دې وجه هغې ځان پسې ور پورے کړې وو خو په کهړکۍ کښې یې هغوي ته غلې غلې کتل . تر ماسخوتن پورې دَ ټنګ ټکور دغه پروګرام روان وو. ماسخوتن چې دَ کور مهلت ښځې لاړې او هغوي ډوډې اوخوړه نو زرتاجه دَ نکریزو تال په لاس دَ هما کمرې ته راغله او هغې له یې نکریزې پورې کول شروع کړل . چې کله دَ هغې په پښو





لاسونو نکریزې پورې شوې او دَ هغې پښې لاس په ختو اوتړلې شو نو بیا دَ حنا او بلقیس توقې مسخرې شروع شوې او ترناوخته پورې روانې وې . سبا مازیګر دَ هغې دَ سنګار دَ پاره دَ بیوټي پارلر نه دوه زنانه راوستې شوې او دَ هغې سنګار شروع شو . هغې ته دَ وادۀ جامې واغوستې شوې ، دَ هغې زلفې دَ هغې په اوږو خورې شوې او دَ هغې سنګار لاکېدو چې مشرخان کورته راغۍ او خپلې کمرې ته لاړو . هغه دَ تېرو څو ورځو نه کورته نه وو راغلے .دَ هغۀ په راتلو مشره بي بي هم هغۀ پسې کمرې ته ورغله .دَهغې په لیدو مشرخان هغې ته اووے ، ”ناوې ، قاضي صېب ، اګر چه ماله دَ هما لور دَ نکاح واك راکړے دے خو زۀ غواړم چې دَ هغې دَ نکاح نه مخکښې زۀ یو ځل دَ هغې نه تپوس اوکړم .دَ هغې کمرې ته ورتګ ماته ښۀ نه ښکاري .زما له خوا ته ورشه او دَ هغې نه دَ نکاح ترلو اجازت واخله. مشره بي بي مسکۍ شي اووائي، ”هغه غریبه څۀ وائي، هغه خو ...“مشرخان دَ هغې خبره پرېکوي او وائي ، ”تۀ ورشه او په خپله ترېنه تپوس اوکړه چې خبره شرعي ته درسته شي.“ مشره بي بي بله خبره اونکړي او په چپه خولۀ دَ هغې کمرې ته روانه شي ، لږه شېبه پس په مُسکا مُسکا او خندا مشرخان له راشي او ورته وائي، ”ګرانه ، کار اوشو. هغې تاله واك درکړو“. مشرخان مُسکے شو او په مُسکا مُسکا بهر اووتو .دَ هغۀ دَ تلو نه روستو حنا ، بلقیس او زرتاجې هغه دَ شاکرخان کمرې ته بوتله ، کالي یې ورته واچول او سره بنارسۍ یې



www.pukhto.net

پرې خوره کړه .

زېړې مازیګرے وو. دَنمر زیړې ، طلائي پلوشې په فضا ، زمکه او ما فیها خورې وې. او ټول ماحول خوشحاله او رنګین ښکارېدو. دَ شپې مېلمانهٔ څهٔ راغلي وو او څه راروان وو او هر یو مېلمه به ځان سره سهره ، ډالۍ ، دَ مېهتهایۍ ډبلې او څهٔ نورې تحفې راوړے. دَ شاکرخان نوکرانو به هغهٔ دَ هغوي نه اخستے او یو خوا ته به یې اېښودې. دَ مشرخان په کور کښې خوشحالي وه، مبارکۍ او خندا ګانې وې . دَ حجرې نه بهر په لوے مېدان کښې شامیانې لګېدلې وې، دېګونه کړنګېدل او لوے واړه ګډېدل . مشرخان ډېرخوشحاله وو ځکه چې په خپل ژوند کښې پرې دا رومبۍ خوشحالي راغلې وهٔ شاکرخان دَ هغهٔ مشر زوے وو او هغه دَ چا خبره چې مشر زوے دَ پلار همځولے وي. همځولے په دې وي چې دَ هغهٔ ټول صلاح مصلات هغهٔ سره وي او بیا هغوي دواړه دَ پلار او زوي دَ رشتې نه علاوه ښهٔ دوستان هم وو . هغه دوستان چې دَ هغوي مفاد هم شریك وو او مینه او وینه یې هم شریکه وه . بله دا چې مشرخان چې څهٔ غوښتل هغه ټول صفتونه او خصلتونه دَ هغهٔ په ذات کښې موجود وو . هغه اعلیٰ تعلیم یافته هم وو ، اعلیٰ زمیدار هم وو. دلاور ، بهادر او اوښیار هم وو ، دَ خبرې په چل ول هم پوهېدو او دَ هر چا مړې ژوندې ته هم رسېدو . هغهٔ ته دَ هغهٔ دَ ځهرې په ائینه کښې دَ خپلې مشرۍ دَسر شمله ښکارېده . هم دغه وجه وه چې دَ ډېرې خوشحالۍ





نه دَ هغهٔ خوله نه راغونډېده . هغه دَ حجرې په کمره کښې همایون خان ، اکبرخان او دَ جمات دَ پېش امام سره ناست وو او په خپلو خوږو خوږو خبرو یې هغوي مشغول کړي وو خو دَخبرو په دوران کښې به کله کله دَ هغهٔ په مخ خړه راغله ، دَ هغهٔ او کهربه بدل او اوتر شو ، خپله خبره به ی نیمګړې پرېښوده او په موبائېل به یې چا سره دَ رابطې کولو کوشش کوو خو چې رابطه به اونشوه نو ځان سره به اوګونېدو ، موبائېل به یې یو خوا ته کېښودو او خپله نیمګړې خبره به یې بیا شروع کړه . هغهٔ چې څو څو ځله دغسې اوکړل اورابطه اونشوه نو بیا یې یونوکر را اوغوښتو او هغه نهٔ یې تپوس اوکړو، یَه هلکه رحیمو ، هغه شاکرخهٔ شو؟ هغه سره په موبائېل رابطه نهٔ کېږي، هغه چرته تلے دے "؟ هغهٔ ورته په مُسکا اووے ، "رابه شي خان بابا ، هغه لږه شېبه مخکښې ارام ګاه ته تلے دے " . دَ هغهٔ په خبره مشرخان ناستې ډلې ته ګوري اووائي ، "تهٔ ، دے پاګل ته اوګوره . . .دې ننۍ ورځې ته اوګوره او دَ هغهٔ هلته تلو ته اوګوره".

رحیمو: . خان بابا، دَ څهٔ مودے نه دا دَ هغهٔ معمول دے چې هر مازیګر ارام ګاه ته ځي او ماسخوتن تېر راځي .

مشرخان :. ماته پته ده خو موبائیل یې ولې بند دے ؟

رحیمو: . خان بابا ، دَ هغهٔ موبائېل دَمازیګر نه واخله تر ماسخوتن پورې بند وي ". هغهٔ نورهم څهٔ وېل غوښتل خو مشرخان هغه بلې خبرې ته پرې نه ښودو او وے وئیل ، "ماسخوتن پورې مونږ دَ هغهٔ



www.pukhto.net

انتظار نشو کولے ، تۀ وریسي ورشه او ورته وایه چې زرترزره دلته راشي. دا مشران دَ هغۀ نکاح تړلو ته ناست دي. شابه شابه ، ورشه زر کوه او هر ځائے چې وي نو ځان سره لاس نیولے راوله" رحیمو هړو دَ هغۀ دَ بلې خبرې اوریدو انتظار اونکړي او دَ هغۀ لټون پسې روان شي. چې کله نه دَ شاکرخان او هما لیدل کتل شوي وونو دا دَ هغه معمول جوړ شوے وو چې هرمازیگر به دَ هغې لیدو له ارام گاه یا باغ ته تلو . هما،قاضي صېب سره کلي ته لاړه ، او دَناوې په حېث یوه میاشت پس بیا راغله خو دَ هغۀ په معمول کښې هیڅ فرق رانۀ غے. هغه به په باغ او ارام گاه کښې په هغه ځایونو یواځے گرځېدو چرته به چې ځۀ موده مخکښې هغوي دواړه یوځائے گرځېدل . هغه به په هغه بېړۍ کښې ډېره په ډېره اوختورا اوختو په کوم کښې به چې هما سملاسته . هغه بالخت به یې خپلې سینې پورې نیوو په کوم به چې دَ هغې سر پروت وو. هما اگر چۀ هلته نه وه خو دَ هغې وړمي لا هغسې دَ هغې په کمره او دَ هغې په بستره کښې موجود وې. دَ هغې تول خیالونه او یادونه دَ هغې په کمره اوبستره کښې موجود وو خو هغه نه وه .کله کله به دَ هغۀ په زړۀ کښې راغله چې دَ هغې مینې هغه ډېر کمزورے کړو او دَ هغۀ دغه خیال واقعي صحي وو کله کله به دَ هغۀ په زړۀ کښې داخیال راتلو چې دَ هغې مینه هغه چرته زن مرید نکړي؟ دے خیال سره به هغه مُسکے شو او ځان سره به یې رو غوندې اووے ، "هما" که د دنیا تول خواړه راټول شي او ستامینې سره په تول نو یقیناً





چې سپك به تول شي". او رشتیا خبره دا ده چې هغه لائقه هم د دې وه . دا دَ هغۀ معمول وو او په دغه سلسله کښې هغه نن مازیگر هم هلته تلے وو او دَ هغې دَ وصل پاتې لمحې یې شمېرلے .

رحیمو چې ارام گاه ته اورسېدو نو دَ بهرارام گاه گېټ ته جرنده پرته وه. دَ جرندې په لیدو هغۀ په زړۀ اوخوړه چې هغه ارام گاه کښې نیشته البته په باغ کښې کېدېشي . هغه چې دَ هغۀ په لټون کښې باغ ته ورغے نو په گرځېدو گرځېدو دَ هغه ټال خوا له ورغے. چې هغه دَهما دَ زانگو دَ پاره اچولے وو . هغه چې ټال ته اوکتل نو یو لړپرانستے شوے وو او لاندې په زمکه پروت وو او دَ دغه پرانستے شوے لړ سره خوا کښې دَ هغۀ څپلۍ پرتې وې . هغه چې څپلو ته اوکتل نو حق حېران شو او ځان سره یې اووے ، "عجیبه ده ، هغه نیشته او څپلۍ یې شته". نمر پرېوتو، تروږمي ماښام شو، هغۀ لا هغسې په هغه ځائے دَ هغۀ انتظار کوو، خو دَ هغه هیڅ معلومات اونشو. چې تر ماسخوتن پورې هغه رانۀ غے نو هغۀ دَ هغۀ څپلۍ اوچتې کړے او کلي ته روان شو.

هلته دَ مشرخان په زړۀ دَ قهره نیني اورتېدې .چې دَ رحیمو په ورتلو کښې تاخیر راغے نو هغۀ وریسي دوه کسان نور اولېږل . رحیمو چې په لاره کښې سره لیدل اوکړل نو هغۀ ورته تېوله خبره اوکړه . هغوي تول دَ هغۀ په لاپروائي ډېر حېران شو او تول هغه سره دَ لارې نه واپس شو. رحیمو په تېوله لاره په زړه کښې کړل رېبل چې هغه به مشرخان له



www.pukhto.net

څهٔ جواب ورکوي . دَ هغهٔ په زړهٔ کښې ډېرې انې بهانې راغلې او ټولې یوه په یوه لاړې . اخر هغهٔ په زړهٔ کښې غوټه کړه چې هغه هغهٔ ته ټوله خبره اوکړي او دې نه علاوه هغهٔ نور څهٔ کولے شو. هغه چې حجرې ته دننه شو او دَ مشرخان کمرې ته ورتلو نو دَ مشرخان په موبائېل کال راغې . هغهٔ چې موبائېل نمبر ته اوکتل نو هغه دَ شاکر خان نه وو. هغهٔ موبائېل اوکے کړو ، دَ کمرې بهر اووتو اودَ چمن اخري ګوټ ته لاړو . دَ سلام نه پس دَ مشرخان په موبائېل اوازاغې. ''مشرخان ، اورېدلے مې دي چې نن ستا دَ مشرزوې او دَ کډوالو دَ اعزازي کمانډر، جناب شاکرخان عرف خان جي وادهٔ دے ؟

مشرخان:. هاؤ، تابالکل صحي اورېدلي دي خوتهٔ څوك خبرې کوے؟

اواز:. زهٔ به خپله پېژندګلو روستو اوکړم خو ړومبے زماله خوا نه مبارکي قبوله کړه .

مشرخان:. ډېره مهرباني خو اوس خپله پېژندګلو اوکړې.

اواز:. زما پېژندګلو به درسره ستازوے ، شاکرخان اوکړي، هغٔ خبرې ورسره اوکړه ''. (دَ شاکرخان اواز راځي) ''ابوزهٔ دَ یوې عسکري ډلې په تحویل کښې یم . زما غلطي دا ده چې ما دَ سوات کډوالو له پنائي ورکړے وه . زهٔ تاسو نه ډېر لرې یم. زماله خوا نه هماله تسلي ورکړه''. دې سره دَ هغهٔ اواز بند شي. مشرخان ته پته اولګېده چې شاکرخان اغوا شوے دے خو که په دې وخت کښې دَ هغهٔ دَ اغوا خبرخورشي نو دَ هغهٔ په کور او حجره کښې به قیامت راشي . هغه نه غوښته





چې دَ هغهٔ دَ اغوا نه بل څوك خبر شي . په دې وجه هغه په بند موبائېل لګیاوو او وئېل یې ، ''یَه هلکه شاکره ، ته انتهائي پاګل یې. نن ستا دَ وادهٔ شپه ده او تهٔ یو خوا بل خوا ګرځے . . . .څهٔ جوړه . . . ښه څه چې روغه جوړه اوشي نو بیا زر راځه . . .سبا مازیګر خواوشا . . . یره چې څنګه دے خوښه وي هغسې کوه''. دې سره هغه بند موبائیل بند کړې ، ځان سره ګونېږي او په دغه ګونېدو ګونېدو کښې کمرې ته راځي . دَ همایون خان په تپوس باندې هغه وائي، ''داسې پاګل به دے لیدلي وي. دَ خپل وادهٔ ورسره فکرنیشته او پردو جوړو پسې ګرځي.'' بیا مولانا صېب ته وائي ، ''مولانا صېب، تاسو اوس لاړشئ ، چې کله هغه راشي نو زهٔ به تاسو له اطلاع درکړم ''. دَ مشر خان نه بغېر دَ شاکرخان دَ اغوا نه هیڅوك خبر نشو . هلته زرتاجه دَ شاکرخان دَراتلو په انتظار کښې ناوې سره په کمره کښې پرته وه او هغه یې په خبرو کښې مشغوله کړې وه . تر دولس بجوپورې دَ هغوي سترګې په ورلګېدلې وې خو چې هغه ورنهٔ غې نو زرتاجې هغې ته اووې ، ''داسې معلومېږي چې خان جي، بهر مېلمنوسره مشغول دے . تهٔ اودهٔ شه بي بي ناوخته دے ، چې هغه راشي نو زهٔ به تا ویښه کړم.''

هما:.زرتاجې زهٔ په دې یرېږم چې هسې نهٔ هغه راشي او دَ پورے ورنه ستون شي .

زرتاجه:. نه بي بي زه ویښه یم. تهٔ ښهٔ بي غمه اودهٔ شه . هما له اګر چه خوب نه ورتلو خو دَ هغې دَ خاطره یې سترګې پټې کړې او لږه



www.pukhto.net

شپېه پس اوده شوه . خو زرتاجه دَ هغهٔ دَ راتلو په انتظار کښې ترسبا پورې ویښه وه . په سبا دَ مشرخان له خوا ښه زبردسته ولیمه ورکړې شوه . دَ شپې چې هغه کورته ورنه غیٔ نو هماسره دَ هغهٔ فکر ملګرې شو. زرتاجې اګرچه هغې له تسلي ورکوله چې رابه شي ، دَ هغهٔ ډېر کارونه دي. وغېره وغېره خودَ هغې دَ هغې په خبرو او انوبهانو تسلي نه کېده . هغه چې دوه شپې پرله پسې کورته لانه رو نو هماسره دا يره ملګرې شوه چې شاید هغهٔ هغې سره په وادهٔ خوشحاله نه دے او دَ هغې په وجه هغه کورته نه راځي . هغې دَ وادهٔ جوړه اوویستله او عامې جامې یې واغوستې . کالي یې لرې کړل او تشې لېچې اوتشه غاړه ، دَ کور دَ یوې عامي ښځې غوندې ګرځېده . بله شپه ماسخوتن تېرمشرخان په خپله کمره کښې اودهٔ وو او مشره بي بي په مصله ناسته وه نفلونه یې کول چې په دېکښې دَهغه په موبائېل رېنګ راغی . دَ مشرخان په ځائے هغه دَ مصلې نه پاسېده او موبائېل یې اوچت کړو . معلومه نه ده چې هغې ته په موبائېل څهٔ اووېلي شو خو یوه هیبتناکه چغه یې دَ خُلې نه اووته او دَ چغې سره په زمکه خوره وره پرېوته . دَ چغې سره مشرخان هم ویښ شو. زاهد هم راغی ، هما او زرتاجه هم راغله ، او حنا او بلقیس هم راغله . هما چې هغې ته او په زمکه پروت موبائېل ته اوکتل نو هغې په زړهٔ اوخوړه چې هرڅه دې خو دے موبائېل کښې دي. هغې چې موبائېل اوچت کړو او غوږ ته یې اونیوو نو په هغې کښې لا خبري کېدې . دَ موبائیل په





ړومبی خبره دَ هغې دَ خلې هم یوه چغه اووته او هغه هم په زمکه راپرېوته . حنا او بلقیس مور له لاس پښې سمولې او زرتاجې هغې له دَ پښو تلي مږل . زاهدخان چې دا واقعات اولیدل نو بهر ته یې منډه کړه . لږه شپېه پس یې ګاډے کورته دننه کړو او هغوي دواړه یې پکښې کېښودې. زاهدخان ډرائېونګ ته کېناستو او حنا او زرتاجه هغوي سره کېناستې. زاهد خان ډېر په تېزۍ سره روان وو . هغه چې دَ هسپتال کېزولتې ته اورسېدو نو دَ هسپتال دَ عملې په تعاون دواړه دَ ګاډي نه کوزې کړې شوي او دننه یوړې شوې. دَ پوراچېك اپ نه پس هما ICU ته یوړې شوه او زرتاجه ورسره پاتې شوه خو په مشرې بي بي دَ هغې لوپټه اوغوړولې شوه او هغوي ته واپس کړې شوه .

هما دوه ورځې په ICU کښې بېهوشه پرته وه . په درېمه ورځ چې هغه په هوش کښې راغله او سترګې یې اوغړولې نو دَ هغې مکمل چیك اپ اوشو او نېرو وارډ ته اولېږلې شوه . درې ورځې پرله پسې دَ هغې تپوس له هیڅوك رانه غی . په څلورمه ورځ هغې ته نسخې اولیکلې شوي، دَ مکمل ارام هدایت ورکړې شو او دَ هسپتال نه رخصت کړې شوه . هغوي لاخپله غاړه غوټه تړله چې زاهدخان دَ هغې پوښتنې له راغی . هغهٔ چې دَ هما په لاس کښې دَ ډسچارج سلپ اولیدو نو هغه یې یونظر اوکتو .بیا هغوي سره دَ وارډ نه اووتو، په ګاډي کښې کېناستل او دَ کور په لور روان شو . په لاره زرتاجې دَ هغهٔ نه دَ مشرې بي بي دَ صحت په باره کښې تپوس اوکړو خو هغهٔ



www.pukhto.net

هیڅ جواب ورنکړو . په ټوله لاره خاموشي وه . هغوي چې کورته اورسېدل او هغهٔ ګاډے اودرو نو زرتاجې دَ ګاډي نه غاړه غوټه کوزه کړه او زاهدخان هما دَ لاس نه اونیوه او په مزه مزه یې کمرې ته بوتله. په کور کښې مکمله خاموشي وه او دَ یو څو خدمتګارونه علاوه دَ هغوي سترې مشي له هیڅوك ورنه غلل . زرتاجې چې غاړه غوټه دَ هما په کمره کښې کېښوده نو بهر اووته او دَزیتون نه یې دَ مشرې بي بي دَ صحت په باره کښې تپوس اوکړو . هغه په ژړا شوه او په ژړا ژړا کښې یې ورته اووې ، "هغوي دواړه ډېرلرې تلي دي ."

زرتاجې دَ هغې نه په یره یره تپوس اوکړه ،"دواړه څوك ؟"

زېتون :. مشره بي بي او خان جي؟

زرتاجه :. هغوي چرته تلي دي ؟

زېتون:. هغوي هلته تلي دي چې واپس تربنه څوك نه دي راغلے .

هغه چې دا اندوهناك خبروورې نو په چغو چغو ژاړي.

زاهدخان چې دَ هغې دَ چغو اواز ووري نو دَ هغې خوا له راځي او هغې ته وائي ، "ژاړه مه زرتاجې ، که هما بابې خبرشي نو قیامت به راکوزکړي . بس دعا ورته کوه چې دواړو له خُدائے جنتِ فردوس ورکړي". هما چې دَ هغوي خبرې ووري نو دَ هغوي خوا له راځي او وائي، "خان جي پسې مشره بي بي هم لاړه ؟ مور اوزوے دواړه لاړل ؟

زاهدخان:. تهٔ دَ لاله جي دَ مرګ نه خبر یې؟ چې هغه جواب ورنهٔ کړي نو بیا هغې ته وائي، "بابې ، ماته دَ لاله جي په مرګ ډېرافسوس دے."





هما:. تاته افسوس دے ؟ نور هیڅ نه . . . ؟

زاهدخان:. نورزهٔ څهٔ کولے شم ؟ دغه ظالمانو سره زهٔ څهٔ کولے شم . هغوي ماله هم دهمکي راکړې ده . هماخپلې کمرې ته روانېږي او په تلو تلو کښې هغهٔ ته وائي ، "دَڅان خیال ساته لالاجي ".

## ﴿ دوېمه برخه ﴾

دَشاکرخان په ناترسه مرګ دَ زوړ کلي نه علاوه دَ خواؤ شا ټولو کلیو په خلقو کښې دَ یرې ترهې او خفګان خپسه ناسته وه . په هر کور ، حجره او هره لاره کوڅه کښې دَ هغهٔ په مرګ تبصرې کېدې او اوښکې بهېدې . ترڅلوېښتې پورې دَ مشرخان حجرې ته ډلې ډلې خلق راتلل او ژړېدل . دَ مشرې بي بي او مشرخان په مرګ اګر چې مشرخان په زړهٔ سورے سورے وو خو هغهٔ خپل خفګان دَ خلقو نه پټ ساتلے وو. دَ سحر نه واخله تر ماښامه پورې به په حجره کښې دَ خلقو دعاګانو ته ناست وو خو نه یې سترګو له اوښکه راتله او نه یې پسه خبره کوله . هغهٔ به په کرنګېدلي اواز دَ هغهٔ یوه یوه خبره یادوله او دَ هغهٔ یوه یوه کارنامه به یې ستایله .

هلته هما په کورکښې دَشاکرخان دَ مرګ په ماتم کښې ترڅلوېښتې پورې په خپله کمره کښې په ماتم کښې ناسته وه . یو څو ورځې یې دَ خوړلو څکلونه انکار اوکړو خو چې مشرخان تربنه خبرشو نو دَ هغې کمرې ته ورغے ، هغې له یې تسلي ورکړه ، په خپل لاس یې خولهٔ کښې نوړۍ ورکړه او په خپل لاس یې مړه کړه او تر هغې ورسره



www.pukhto.net

ناست وو چې دَ هغې نه يې دَ خوړلو څکلو ښۀ پوره وعده واخسته . دَ
شاکرخان دَ مرګ نه پس دَ خانانو په کورنۍ کښې د هما هيڅ عزت
پاتې نشو . نارينه ؤ اګر څۀ هغې سره ډېره خواخوږي لرله خو دَ ښځو
په سترګو ښۀ نه لګېده او په تېره تېره خو دَ حنا او بلقيس دَ سترګو
ازغې وو. دَ هغوي په نظر کښې هغه سپېره وه ځکه چې دَ هغې
راتلو سره دَ هغوي مور او رور دواړه مړۀ شول . د دې احساس اګر څۀ
هغې ته دَ هسپتال نه دَ راتلو په ورځ شوے وو ځکه چې نه يې ورته
سترې مشې اوکړل ، نه يې ورسره خواخوږي اوکړه او نه دَ هغې دَ
خيريت معلومولو دَ پاره دَ هغې کمرې ته ورغلې . تردې چې هغې
سره يې سترګې لګول هم نه غوښتل . دَ ځلوېښتې په ورځ دَ
شاکرخان دَ اغوستو او استعمالولو ټوله جامه پېزار دَ هغې دَ اجازت نه
بغېر دَ بکسونو نه را اوويستلے شو او دَ کلي په خوارو غريبو کښې
تقسيم شو خو نه هغې سره مشوره اوشوه ، نه دَ جامه پېزار تقسيم له را
اوغوښتې شوه او نه يې ورته دَ هغۀ څۀ نښنخه پرېښوده. يوائې دا نه
بلکه دَ ځلوېښتې په ماښام بلقيس په ډاګه اووې چې ، "دا سپېره
دلته څۀ ته ناسته ده . د دې خو هغه سره نکاح نه وه شوې چې دَ هغۀ
ميراث خوره شي "

هما چې دَ حنا دا خبره واورېده نو دَ مشرې بي بي هغه خبره ورياده شوه
چې ، "دا جينکۍ حنا او بلقيس دواړه وادۀ شوې دي او دَ خپلو کورونو
مېرمنې دي. دا کور اوس ستا دے .تۀ د دے کورمالکه يې او ته به يې





چلوي ."دَ بلقيس خبره لا ختمه نه وه چې حنا اووې ، "داسې
معلومېږي چې دَخان جي په مرګ کښې د دې لاس دے . دې سپېرې
دَ راتلو سره دَ خان جي تصوير له دهمکي ورکړې وه او دا يې ويلې وو
چې ، I will kill you . هغه که هر چا مړ کړے دے خو د دې صلاح
مصلحت ورسره شته او د دې تپوس به ترې کولے شي". هما چې دَ
بلقيس دا خبره واورېده نو په زړۀ يې داسې اولګېده لکه يوه ناګهانې
ګولۍ چې دَ هغې دَ سر نه اووته او په زړۀ کښې يې سره شوه . هغې
په زړه لاس کېښودو او په خپل بېډ کښې ډبه ، ډوبه پرېوته .

هغه هما چې مخکښې به حنا او بلقيس په سرګرځوله، اوس يې ترېنه
دومره کرکه کوله چې که مشرخان او زاهدخان دَ هغوي په لاره کښې
خنډان نه وے نو هغه به يې دَ يوې لمحې دَ پاره هم په کور کښې نه وه
پرېښې. دَ ځلوېښتې نه پس هغوي خپلو خپلو کورنو ته لاړې او په تلو
تلو کښې يې اووې چې "بيا به دلته هله راځې، چې دا سپېره دَ کوره
اوځي "خو مشرخان او زاهدخان دَ هغوي دے شرط منلو ته تيار نه وو
او هغوي ته يې صفا اووے چې "دا زما عزت دے او خپل عزت دَ خپله
لاسه دَ خپله کوره ځنګه اوباسم". دغه شان زاهد خان دَ هغې په
مرسته ښۀ په کلکه ولاړ وو او دا به يې وے چې ، "دا زما دَ خپلې وينې
مينه ده . دا کور د دې دے او د دے کورمشرې د دے ده . "

دَ ځلوېښتې نه پس قاضي صېب او خوش نصيبې ابۍ غوښتل چې
دَ هغې دَ غم غلطولو دَ پاره هغه يو څو ورځوله خپل کلي ته بوځي.



www.pukhto.net

مشرخان اګر څه هغې له اجازت ورکړو او زاهدخان هم هغې ته په کلکه اووے خو هغې دَ تلو نه انکاراوکړو او دا جواز یې پېش کړو چې هغه نه دَ خان جي یادونه هېرولې شي او نه دَ هغهٔ روح ته دَ خپلې کمرې وربندولې شي بهرحال دَ هغې دَ زړهٔ دَ پاره سهېل هغې سره پاتے شو او دَ کلي په سکول کښې داخل کړے شو. بیا به هغه او مهوش دَ مشرخان ډرائېور هر سحر په ګاډي کښې خپل خپل سکول ته رسول او دَ چهټۍ نه پس به یې راوستل . وخت تېرېدو سره دَ هغې غم رو رو کمېدو ، او کله چې ورته زرتاجې په کلکه اووې چې ، ”بس که بي بي ، په خپل ځان لږه اورحمېږه. تهٔ به دَ خان جي په مرګ تر کومې پورې ژړېږې . که مړي په ژړا ژوندي کېدې نو خان جي به ډېر مخکښې ژوندے شوے او کورته راغلے وے “ دې نه پس دَ هغې ژړا تر ډېره حده پورې کمه شوه .

دَشاکرخان دَ مرګ نه پس به مشرخان اکثرکور وو او په خپله کمره کښې به پروت وو . دَ بهر مشري زاهدخان ته حواله شوې وه او دَ کور مشري هما له ورکړې شوي وه . خو هغوي نه په مشرۍ کښې دلچسپي اخسته او نه یې دَ کور په نورو لانجوګونجو کښې . هغې دَ کور مشري زرتاجې ته پرېښې وه او دَ هغې په ذریعه به کور او حجره چلېده . زاهدخان اګر چه دَ کورنۍ مشرشو خو هغهٔ نه په خپله پوله پټې ګرځېدو او نه دَ چا مړي ژوندي له تلو . هغه دَ یورپ په ازاده معاشره کښې پاتے شوے ازاد طبیعته سړے وو. دَ خپل ځان او خپل





خواهش پوره کولو نه علاوه هغهٔ په هیڅا څهٔ کارنه لرو. البته هر سحر به په ګاډي کښې بازار ته تلو او کور دَ پاره به یې سودا هم راؤړه او دَ هغهٔ ګېډه به هم سرېده . دَ کور دَ سودا نه علاوه هغهٔ به دَ شاکر خان دَ مخه هما له هره ورځ څهٔ ناڅهٔ ډالۍ راؤړه او پټ په پټه به یې هغې له ورکوله . هغې به هم دَ شاکرخان دَ مخه دَ هغهٔ ورکړه په شکریه قبلوله . کله به چې دَ خدمتګارو یا دَ کلي مهلت دَ نورو زنانهؤ دَ موجودګۍ په وجه هغهٔ ته دَ یو څیز ورکولو موقع ملاؤ نشوه نو کور ته دَ تلو راتلو په وخت به غلې غوندې دَ هغې کمرې ته ورغی او هغه څیز به یې دَ هغې دَ بالخت لاندې کېښودو . هغه اګر چه دَ هغهٔ په ورکړه په زړهٔ کښې خوشحاله نه وه خو هغهٔ یې منعې کولې هم نشو .او بیادَ لوندو ختهو خولړې اویهٔ بهانه وي. که هغې لږ څهٔ وېلې وې نو د دغه لوندو ختهو په دارو به هغه خپله لټار شوې وه او دَ هغه به پرې هیڅ کمه کوزه نه وه شوې .بهرحال دَ هغهٔ په ایثار او قربانۍ کښې هیڅ شك نه وو. هغهٔ دَ هغې دومره خیال ساتو چې دَ هغې دَ خاطره به یې سهېل او مهوش سره هم مینه کوله . چې کله به هغې هغوي سره دَ هغوي په هوم ورك کښې مدد کوو نو هغه به دَ هغې کمرې ته ورغی هغوي دواړه به یې خپلې کمري ته راوستل او هلته به یې ورسره هوم ورك کوو. یو ځوځله هغهٔ هغې ته هم دَ ټیوشن آفر اوکړو خو هغې په معذرت سره قبول نکړو. مازیګر به یې هغوي دواړه په خپل ګاډي کښې ارام ګاه ته به یې بوتلل او هلته به یې



www.pukhto.net

ورسره په چمن کښې کرکټ کوو. هما دَ کرکټ ډېره شوقي وه . هم دغـه وجه وه چې کله ورته هغه دَ کرکټ کولو آفر اوکړو نو هغې قبول کړو . هغـوي سره هغـه هم لاړه او دَ کرکټ په لوبه کښې يې شرکت اوکړو . وخت تېرېدو سره دَ هغې غم نور هم کم شو . څۀ وخت پس دَ هغې په مخ مُسکا راغله او دغه مُسکا رو رو په خندا بدله شوه . چې څومره څومره به دَ هغې زړۀ دَ شاکرخان دَغم نه سپکېدو هومره پکښې دَ زاهدخان مينه راتله . او بياخبره دې له راغله چې دَ بابي او لاله جي تکي ختم شو او دَ هغې په ځائے دَ هما او زاهد تکي راغلل. کله کله به په لوبه کښې وران شو او يو بل ته به يې نېغې اوستغې خبرې هم اوکړې خو دَ لوبې ختمېدو نه پس به يې بيا دَ يو بل نه معافي اوغوښتله او پُخلا به شو. چې کله به هغې دَ کرکټ يونيفارم واغوستو او بالنګ به يې کوو نو دَ هغې دَ حساس اعضاء جنبش سره به دَ هغۀ زړۀ هم ټوپونه وهل. کوم اور چې دَ هغې حسن او اداګانو دَ شاکرخان په زړۀ کښې لګولې وو، دَ هغې نه زيات دَ زاهد خان په تن بدن باندې لګېدلے وو. دَ هر اتوار په ورځ به دَ هغوي ترمينځه مقابله وه . مقابله به که هر چاوګټله ټريټ (Treat ) به دَ زاهدخان د طرفه وو. او دا ټريټ به دَ ښار په يو اعلیٰ هوټل کښې وو. زاهدخان څو څو ځله په يو اهم موضوع هغې ته دَ څۀ وېلو کوشش اوکړو خو کله به هغۀ جرأت اونکړے شو او کله به هغې په څۀ انه بهانه دغه موضوع بدله کړه او څۀ بله خبره به يې شروع کړه . يوورځ سهېل اومهوش د





اٰرام ګاه په چمن کښې کرکټ کوو او هغوي دواړه په باغ کښې ګرځېدل . هغوي په ګرځېدو ګرځېدو دَ هغه ټال خوا له ورغلل چې دَ هغې يو لړ پرانستے شوے وو او لا تراوسه په زمکه پروت وو. هما چې دَ ټال پرانستے شوے لړته اوکتل نو په ولاړه ولاړه دَ هغۀ نه ډېره لرې دَ ماضي په خيال کښې لاړه . هغې ته دَ انصار هېلتهـ سنټر دَ کمرې هغه منظر مخکښې شو چې شاکرخان سره دَ ټال او دَ ټال په لړونو دَ هغې خبرې شوې وې او هغه ورته وېلے وو چې "مشران وائي چې ټال دَدوو مئينو دَ ازدواجي ژوند ترون دے . او د دے لړونه دواړه شريک حيات دي. چې دواړه لړونه سلامت وي نو دَهغوي ازدواجي حېثيت سلامت وي. چې په دغه دوو کښې يو لړ پرانستے شي نو دَ هغوي ازدواجي حېثيت ختم شي . او چې دغه دوو کښې يولړ اوشلېږي نويوکس پکښې مړ شي او چې دواړه اوشلېږي نو دواړه مړۀ شي." هغه لا دَ شاکرخان دَ شلېدلي او پرانستے شوي لړ دَ فلسفې په باره کښې سوچ کوي چې زاهد خان ورته وائي ، "څۀ سوچ کوي هما؟"

هما: هنّ ، هاؤ ، نه هيڅ نه.

زاهدخان: که په ټال زانګل غواړے چې دے اونې ته اوخېژم او دا لړ اوتړم".

هما: هنّ ، نه ، نه . ما دَ پاره تکليف مۀ کوه .

زاهدخان :. دېکښې دَ تکليف څۀ خبره ده . يې دادے اوختم . هغه



www.pukhto.net

متیے انغاړي او اوني ته خېژي او دَ ټال لړ ښهٔ مضبوط اوتړي . چې کله راکوز شي نو مُسکے شي ټال له ټالی ورکړي او هغې ته وائي، "ستا ټال جوړ شو، اوس پرې زانګه ". هما هغهٔ ته ګوري او وائي، "لړ دے مضبوط تړلے دے ."

زاهدخان:. بالکل ښه مضبوط ، سرې غوټې مِ ورکړي دي.

هما:. او که پرانستے شو نو بیا؟

زاهدخان:. که پرانستے شو نو زهٔ ستا مجرم.

هما:. ستا دَ جرم سزا به څهٔ وي؟

زاهدخان:. ستا هره سزا ماته قبوله ده ."هماخاندي په ټال کېني او هغهٔ ته وائي ، "سزا سره به بیا کتې شي، راشه اوس جوټې راکړه."

هغه دَ هغې شاته اودرېدو ، دَ ټال دواړه لړونه یې اونیول او هغې له یې جوټه ورکړه هغه دَ هغې شاته ولاړ وو او هغې له یې دَ شانه جوټې ورکولے.په دغه جوټو جوټو کښې دَ هغه لاس یو ځل دوه دَ هغې دَ بدن حساس ځایونه سره اولګېدو. هغې دَ هغهٔ دا حرکت محسوس کړو خو په دې یې برداشت کړو چې کېدېشي دا دَ هغهٔ لاپروائي وي او په غلطي کښې دغسې شوې وي خو چې کله هغه دَ هغهٔ په بېهوده حرکت خاموش پاتې شوه نو دَ هغهٔ بېهودګي نوره هم زیاته شوه .

هغه چې دَ هغهٔ په اراده پوهـ شوه نو دَ ټال نه کوزه شوه او هغهٔ ته یې په قهرېدلي اواز اوکتل خو هیڅ یې ورته اونه وې هغهٔ ته چې پته اولګېده چې هغه خفه شوه نو دواړه لاسونه یې په تندي کېښودل او





وے وئیل . سوري ، هغې چې دَ هغهٔ شرمندګۍ ته اوکتل نو هغه یې معاف کړوخوائنده دَ پاره یې تنبیهـ ورکړه . دې نه پس هغې هغه سره خبرې هم بندې کړې او هغه سره یې ارام ګاه ته دَ تلو نه هم انکار اوکړو . دَ څو څو ځله معافۍ غوښتونه پس دَ هغې غصه سړه شوه او هغه سره یې خبرې شروع کړې خو دَ خبرو هغه زوړ خوند پاتې نه شو. دَ شاکرخان دَ مرګ نه پس هغې دا خپل عادت جوړ کړې وو چې هغې به دَ خپلې کمرې ورتوله ورځ او توله شپه په دے غرض لرې ساتو چې که چرې دَ شاکرخان روح وخت بې وخته راشي نو چې هغه واپس نشي.هم دغه شان هغه یوه شپه په سلیپنګ سوټ کښې په خپل بېډ کښې ښځه اوده وه، دَ هغې زلفې او دَ بدن نور اعضاء دَ ځوانۍ دَ خوب په مزو کښې خوارهٔ وارهٔ پراتهٔ وو.

شپه دَ نیمې نه اوختې وه . زاهدخان په خپله بستره کښې ډېر په ډېرې اوختو رااوختو خوخوب نه ورتلو . چې اونشوه نو دَ خپلې بسترې نه پاسېدو او غلې غلې دَ هغې کمرې ته ورغی . دَ ورتلو سره هغهٔ هغه وربند کړو کوم چې دَ شاکرخان دَ روح دَ تلوراتلو دَ پاره هغې تر اوسه پورې لرې ساتو . دَ ور دَبندېدو سره هغې ته په خوب کښې داسې محسوسه شوه لکه چې دَ هغې په بدن دَ خاؤرې یو لوے غر پروت وي. دَ هغهٔ په سام دَ هغې بدن درونډ او ساه یې ګډه وډه شوه، او چې کله هغې دَ دغه عذاب نه ځان خلاصي دَ پاره په خوب کښې هلې ځلې کولې نو سترګې یې اوغړېدې . زاهدخان دَ هغې بېډ ته



www.pukhto.net

ولاړ وو او دَ ختو هغه يې کوله چې دَ هغې سترګې اوغړېدې . هغې چې هغهٔ ته اوکتل نو په يره يره يې اووې ، "څوك ؟ تهٔ ؟" هغه په بېړه کښې کېناسته او ورته يې اووې، "دې خوا دَراتلو کوشش اونکړې ګېنې . . ." هغه چپ شي او په چپ کښې يې سترګې په هغهٔ لګېدلي وي. دَ هغې په غصه هغه مُسکے شي او ورته وائي ، "ګينې څه . . .؟ مړ به مِ کړې . . .؟ تا په ماکښې پرېښې څهٔ دي؟زهٔ خو تاخوڅوځله مړ کړې او ژوندې کړې يم". هما هغهٔ ته په قهرېدلې لهجه کښې وائي، "ته دلته په څه غرض راغلے "

زاهدخان:. زمانيت او غرض تانه پټ نه دے او که وضاحت يې غواړې نو ډېره ښهٔ ده .

هما:. تاله شرم پکار دے زاهده چې تهٔ خپلې بابي سره داسې فضول خبرې کوے .

زاهد:. فضول هغه څيز ته وېلے کيږي چې دَ هغې څهٔ مقصد نه وي زما خبرې فضول ځکه نه دي چې زهٔ يو خاص مقصد پسې راغلے يم.

هما:. زاهده، تهٔ لږ لاندې باندې نظر اوکړه او په دېوال لګېدلے دغه تصوير ته اوګوره ، زهٔ د دغه سړي امانت يم.

زاهدخان:. نه هما نه ، تهٔ د دغه سړي امانت ځکه نه يې چې هغه سره ستا نکاح نه ده شوې . دوېمه دا چې که چرې تا هغهٔ سره دَ وفا وعده کړې وي نو دَ هغهٔ په بې وفائۍ يعنې دَ هغهٔ په مرګ هغه وعده ختمه شوه ، او تهٔ لکه زما ازاده يې. اوس تهٔ هرچاسره مينه کولې شې





خو روميے حق زما دے ځکه چې ته زما دَ وينې مينه يې او زما مينه دَ هغهٔ دَ مينې نه کمه نه ده ." هغه دَ هغې بېړه ته ورخېژي او دَ هغې دَ نيولو کوشش کوي خو هغه ډېر په تېزۍ سره دَ بېړه نه لاندې ټوپ کوي او دَ کمرې نه دَ وتو هڅه کوي. هغه ، هغې باندې لکه دَ شاهين ورغوته شي ، په خپلو لېچو کښې يې کلکه نيسي او ورته وائي، "بهرته دَ تلو کوشش مهٔ کوه ، هلته هم رانه نشې خلاصېدې. ښهٔ به دا وي چې چپ په چپه په خپله کمره او خپل بېړه کښې پاتې شې او يو غوږ او بل غوږ درنه خبر نشي." هغه دَ هغهٔ په غېږ کښې داسې يرېدلې او داسې غلې وي لکه مرغۍ چې دَ شاهين په پنجه کښې انختې وي. هغه ، هغه په خپلو لېچو کښې اوچته کړي او بېړه له يې راوړي . هغه يو ځل بيا دَ بېړه نه لاندې ټوپ کړي او دَ کمرې نه دَوتو هڅه کوي خو هغه دَ هغې دَ سليپنګ سوټ ښڼن ته لاس اچوي. ښنين دَ هغهٔ په لاس کښې پاتے شي ، هغه ورله ځان اورسوي خو دَ کمرې نه په وتو کښې کامياب نشي او يو ځل بيا دَ هغهٔ پنجې له راشي. هغه خپل ستر په لوپټه پټوي او په چغو چغوژاړي. هغه مُسکے شي او هغې ته وائي، "ژاړه ، ژاړه ، تا ته اجازت دے خو نه ستا چغې د دې کمرې نه بهر وتې شي او نه ستا مدد له څوك راتلے شي. هغه دَ هغې نه دَ لوپټې دَ لرې کولو او دَ آب حيات چينو ته دَ رسېدو هڅه کو ي . هغې ته خپل ځان دَ فلم دَ هغه هيروئن غوندې ښکاره شي چې دَ وېلن په غېږ کښې دَ هغهٔ دَ ګرفت نه په دے اميد دَ وتو



www.pukhto.net

کوشش کوي چې اوس درنګ ساعت لـه بـه دَ هغې دَ مدد دَ پاره یو غیبي طاقت راشي او هغـه بـه کرشماتي طور دَ هغـهٔ دَ پنجې نـه خلاصه شي خو چې دَ غیبي طاقت دَ راتلو نه مایوسه شوه او دَ هغهٔ په لېونتوب دَ هغې پوخ یقین راغی۔ چې دَ هغې دَ عزت لوټ کېدو خطره نزدې ده ، او که هغه دَ خپل عزت تحفّظ په خپله اونکړي نو دا به دَ هغې په عزت ټول عمري داغ وي . هغې دَ وخت ضائع کولو او دَ چا انتظار کولو نه بغیر خپل لاس موټے کړو او په خوله یې داسې مُکه ورکړه چې دَ خولې اویهٔ شوې لاړې یې په کوږ وخکي راغلې او دَ پړینګ په شکل کښې لاندې اوبهېدې . هغهٔ چې لاس سپېړې ته جوړوو نو هغه پرې مخکښې شوه او په سر یې داسې مُکه ورکړه چې لکه دَ ګوزني چرګ یې خپل سرځنډو . په دغه ځنډلو ځنډلو کښې هغه ډېره په تېزۍ سره دَ کټ نه اوخوېده ، دَبجلي بټن یې په منډه کښې مړه کړه او په یو شغ دَ کمرې نه بهر اووته . هغهٔ چې بجلي اولګوله او هغې پسې بهر وتو نو معلومه شوه ورته چې ور دَ بهر نه بولټ شوے دے.

هغه یوه شېبه بهر دَ کمرې ورسره په برنډه کښې ولاړه وه خو چې دَ بجلۍ په رڼا کښې یې ځان ته اوکتل نو دَ خپل ځانه شرم ورغی، دَ برنډې نه اووته او په کور کښې چرته غیبه شوه . زاهدخان په هغه پنجره کښې ګېرشو په کومه کښې چې هغهٔ هغه ګېرول غوښتل. هغهٔ لکه دَ انختې مرغۍ پړقونه وهل او تر هغې یې تمبې ډبولے چې دَ هغهٔ په درزار مشرخان او زرتاجه دواړه پاسېدل او دَ هما دَ کمرې





مخې ته اودرېدل. دَ هغوي دا خیال وو چې شاید هما ته څهٔ مسئله پېښه ده .زرتاجې چې ورلړې کړو نو هغه ډېر په تېزۍ سره دَ کمرې نه اووتو . دَ هغهٔ دا خیال وو چې ورهما لرې کړو . هغهٔ دَ هغې دَ نیولو او کمرې ته دَبوتلو په خیال چې دَ هغې په لور اوکتل نو هغه هما نه بلکه زرتاجه وه او هغې سره خوا کښې مشرخان وو. هغهٔ چې هغوي اولیدل نو خپلې کمرې ته یې منډه کړه او ور یې ځان پسې پورے کړو .دَ هغهٔ دَ تلو نه پس هغوي چې دَ هما کمرې ته ورغلل او دَ بجلي په رڼا کښې یې دَ هما بېډ ته اوکتل نو هغه په بېډ کښې نه وه. هغوي ته داسې معلومه شوه لکه چې چاپکښې ښهٔ پرزول کړي وي. مشرخان او زرتاجې یوبل ته په معنیٰ خېز نظر اوکتل خو ډېر زر یې دَ یو بل نه سترګې واړولې. په بېډ کښې دَ هغې لوپټه پرته وه خو هغه نه وه . بېډ سره خوا کښې دَ هغې شلېدلے بنېن په فرش پروت وو خو هغه نه وه . زرتاجې هغه بنین راواخستو او په چپه خولهٔ یې دَ هغهٔ مخې ته اونیوو. مشرخان چې دَهغې شلېدلے بنین ته اوکتل نو دَ قهره پرې رچ راغی۔ او داسې معلومېده چې درنګ ساعت له راپریوځي. زرتاجه چې دَ هغهٔ په حالت پوهـ شوه نو زر یې په غېږ کښې اونیوو. دَ هغهٔ دَ ملا نه یې لاس تاؤ کړو او په مزه مزه یې دَ کمرې نه اوویستو. هغې ډېر په ګهرانه هغه دَ هغهٔ کمرې ته بوتلو او په بېډ کښې ئې سملوو. هغه په خپله بستره کښې پټې سترګې پرېوتو او هغې ورله سر او اوږې منډلې.یوه شېبه پس یې سترګې اوغړولے او هغې ته یې



www.pukhto.net

اووے ، زرتاجې هما لورځۀ شوه ؟ تۀ ورشه هغه اوګوره چرته دَ کوره اوتې نه وي .

زرتاجه:. نه خان جي ، هغه داسې جينۍ نه ده . هغه صرف دَ خپل عزت ساتلو دَ پاره دَ هغۀ نه تختېدلې ده خو دَ کوره بهر وتلې نۀ ده ځکه ما ګېټ جرنده کړې دے او چابې ماسره ده .

مشرخان:. ته ورشه هغه اولټوه او ماله يې راوله او هنّ دا خولۀ مِ اوچه شوې ده ، ځان سره يوه پيالۍ چايې هم راؤړه .ځه ته ورشه ، هغه چې دَ مشرخان په وينا دَ هغې لټون پسې اووته نو په زړۀ کښې راغله چې مخکښې باورچې خانې ته ورشي او دَ مشرخان دَ پاره چايې تياره کړي . هغه چې په دغه نيت باورچې خانې ته ورغله او بجلي يې اولګوله نو دَ نغري خوا کښې يې ثوك ناست اوليدل چې سر يې ټيټ کړے وو او په خپلو زلفو يې خپل ستر پټ کړے وو. دَ هغې په ليدو زرتاجه اويرېده او دَ خپل ځاے نه يو قدم دوه روستو شوه خو چې کله يې ورته په ځير ځير اوکتل نو هغه هما وه . هغې چې دَ هغې بې ثوکه حالت ته اوکتل نو په ژړا شوه . هغه يې پاسوله او ځان ته يې راترغاړه ويسته . په ژړا کښې يې ورته اووې ، "زار شم ، قربان شم ستا دَ بهادرۍ نه اوستا دَ ننګ وناموس نه". تا چې څۀ اوکړل نو دا دَ ټولو پېغلو دَ پاره دَ فخر خبره ده . هما دَ هغې دَ سر نه لوپټه راکاږي ، په هغې خپل ستر پټوي او وائي ، "زرتاجې ، ماسره هغه څۀ اوشو چې زما په خيال وګمان کښې هم نه وو". دَ هغې دَ ډاډ دَ پاره هغه مُسکۍ





شي او ورته وائي ، "تا چې هغه سره کوم کار اوکړو نو دا دَ هغۀ په خيال وګمان کښې هم نه وو او ټول عمر به ياد ساتي هغه دَ پاره دا ډېره ده چې دَ مشرخان په مخکښې اوشرمېدو . . .بي بي، مشرخان وائي چې ما پورې دې لرې راشي ".

هما:. نه زرتاجې ، زۀ دَ هغوي مخې له نه ورځم. ماله دَ هغوي نه حيا راځي . تۀ اوګوره زۀ په څۀ حال کښې يم .

زرتاجه:. زۀ هغۀ له يوه پيالۍ چايې تياروم ، ته ورشه جامې بدلې کړه نو بيا راشه .

هما:. نه زرتاجې ، زۀ هغوي سره په دې باره کښې نۀ ليدل کولې شم او نه ورته څۀ وېل غواړم ؟ دې سره هغه دَ باورچې خانې نه اوځي او ډکې سترګې خپلې کمرې ته روانه شي. چې کمرې ته اورسېده نو ځان پسې يې ورپورې ، په خپله بستره کښې سملاسته او په ژړا ژړا اودۀ شوه . زاهدخان سحر وختې دَ ناشتې نه مخکښې دَ کوره اووتو او په تلو تلو کښې يې زرتاجې له يو چټ ورکړو . هما ترناوخته پورې پرته وه . کله چې دَ هغې خوب پوره شو او په خپله طبعه پاسېده نو واش روم ته لاړه جامې يې بدلې کړې او ناشتې دَ پاره باورچې خانې ته روانه شوه .په ناشته کښې ترينه زرتاجې تپوس اوکړو ، "بي بي، شپه څنګه تېره شوه ."

هما:. شپه وه که بلاوه ، اُف الله ، زرتاجې دَ هغې دَ زړۀ ساتلو دَ پاره هغې سره خوږې خبرې کولې .چې کله هغې ناشته اوکړه نو بيا يې



www.pukhto.net

ورته اووې ، "بي بي ، مشرخان په خپله کمره کښې ستا انتظار کوي."
هغې په بې صبرۍ اووې ، "زما انتظار کوي؟ خو که هغه مانه دَ بيګانۍ واقعې په باره کښې تپوس اوکړي نو زهٔ به ورته څه وېم".
زرتاجه: تهٔ ورته هيڅ مه وايه ، هغه هرڅهٔ په خپله ليدلي دي. هغه صرف تاليدل غواړي . هغوي چې دَ هغهٔ کمرې ته ورشي نو هغه پټې سترګې پروت وي او دَ سترګو په قوتو کښې يې دوه غټ غټ څاڅکي ځلېږي. هغه په پټو سترګو لګياوو او ځان سره يې وے، "شاکره ، ستا مرګ خو زما دَ زړه نول شو . . .دريغه ماستا مرګ نه وے ليدلے . . .دريغه ستا په ځائے زهٔ مړوے . . . چا رشتيا ويلے دي چې ، "سل دے مړهٔ شه ، يو دے مهٔ مره ". دريغه مونږ ټول نه وے خو چې يو تهٔ وے . هغه لالګيا وو او معلومه نه ده چې نور به يې څهٔ څهٔ وے خو دَ هغهٔ دَ پام راګرځولو دَ پاره زرتاجې ټوخې اوکړو. مشر خان چې په ښکالو پوهـ شو نو خپلې سترګې يې اوچې کړے او هغوي ته يې دَ کېناستو اشاره اوکړه . هغوي چې دَ هغهٔ مخې ته کېناستې نو هغهٔ هما ته اوکتل او وے وئيل ، "همالورې، تاسره بيګاه څهٔ واقعه شوي ده ؟" هغه سترګې خکته کړي او هغه له هيڅ جواب ورنکړي . هغهٔ يوه شېبه دَ هغې دَ جواب انتظار کوو خو چې هغې څهٔ جواب ورنکړو نو وے وئيل ، "ماته پته ده چې تهٔ به زما په تپوس چپ پاتې کېږې خو تپوس کول زما فرض وو. همابچې ، ته زما هغه وفاداره لور يې چې زما دَ مړ زوي په پت کښې تراوسه ناسته يې، زهٔ





چې تاته ګورم نو دَ خپل زوي مينه مې درباندې ماتېږي . . .زهٔ دا نهٔ وېم چې هغه مړدے بلکه ستا موجودګي ماله دَ هغهٔ دَ ژوند احساس راکوي. خو حقيقت ، حقيقت وي. زهٔ دا منم چې ستاسو يوبل سره بې شانه مينه وه خوافسوس چې دَ هغهٔ ژوند وفا اونکړه ، هغه درنه همېشه همېشه دَ پاره لاړو او تهٔ يې يك تنها پرېښودې. تهٔ به دا تنهائي ترکومې پورې برداشت کوې او ترکومې پورې به دَ هغهٔ په پت کښې ناسته يې . مړي سره کلے نه کېږي. زهٔ دانهٔ غواړم چې ستا ټول عمر دَ تنهايۍ دَ ازغو په غونډۍ او ستا ټوله زندګي دَ جُدائۍ په سولۍ تېره شي . زهٔ نه ستا دَ کنډتون مېړتون ليدے شم او نه په تا دا ظلم برداشت کولے شم . . .او . . .او نه په دے زړو هډکو ستا دَ عزت تحفظ کولے شم . . .زهٔ دا نشم برداشت کولے چې زما په کور کښې ستاعزت تاله واله شي او زهٔ ستا دَ بې عزتۍ تماشې ته په بې وسو سترګو غټ غټ ګورم . زهٔ دا نه غواړم چې زما دَ شاکرخان په پت کښې ناسته لورزما په کور کښې دَ ظلم ، زياتي او ناجائزه خواهشاتو ښکار کېږي او زهٔ په برېتو ګوتې وهم . . .زمالورې هما، . . .تهٔ مخکښې هم زمالورې ځکه چې زما دَ دوست بلکه دَ رور اولاد يې او بيا به هم زمالور يې او ترڅو چې زما سترګې غړېږي دا رشته به نوره هم پخېږي . تهٔ که هر ځائے يې، ستا حېثيت به زما دَ لور وي خو زهٔ ډېر په افسوس سره دا وېم چې زهٔ ستا دَ عزت تحفظ نشم کولے ځکه چې زهٔ په خپله ستړه ناتوان يم. تا چې د شاکرپه پت کښې څومره وخت تېر کړو اودَ هغهٔ دَ



www.pukhto.net

یادونـو او عـزت دې څـومـره خیـال اوساتو دا ډېره ده ، بلکه دَ ډېرې نه ورتیـره ده . اوس زمـالـه خوا ته ازاده یې. تاته اجازت دے ، چې چاسره پـه خپـله مرضۍ او په خپله خوښخه وادهٔ کول غواړې نو کولې شې. ستـا د وادهٔ ټـول داج بـه دَ قاضي صېب له خوا نه بلکه زما له خوا وي. ستـا ډولۍ به دَ قاضي صېب دَ کوره نه بلکه زما دَ کوره اوځي او هغه چاکره به ځي چاسره چې تهٔ وادهٔ کول غواړې. که هغه زما دوست وي او که دشمن وي ، پـروا نیشتـه . پاتې شوه دَ زاهد دَ غلط حرکت خبره نـو دَ هـغهٔ نه به زهٔ دَ دغه غلط حرکت تپوس کوم او زما تپوس به زما پـه خـولهٔ نه وي بلکه زما دَ ټوپك په ژبه وي ." دَ مشرخان په دې اوچه کـلـکـه خبـره هـما خپلې سینې له لاس راچوي او په یره یره وائي،" نه باباجي داسې به نهٔ کوے . ما دَ پاره به په هغه لاس نه اوچتوے . ما دَ خپـل عـزت جواب په خپله کړې دے . زما دَ عزت دَ پاره خپل کور په خپل لاس مهٔ رنګوۍ .

مشـرخـان (پـه چـغـه ) زماکور هغه وخت رنګ شوے دے چې شاکر تـلـے دے . چې هغه لاړو نو دے دے هم ورپسې وي. دَ دهٔ په تلو هیڅ فرق نهٔ پریوځي.

هما:. نه باباجي ، داسې به نه کوۍ ، سوال درته کوم ، منت درته کوم . کـه تـاسـو پـه مـاتـنـګ شوي یې نو زهٔ به درنه لاړه شم ، خپل ځان به په سیـنـد لاهـوکـړم خـو نـه بـه دَ خان جي یادونه هېرکړم ، نه به دَ هغهٔ په امـانـت کښـې خیانت اوکړم اونهٔ به هغه کورته لاړه شم کوم نه چې زهٔ





راغلې یم."

زرتـاجـه:. بي‌بي، تـهٔ دَ خان بـابـا پـه خبره پوهـ نشوې. خان بابا نه په تا تـنـګ شـوے دے او نـه تـا دَ کوره ویستـل غواړي. خان بـابـا، ستـا په ناموس هرڅهٔ ته تیاردے خوکه تهٔ تیاره شي؟

هما:. زرتاجې ، زهٔ ستا په مقصد پوهـ نشوم .

زرتـاجـه:. بي بي ، کـه زهٔ درتـه دَ دربمګړي په حېث یوه خبره اوکړم نو خفه کېږې خو به نه ؟

هما:. ته خبره اوکړه بیا به کتې شي.

زرتـاجـه:. خـان بـابا ستا یوې اشارې ته بند دے . که تهٔ غواړې نو هغه وژلـے هـم شي او کـه تـه هـغـه مـعـاف کول غواړې نو هغه یې معاف کولـے هم شي. د دوي ستا په رضا ، رضا ده .

هـما:. زماله خوا هغه معاف دے . په ماچې څهٔ تېر شوي دي ، ما هغه هېر کړي دي .

زرتـاجـه:. نـه کـنـه بي بي ، هـغـه خو تاهېرکړل خوکه بیاداسې واقعه پـېښـه شي او دَ هـغـې نـوعیـت د دې نـه هم زیات وي نو بیا؟ (زرتاجه هـغـې ته په سوالیه نظر ګوري) "ګوره بي بي ، تهٔ پېغله یې، ماشاء الله ښائستـه یې بـلـکـه په ښائسته ؤ کښې ښائسته یې ، هغه هم ځوان زلـمـے دے . ښائسته دے ، او دے نه علاوه دَ خان بابا دَ کورنۍ واحد نـاریـنـه اولاد دے . . . چې . . . چې تـه هـغـه مـعـاف کولې شې نو آیا داسې نشي کېدے چې ستاسو دواړو شرم وحیا په خپل خپل ځائے



www.pukhto.net

پاتې شي او هغهٔ سره وادهٔ اوکړي؟

هما(په غصه) هغهٔ سره وادهٔ؟ آيا زهٔ يو داسې سړي سره وادهٔ اوکړم چې هغه دَ خپل مشر رور دَ مينې خيال نه ساتي؟

زرتاجه: هغه هم ځوك پردے نهٔ دے بلكه دَ خان جي خپل رورد ے. دَ هغهٔ خپله وينه ده . كه دَ ستاسو دواړو كور په كور شي نو نه به تور شي ، نه بـه پيغور شي . ستا مينه به په مينه او دَ هغه وينه به په وينه پاتې شي، يعنى ستاسو مينه او وينه به په خپل ځاے پاتې شي . . . ګوره بي بي، هغه نن سحر په خره اوتے دے . دا معلومه نه ده چې چرته تلے دے خو په تلو تلو كښې يې ماله يو خط راكړے دے (هغه دَ اړخ دَ جيب نه يو خط را اوباسي ، هغې له يې وركوي او وائي) "بي بي زهٔ په ليك لوست نه پو هيږم . ته دا خط اولوله چې دېكښې هغه څهٔ ليكلي دي. هما چې خط اوسپړي اولولي نو هغې ته وائي، "دېكښې يې دا ليكلي دي چې ، "همازماده ، زماده ، زما ده او زما به وي."

زرتاجه: د دے په جواب كښې تهٔ څهٔ وائي؟ هغه ډيره شيبه چپ وي خو چې هغه ترينه ځو ځله تپوس اوكړي نو وائي، "زما واك مخكښې هم باباجي سره وو او اوس هم باباجي سره دے " دې سره هغه پاسي او دَ كمرې نه اوځي .دَهغې دَتلو نه پس هغه مسكى شي ، مشرخان ته ګوري اووائي ، "خان بابا، اومبارك شه " مشرخان خپلې اوښكې اوچې كړي او وائي ، "لويه شې زرتاجې ، ستا دے مبارك شي" زرتاجه په مُسكا مُسكا دَ كمرې نه بهر اوځي ، زاهدخان ته فون كوي او مباركي وركوي".





## ﴿ نهم باب ﴾

دَ زاهدخان دَ وادهٔ تياري شروع وه . هغهٔ غوښتل چې دَ هغهٔ وادهٔ ډير په ساده طريقه اوشي. په دې وجه هغه دَ وادهٔ كارډونه چهاپ نهٔ كړل خو خپلو ترونو، خوريانـدو او نورو خپلوانو پسې په خپله اوګرځيدو او هغوي ته يې په تاكلي شوي نېټه كلكه بلنه وركړه په كلي كښې چې دَ هغهٔ دَ وادهٔ ګنګوسې خورشونودَ هغهٔ زميدارو، نوكرانو ،كسب ګرو او نورو عام خلقو غوښتل چې دَ شاكرخان دَ وادهٔ پاتې خوشحالي په دېكښې اوكړي. دې دَ پاره هغوي دَ ټنګ ټكور پروګرام جوړول غوښتل خو مشرخان هغوي په سختۍ سره منع كړل . په كور كښې هم دَ جينكو په ټنګ ټكور پابندي اولګيده . په كور كښې يو زاهد خان خوشحاله وه ځكه چې دَ هغهٔ ارمان بلكه ضد پوره شو او بله زرتاجه خوشحاله وه ځكه چې دَ مشرخان دَكور حيا په كور پاتې شوه . كله نه چې مشرخان دَ زاهد خان دَ وادهٔ نېټه ايښې وه نو هغه وخت نه دَ هغهٔ اوښكې نه اوچيدې . دغه حال دَ هما هم وو. هغې به دَ شاكرخان تصوير ته كتل او په ژړا ژړا كښې به يې دَ هغهٔ يوه يوه خبره يادوله . دَ نكريزو په شپه چې زرتاجه دَ هغې كمرې ته ورغله او هغې له نكريزې پورې كولې نو هغې دَ نكريزو پورې كولو نه انكار اوكړو . دَ هغې دَ زړهٔ ورغلے زخمونه بيا تازه شو. په تصوير كښې دَ شاكرخان په مخ خوره مُسكا هغې ته داسې ښكاريده لكه چې هغه دَ هغې په بې وفايۍ خندا كوي .



www.pukhto.net

دَ وادۀ شپـه وه دَ زاهـدخان دَ خپلو خپلوانو دَ راتلو قوي امکان وو خو دَ هما په وجه نۀ دَ هغۀ خوياندې راغلې نه دَ هغۀ ترونه ، نه تربوران او نه دَ هغوي دَ کورنۍ نـه بـل څـوك . دَ زرتـاجې دا خيال وو چې دَ هغۀ خـوياندې راشي نو هغو ي بـه نـاوې پـه خپـلـه تيـاره کړې خو چې تر مـاسـخـوتن پورې هغوي رانـه غـلـې نـو زرتاجې دَ هغې دَ وادۀ جوړه راواخـستـه او پـه زور زيـاتـۍ يـې هـغـې ته واغوستـه . هغې لا دَ هغې سـنـګـار کـوو چې بهر دَ کور ګېټ سره يوه لويه غلغله جوړه شوه . په دغـه شـور ژوږ کښـې شپـږ زنـانه پوليس اهلِ کارې کورته راغلې او دَ نـاوې کـمرې ته دننه شوې . دَ ورتلو سره هغوي زرتاجه يو خوا ته ديکه کـړه ، هـمـا يـې دَ لاس نـه اونيـوه او دَ هغې نه يې دَ هغې دَ نوم تپوس اوکـړو . دَ خپـل نـوم پـه ښـودنـه هغوي هغه دَ ښپړ نه کوزه کړه او څان سره يې روانـه کړه . هما هغوي ته او زرتاجې ته په حېرانتيا کتل لکه چې دَ هـغوي نه په چپه خولۀ تپوس کوي چې دا څۀ دي او هغه سره څۀ کـېږي خـو هـغـې لـه هيـڅـا جـواب ورنکړو . چې هغـه دَ کوره اوويستـلـې شـوه نـو زرتـاجې زاهـدخان ته کال اوکړو او ټوله خبره يې ورتـه اوکـړه . مـعلومه نه ده چې هغه چرته وو خو چې کورته راتلو نو هـغـه پـه پوليس وين کښې کېنولې شوې او تانې ته رسولې شوې وه زاهـدخـان چې دَ دې واقـعې نه خبر شو نو هغه ورپسې ډېر په تېزۍ سره تـانې تـه لاړو خـو دَ هـغـۀ دَ ورتـلـو نـه مخکښې پوليس هغه په حـوالات کښې بنده کړې وه . هغه چې دَ SHO دفتـر ته په ټهرېدلې





انداز ورغـۍ نـو SHO دَ هـغـۀ پـه تـعـظيـم کښې پاسېدو ، هغۀ ته يې سـلام اوکړو او پـه کرسـۍ يې ورته دَ کېناستو ست اوکړو . دَ کېناستو سره هغه دَ SHO نه په غصه تپوس اوکړو. "SHO ، تازما ناوې په څۀ کېس کښې راوستې ده . دې څۀ جرم کړې دے ؟"

SHO :. معافي غواړم زاهد خان زۀ مجبوريم ، ماباندې دَ بره نه پرېشر دے .

زاهـدخـان:. زۀ درنه دَ پرېشر تپوس نه کوم. زۀ تانه ، ستا دَ غېرقانوني اقدام تپوس کوم . تا دَ چا په حکم زما ناوې تانې ته راوستې ده.

SHO :. زاهـد خـان ، زۀ بې قانونه کارنه کوم او نه کولے شم . . .زاهد خان ، دَ شاکرخان په ناترسه مرګ ، پرنټ ميډيا يوه ستړي تياره کړې وه او په هغه ستړوري کښې يې دَ هغۀ محبوبه دَ هغۀ دَمرګ صلاح کاره ګرځولې وه .

زاهدخان:. تا دَ اخبار په ستوري دا ملزمه اوګرځوله او ګرفتاره دې کړه. صرف دَ اخبار په يوه فرضي او موضوعي ستوري ؟

SHO :. نـه زاهدخان ، مادَ اخبارپه ستوري دا نه ده ګرفتاره کړے او نه دغـسـې کـولـے شـم . . . هـائي کورټ په دغه واقعې سوموټو ايکشن واخـسـتـو او مـاتـه د دې دَ ګرفتارۍ حکم اوشو . هغه دَ مېز دَ دراز نه يو چهټـۍ راخـلـې او هـغـۀ لـه يې ورکوي . هغه چې چهټۍ اوګوري نو وائي، "ټيك ده ، زمـا ستـا پـه ګـرفتارۍ اعتراض پاتے نشو خوزۀ به دَ هائي کورټ دا فېصله په سپريم کورټ کښې چېلنج کوم .



www.pukhto.net

SHO :.بالکل بالکل . تاسوته اجازت دے .داستاسو قانوني حق دے.

زاهدخان:. زۀ خپله ناوې په خپل ضمانت کورته بوتلے شم؟

SHO :. نه زاهدخان داسې نشي کېدې . دې نه به زۀ بیان اخلم. دې نه به اینټاروګیشن کېږي ، که دې خپل جرم تسلیم کړو خو ډېره ښه ده . سبا له به یې مونږ چالان کړو ، عدالت کښې به یې ضمانت اوکړے او کورته به یې بوځے او که دې خپل جرم تسلیم نکړو نو بیا به پرې ریمانډ اخلو او دا سلسله به تر هاغې چلېږي چې ترڅو یې خپل جرم تسلیم کړې نه وي .

زاهد:. SHO صېب ، زماناوې ډېره ساده جینۍ ده ، هغه په دې معاملو نه پوهېږي. که د دې بیان زما په موجودګۍ کښې واخستلے شي نو ډېر به ښه وي .

SHO :. نه خان نه ، دَ دې بیان ستا په موجودګۍ کښې اخستلے کېدېشي او نه دَ هغې دَ بیان نه مخکښې ورسره ملاقات کولے شے. البته په دے کېس کښې به ستاسو نه هم تپوس کېږي.

زاهدخان:. مانه . . .؟ مانه به څۀ تپوس کوے ؟

SHO :. خفه نشے خان، خوتاخپل ځان په خپله مشکوک کړے دے.

زاهدخان:. ما . . .؟ ماخپل ځان څنګه مشکوک کړے دے ؟

SHO :. زن، زر، زمین، دا درے تېکي دَ فساد جرړې دي. دَ شاکرخان کونډه بي بي یعني دَ هغه زن ستاشوه ، دَ هغۀ ټول دولت ستاشو او دَ هغۀ ټوله زمکه ستا شوه . آیا داسې نه ده ؟





زاهدخان:. دَ هغۀ بي بي زما اورندار ده او زۀ نه غواړم چې دَ هغۀ دَ شهادت نه پس هغه ټول عمر په کنډتون کښې تېرکړي، دَ هغه زر او زمین کښې زما هیڅ نیشته څکه چې مشرخان لا دَ خېره ژوندے دے او هغه دَ هرڅه مالك دے .

SHO :. دا ټول تپوسونه به تانه کېږي خو چې مخکښې دَ بي بي نه اینټاروګېشن اوکړو او دَ هغې بیان مکمل کړو.

زاهدخان:.لږ په سوچ خبرې کوه هسې نه چې بیا په خپله خبره پښېمانه یې تۀ دَ مشرخان زوي زاهدخان سره خبرې کوے .

SHO :. ماته پته ده خان جي زۀ دَ مشرخان زوي زاهدخان سره خبرې کوم خو دَ قانون نه هېڅوك بالاتر نه دي. اوس ستا خوښه ده چې ته مونږ سره په حوالات کښې شپه کوے او که په ذاتي ضمانت دَ یوې شپې دوو دَ پاره کورته تلل غواړے .

زاهدخان:. زۀ دَ هائي کورټ دا فېصله نه منم. زۀ به دا په سپریم کورټ کښې چېلنج کوم .زۀ درنه لاړم.

SHO :. اوس لاړ شه که مونږ ته ستا ضرورت پېښ شونوسلام له به کورته درشو. زاهدخان هغه له هیڅ جواب ورنکړو ، په ډېره غصه دَ هغۀ دَ دفتر نه اووتو ، په ګاډي کښې کېناستو او روان شو. دَ هغۀ دَ تلو نه پس هما دَ حوالات نه را اوویستلې شوه او دَ SHO دفتر ته راوستې شوه . هغه دَ وادۀ په جوړه کښې ملبوسه وه او سره بنارسۍ یې په سر وه . SHO چې هغې ته اوکتل نو ځان سره یې غلې غوندې اووے



www.pukhto.net

"زاهد خان ته ګناه نيشته . په دے حسن خو هرڅوك دَ سر نه تېر دے "بيا يې هغې ته اووے ، "بي بي دغه کرسۍ کښې کېنه". چې هغه په کرسۍ کښې کېناسته نو SHO ورته يو ځل بيا اوکتل او وے وئيل ، "بي بي نن ستا دَ وادهٔ رومبۍ شپه وه او ستا په زړهٔ به ډېر ارمانونه وو خو افسوس دا چې زمونږه هم ډېره مجبوري ده . خفه نشې . . .بي بي په تا دَ شاکرخان دَ قتل شك دے . مونږ به تانه په دغه سلسله کښې بيان اخلو او تانه به تپوسونه کوو . . .که چرې ته مونږ ته په خپله دَ شاکرخان دَ قتل او دَ هغهٔ دَ قتل دَ منصوبې په حقله انکشاف اوکړې نوتاته هيڅ نيشته. مونږ به ستا بيان اوليکو او سبا له به دې عدالت ته چالان کړو او که چرې ته منکره شې نو مونږ له ستادَ داده کېدو چل راځي . مونږ ته پته چې تاشاکرخان په خپله نه دے وژلے او نه دغسې کولې شې خو دا راته اووايه چې ستا صلاح کار څوك دے ؟" هماژاړې او په ژړا کښې وائي، "SHO صېب ، که زهٔ دا اوېم چې هغه نه ما قتل کړې دې او نه دَ هغهٔ دَ قاتلانو ياصلاح کارانو نه خبريم نو ته به زما په خولهٔ يقين اوکړے؟

SHO :. نه چرې هم نه بلکه تا به تر هاغې پورې چېړو چې ته خپل جرم په خپله تسليم کړې او نورصلاح کار اوښايې"

هما:. او که زهٔ ستادَ وهلو ، ټکولو او بې عزتۍ نه بغېر يوداسے جرم تسليم کړم چې نه مِ کړې دې او نه ترېنه خبريم نو بيا.

SHO :. بي بي چې تهٔ خپل جرم تسليم کړې نو مونږ به تا چالان کړو





او عدالت کښې به دَ خپل بيان تصديق اوکړې. بيا به مقدمه چلېږي او فېصله به کېږي .

هما:. چې زه دَ قتل دا جرم تسليم کړم نوزما سزا به څهٔ وي؟

SHO :. بي بي هغه دَ وکيلانو او عدالت کار دے . زمونږ هغسې سره څهٔ واسطه نيشته .

هما:. نه صېب هسې تپوس کوم .

SHO :. عمرې قېد . . .،عمرڅهٔ تيرېږي، چې په ځان پو هېږې نو سزا به ختمه وي .

هما:. سزاې موت ولې نه ؟

SHO :. په سزايې موت او بالخصوص دَ ښځو په سزايې موت بين الاقوامي پابندي ده .

هما:. بياخو اونشوه صېب. دَ هغه اعترافِ جرم څه فائده چې سزايې موت ملاؤ نشي.

SHO :. ښه نو ته خپل جرم تسليموي؟

هما:. جرم که هرچاکړے دے خو زهٔ يې په خپل سر اخلم .

SHO :. تاسره شريك مجرم ؟

هما:. ستاسو په خيال څوك کېدېشي؟

SHO :. ستا سرتاج يعنى زاهدخان .

هما:. دغه تپوس دَ هغهٔ نه اوکړې ، د دے مختصر بيان نه پوليس لوے بيان جوړه کړو هغه اوليکلے شو او دَ هغې دستخط پرې اوشو. په سبا چې هغه



www.pukhto.net

چالان شوه نو عدالت کښې یې دَ خپل بیان تصدیق اوکړو او جېل ته اولېږلې شوه . زاهدخان چې په رومبۍ ورځ هغې پسې تانې ته تلے وو، هغې نه پس نه دَ هغې ملاقات له جېل ته لاړو او نه دَ هغې پېښې له کچهرۍ ته لاړو . په اصل کښې هغه تۀ خپله مسله پېښه شوې وه او هغه دا چې دَ هغۀ دَ ګنو په لس جریبه ونډ باندې چاحمله اوکړه . ټول فصل یې ورله څۀ شپه په شپه اوریبو او څۀ یې په ټریکټر کوتره کړو . سحر چې دَ هغۀ زمیدار پټې ته لاړو او خپل کوتره شوے فصل ته یې اوکتل نو دَ ډېره قهره په ژړا شو او په ژړا ژړا هغه له ورغۍ او ټوله خبره یې ورته اوکړه . هغۀ دَ تانې دَ SHO په نوم یو خط ورکړو او ورته یې اووے چې ، "دا خط SHO له ورکړه هغه به ستا امانې رپورټ اولیکي او چې غل پېدا شي نو بیا به ورسره ګورو . هغه زمیدار چې تانې ته لاړو او SHO له یې خط ورکړو نو هغۀ ورته اووے چې ، "زاهدخان ته اووایه چې په خپله راشي .ګپ به هم اولګوؤ او رپورټ به هم اولیکو". زمیدار هم دغسې اوکړل هغه چې دَ تانې نه واپس راغۍ نو زاهدخان ته یې دَ SHO دَ خولې ټوله خبره اوکړه . هغۀ هغه رخصت کړو او په خپله یې تانې ته تلل غوښتل چې دَ هغۀ دَ یو همدرد پولیس اهل کار له خوا ورته په فون اوویلے شو چې ، "تانې ته دَ راتلو نه مخکښې ضمانت قبل از ګرفتارۍ اوکړه تۀ دَ شاکرخان دَ مرګ په شُبه کښې ګرفتارېدے هم شے" .
زاهدخان چې دا واورېدل نو دَ پښو نه یې زمکه اوتختېده ، یوه شېبه دم ختلے ولاړ وو او بیا کورته روان شو . هغه په څوځو اړخه اووهلے شو. یو خوا دَ هغۀ دَ ځنګ نه دَ هغۀ ناوې اووته او جېل ته لاړه ، بل خوا دَ هغۀ په زمکه





ناجائزه حمله اوشوه ، درېمه دا چې دَ شاکرخان دَ قتل شُبه پرې پخه شوه ، څلورمه دا چې په کور اوکلي کښې یې هیڅ عزت پاتې نشو او دَ کلي دَ خندا شو، تردې چې خپل موبائېل یې بندکړو، نه یې چاته کال کوو او نه یې دَ چاکال اخستو او یو څو ورځې پس غېب شو.
دَ هما دَتلو نه پس دَ سهېل او مهوش زړونه هم مات شو. مشرخان هم په دغه غم کښې اخته وو، زرتاجه او نورې خدمتګارې هم دَ مشرخان دَ کور په بې عزتۍ او رسوائۍ خفه وې او دَ هغوي سبق ته یې هډو دَ چا خیال نه وو. بله دا چې دَ هما دَ تلو نه پس دَ هغوي زړونه دَ سکول او کورنه داسې تېکېدلي وو چې دواړه ځایونه ورته تورې بلاګانې ښکارېدې . دَ هغوي ملاسته دَ زرتاجې په کمره کښې وه او چې کله به زرتاجې دَ مشرخان دَ کورنۍ په حالت باندې ژړل نو هغوي به هم ورسره ژړل . هغې به په ژړا ژړا کښې مشره بي بي ، شاکرخان هما بي بي او زاهدخان یادوو. په خپله به هم کړېده او هغوي به یې هم کړول. هغوي دواړه به چې سحر دَ کوره اووتل نو ماښام تیاره به کورته راتلل. دا دومره لویه ورځ به هغوي چرته او کوم ځائے تېروله ، ظاهره ده چې دَ یوبل په کوځو کښې ، په لارو پټو کښې او دَ لوې هدېرې دَ جهاړو په ګرځېدو کښې.
ډاکټر لائبه چې دَ شاکرخان دَ مرګ نه خبرشوه نو هغې دا موقع غنیمت اوګڼله چې دَ هغه دعا به هم اوشي او خپلې لور سره به یې ملاقات هم اوشي . هغه چې دَمشرخان کورته ورغله نو په هغې کښې مکمله خاموشي وه . زرتاجې هغې سره سترې مشي اوکړل او



www.pukhto.net

دَ چایـو اوبو ست یې هم ورته اوکړو خو هغې دَ هرڅۀ نه انکار اوکړو او دَ شاکرخان پـه مرګ یـې ژړا کـولـه . هغـه لاناسته وه چې دَ چرته نه سهېـل او مهـوش دواړه کـورتـه راغـلل. هغې چې مهوش اولیده نو هغـې تـه داسې محسوسه شوه لکه چې دَ هغې دَ زړۀ په خزان زپلے باغ بانـدې دَ سپرلي چپې راغلې. دَ هغې په مخ رڼا خوره شوه او په دغـه رڼا کښـې هغـې ته دَ مهوش دَ حال او ماضي ټولې دریچې لرې شـوې . دَ راتـلو سره هغوي دواړه دَ کور یو اړخ ته کېناستل ، دَ جولو نه یـې کـچـه ببـرې پـه زمکـه واړولے او خپلو کښې یې دَ هغې تقسیم کـوو. ډاکټـر لائبې ورتـه دَ لـرې نه په مُسکا کتل خو هغوي دَ بیرو په تـقسیـم کښـې داسې مشـغـول وو چې هغې ته یې هډو خیال نه وو.
ډاکټرلائبې ډېـره شـېبـه هـغـوي ته کتل خو چې دَ هغوي مشغولتیا اوږده شـوه نـو پـه اوچت اواز یې اووې ، "مهوش ، مائي ډاټر" مهوش چې دا اواز وورېـدو نـو تـردده شوه او اواز پسې یې اوکتل . هغې چې ډاکټرلائبـه اولیـده نـو ټـولې ببرې یې سهېل ته پرېښودې او هغې له یـې ورمنډه کړه. دَ هغې غېږ ته یې ځان اورسوو او په چغو چغو په ژړا شـوه. مهـوش هـم ژړېده ، ډاکټر لائبه هم دَ هغې په ښکلولو ښکلولو کښـې ژړېـده او هـغـوي سره زرتاجه او نورې خدمتګارې هم ژړېدې .
مهـوش هـغـې تـه په ژړا ژړا کښې اووې ، "ماما ، ته چرته تلې وې ،ما تـاپسې ژړل، تۀ ولې نۀ راتللې ماما." هغې خپلې اوښکې اوچې کړې او ورتــه یـې اووې ، "مهـوش مـائي ډاټـر، آئي ایم سوري مـائي ډاټر ،





وېـرې سـوري" بیا به داسې نۀ کېږي زۀ تاپسې راغلې یم او تا ځان سره کورته بوځم، سهېـل چې دَ هغوي خبري وورېدے نو دَ ببرو شمار یې په ځائے پرېښـودو او دَ هغوي په ننداره شو. مهوش ورته په خپله وړه ژبه وائي، "ماما، مشره بي بي مړه شوه ...خان جي انکل مړشو. هما آنټي چرته لاړه ...او ...اوزاهد انکل هم چرته لاړو.هغوي چرته لاړل ماما".
ډاکټر لائبه :. رابه شي لورې ، تۀ دعا کوه نو ټول به راشي.
مهـوش:. مشـره بي بي اوخان جي انکل به هم راشي؟ هغوي چې مړۀ شـوي دي . دَ هغې په دے معصومانه تپوس هغوي ټول بیا په ژړا شي . هغـه تـرنـاوختـه پـورې نـاستـه وه او زرتـاجې سره یې دَ شـاکرخـان دَ ځـوانـمـردۍ پـه بـاره کښـې خـبـرې کـولې . بیا یې ځان سره دَ مهوش دَ بـوتـلـو اجازت دَ پاره هغې ته خواست اوکړو . زرتاجې دَ هغې خواست قبول کړو، هغه یې دَ لاس نه اونیوه ، مخ لاس یې ورله اووینځل . بیا یې خپـلـې کـمرې ته بوتله صفا جامې یې ورته واغوستولې او نوې کېږې یې ورته په پښو کړې. بیا یې ورله سر ګمنز کړو او دَ هغې غاړه غوټه اودَ کتـابـونو بېګ یې راواخستو او بهر په کټ کښې یې کېښودو . سهېل هغې ته ډېرشېبه کتل او په خپل خیال کښې ډېر لرې تلے وو. کله چې ډاکټر لائبې دَ زرتـاجې نه اجازت واخستو او تله نو هغې په دواړه مخه ښـکـل کـړه او پـه خـنـدا یـې رخصت کړه . دَ مور او دَ لور په خوشحالۍ کښـې سهـېـل دَ مهـوش دَ خیـال نــه اووتـو . نـه یې دَ هغـۀ نـه رخصت واخستـو او نـۀ یې دَ هغۀ په طرف اوکتل . هغۀ ، هغې ته او دَ هغې بې



www.pukhto.net

رخۍ ته يوه شېبه په ډکو سترګو کتل خو چې هغه په خوشحالۍ خوشحالۍ مورسره دَ کوره اووته نو هغه دومره خفه او غصه شو چې دَ بېرو دوارو ډهېروله يې په پښو لتې ورکړے ، په ټول کور کښې يې اونوستلے او په دغه نوستلو نوستلو کښې هغه هم دَ کوره اووتو . دَ مشرخان کور ته راغلې اخري معصومه جوړه هم اووته او دَ کور په بدمزګۍ کښې نوره هم اضافه اوشوه . مهوش دَ ډاکټر لائبې دَ پاره دَ دنيا دَ ټولو تحفونه لويه تحفه وه . کله چې دغه ورکه ملغلره هغې له په لاس ورغله نو هغې ته داسې محسوسه شوه چې د دنيا ټولې خزانې دَ هغې غېږ له راغلې . دَ هغې په ديدن نه دَ هغې دَ تږو سترګو تنده ماتېده او نه دَ هغې زړۀ له قرار راتلو . هغه مهوش چې دَ هغې دَ سينې نه شوکېدلې وه ، قدرت دَ هغې سينې له بيا راوسته . هغوي مور او لور ټوله شپه غېږ په غېږ پرتې وي خو سهېل شپه په شپه دَ کلي نه اووتو او دَ نامعلوم منزل په لور روان شو . ترماسخوتنه پورې چې هغه کور ته لانه رونو زرتاجې سره دَ هغۀ غم شو . هغه ورپسې دَ کور په ټولو کمرو کښې او ټولو ګوټونو کښې اوګرځېده خو چې هغه يې اونه موندو نو بيا يې دَ نوکرانو نه دَ هغۀ متعلق تپوسونه اوکړل . چې دَ هغوي نه مايوسه شوه نو بيا يې ډاکټر لائبې ته فون اوکړو او دَ هغۀ معلومات يې ترېنه اوکړل خو چې کله دَ هغې نه هم نااميده شوه نو دا يې دَ قدرت دَ ازمائش يوه بله پېښه اوګڼله او په چپه خولۀ خپلې کمرې ته روانه شوه .





## 《 لسم باب 》

زاهدخان خان يو څو ورځې يو ځائے بل ځائے تېرے کړے.

هغه په زړو يارانو زړو هم جماعتو او په زړو ملګرو په دے غرض ګرځېدو چې که چرې هغه ته دَ پنايۍ زړۀ پورے ځائے ملاؤ شي نو هلته به ډېره شي خو چې کوم يار دوست ته به يې په خبرو خبرو کښې خپله قيصه تېره کړه نو دَ هغۀ به داکوشش وو چې هغه زرترزره لاړ شي او بلې شپې ته پاتے نشي. ځينو ملګرو هغه له مشوره ورکړه چې غل نه يې نو دَ باچا نه هم مۀ يرېږه خو هغۀ ته پته چې دَ ساز نه غل جوړول پوليس دَ پاره څۀ لويه خبره نه ده . ځينو ورله دَ ضمانت قبل ازګرفتاري مشوره ورکړه خو دَ مشورې نه علاوه چاهم دَ هغۀ هيڅ مرسته اونکړه . هلته پوليس دَ هغۀ دَ ګرفتارۍ په لټون کښې وو، او دَ هغۀ په کور او حجره يې پرله پسې څو څو چهاپې اووهلے خو هغه په لاس ورنۀ غې ، هغه چې دَ ټولو نه مايوس شو نوعلاقه غېر ته يې دَ تلو اراده اوکړه خو په دغه سيمو کښې دَ ترهه ګرو خلاف اپرېشن روان وو نو دَ هغۀ په خيال هلته دَ هغۀ تګ دَ خطرې نه خالي نه وو. دَ خُدائے په دې دومره لويه دنيا کښې هغۀ دَ پاره دَ پنايۍ او قرار ځائے هيچرته نۀ وو. په دغه ګرځېدو ګرځېدو کښې هغه څو څله پټ په پټه کلي ته لاړو خو بيا داسے غېب شو چې دَ مړ ژوندي يې هېڅ پته نۀ لګېده .

هلته هما دَ يوې قاتلې ملزمې په حېث په جېل کښې پرته وه . نۀ دَ



www.pukhto.net

هغې ملاقات له څوك لاړل او نۀ چا دَ هغې دَ خېر خیریت معلومات اوکړل . هغه هما چې دَ شاکرخان دَ ارام ګاه په چمن کښې او دَ هغۀ په باغ کښې به لکه دَ مستې هوسۍ ګرځېده. دَ وړمو ډك ګلونه به یې بویول ، دَ باغ خوږې او لذیذې مېوې به یې خوړلې او په پسته بستره کښې به پرته وه ...هغه هما چې دَ هغۀ په غېږه کښې به پرته وه او هغۀ به دَ خوند خوند څیزونه خولې کښې ورکول ، اوس دَ جېل په انسانیت سوز ، بدبودار ماحول کښې اوچه ډوډۍ کرپوي او په اوچ فرش سملي ...هغه هما چې هرسحر او هرماښام به یې دَ ارام ګاه دَ واش روم په مرمرین ټب کښې په خوشبوداره صابن لامبل او صفا پستې جامې به یې اغوستې اوس یې په چونګ اوبو مخ لاس وینځو اودَ لامبلو ځائے ورته نه ملاوېدو . په جېل کښې نن دَ هغې شلمه ورځ وه خو په غاړه کښې یې لاهغسې دَ وادۀ هغه جوړه وه په کومه کښې چې هغه تانې ته راوستې شوې وه . هغه هما چې دَ هغۀ په غېږ کښې هغۀ پسې بې قراره وه او دَ هغۀ دَ جُدایۍ لمحې یې نشوې برداشت کولې اوس دَ هغۀ دَ قتل په کېس کښې دَ یوې قاتلې ملزمې په حېث دَ خپل ژوند او دَ دنیا دَ ناکړدونه مایوسه په لویه نېټه دَ جېل په پنجره کښې بندیوانه پرته وه . کله کله به هغې ته دا احساس کېدو چې هغه واقعې سپېره ده . دَ هغې په وجه دَ مشرخان دَ خانۍ کور تباه شو، هغه رسوا شو او دَ خلقو دَ خندا شو. دَ هغې راتلو سره مشره بي بي لاړه، چا دَ پاره چې راغلې وه هغه لاړو، مړ هم شو او





پړ هم شو. پړ په دې شو چې هغۀ دَ سوات کهوالو له پناه ورکړې وه. هغې خپل ځان دَ دې ټولې تباهۍ باعث ګڼو. دَ هغې په زړۀ او ذهن کښې ډېر خیالونه ، ډېر یادونه او ډېرې خبرې وې خو چې دَ کومې واقعې خیال دَ هغې ژوند بې قراره کړے وو هغه دَ زاهدخان هغه غلط حرکت وو چې هغه نۀ هغې هېرولې شو او نه هېرېدو بلکه دَ هغې په ذهن کښې لکه دَ زهرژن مار تاوېدواو وخت په وخت به یې ټکونه ورکول . دَ هغې دَ مینې داستان دروغ شو او هغه دَ ټوقې خبره چې I will kill you رشتیا شوه او په هغې ټکې شوه .

دَ جېل دَ قیدیانو او حوالاتیانو ملاقات له به زنانه او نارینه راتلل او دَ قېدي او حوالاتي نومونه به په چغه اخستلے کېدل. دغه نومونه به هغې اورېدل خو خپل نوم یې چرې هم دَ چا دَ خولې نه وونۀ رېدو. په دې دومره موده کښې دَ هغې ملاقات له هیڅوك رانه غلل . قاضي صېب او خوش نصیبه ابې دَ هغې دَ واقعې نه خبر نه وو. سهېل ماشوم وو او په دے چلونو نه پوهېدو ، دَ زاهدخان نه یې نه دَ ملاقات امید وو او نه یې ورسره ملاقات کول غوښتل، په مشرخان دَ دنیا غمونه پنډ وو خو په زرتاجې څۀ اوشو؟ هغه دَ هغې ملاقات له ولې رانۀ غله . هغې په چپه خولۀ او ډکو سترګو لادغه سوچونه کول چې په دغه نومونو کښې دَ هغې نوم هم ناصافه واخستے شو. هغې اګر چۀ خپل نوم وورېدو خو دَ هغې دا خیال وو چې شاید دا دَ هغې په نوم شریکه څوك بله زنانه ده . چې په دغه نوم بل څوك پانۀ سېدل نو



www.pukhto.net

هغه پاسېده او زنانه پولیس سره دَ ملاقات ځائے ته روانه شوه چې هلته ورغله نو زرتاجه ولاړه وه او دَ سلام په اشاره یې په مُسکا مُسکا رابللـه . چې کله دَ هغوي دواړو سترګې اولګېدې نو دَ هغوي مُسکا په ژړا بدله شوه او دَ دواړو په مخونو لړۍ لړۍ اوښکې راماتې شوې. زرتاجې هغې ته په ژړا ژړا کښې اووې ، "بي بي تادَ خان جي قتل په خپل سر ولې واخستو".

هما: ستاخبره رشتیا ده زرتاجې، ټولې دنیا ته پته ده چې زۀ بې ګناه یم خو زۀ خپل ځان ګنهګار ګنم . زرتاجې تانه زمونږ مینه پته نه ده خو قدرت تـه دا منظوره نه وه او هغه یې رانه واخستو. چې هغه رانه لاړو نو بیا زما دَ ژوند څۀ فائده ؟ هغه شهید شو او دَ شهید ځائے جنت وي . زۀ هم بې ګناه شهادت غواړم چې دَ هغۀ په حورو کښې شامله شم.

زرتاجه: اوه خُدایه . . .داسې خبرې مۀ کوه بي بي . زۀ به ستا دَ پاره دَ وکیل بندوبست کوم او ته به انشاء الله روغه جوړه او صحي سلامت خپل کور ته راځې.

هما: خپل کور ته ؟ زماخپل کورچرته هم نیشته . چې خان جي لاړو نو په هغه کور کښې زما څۀ پاتې شو؟ . . .صرف توراو دَ ټول عمر پېغور . . .؟ ما دَ پاره دَ وکیل نیولو کوشش مۀ کوه زرتاجې، بس دا دعا راتـه کـوه چې زر ترزره هغه اووینم او دَ یوې ادنیٰ حورې په حېث دَ هغۀ په حورو کښې شامله شم .

زرتاجه: بي بي ، مادَ خان جي په ژوندستاسو دَ وادۀ دَ پاره ډېرسوالونه





کړي وو خو ستا دَ مرګ سوال نشم کولې (ژاړي).

هما: زرتاجې ، زما په حال ژړا مۀ کوه . زۀ په خپل حال ډېره خوشحاله یم ځکه چې زۀ هغه منزل ته نزدې یم کوم چې زه غواړم.

زرتاجه: خان بابا ، ستا په کړون ډېرخفه دے .

هما: اوه ، ماخو دَ باباجي هډو تپوس اونکړو. هغه څنګه دے ؟

زرتاجه: دَ هغۀ تپوس مۀ کوه بي بي. هغه دَهرڅۀ نه پاتے دے . په خپله کمره کښې پروت دے او دَ ژوند پاتې ورځې شپې شماري.

هما: سهېل څنګه دے ؟ مهوش څنګه ده ؟ سکول ته ځي راځي؟

زرتاجه: مهوش پسې ډاکټرلائبه راغلې وه او هغې ځان سره کورته بوتلـه . سهېل غریب ستاپه وجه خفه دے . ستادَ تلونه پس هغۀ سکول پرېښے دے او دَ تېروخوورځو نه چرته غېب شوے دے". دَ هغې په انکشاف دَ هغې سترګې یو ځل بیا ډکې شوې او هغې ته یې اووے ، "زرتاجې ، سهېل دَ قاضیانو دَ کورنۍ اخري نارینه اولاد دے او زمونږ ټولو هغۀ تـه سترګې دي خو داسې معلومېږي چې زما سپېرې په وجه دَ هغۀ مستقبل هم خُدائے مۀ که دَ تیرونه ډك شو.

زرتاجه: مامعاف کړه بي بي، زۀ تاته ډېره ملامته یم.

هما: نه زرتاجې نه ، تادې خدائے چرې هم ملامته نۀ کړي. دېکښې ستا هیڅ غلطي نیشته . بلکه دا هر څۀ دَ هغه چا په اشاره کېږي دَ چا په لاس کښې چې زمونږ دَ قسمتونو مزي دي . زمونږ خبرې ، ګرځېدل ، ناسته پاسته ، غم ،خوشحالي، کامیابي ناکامي، مینه او



www.pukhto.net

کرکه ، زمونږ په وس کښې نه ده بلکه دا هرڅۀ زمونږ دَ قسمت دَ مالك په لاس کښې دي. مونږ دَ ژوند په سمندر کښې په هغه کاغذي کشتۍ کښې دَ ژوند هلې ځلې کوو چې دَ سيلۍ ګلۍ اوبادوباران نه علاوه په خپله روسته شي او دَ ژوند ختمه هنګامه شي. اودَ دغه سمندر په چپو کښې داسې غېبه شي چې هډو نوم نشان يې پاتې نشي.'' هغوي لاخبرې کولې چې دَ ملاقات وخت ختم شو او هغوي ته دَ تلو دَ پاره اووېلے شو. زرتاجې هغې له جامې پېزار ، دَ خوراك څښاك څېزونه ، پېسې ، توليه صابن ، اينه ګمنزه وغېره ورکړل هغوي دواړو يو بل ښکل کړل او دَ رخصت په وخت کښې ورته هغې اووې ، ''زرتاجې ، زما دَ طرفه دَ ارام ګاه دَ چمن نه ښۀ ډېر ګلونه اوشوکوه ، هغه تهول دَ خان جي په قبر واچوه او ما دَ پاره ترېنه بخنه اوغواړه ''. دې سره دواړه په ژړا شي او دَ يو بل دَ سترګونه پناه شي.

《 دوېمه برخه 》

وېلے کېږي چې دَ انسان بدن کمزورے شي نو دَ مختلفو بيمارو ښکار شي او چې په متهو او دولت کمزورے شي نو خپل خپلوان او ياران دوستان ترېنه بېزار شي . دغه حال دَ مشرخان هم وو. يوخوا هغه دَ عمر په لحاظ بوډا شوے او کمزورے شوے وو نو په دې وجه يې کټ نيولے وو بل خوا هغه په متهو کمزورے شوے وو. شاکرخان ترېنه لاړو او دغه شان زاهدخان هم ژوندے جاړ غېب شو. دَ هغۀ خپلې لوڼه ، حنا او بلقيس دَ هما په وجه دَ هغۀ کور ته نه راتلې





او کله چې دَ زاهد خان او هما وادۀ جوړ شو نو دَ فون او موبائېل په ذريعه اختنه پوختنه هم پاتې شوه . هغه تاريخي حجره چې دَ هغې په رونق دَ مغلو دَ دربار مينه ماتېده او هر وخت به ډك دسترخوان چلېده ، اوس داسې شاړه شوه چې دَ يو څونوکرانو نه او دَ يو څو زميدارو نه علاوه هيڅوك ورته نه راتلل . دَ کورخدمتګارې زېتون به دَ ضرورت مطابق دَ کور او حجرې دَ پاره اخلې پخلې کوو او زرتاجې به دَ مشرخان دَ خوراك څښاك او دَ دارو درملو خدمت کوو.

کله چې دَ مشرخان زوړ دشمن ، دَ ليوني خېلو هستم خان ته پته اولګېده چې هغه بوډا شوے دے او دَ هغۀ متهې پرېکړې شوي دي نو هغۀ او دَ هغۀ ډلې دَ مشرخان زميدار تنګول شروع کړل. دَ هغوي دَ تنګولو شروع يې دې نه اوکړه چې دَ هغوي دَ زمکو نه يې نهري اوبۀ واړولې اوخکته يې خوشې کړے . دَ مشرخان زميدارو نه غوښتل چې هغۀ ته خپله ژړا فرياد اوکړي ځکه چې هغه ناجوړه وو او دَ څو ورځو نه يې کټ نيولے وو نو په دې وجه هغوي دَ هغۀ په پريشانۍ کښې اضافه کول نه غوښتل . هغوي خپلو کښې يوه غُنډه اوکړه او دَ مشرخان په ځاے همايون خان او اکبرخان له ورغلل ځکه چې دَ هغوي زميدار هم په متاثرينو کښې شامل وو . هغوي دَ تصفيې دَ پاره هستم خان له خپل ناظران اولېږل او اخر دا چې هغه سره يې خپله فېصله اوکړه . فېصله داسې اوشوه چې همايون خان او اکبرخان ته نهري اوبۀ ازادې شوې خو دَ مشرخان په زميدارو بندې



www.pukhto.net

شوي . . .دَ مشرخان زمیدارو چې دا فیصله ووریده نو ټول زوړنده سرونه واپس شو. ویلے کیږي چې ګوجر ازاروے نو کتاکتےے ورله ازارکړه او چې زمیدار ازاروے نو فصل ورلـه لتاړ کړه . دغه کاردَ مشرخان زمیدارو سره هم اوشو. چې دَ هغوي په فصل اوبۀ او چې شوې نو دَ هغوي فصلونه مړاوے شو اولکه دَ هغوي یې سرونه ټیټ کړل خوکله چې هغوي تـه دَ خپلې تباهۍ او بې غېرتۍ احساس اوشو نو هغوي ټولو سرونه اوچت کړل. ټول دَ مشرخان دَ کور لوے ګېټ سره اودریدل او چغې سورې یې وهلے. دَ هغوي په چغو لړو زرتاجه دَ کوره رااووته او ټول یې حجرې ته راغونډ کړل . دَ هغې په تپوس باندې هغوي ټولو په یوه خولۀ اووے چې، "دَ لیوني خپلو هستم خان دَ مشرخان په زمکه نهري اوبۀ بندې کړي دي. زمونږ فصلونه اوچ شواو مونږ تباه وبرباد شو. مونږ هرڅۀ ته تیار یو، خپله وینه هم تویولے شو او دَ بل هم خو چې دَ مشرخان له خوا راته اجازت اوشي ".

زرتاجه: تاسو ټولو ته پته ده چې مشرخان ناجوړه دے . هغه تاسوله راوتے نشي .

یوزمیدار: چې هغه راوتے نشي نوخوله خو یې چلیدېشي کنه. ته ورشه هغۀ لـه زمونږ سلام ورکړه او مونږ دَ پاره ترینه پېغام راوړه. دَ هغۀ په بې ډهبه لهجه دَ هغې روځې خړې شي خو هغه خپله غصه ضبط کړي او وائي،"تاسولږ ایسارشۍ زۀ راځم". هغه دَ هغې دَ بلې





خبرې انتظار اونکړي او ډېره په تېزۍ سره کورته ځي .چې کورته لاړه شي نو همایون خان ته فون کوي او ورته وائي ، "خان جي ، زۀ دَ مشر خان خدمتګاره زرتاجه خبرې کوم . زمونږ په زمیدارو دَ لیوني خپلو هستم خان نهري اوبۀ بندې کړې دي . . ."

همایون خان دَ هغې دَ خولې نه خبره اخلي او وائي، "ستا په زمیدارو . . .؟ تۀ دَ کلـه نـه دَ مشرخان میراث خوره شوې؟ په دې لانجو کښې ګوتې مۀ وهه. تۀ خدمتګاره یې او خدمتګاره اوسه ".

زرتاجه: خان جي ، دېکښې هیڅ شك نیشته چې زۀ دَ مشرخان خدمتګاره یم خو دَ مشرخان ټول زمیدار راغلي دي او هغه ته ژړا فریاد کول غواړي خو هغه ناجوړه دے او دَ کوره وتے نشي. زۀ هغوي سره څۀ اوکړم " ؟

همایون خان: تۀ هیڅ نشي کولې . ستا چې کوم کاردے هغه اوکړه او بس".

زرتاجه: زۀ پو هـ نشوم خان جي؟

همایون خان: تۀ دَ هغوي دَ چایو اوبو خدمت اوکړه ، دغه ستاکاردے. دې نه علاوه هیڅ .

زرتاجه: دغه به زۀ اوکړم خوته هستم خان سره خبره اوکړه چې دا مسله حل شي.

همایون خان: هستم خان برېنډ سړے دے ، زۀ دَ هغۀ دَ ډغرونه یم، البته مونږ ورسره خپله فیصله کړې ده او زمونږ زمیدارو ته اوبۀ خلاصې دي.



www.pukhto.net

زرتاجه: خان جي ، داخو تولې مشترکه اوبه دي. چې تاسو ورسره خپله فېصله کوله نو غُنډه فېصله به موکړې وه . اوس زمونږ زمیدار څۀ اوکړي او چاته فریاد اوکړي؟

همایون خان: چې تۀ يې نوبل چاته دَ فریاد کولو څۀ ضرورت دے ؟ دې سره دَ هغۀ دَ خوا خبرې بندې شي . دې نه پس هغه اکبرخان ته فون کوي خو دَ هغۀ ردِ عمل دَ هغۀ نه هم سخت وو. هغه ورپسې زیاته کړه چې "مشرخان سره نکاح اوکړه چې دَ هغۀ میراث خوره شي". اګر چې دَ هغۀ خبره په هغې ډېره بده اولګېده خو هغۀ له يې هیڅ جواب ورنکړو او په چپه خولۀ يې فون بندکړو . چې دَ دواړو نه مایوسه شوه نو دَ شاکرخان کمرې ته ورغله ، دَ هغۀ تصویرته اودرېده او په ډکو سترګو يې ورته اووې ، "خان جي ، ستا مرګ صرف ستا مرګ نه وو بلکه دَ مشرخان دَ تولې کورنۍ مرګ ، تباهي او رسوائي وه. ستاتلو سره هرڅۀ لاړل او هیڅ پاتې نشو. خان جي، زۀ ستاسو دَ کورنۍ بې عزتي نوره نشم برداشت کولې خو یو تپوس درنه کولې شم چې زۀ خپل سر، ستاسو دَ کورنۍ په عزت قربانولې شم ؟" هغه دَ تپوس په غرض دَ هغۀ تصویر ته په ځیرځیر ګوري او بیا مُسکۍ شي. هغه دَ خپلولېچونه بنګړي اوباسي او یو خوا ته يې غورځوي. بیاخپلې متې انغاړي ، خپله لوپټه پټکے کړي، بډې اووهي ، خپل پړونې لتۍ کړي، دَ هغۀ کلاشن کوف په لاس کښې نیسي او ګټه غاړې ته اچوي او دَ کمرې نه اوځي . هغه په تلو تلو کښې زېتون ته





وائي ، "زیتون ، دَ خان بابا خیال ساته ". دې سره هغه دَ پښو کېږي یو خوا ته لړه کوي او ډېره په تونده سره بهر اوځي . هغه په داسے حالت کښې حجرې ته ورشي چې دَ هغوي پرې دَ زرتاجې نه بلکه دَ زرتاج ګمان راشي . هغه ټولو ته په اوچت اواز وائي، "زما مشرانو ! ماته ډېرافسوس دے چې مشرخان تاسو له راوتے نشي ځکه چې هغه ناجوړه دے او زاهدخان په کلې کښې نیشته خو تاسودامۀ ګنۍ چې دَ مشرخان کوروران شو او دَ هغۀ نغرے سوړ شو. په دغه سړه ایره کښې لا داسے بڅرې شته چې هغه دَ اغیار په کور اورلګولے شي. ماخپل شرنګېدلي بنګړي دَ خپلو لېچونه اوویستل او کلاشن کوف مِ په دے غرض راواخستو چې تاسو ته داثابته شي چې تاسو یواځے نه يې بلکه دَ مشرخان خدمتګاره تاسو سره اوږه په اوږه او ځنګ په ځنګ ولاړه ده . تاسو ټول خپلو خپلو پټو ته لاړشۍ ، خپل بندونه او ورخونه خلاص کړۍ او زۀ ورځم چې ستاسو په والۀ اوبۀ راواړوم ". هغه هغوي سره بله خبره اونکړي ، کلاشن کوف په هوا کښې اوچت کړي او دَ نهر پلو روانه شي. زمیدارو چې هغه په تلو اولیده نو ټول هغې پسې روان شو. چې نهر ته اورسېده نو هغه کلاشن کوف په لاس اودرېده او یو څو زمیدارو نهر ته ورټوپ کړو. دَنهرخوله يې بنده کړه او ټولې اوبۀ يې په خپله والۀ راواړولے . هستم خان چې خبرشو نو هغه ورپسې سره دَ زامنو راغۍ او دَ راتلو سره يې په هغوي هوائي ډزې اوکړے . هغې ټولو زمیدارو ته اووې ، "تاسو



www.pukhto.net

تړول خپلو خپلو پټو ته لاړ شي ، زۀ د دوي جواب کولې شم ". او
واقعي هم دغسې اوشوه هغوي تړول خوارۀ شو ، خپلو خپلو پټو ته
لاړل او په ګڼو خلقو کښې هغه او دَ مشرخان ډرائيور کمال پاتې شو .
په تلو تلو کښې هستم خان او دَ هغۀ زامنو په هغوي يو بار اوچلوو
خو چې دَ هغوي دَ طرفه څۀ جوابي کارروائي اونشوه نو دَ هغوي
حوصله نوره هم زياته شوه او په هغه طرف روان شو چرته چې دَ ولې
خولۀ وه چې هلته اورسېدل نو دَ هغۀ يوزوي بڼې وهلے چې نهر ته
ورکوز شي ، دَ نهر اوبۀ خلاصي او دَ ولې خولۀ بنده کړي . دَ هغۀ بل
زوي کلاشن کوف اوچت کړو او هوائي فائر يې کوو . دَ هغۀ ډزے لا
روانے وې چې زرتاجې دَ هغۀ کلاشن کوف په نخښنه کړو . دَ ترڅ سره
کلاشن کوف اولګېدو ، دانه وانه شو او دَ هغۀ دَ لاس نه لاندې پرېوتو .
هستم خان چې ډز پسې روستو اوکتل نو ډز ته يې ځان جوړوو چې
کمال پرې ډز اوکړو . ډز سره دَ هغۀ دَ پښو دَ مينځ نه دوړه پورته شوه او
هغه په شا شو . دواړه طرفېن مورچه شو او دَ ډزو سلسله شروع شوه .
ماښام تيارۀ پورې ډزے کېدے خو دَ مړ ژوبل هيڅ پته نۀ لګېده . دَ هستم
خان دَ طرفه ډزے بند شوے خو دَ زرتاجې او کمال له خوا لا هغسې يو يو
ډز کېدو . کله چې دَ هغوي يقين پوخ شو چې هستم خان او دَ هغۀ زامن
دَ شپې په تيارۀ کښې اوتختېدل نو کمال زرتاجې ته اووې ، "داسې
معلومېږي چې هغوي تختېدلي دي ، راپاسه چې مونږ هم ځو."
زرتاجه: . کماله زۀ نه پاسېدېشم اونه تلې شم . زۀ زخمي يم .





کمال (په يره) په . . . په کوم ځائے لګېدلې يې؟
زرتاجه: . زۀ په رومبو ډزو کښې په پښه لګېدلې يم او داسې معلومېږي
چې غوټه ماته ده . کمال زر زر دَ هغې دَ سر نه دَ پټکي لوپټه سپړي او دَ
هغې ماته پښه پرې کلکه تړي . بيا هغې ته وائي ، "زرتاجې ، که ته بدنۀ
ګڼې نو ماته په شاشه چې تاکورته اورسوم نو بيا به ګورو."
زرتاجه: . نه کماله . کورته دَ اوړو په ځائے ، ما هسپتال ته اورسوه . ځه
ورشه ګاډے راوله . او هغۀ په تلو تلو کښې زما کلاشن کوف هم ځان
سره يوسه او دَ هستم خان هغه مات کلاشن کوف هم ځان سره يوسه .
ځه ورځه شابه ، وخت مۀ ضائع کوه . هغه هم دغسې اوکړي . دَ
هستم خان دَ زوي مات کلاشن کوف لا هغسې پروت وو . هغۀ دَ هغې
نه هم کلاشن کوف واخستو . هغه مات کلاشن کوف يې هم ځان
سره واخستو او ډېر په تېزئ سره روان شو . چې حجرې ته اورسېدو نو
هلته دَ حجرې ګېټ سره ډېر خلق ولاړ وو او په ډزو يې تبصرې کولے
. دَ حجرې ګېټ سره دَ ډاکټر لائبې ګاډے ولاړ وو او هغه او مهوش
دواړه ګاډي سره ولاړې وې . دَ هغۀ په ورتلو سره خلقو دَ هغۀ نه دَ
زرتاجې په حقله تپوس اوکړو نو هغه ورته اووے چې هغه لګېدلې
ده او هلته پرته ده . ډاکټر لائبې چې داخبره واورېده نو هغۀ ته يې اووې
، "ته خپله وسله سمباله کړه او زر راځه چې هغه هسپتال ته اورسوو
هغۀ هم دغسې اوکړل هغه چې خپله وسله سمباله کړه نو هغې سره
ګاډي کښې کېناستو . چې ګاډے روان شو نو ډاکټر لائبې کمال ته



www.pukhto.net

اووې ، "کـه تاسو پـه تانـه کښې رپورټ درج کول غواړۍ نو بیا بـه سرکاري هسپتال ته اوړل غواړي او که رپورټ درج کول نه غواړې نو زۀ به يې خپل هسپتال ته يوسم ."

کمال:. مـېډم مونـږ رپورټ درج کول نه غواړو. دواړه طرفين ډېر وے ، کـه هـغـوي کښې څۀ مرګ ژوبله شوې وي نو دَ هغې دعوىٰ به ارو مرو په مونږ وي او مونږ به بيا دَ هغې علاج ته جوړ نشو. ښۀ به دا وي چې پرائېوېټ هسپتال تـه يې يوسو چې چاته يې هډو پته نه لـګي . پـه دغـه خبرو خبرو کښې هغوي هلته اورسېدل . ډاکټر لائبې چې ګاډے اودروو نو دواړه ترينه کوز شو . هغې دَ ګاډي کهړکۍ لرے کړه او هغۀ ته يې اووې ، "ته ورشه هغه اوچته کړه او دلته يې راوړه".

هغـۀ هم دغسې اوکړل ، لاس يې ورلاندې کړو، پـه غېږ کښې يې اوچتـه کړه او هـغـې سره يې پـه فرنـټ سيټ کښې کېنوله بيا ورته ډاکټـر لائبي اووې"ځـه تـه حجرې تـه ورشـه ، دَ خپل کور اوحجرې حفاظت کوه او زۀ به دا هسپتال ته اورسوم . ځه ته ورشه ، زۀ به تا سره رابطـه اوکړم او وخت پـه وخت به دې د دې دَ حال نه خبروم" دې سره هـغـې ګـاډي لـه پښه ورکړه او په يو شغ دَ هغه ځائے نه اووته . دَ کمال خدشه په ځاے وه . په دغه ډزو کښې دَ هستم خان يوزوے لګېدلے وو اولاس ترينه الوتے وو خو دَ هغه دعوىٰ نۀ په زرتاجې شوې وه نه په کـمـال او نـه دَ مشـرخان پـه نوکر يا زميدار بلکه دَ همايون خان او اکبر خان په زامنو ، ياسر او قيصر باندې شوې وه او دا معلومات دَ مشرخان





سرو ته هغه وخت اوشو چې پوليس دَ هغوي په کورونو شپه په شپه چهاپې اووهلې او دواړه يې تانې ته بوتلل.

## ﴿ دريمه برخه ﴾

زرتاجه چې هسپتـال تـه اورسولې شوه نو هغه فوري طور اپرېشن تـهـېټر ته بوتلې شوه او دَ ډاکټرلائبې په نګرانۍ کښې دَ هغې دَ پښـې اپـرېشـن شـروع شو . دَ هغې دَ پښې هډوکے واقعي مات شوے وو. دَ ډېر مـحـنـت نـه پـس دَ راډونـو پـه ذريعـه دَ هغې دَ ماتې پښې پـېـوندونه ورغلل او پلستر ورته اولګېدو. دې نه پس هغه يوې خاص کمرې ته منتقل کړې او دَ هغې ستنې او ډرېپونه شروع شو.

زرتـاجــه دوه شپـې او دوه ورځـې پــه هسپتـال کښې وه . ډاکټر لائبې هـغـې لـه دومـره عـزت ورکـړو چې دَ علاج معالجې نه علاوه هغه او مهـوش دوه شپـې هـغـې سره دَ هغې په کمره کښې وه او يوساعت دَ پاره يـې هـغـه يـوائې نۀ پرېښوده . په دريمه شپه يې ځان سره کورته بـوتله او ماسخوتن يې کمال سره خبرې اوشوې. کمال هغې ته دَ ډزو دَ دعوې پـه بـاره کښـې اووے چې ، "دا په ياسر او قيصر دَ 307 دعوې شوې دې او هـغـوي دواړه دَ تانې نه جېل ته لېږلے شوي دي ." دَ هغۀ په انکشاف هغه مطمئنه شوه او يوه لويه ساه يې واخسته .

زرتـاجـه ډاکټـرلائبې کـره ښـه په پخه پرته وه . هغه ، هغې سره دَ هغې په کـمره کښې وه او چې لږه به په ډډه اوخته نو هغه يا مرجانه به ورته په يوه پښـه حـاضـرې ولاړې وې. چې کـلـه بـه هغه دَ ډيوټۍ نه راغله نو بيا به



www.pukhto.net

هغې سره ترناوخته پورې ناسته وه او دواړو به بلهاخبرې کولې. په دغه خبرو خبرو کښې یو ځل دَ هماخبره راغله . دې خبرې سره هغې ته هغه وعده رایاده شوه کومه چې هغې ، هغې سره دَ وکیل نیولو په باره کښې کړې وه . ډاکټرلائبي چې دَ هغې دَ خولې نه دا خبره ووریده نو ورته یې اووې ، "هاؤ وکیل نیول ډېر ضروري دي ګینې خُدا ے مۀ که دَ هغې سزا یقیني ده خوتۀ فکرمۀ کوه . داکار به زۀ اوکړم . ښۀ تکړه وکېل سره به خبره اوکړم او په یو څو پیشیو کښې به دَ هغې کېس دَ هغې په حق کښې فېصله شي انشاء الله". په سبا هغه کچهرۍ ته لاړه او دَ هما دَ پاره یې وکېل هم اونیوو او دَ هغې دَ پېشۍ تاریخ یې هم راواخستو.

هلته دَ همایون خان، اکبرخان او هستم خان ترمینځه دَ شخړې په هوارولو کښې مشران ګرځېدل خو هستم خان جوړې ته تیارنه وو. دَ مشرانو دَ ډېرکوشش نه پس هغه په دے شرطونو جوړې ته تیارشو چې هغه له به دَ هغۀ دَ زوي دَ ژوبلې تاوان هم ورکوي ، دَ هسپتال او دَ کېس خرچه به هم ورکوي ، عذر به هم ورکوي او مشرخان به دَ هغوي مشترکه دشمن وي . دَ مشرانو په ډېر کوشش دَ مشترکه دشمن تکے ختم شواو دَ هغۀ په ځائے دَ لاتعلقۍ تکے اولګولے شو. په دے شرطونو دَ هغوي ترمینځه جوړه اوشوه دَ هغوي کېس ختم شو او یاسر او قېصر دَ جېل نه اووتل هستم خان ته پته وه چې دَ همایون خان او اکبر خان زامنو په هغوي ډزے نه دي کړے بلکه دَ مشرخان زمیدارو او سړو کړي دي خو هغه ډېر تړپېدلے او لوبېدلے سړے وو. هغۀ ته معلومه وه چې مشرخان ناجوړه





دے او دَ هغۀ په کورنۍ کښې بل هیڅوك داسے نیشته چې هغه پرې دعویٰ اوکړي او دَ هغې تاؤ تپ هغۀ ته اورسي . بله دا چې په هغوي دعویٰ اوکړي نو په جوړه کښې به ترینه تاوان او عذر هم واخلي او هغوي به ځان سره په ډله کښې هم شامل کړي . اوهم دغسې اوشوه . هغۀ په یو غشي څو څو ښکاره اوکړل ، دغه دواړه کورنۍ یې ځان ته کېنولې او دَ مشرخان کورنۍ دَ هغۀ ګزار ته یو ائځې پاتې شوه .

دَ مشرخان کورنۍ سره اګر چۀ دَ همایون خان او اکبرخان تعلقات ختم شو خو هغه د دې هرڅۀ نه ناخبر وو . دَ زرتاجې ډیوټې زېتون کوله او دَ هغۀ دَ خوراك څڅاك او دارو درملو یې ښۀ خیال ساتو خو دَ هغې په لاس دَ هغۀ تسلي نه کېده . هغۀ دَ زېتون نه څو څو ځله دَ هغې تپوس اوکړو خو هر ځل به ورته هغې څۀ انه بهانه کوله . چې کله دَ هغۀ صبر تمام شو نو هغۀ ترینه په سختۍ سره دَ هغې تپوس اوکړو. دَ هغۀ په تپوس هغه لله ګله شوه خو هغۀ تسلي ورکړه او ورته یې اووے ، "ګوره زېتون ، ماته پته ده چې دَ مشرې بي بي او دَ شاګردَ تلو نه پس دَ زمکې او اسمان ټولې بلاګانې زمونږ په کور راپرېوځي. ماته داسې محسوسېږي چې ضرور څۀ داسې واقعه پېښه شوې ده چې دَ هغې په وجه هغه د دے کور نه تلې ده خو واقعه راته معلومه نه ده . تۀ ماته صفا صفا اوایه چې زرتاجې سره څۀ شوي دي؟ هغه په خپله مرضۍ تلې ده او که چا شړلې ده ؟ هغه زما دَ خدمت نه تنګه شوې وه یاکه څۀ بله داسې خبره راغلې وه چې دَ هغې په وجه هغه تلې ده ؟ چې اونشوه نو هغه ورسره کېناسته او ټوله



www.pukhto.net

خبره يې ورته اوکړه . مشرخان چې دَ هغې خبره واورېده نو مُسکے شو خو پـه مُسکـا کښې يې سترګې ډکې شوې او چې کله دغه ډکې سترګې هغهٔ پټې کړے نو دوه غټ غټ څاڅاکي ترېنه اووتل او دَ هغهٔ دَ سترګو پـه قوتو کښې لکه دَ غمو ځلېدل . زېتون غلې غونډې دَ هغهٔ دَ کمرې نه اووته او دَ کور په کار کښې مشغوله شوه .

## ﴿ څلورمه برخه ﴾

نن دَ ډسټرکټ سېشن جج په عدالت کښې دَ هماپېشي وه. هغه او څـهٔ نورې ملـزمـانـې دَ پېشـۍ دَ پاره کچهرۍ تـه راوستې شوې او دَ عـدالت دَ کاروائي شروع کېدو نه مخکښې دَ کچهرۍ په يو ورو کي شان جېـل کښـې بـنـدې کړې شـوې . يـوه شېبه پس ډاکټر لائبه او يو اجنبي سړے دَ هغې ملاقات له راغۍ. هغوي چې خپلو کښې روغ جوړ اوکړل نـو ډاکټر لائبې ورتـه اووې ، ”هـما ، ستا دَ کېس نه چې خبر شوم نو ډېره خفـه شـوم . زهٔ ستـا مـلاقات له مخکښې راتلم خو دَ څهٔ مصروفياتو په وجـه زمـا پـه راتـلو کښې تاخير اوشو . بهرحال ماستا دَ پاره دے اېډوکېټ صـېـب سره خبره کړې ده . اودوي به ستا دَکېس وکالت کوي.“ هما هغه تـه پـه مُسکـا سلام کوي . دَ هـغـې دَ مُسکـا پـه جـواب کښې هغه هم مُسکـے شي . پـه لاس کښـې نيـولـے يو کاغذ هغې له ورکوي او ورته وائي ، ”بي بي دا ستـا وکـالـت نـامـه ده. په دے دستخط اوکړه چې خبره قـانـون تـه درستـه شي“. هـمـا هغـه تـه ګوري او وائي ، ”سرماته دَ وکيل ضرورت نيشتـه“ هغـه څهٔ نـور هم وېل غواړي خو ډاکټر لائبه دَ هغې





خبـره پرېکـوي او وائي ،هـمـا پـليـز ، زمـا خبره اومنه پليز . منت درته کوم چې پـه وکـالـت نامهٔ دسختط اوکړه پليز“. دَ هغې دَ بيا بيا منت زارۍ په وجه هغې په وکالت نامه دستخط اوکړو . وکېل صېب دَ هغې شکريه ادا کـړه او پـه مُسـکـا مُسـکـا روان شـو . دَ هغهٔ دَ تلو نه پس هما دَ هغې نه دَ مهـوش پـه بـاره کښې تپوس اوکړو، ډاکټر لائبه هغې ته په مُسکا وائي، ”هـغـه م پـه سـکـول کښـې داخـلـه کـړې ده ، سکول ته ځي راځي او ښهٔ خوشحاله ده خوکله کله تا او سهېل ياده وي .

هـمـا: . بي بي چې کورته لاړه شې نو دَ ورتلو سره هغه زما دَ طرفه په دواړه مخه ښکل کړه .

ډاکټر لائبـه مسـکـۍ شي او وائي ، ”ښکلول خو زمونږ روزانه بلکه په ورځ کښې څو څو ځله کېږي خوستا دَ طرفه ښکلول به پرې اضافه شي .

هـمـا: . دَ زرتـاجې نه خبرېږې، هغه څنګه ده ؟ هغې دَ راتلووعده کړې وه خو شايد دَ څهٔ مجبورۍ په وجه پاتې شوه .“ ډاکټر لائبې هغې ته دَ هـغـې پـه حـقـلـه تـوله خبره اوکړه او په اخره کښې يې ورته دا انکشاف هـم اوکـړو چې هـغـه ، هـغـې سره دَ هـغې په کور کښې ده . هغې لا هغې سره خبرې کولې چې په يوه زړهٔ بورقه کښې مخ پټې يوه زنانه هـغـې تـه اودرېـده او ورته يې اووې ، ”بي بي ، دَ خُدا ے په نامه يولس روپۍ راکړه ، زهٔ ډېره مجبوره يم. بيماره مور راته په کټ کښې پرته ده چې دَ هـغـې عـلاج پرې اوکړم “. دغسې خبرې به هغې روزانه په يو غـوږ اورېـدې او پـه بـل بـه وتې خو دے اواز کښې دومره درد وو چې دَ



www.pukhto.net

هغې ټول بدن يې اولړځوو . هغې دَ غاړې پرس کښې لاس ورکړو، دَ سل روپو يو نوټ يې ترېنه را اوويستو ، دَ هما دَ سر نه يې تاؤ کړو او هغې ته يې اونيوو. نوټ لا هغسې دَ هغې په لاس کښې وو چې دَ بورقې نه اواز راغې ، "بي بي ته "؟ . . .بي بي سلام عليکم، ډاکټر لائبې دَ هغې سلام واخستو خو چې کله هغې دَ مخ نه بورقه لرې کړه او مخ يې ښکاره کړو نو هغې ورته په حېرانيتا اووې، "جان پري ته ؟ تۀ دلته څۀ کوي ؟ تا سوال کله نه شروع کړې دے دا ولې په تا څه اوشو . جان پري په ډکو سترګو هغې ته اوکتل خو دَ څه وېلو نه مخکښې دَ هغې پښو ته خکته شوه او ورته يې اووې ، "بي بي ما معاف کړه ، ما تاسره او مهوش سره ډېر زياتې کړې دې". ډاکټر لائبه هغه په دواړه لاسه اونيوه او هغه يې دَ خپلو پښو نه پاسوله . دَ هغې اوښکې يې اوچې کړې او ورته يې اووې ، "جان پري، دا په تا څه اوشو، تۀ خو نيمه نه يې پاتې شوې . دا ولې ؟"

جان پري:. بي بي ، بعضې خلق زمانې سره لوبې کوي او په بعضې خلقو زمانه لوبې کوي . څۀ موده مخکښې ، ستا په کور کښې ما هم زمانې سره لوبې کولې خو چې ستا دَکوره اووتم نو اوس رابانديې زمانه لوبې کوي . ډاکټر لائبي هغې نه په ډډ اواز کښې تپوس اوکړو "دَ ګلې د کور نه راغلې يې "؟

جان پري :. هاؤ بي بي يو څو ورځې وړاندې دَ هغې دَ کوره راغلې يم.

ډاکټرلائبه:. شېردل سره ستا وادۀ اونشو؟ تۀ خو هغوي کره ډېره وې کنه.





جان پري:. هاؤ،بي بي، چې تا دَ کوره اويستم او دَ اسرې ځائے مې پاتے نشو نو هغوي کره ډېره شوم. شېردل سره مې وادۀ اوشو او ډېر خوږ وخت تېرېدو خو څۀ موده پس عادل راغې نو دَ هغۀ . . ." ډاکټرلائبه دَ هغې دَ خولې نه خبره اخلې او وائي ، "عادل . . .؟ عادل څوک دے ؟

جان پري:. عادل دَ هغه قاري نوم دے چاسره چې زۀ بدنامه شوے ووم . هغه دَسو چې بابا زوے او دَ شېردل رور وو. دَ هغه تعلق په قبائلي سيمه کښې يو عسکري تنظيم سره وو. دَ هغۀ په وېنا مونږ هم قبائلي سيمې ته لاړو خو هلته زما خاوند قتل شو او څۀ موده پس عادل هم قتل شو . څۀ موده زۀ هلته هغوي سره ووم خو کله چې دَ مور پوښتنې دَ پاره کورته راغلم نو هغه په کټ کښې ناجوړه پرته وه. اوس زه د خپلې مور سره يم، تا نه او بل نه خېر زکواة غواړم او دَ هغې علاج پرې کوم .

ډاکټر لائبه :. سوال مۀ کوه . دا سل روپۍ اوس واخله ، سبا له دے مور هسپتال ته راواله ، دَ هغې علاج به هم مفت کېږي او تاته به خپله تنخواه په کور ملاوېږي .

جان پري:. ته رشتيا وائې بي بي ؟

ډاکټر لائبه :. بالکل رشتيا . زۀ هم هغه ډاکټر لائبه يم لکه چې مخکښې ووم او زما کور اوس هغسې ستادے لکه چې مخکښې وو. ته اوس لاړه شه او سبا له هغه هسپتال ته راشه ، نورې خبرې به بيا هلته اوکړو . دې سره هغه په خوشحالۍ خوشحالۍ روانه شوه. دَ هغې دَتلو نه پس دَ هما وکيل راغې ، هما له يې يو چټ ورکړو اوورته



www.pukhto.net

يې اووے ، "بي بي ، ستا دَ پېشۍ تاريخ بدل شو. دا چټ واخله ، دَ بلې مياشتې په لسم تاريخ به ستا پېشي وي اوستا بيان به دَ جج په مخکښې ليکلے کېږي". هما دَ وکيل چټ دَ لوپټې پسکي پورې غوټه کړو او ډاکټر لائبې ته يې په ځېر ځېر کتل . داسې معلومېده چې هغه په سترګو کښې دَ هغې شکريه ادا کوي . په دېکښې دَ پوليس عمله راغله هغه يې دَ جېل نه اوويستله ، په ګاډې کښې يې کېنوله او سنټرل جېل ته يې روانه کړه . هغه جېل ته چې هغې کښې به دَ جيل پوليس ، زنانهٔ قيديانو او حوالاتيانو دَ هغې نه اکثر دا تپوسونه کول چې ، "تاخپل خاوند ولې مړ کړو؟ هغه دے خوښ نه وو او که بل چاسره دے لار وه ؟ اوس دے يادېږي که نهٔ؟ تا چې دَ چا دَ پاره خپل خاوند مړ کړو هغه ستا ملاقات له راځي او که نه ؟ اوس به څهٔ کوي ، ټول عمر به جېل کښې تيره وې؟ چې دلته دے ځواني ختمه شي نو بيا به تاڅوك څهٔ کوي ؟ بيا به خېر، زکواة او سوال پسې ګرځې ؟ اوشپه به چرته کوي ؟ چرته دَ رېل ګاډي په پټرۍ، يا چرته دَپُل لاندې ؟ هلته به ستاعزت محفوظ پاتے شي؟" وغېره وغېره . دے تپوسونو نه به چې هغه تنګه شوه نو دَ هغې ډلې نه به پاسېده او چې بله ډله کښې به ترېنه بيا دغسې تپوسونه کېدل نو بيا بلې او بيا بلې ډلې له. دَ هغې ورځ دَ سرومچو په ګېين اوشپه يې په مېږتون وه هغه دَ خپل مقام نه ډېره لاندې پرېوته او دَ هغې لوړې ارادې په جوروګړنګونو کښې پرېوتې.





## يوُلسم باب

همايون خان او اکبرخان سره دَ جوړې نه پس دَ هستم خان سترګې نورې هم سرې شوې . يو څو ورځې پس هغهٔ په هغه زمکه يو ځل بيا ټرېکټر ورګډ کړو، کومه چې هغه مخکښې اړولے وه. دَ مشر خان زميدار چې په خپل پټې کښې دَ هستم خان ټرېکټر او سړي اولېدل نو هغه او دَ هغهٔ ښځه مشرخان له په فرياد لاړل . هغه سره په مرسته کښې لس دولس زميدار نور هم لاړل ، زميدار په حجره کښې کېناستل او زنانه دَ مشرخان کور او دَ هغهٔ کمرې ته په داسے حال کښې ورغله چې هغهٔ بالخت ته ډډه وهلے وه او زېتون ورله اوږې منډلې . دَ ورتلو سره هغې ، هغه ته سلام اوکړو او په ژړاکښې يې ورته ټوله خبره اوکړه . مشرخان چې دَ هغې خبره ووريده نو دَ غصې نه په ببړ کښې کېناستو او دَ کوزېدوهڅه يې کوله . زېتون چې دَ هغهٔ په نيت پوهـ شوه نو ورته يې اووې ، "خان بابا ، ته سمله ، ارام اوکړه زهٔ به حجرې ته ورشم او دَ دې دَ خاوند نه به معلومات اوکړم ."

مشرخان :. نه زېتون ، ته کور کېنه ، زهٔ په خپله ورځم ، زېتون هغهٔ ته څپلۍ سمې کړې او دَ هغې په سهاره هغه رو رو دَ کمرې نه اووتو او حجرې ته لاړو . هغه چې حجرې ته ورغی نو ټول زميدار او نوکران دَ هغهٔ په احترام کښې پاسېدل اوترهغې ولاړوو چې ترڅو هغه په کټ کښې ناست نه وو . کله چې هغهٔ بالخت ته ډډه اووهله نو زيتون ترېنه کورته روانه شوه . دَ هغه په تپوس چې کله زميدار دَ هستم خان



www.pukhto.net

دَ زور زیاتي خبره شروع کړه نو دَ هغهٔ دَ بدن وېښتهٔ ببر شو او کله چې هغهٔ خبره ختمه کړه نو یو سوړ اسوېلې یې اوکړو او په ډکو سترګو یې خپل اسویلې پسې ډېره شېبه بره کتل . دَ هغهٔ په سترګو کښې غټې غټې اوښکې اوختې رااوختې خوککو غورځېدو ته نهٔ پرېښودې. هغهٔ لاځهٔ وېلو تهٔ خوله جوړوله چې دېکښې دَ مشرخان یو څو زمیدار په منډه منډه حجرې ته راغلل او په سلګو سلګو کښې دَ هغهٔ مخې ته اودرېدل . په هغوي کښې یو زمیدار اووے ، "خان بابا ، دَ همایون خان او اکبر سړو هغه زمکه اړه وي کومه چې هغوي تاسو ته دَ مشرپه حیث دَ حجرې دَخرچې دَ پاره پرېښے وه ."

مشرخان :. همایون او اکبر هم ورسره دي ؟

زمیدار:. نه خان بابا ، دَ هغوي زامن یاسر او قېصر راغلي دي ، هغوي ورته ولاړدي او دَ هغوي سړي زمکه اړه وي .

مشرخان(طنزیه مسکا) خېر دا دَ کور خبره ده . دغه زمکه هغوي دَمشرۍ په طور ماته پرېښې وه خو چې هغوي زما مشري نه مني نو څه هغوي مشران او زهٔ کشر . دا څهٔ دومره لویه مسله نه ده .

زمیدار :. خان بابا هغوي زمونږ فصلونه واړول .

مشرخان :. ستاسو دَ فصلونو تاوان ماته رسي . تاسو ته به پېسه پېسه ملاوېږي .

زمیدار:. خان بابا، دَ همایون خان او اکبرخان کشران ډېر نیغکي دي. هغوي وائي چې دغه زمکه به هم درې برخې کېږي، دَ مشرۍ دا



میلمنه (پښتو ناول) پرویز شیخ

حجره او ستاسو کور هم .

مشرخان (طنزیه مسکا) دَ حجرې او کور تقسیمولو ته ضرورت نیشته . دا دواړه دَ هغوي شو . زما دَ حجرې او کور څوك پاتې شو؟ زهٔ به ترېنه یو څو ورځوله دَ سو چې کورته لاړ شم .

یوزمیدار:. یو څو ورځو له ؟ او بیا ...؟

مشرخان (طنزیه مُسکا) بیابه دَ کلي نه بهر په لویه هدیره کښې یو وړوکې شان کور له .دَ هغهٔ په دې خبره دَ ناستو ټولو زمیدارو سترګې ډکې شي .

یوزمیدار:. خان بابا دَ لیوني خېلو هستم خان سره به څهٔ کوې؟

دَ هغه په تپوس مشرخان خاندي او په خندا خندا کښې یې دَ سترګو اوښکې رواني شي . ټول زمیدار یو بل ته په حېرانتیا ګوري او په سترګو سترګو کښې دَ یوبل نه تپوس کوي چې "دا خندا ده که ژړا؟" هغه یوه شېبه خاموش وي بیا وائي ، "داټول لیوني خېل مادومره یرولي وو چې مابه پرې پښې اوترپولے نو دوي ټولو به کورته منډه کړے خو ...خو په هغه وخت کښې زما ځواني وه او زما شاته خان بابا ولاړ وو...خو اوس زهٔ دَ چا شاه ته اودرېږم ؟ چارشتیاوېلے دي چې،

ےنه غواړم ،عېشونه درنه نه غواړم   اے دَ ځوانۍ عمره خوتېرېږه مه

خوزهٔ لا دومره کمزورے نه یم ...زما په لاس کښې لا دومره طاقت شته چې زهٔ ټوپك تینګولے شم . او زما په ګوته کښې لادومره زور شته چې زهٔ پرې دَ ټوپك کوترے راخکلے شم ...یَه هلکه کماله، تهٔ ورشه



www.pukhto.net

زما هغه ټوپك راواخله چې لږ يې اوګورم او اندازه يې واخلم چې زما
غوندے بوډا شوے او كمزورے شوے دے او كه نه ډز كولے شي .
كمال:. خان بابا چې مونږ يو نو ستا دَ ډز ضرورت نيشته . ستا دَ
ګوتې په اشاره به زمونږ ګوتې چليږي او ليوني خپل به كوتره كيږي.
مشرخان:. قرتې مۀ كوه مړه . ورشه زما هغه ټوپك راوړه . شابه زر
كوه ." دَ هغۀ په حكم كمال ډير په توندۍ سره دَ مشرخان دَ كوركټ
سره اودريدو او زيتون ته يې اووې ، " بابي ، مشرخان ټوپك غواړي،
هغه راواخله چې ورله يو سم ".
زيتون (په يره ) ولې كماله ، خبره جوړ خرابه شوه .
كمال:. نه بابي لاخرابه نه ده خو خپل احتياط ضروري دے . زيتون دَ
مشرخان ټوپك او ګټه راخلي او هغه له يې وركوي . دَ هغۀ دَ تلو نه
پس هغه دَ شاكرخان دَ كمرې نه كلاشن كوف او ګټه راخلي او بهر په
كټ كښې يې اږدي . بيا ټول ورونه جرنده كړي . دَ لوپټې نه لكه دَ
زرتاجې پټكے اووهي او خپل پرونې لټې كړي.بيا ګټه غاړې ته
واچوي ، كلاشن كوف په لاس كښې اونيسي او كټ سره خوا كښې
كلاشن كوف په لاس په دے غرض اودريږي چې كله مشرخان پټو ته
ځي نو هغه به وريسې ځي . كمال چې ټوپك اوګټه مشرخان له
وركړه نو هغه مُسكے شو ، دَ ټوپك بولټ يې مخكښې روستو
راخكو او دَ هغۀ دَ چال انداز يې واخسته . بيا يې دَ ګټې نه پنځه
كارتوسونه اوويستل ، په ميګزين كښې يې وركړل ، يو كارتوس يې





په بولټ مخكښې كړو او چمبرته يې اورسوو. بيا يې هغوي ته مخ
كړو او وے وئيل ، "زۀ دَ ليوني خپلو يخودولو له ورځم خو تاسو
خوځئ مۀ ، په خپل خپل ځاے كښئ ". هغه دَ پاسيدو كوشش
كوي خو يو مشر، بوډا زميدار سليم بابا دَ هغۀ خوا له ورځي او ورته
وائي، " خان جي ، لږه حوصله اوكړه . په بربنډ لټ مۀ ورځه . تاهغه
متل نه دے اوريدلے چې اونې په ژړا كښې ارې ته اووې چې ، "كه
لاسكے م نه وې دركړې نو تا به ولې زۀ ريبلم ؟" هستم خان دومره
سړے نه دے چې تاته پښه كيږدي خو داسې معلوميږي چې تۀ دَ
خپله لاسه وهلے كيږے . زۀ ويم چې هستم خان له استاذے اوليږه
او دَ هغه نه دا معلومات اوكړه چې هغۀ په څۀ وجه او په كوم بنياد او
ثبوت ستا په زمكه قبضه كول غواړي . كه هغۀ سره څۀ معقول
ثبوت وي خو په هغې خبرې كيدېشي او كه ورسره نه وي نو ستا زمكه،
ستا زمكه ده . هغه يې درنه په سرولے او كورته اوړلے نشي. مشرخان
چې دَ هغۀ په خبره سوچ اوكړي نوسر اوړكوي او وائي، "خبره دې بده نه
ده بلكه ښۀ ده خو هستم خان زما نرمي زما كمزوري اونه ګڼي"؟
سليم بابا:. دَ روستو كمزورۍ نه مخكښې كمزوري ښۀ ده . هغۀ كار
نه دے پكار چې سړے پرې روستو پښېمانه شي. كه دَ هغۀ جواب
معقول وو خو ډيره ښۀ ده او كه هيڅ يې هڅه پنجه اچول غواړي نو
بيا به ستا په ځائے ورسره زمونږ دا بچې پنجه نه بلكه پنجې اچوي.
مشرخان:. زۀ خو ويم چې تۀ په خپله ورشه او په خپله ورسره خبره اوكړه.



www.pukhto.net

سليم بابا:. ډېره ښه ده (هغه پاسي) يي دادي لاړم درنه ، هغه ځان سره پـه تـلـو تـلـو کښـې يـو بل زميدار هم دَ لاس نه نيسي او ځان سره يې بـو ځي. هغوي چې هستـم خان لـه ورغـلـل او هغه ته يې هغه خبره اوکړه کومه چې دَ هغه او مشرخان ترمينځه شوې وه نو هغهٔ اووے چې "دا لـس جريبـه ونډ مالـه زاهدخان دَ يوکال دَ پاره اجاره راکړے دے ."
چې کـله ترېنه هغوي دَ ثبوت مطالبه اوکړه نو هغه چپ شو. يوه شيبه پس يې بيا اووے ، "ماسره ثبوت شته راځئ چې درته يې اوښائم ".
هغهٔ هغوي دَ هغـه ځـائے نه روان کړل اويوداسے ځائے ته يې بوتلل چې هلتـه دَ مسلـح کسـانـو يوه ډله ناسته وه او خپلو کښې يې ګپې لـګـولـے . هغوي چې هلته اورسېدل نو دَ هغوي سترې مشي له ټول پاسېدل او هغوي سره يې روغ جوړ کول. په دغه کسانو کښې دَ نورو نه عـلاوه زاهدخان هم وو. دَ روغ جوړ نه پس هستم خان زاهد خان ته په مُسـکـااووے ، "زاهـدخـان ، دا مشـران راغلي دي او د دې زمکې دَ قبضې ثبوت رانه غواړي . دوي ته څهٔ اوويم ؟"
زاهـدخان :. زهٔ ثبوت يم کنه . (مشرانو ته) که تاسو مشرخان رالېږلے يې نـو لاړشي او هـغوي ته وايې چې دا زمکه ما هستم خان کاکا جي له اجاره ورکړے ده .
سليـم بـابـا:. دېـکښې هيڅ شك نيشته ، تابه ورکړي وي خو مونږ به هغوي ته څهٔ ثبوت پېش کوو .
زاهدخان :. که زهٔ ابوسره په موبائېل خبره اوکړم نو بيا؟





سلـيـم بـابـا:. زاهـده بـچـے ، دَ شاکـرخان دَ مرګ نه پس ستا پلار ډېر يـوائـځـے دے . خپلو رونړو هم ترېنه لاس واخستو او دَ هر طرف نه پرې پـچه غونډه ماته ده . په داسے حال کښې چې تهٔ دَ هغهٔ دَ ټول جائېداد واحد مالك يې ، او داسے حال کښې چې هغه ناجوړه دے او لکه زما يې دَ مرګ او ژوند هيڅ پته نه لګي ، تا هغه يوائځے پرېښے دے .
هلتـه ستـا تـرونـه هـغـه زمکه اړوي او قبضه کوي کومه چې هغوي هـغـهٔ تـه دَ مشرۍ په طور پرېښې وه او دلته دَ هستم خان دَ قبضې په وجـه پـرېشـان دے . تـه چې څهٔ وائے هغسې به کېږي ځکه چې تا نه سـوا دَ هغهٔ څوك دي خو بهتره خبره دا ده چې ته مونږ سره لاړشه او دا خبره هغهٔ ته په خپله اوکړه .
زاهـدخان:. بابا ، تاته ښهٔ پته ده چې دَ خان جي دَ قتل په کېس کښې زه پـولـيس تـه مـطـلـوب يم . پـوليس زمونږ په کور او حجره څوڅو چهاپې اووهـلـے خو زهٔ په لاس ورنه غلم . هلته زما تګ دَ خطرې نه خـالي نه دے . ما دَ کاکا جي په کور کښې پناه اخستے ده او دوي سره پروت يم .
سـليم بابا:. دا څهٔ دومره لويه خبره نه ده بچے . چې پلار په تادعویٰ نه کوي نـو پـولـيـس ستا هيڅ نشي کولے . بله دا چې ته به ترڅو پورې داسے ورك ګرځے ؟دا ډېره ښهٔ موقعه ده . هغه په حجره کښې ناست دے او نـور مشران هم ناست دي . که ستاسو ترمينځه څهٔ خبره وي نو دَ هـغـې وضاحت او تـصـفيـه بـه هم اوشي او خپل جواز به هم پېش



www.pukhto.net

کړے . داسې دے خوښخه نه ده هستم خانه ؟

هستم خان:. دا خو ډېر ښهٔ خبره ده . زهٔ هم دا غواړم چې دا زمکه ماته بې شره او بې ډزه ډوزه پاتې شي. څه ورشه بچے ، یربړه مهٔ او که څهٔ اخوا دېخوا وو نو ماته کال اوکړه . څه دے مشرانو سره ورشه." دَ هغهٔ خبره دَ هغهٔ زړهٔ ته پرېوته او هغوي سره روان شو . چې هلته اورسېدل نو درے واړه حجرې ته ورغلل . زاهدخان دَ مشرخان ستړي مشي له ورغی. دَ ستړي مشي نه پس هغه هغهٔ ته مخامخ په کټ کښې کېناستو . مشرخان ، سلیم بابا نه تپوس اوکړو ، "سلیم خانه ، تا هستم خان سره لیدل اوکړل ؟ هغهٔ څهٔ اووے ؟"

سلیم بابا :. خان جي ، هغه اووے چې دغه لس جریبه ونډ ماله زاهد خان اجاره راکړے دے او دَ ثبوت په طور یې راسره زاهدخان رااولېږو.

مشرخان (زاهد خان ته ) تهٔ هلته هستم خان سره وے ؟

زاهدخان : هاؤ ابو، دلته راباندې پولیس ثوځوځله چهاپې اووهلے خو خُدائے ترېنه بچ کړم . دَ څهٔ مودے نه ما دَ هستم خان کاکا جي په کور کښې پنائي اخستے ده .

مشرخان(طنزیه ) هستم خان کاکاجي ...؟

زاهدخان :. هاؤ ابو ، هغه ډېر دَ کار سړے دے او ما دَ پاره خو ډېر زیات دے .

مشرخان :. دغه لس جریبه زمکه تاواقعي هغهٔ له اجاره ورکړے ده ؟

زاهدخان:. هاؤ ابودغه ما هغهٔ له اجاره ورکړے ده .





مشرخان :.زما دَ صلاح نه بغېر ....؟

زاهدخان:. هاؤ ابو ، دا غلطي مانه شوې ده خو که ستاسو خوښخه نه وي نو دا زهٔ واپس کولے هم شم .

مشرخان :. نه داسې مهٔ کوه چې تا ورسره لوظ کړے دے نو زهٔ ستا لوظ ماتول نه غواړم (سلیم بابا ته وائي ) سلیم خانه ، ستا خبره صحي ده . څه شکر دے چې خبره بې ډزه بې ډوزه ختمه شوه .

زاهدخان:. ابو،ماته اجازت دے . زهٔ لږ کور ته ورځم .

مشرخان :. څه ورشه بچے ارام اوکړه او هن زما دا ټوپك هم کورته یوسه . دې سره هغه پاسېدو ، دَ مشرخان ټوپك یې ځان سره واخستو او کور ته روان شو . چې کور ته ورغی او زېتون اولیدو نو هغې ورسره روغ جوړ اوکړل او کمره یې ورته لرې کړه . هغه چې کمرې ته ورتلو نه زیتون ته یې اووے ، "زما دَ کمرې ور دَ بهر نه جرنده کړه ، زهٔ لږ ارام کوم " دَ هغهٔ دَ تلو نه پس سلیم بابا او مشران خان خپلو کښې خبرې کولے او نورو اورېدلے . مشرخان ډېرخوشحاله وو چې هغهٔ دَ سلیم بابا په مشوره عمل اوکړو او دَ جنگ جهګړې نوبت رانهٔ غی . په دغه خبرو خبرو کښې سپفور کاکا راغی ، هغهٔ ته مخامخ کېناستو او وے وئیل "خان بابا ، زما زمکه لاړه دَ هستم خان شوه خومالله به دَ فصل تاوان ثوك راکوي ، " مشرخان لا هغهٔ له جواب نه وو ورکړے چې یو ګاډے راغی ، دَ حجرې مخې ته اودرېدو ، دوه مسلح کسان ترېنه کوز شو او دواړه حجرې ته ننوتل . دَ حجرې خلقو چې هغوي ته



www.pukhto.net

اوکتل نو ټولو په چغه اووے ، "شاکرخان زنده باد" مشرخان چې دَ شاکرخان نوم واورېدو نو په هغهٔ کښې دومره طاقت راغے چې دَ ملاستې نه کېناستو او په حېرانتیا وائي ، "شاکرخان ؟" دَ مشرخان نوکر زر هغهٔ له ورمنډه کړي او ورته په چغه وائي، "خان بابا اومبارك شه ، ستا زوے شاکرخان راغے ، " شاکرخان ډېر په تېزۍ سره دَ مشر خان خوا له ورځي ، هغهٔ ته ورترغاړوځي او وائي ، "هاؤ بابا ، ستا په دعا زهٔ ژوندے شوم او ستا سلام له راغلم ."

مشرخان :. یَه هلکه شاکره . دا زهٔ خوب وینم او که تاپه ویښه وینم ؟

شاکرخان:. نه ابو، دا خوب نه دے بلکه حقیقت دے . زهٔ ژوندے یم او ستا مخې ته ولاړ یم .

مشرخان:. او هغهٔ چې مونږ ښخ کړے دے هغه څوك دے ، هغه تهٔ نه وے ؟

شاکرخان:. نه ابو هغه زهٔ نه ووم، بل څوك دے .

مشرخان:. دا څنګه او څه رنګه ؟

شاکرخان :. دا لویه قیصه ده ابو ، څهٔ وخت پس به درته په خپله معلومه شي . په دې به بیا خبرې اوکړو خو اوس په لاره راتلم ، زمونږ په زمکه کښې لیوني خېل او دَ هغوې ټریکټرے ګرځي او فصل اړه وي . داسې معلومېږي چې هغوي زمونږ په زمکه حمله کړے ده او په زور یې قبضه کوي . اوس زه دَ هغوي دَ مقابلې دَ پاره راغلم چې دې نه اوزګار شم نو بیا به درته ټوله خبره اوکړم .





مشرخان :. نه بچے ، زمونږ په زمکه حمله نه ده شوې بلکه دغه ونډ شوې ستا رور زاهد هستم خان له اجاره ورکړے دے .

شاکرخان :. تاسو په اجازت ؟

زاهدخان :. نه بچے مانه اجازت نه دے اخستے شوے خو چې هغهٔ پرې ټرېکټر ورګډ کړو نو دَزاهد د مخه ما اجازت ورکړو .

شاکرخان:. دا خو داسې شوه لکه چې هغهٔ ته مونږ ګوډې ماتې کړے او ورته مو په خپله اووے چې راسورېږه . تهٔ ورشه کماله دَجمات په لوډ سپیکر کښې ټولو لیوني خېلو ته اعلان اوکړه چې شاکر راغلے دے او ټول مقابلې دَ پاره راؤځي." بیا یې ټولو زمیدارو ته اووے ، ځئ ورشئ ، ټول ټوپکے او کوتکے راواخلئ چې هستم خان سره مقابله اوکړو .بیا یې سحرګل ته اووے ، "ته ورشه دَ ډهولکي تانګونه دے راکاږه او ډنګېدلے ډهولے پټې ته راشه ،

مشرخان :. شاکره بچے لږ ارام اوکړه . ستړے راغلے ... زما خولا تاته دَ کتو تنده هم نه ده ماته چې بیا رانه ځے .

شاکرخان :. ابو ښه درته معلومه ده چې دَ لیوني خېلو سپي هم په خپل پټي کښې لېدل نه غواړم او بیا چې یو سړے دومره کبرواخلي چې دَ ټوپك او متو په زور زمونږ په زمکه قبضه کوي نو دَ داسے ژوند نه خو مرګ په شل چونګه ښه دے .

مشرخان :. چي ځے او خامخا ځے نو ځان سره دے رور بوزه چې متے دے مضبوط وي . هغه خپلو زمیدارو او کسب ګرو ته لاس



www.pukhto.net

نیسي او وائي، "دا ټول زما متېے دي..." هغـه نـور هم څـۀ وېل غـوښتـل چې دَ جمات په لوډ سپیکر کښې اعلان اوشو چې، "ټولو لېوني خېلو او هستم خان ته دا اعلان دے چې شاکرخان راغلے دے او مـقـابلې دَ پاره هغه ونډ ته را اوځي په کوم کښې چې دَ هستم خان ټریکټر اړم دے او دَ هغۀ فصل اړه وي." چې دا اعلان ختم شو نو دَ ډهولکي اواز راغی، دې سره پاتې زمیدار هم سره دَ ټوپکو او کوتکو را اوچلېدل او دَ شاکرخان په مشرۍ کښې دَ پټي په لور روان شو. چې دَ کلي نه اووتل نو شاکرخان دَ هستم خان دَ خبرولو دَ پاره یو هوائي ډز اوکړو، دَ هغـه ډز پسې یو لوې بار اوچلېدو. یوه خوله دَ هغۀ په خوا کښې اوچلېده چې هغه ورته روستو اوکتل نو هغه زیتون وه. شاکر خان پـه تـلـو تـلـو کښې اودرېدو، مُسکے شو او هغې ته یې اووے، "زېتـون تـه؟ مـا دَ خپـل ټـوپك ډز اوپـېـژندو ځکـه مِ درپسې روستو اوکتل څه خورې واپس شه، کورته لاړه شه او مونږ دَ پاره ښه زبردسته چائے پخه کړه."

زېتون:. نه خان جي نه، ستا عزت په خپل ځاے خو تاسو سره راغلې یم او تـاسـو سره به ځم ... دَ هغې په خبره هغه یو ځل بیا مُسکے شو او مـخـکښې روان شو. هستم خان ته چې دَ هغۀ دَ راتلو پته اولګېده نـو هغـۀ زاهدخان ته کال اوکړو خو چې هغه موبائېل اوچت نکړو نو بیـا یې په زړه اوخوړه چې کېدېشي هغه راغلې وي. کله نه چې ورته دَ یـوبـل دَ خـولـې نـه معلومه شوه نو بیا یې پوخ یقین اوشو. دې سره





یې دَ پټي نـه ټـریـکټـرے اوویستـلـې او خپـلو سړو ته یې دَ تلو حکم ورکړو خو چې هغوي په ځان پو هېدل نو دَ شاکرخان سړو ترېنه چاپېره ګـېـره اچـولـے وه او دَ هـر طرف نـه په هغوي ډزے کېدے، ډزے لا روانــے وې چې دَ مشـرخـان پـه وینا دَ پولیس لویه نفري را اورسېده او هغوي ټول په موقع اونیولے شو او په پولیس وېن کښې ډب ډ هېرې واچولے شو.

شـاکـرخان او دَ تانې SHO پـه خپـلـو کښـې یـو بل سره تعارف اوکړو.

شـاکـرخان هغه له دَ چایو بلنه ورکړه خو هغه ورته اووے، "اوس نه بیا به شي".

شاکرخان:. بیا به کله شي؟

SHO:. چې دوي تـانې تـه اورسوم نو بیابه راشم. ستاسو بیان به هم اولیکم او چایې به هم درسره اوڅکم.

شاکرخان:. ډېره مِ خوښخه ده ځی ورځی.

دَ هسـتـم خان او دَ هغه دَ سړو دَ نیولو نه پس مېدان شاکرخان ته صفا شو دَ شـاکـرخان سړي یـو خـوا بـل خـوا څـۀ پـه پټو کښې ګرځېدل، څۀ په مـورچـو کښـې ناست وو او هغه او زیتون سره دَ ټولو نه یو خوا ته ناست وو هغې ورته ټولې خبرې اوکړې. دَ مشري بي بي دَ مرګ، دَ زاهد خان او دَ هـمـا دَ وادۀ، دَ هـمـا دَ حـوالات او جیل دَ تلو، دَ سهېل او دَ مهوش دَ تـلـو، دَ هسـتـم خـان دَ اوبـو بـنـدولـو او دَ زرتـاجې دَ مقابلې ټولې خبرې اوکړې. هغۀ دغه خبرې ډېر په خاموشۍ سره واورېدے. په اخره کښې



www.pukhto.net

ترېنه هغه تپوس اوکړو، "دَ زاهد څه پته لګي چې چرته دے ."
زېتـون:. هـغـه ژوندې جاړ غـېب وو خو نن ستا دَ راتلو نه لږ مخکښې راغـې ، خپـلې کمرې ته ننوتو او ماته يې وې چې ماپسې ور دَ بهر نه جرنده کړه ".
شاکرخان يوه لويه ساه واخسته او هغې ته يې اووے ، "څه خورې ته کـورتـه لاړه شـه . ښـه زبـردسـتـه چايې تياره کړه . دَ تانې SHO راځي چې خوشحاله لاړ شي ." دې سره هغه مسکې شوه او ورته يې اووې ، "خان جي ، ستـا راتـلـو سره ما ستا او ستا دَ مېلمنو بندوبست کړې دې . خپـلـې دواړه خويـاندې م راغوستې دي او هغوي ته م وېلي دي ،
شاکرخان او دَ هغهٔ سړي ترناوخته پورې په پټې کښې په دے غرض ناست وو چې کېدېشي دَ هغهٔ مقابلې له دَ ليوني خېلو له خوا څوك راشي خو چې څوك رانهٔ غلل نو هغهٔ خپلو سړو ته دَ تلو حکم اوکړو. دې سره هـغـه مخکښې شو او ټوله ډله ورپسې شوه . چې حجرې ته اورسېدل نو دَ تانې SHO راغـلـے وو او دَ مشرخان نه يې بيان اخستو. چې دَ مشرخان بيان واخستے شو نو بيا دَ شاکرخان بيان اوليکلے شو . په دېکښې چايې راغله ، دَ کلي دَ خلقو دَ پاره بهر کېښودې شو او دَ SHO دَ پاره يـوې خاص کمرې ته يوړې شوه . دَ چايې څکلو په دوران کښې SHO شاکرخان تـه اووے ، "خـان جي ، ستـا دَ قتل په کېس کښې ستا رور زاهدخان ماته مطلوب دے ، هغه څهٔ شو ؟ "
شاکرخان :. چې زهٔ ، روغ جوړ او صحي سلامت راغلم نو ټول کېس





ختـم شـو . اوس پـه هغهٔ څهٔ کوے ". دَ هغهٔ دَ خولې نه ايله دغه ټکي اووتـل چې هغوي دَ ډز اواز واورېـدو . دَ ډز اواز سره پـه حجره کښې نـاست خلق بېر شو . په دېکښې دَ مشرخان دَ کور نه دَ چغو اوژړا اواز هـم راغې او زيتون هم ساه نيولې حجرې ته راغله هغې ژړل او په ژړا کښـې يـې وئـېـل ، "خـان بـابا ، خان جي ، راشې زاهد خان خپل ځان اوويشتـو". دغه اواز دننه په کمره کښې شاکرخان هم واورېدو او SHO هم واورېدو ، هغهٔ دَ چايو پيالې کېښوده ، ډېر په تېزۍ سره دَ کمرې نه اووتـو او کـور تـه ورغـې ، چې دَ هغهٔ کمرې ته ورغې نو هغهٔ په خپل بـېـډ کښـې سلګې وهلے . هغهٔ هغه په غېږ کښې اونيوو ، هغه ورته يې اووے ، "مـامـعاف کړه خان جي، ماتاسره ډېر زياتې کړے دے ."
هغـه دَ هغهٔ په غېږ کښې اخري سلګۍ اووهي او همېشه همېشه دَ پـاره خاموش شي. هغه لا دَ هغهٔ په غېږ کښې وو او دَ هغهٔ دَ وينو ډکه خـولـهٔ يې صفا کوله چې مشرخان کمرې ته ورغې هغهٔ لکه دَ لاش دَ هـغـهٔ لاش تـه يـوه شـېـبـه پـه چـپـه خوله کتل ، بيا يې خپلې اوښکې اوچې کړے او دَ يو نوکر په سهاره حجرې ته روان شو .
SHO پـه مـوقـعـه نـاسـت وو . هغـهٔ دَ زاهد خان دَ خودکشۍ رپورټ اوليـکو او مړے يې مرده خانې ته اولېږو . دا ټول واقعات او واردات په يـوه ورځ کښـې اوشـو او نـمر لا هم هغسې ځلېدو . سحر هستم خان دَ مشـرخان په زمکه حمله اوکړه ، لږ ساعت پس ورك زاهد خان راغې ، دَ هغهٔ نه پس شاکرخان راغې ، هستم خان او دَ هغهٔ سړي تانې ته لاړل



www.pukhto.net

او دَ زاهد خان لاش مرده خانې ته لاړو . ماښام تياره دَ هغهٔ جنازه اوشوه او دَ لاتېن په رڼا کښې خاؤرو ته اوسپارلے شو.

**﴿ دوېمه برخه ﴾**

پـه سبادَ هغهٔ دکمرې دَ صفائي په وخت دَ هغهٔ دَ بالخت لاندې يو خط اوموندلے شو. زېتون هغه راواخستو او مشرخان له يې ورکړو . مشـرخـان چشـمـې واچولے او دَ هغـے لوستل يې شروع کړل . هغه چې اولوستلو نو مات رامات يې کړو او جېب کښې کېښودو . هغهٔ لا دَ خط پـه متـن سـوچ کـوو او پـه زړهٔ کښې وے چې آيا رور داسې هم کېدېشي خو چې خپلې رورولۍ ته يې خيال شو نو بيا يې اومنله. په دې دې کښې هغه ډېر لرې لاړو او معلومه نه ده چې ترڅو پورې به په دغـه خيالونو کښې ډوب وو چې هغه په کور کښې دَ چا دَ چغو او ژړا اواز وورېـدو . هـغـه دغـه ژړا ته متوجه وو چې زېتون دَ هغهٔ کمرې ته راغلـه او ورتـه يـې اووے ، "خان بابا ، زرتاجه راغلې ده ." هغهٔ چې دَ زرتـاجې نوم وورېدو نو برېنډ ے پښې او سرتورسر دَ کټ نه کوز شو او دَ هـغـې پـه سهـاره بهـرته اووتو او دَ هغې خواله ورغۍ . زرتاجې چې هغه اوليدو نو دَ هغهٔ په احترام کښې دَ ډاکټر لائبې په سهاره پاسېده. مشـرخـان دَ خپـلې ميـنـې دَ جزبـې نه دومره مغلوب شو چې په ځان پـو هـ نشو او دَ هغې لاسونه او تندے يې ښکل کړو او داسې يې ورته پـه ځـېـر ځـېـر کتل لکه دَ قطب نما ستنه چې په قطبي ستوري ولاړه وي. نـهٔ يـې حـرکت کولے شو او نهٔ يې ترېنه نظر اړولے شو. کوم حال





چـې دَ مشـرخان وو هغه حال دَ زرتاجې هم وو . زېتون چې دَ مشرخان پـه حـال پو هـ شوه نو هغه يې دَ لاس نه اونيوو او په مزه مزه يې خپلې کـمـرې تـه روان کـړو . دَ هغهٔ لونړو، حنا او بلقيس چې هغه دَ زېتون په سهـاره کمرې ته په تلو اولېدو نو دواړو ورمنډه کړه خو هغهٔ ځان ته پرې نښـودې او دَ لاس په اشاره يې دَ ځان نه لرې کړے . حنا او بلقيس دواړه پـرون راغـلـې وې خـو دا مـعـلـومـه نـه ده چـې دَ شـاکرخان مبارکۍ له راغلې وې او که زاهد خان تعذيت له .

دَ زرتـاجـې پښـې تـه لاهـغـسې پلستر پروت وو هغه دَ سهارې نه بغېر دَ ګـرځـېدو قابله نه وه . دَ مشرخان دَ تلو نه پس دَ زېتون او ډاکټر لائبې په سهـاره هغه دَ هغې کمرې ته بوتلې شوه او په خپل بېډ کښې سملولې شـوه . شـاکـرخـان چې دَ زرتـاجـې دَ راتـلو نه خبرشو نو هغه په حجره کښـې مـېـلـمـانهٔ په ځائے پرېښودل او دَ هغې سلام له کورته راغۍ ، هغه په خپل بېډ کښې پرته وه ، مهوش ورسره ناسته وه او ډاکټر لائبه ورتـه مـخـامـخ پـه بـل کـټ کښې ناسته وه . زرتاجې دَ هغهٔ سلام ته دَ پاسېدو کوشش کوو خو هغه په سختۍ سره منعې کړه . هغهٔ دَ هغې پـه اوږو سر کېښودو او ډېره شېبه دغسې پروت وو. کله چې دَ زرتاجې سلګۍ زياتې شوې نو هغهٔ دَ هغې دَ اوږې نه سر اوچت کړو او دَ هغې اوښکې يې اوچولے . چې کله دَ هغې سلګۍ قلارې شوې نو بيا يې مهـوش ښـکـل کړه ، ځان سره يې په غېږ کښې کېنوله او په ښکلولو ښکلولو کښې يې ورته اووے ، "تهٔ خپل انکل پسې خفه وې ؟"



www.pukhto.net

مهوش:. خان جي انکل ،زۀ تا پسې دومره خفه ووم چې هره شپه به مې درپسې پټ پټ ژړل او دا دعا به مې کوله چې یاالله زماخان جي انکل راولې ."

شاکرخان (مُسکې شي) ستا دعا قبوله شوه او زۀ راغلم .

مهوش:. خان جي انکل ،ته راغلې او زاهد انکل لاړو. هغه به هم راشي ؟ دَ هغې په دې معصومانه تپوس ټولو یوبل ته دَ حېرانتیا په نظر اوکتل .زرتاجې دَ خبرې رخ بدل کړو او شاکرخان ته یې اووې ، "خان جي ، تا بي بي ته سترې مشي اونکړل ."

شاکرخان:. بي بي ته به زۀ څنګه سترې مشي اوکړم چې زما دَ خورزې دَ علاج نه یې انکار کړي وو. دَ هغۀ په خبره دَ هغې سترګې ډکې شي او هغۀ ته وائي ، آئي ایم سوري ، ریيلي سوري، مامعاف کړه پلېز ".

شاکرخان:.نه بي بي نه . چرې هم نه . تاماسره او زما خورزې سره لوې ظلم کړې دې ".دَ هغې په مخ غټې غټې اوښکې راماتې شي.

مهوش چې هغې ته اوګوري نو دَ هغۀ دَ غېږ نه پاسي ، دَ هغې خواله ورځي او د هغې اوښکې اوچوي . شاکرخان مسکې شي او مهوش ته وائي، "مهوش ته مانه خفه شوې Come on please ".

مهوش:. زۀ تاسره خبرې نه کوم .ماسره خوله مۀ ګډه وه .

شاکرخان:.اوه مائي ډیر نیس (Niece ).آئي ایم سوري.

مهوش:. ماته سوري مۀ وایه ، ماما ته اوایه .

شاکرخان(مسکې شي) چې ستا ماما ته سوري اووېم نو یوه خوږه پفه به راکړې ؟





مهوش:. ته مخکښې سوري اووایه نو بیا هله .

شاکرخان:. سورې مېډم.

ډاکټرلائبه :. تېنك یو خان جي . زۀ په خپلو کړو پښېمانه یم. مامعاف کړه پلیز .

شاکرخان:. ته به چرې هم معاف شوې نه وې خو که دَ خپلې خورزې نه مجبور نه ووم . هغه یوه شېبه ناست وو خو بیا بهراووتو او حجرې ته لاړو.

حجرې ته ډېرخلق راتلل او تلل . څوك دَ شاکرخان دَ نوې ژوند دَ مبارکۍ دَ پاره راتلل او څوك دَ مرې دَ تعزیت دَ پاره . په یو وخت کښې مبارکۍ هم وې او دعاګانې هم وې . په دغه کسانو کښې همایون خان او اکبرخان هم وو، دَ هغوي زامن یاسر او قېصر هم وو، دَ هغوي دَ طرفه دَ جرګې مشران هم وو او دَ هستم خان له خوا دَ جرګې مشران هم وو. مشرخان ترېنه سترګې پناه کړې وې ، په خپله کمره کښې پروت وو البته شاکرخان به ورسره راشه درشه کول .

ماسخوتن چې شاکرخان دَ مېلمنو نه فارغ شو نو مشرخان خپلې کمرې ته اوغوښتو هغه چې دَ هغۀ کمرې ته ورغی نو هلته زرتاجه هم ناسته وه او زیتون هم ناسته وه . هغه چې هغۀ ته مخامخ کېناستو نو هغۀ ورته اووې ، "شاکره بچې ، سباله ستا دَ رور درېمه ده . هغې دَ پاره به څۀ کوې ؟"

شاکرخان:. هاؤ ابو، ما دَ هغې بندوبست کړې دې . هیڅ فکر مۀ کوه ، هرڅۀ به اوشي انشاء الله .



www.pukhto.net

مشرخان:. ښه دا راته اووایه چې زا هدخودکشي ولې اوکړه ، هغهٔ ته څهٔ تکلیف وو؟

شاکرخان:. ابو، دا لویه سانحه ده خو ماته دَ هغهٔ دَخودکشۍ په باره کښې هیڅ معلومات نیشته ځکه چې دَ اغوا نه پس زما او دَ هغهٔ لیدل کتل نه دي شوي خو داسې معلومېږي چې یا خو هغه ذهني مریض وو یا دَ پولیس له خوا زما دَ مرګ په شك کښې هغهٔ ته دَ خپلې شرمندګۍ احساس شوے وو.

مشرخان:. ستا مرګ سره دَ هغهٔ څهٔ تعلق دے ؟

شاکرخان:. زما مرګ سره دَ هغهٔ او هما دواړو هیڅ تعلق نه شته او نه وو خو پولیس په هر څهٔ کښې ګوتې وهي او دَ هر چا په کار کښې یې کاروي نو په دې وجه شاید هغهٔ ته ذهني اذیت رسېدلې وي او په دې وجه یې خودکشي کړې وي . . .او په خودکشۍ یې دومره توندي اوکړه چې ماسره یې لېدل کتل هم اونشو .

مشرخان:. ښه، ته خپل حال وایه ، تهٔ ځنګه اغوا شوے او تاسره څهٔ اوشو .

شاکرخان:. دا لویه قیصه ده ابو خوزهٔ چې چا اغوا کړے ووم هغه خپل انجام ته اورسېدو او زما په نامه ښخ شو.

مشرخان:. هغه څوك وو او تاسره دَ هغهٔ څهٔ تعلق وو.

شاکرخان:. ابو، هغه نهٔ مالیدلے دے ، نه مې پېژندلے دے او نه مې ورسره څهٔ تعلق وو. زما اغوا داسې اوشوه چې ما دَ باغ په پټي کښې دَ





مازیګر نمونځ کوو او په قاعده ناست ووم چې دَ شانه څوك راغلل او زما پوزې ته یې رومال اونیوو. بیازهٔ په ځان نه یم پوهـ شوے چې ماسره څهٔ اوشو او چاواوکړل خو زهٔ چې ماښام په هوش کښې راغلم نو زما سترګې اولاسونه تړلې شوي وو. ما چې حرکت اوکړو او دَ پاسېدو کوشش مې کوو نو یو کس راغې او زما سترګې یې پرانستې. ما چې دَ شمعې په تته رڼا کښې اخوادیخوا اوکتل نو زهٔ په یو غار کښې پروت وم او مسلح کسان رانه چاپېره ناست وو خو ما هېڅوك اونه پېژندل. زما کوائف په یو کاغذ لیکلي شوي وو یو مسلح سړے چې شاید دَ هغوي مشر وو، هغه په موبائېل ستا نمبر ملاؤ کړو او تاسو سره یې خبرې اوکړے بیا یې موبائېل ماله راکړو او ماتاسو سره خبرې اوکړے ، دې نه پس زما سترګې بیا اوتړلے شوې، هغوي په پس پسو کښې یو بل ته څهٔ اووے او زهٔ یې دَ هغه ځائے نه بهر اوویستم . په ګاډي کښې یې کېنولم او دَ هغه ځائے نه ډېر لرے یو بل ځائے ته یې اورسولم. دا یو کور وو ځکه چې دَ ورتلو سره پکښې ما دَ زنانهٔ او ماشومانو خبرې ووریدے . زهٔ یوې کوټې ته دننه کړے شوم، په یو ټکوري سملولے شوم او زما پښو ته ببړۍ واچولې شوې . دې نه پس زما سترګې پرانستې شوې . ور راپسې پورے او دَ بهر نه جرنده شو. ماله به وخت په وخت یوې زنانه چایې ډوډۍ راوړه او زما دَ ضرورت خیال به یې ساتو. یوه ورځ زما دَ کوټې ورلرے کړے شو او دوه مسلح نقاب پوش زلمي راننوتل . یو ماته وسله په لاس اودرېدو او بل زما دَ



www.pukhto.net

پښو ښېرې پرانستې او ماته يې اووے ، "راپاسه ، راځه " ما په زړۀ کښې وے چې شايد زما دَ ژوند شپې ورځې پوره شوې او درنګ ساعت له مِ وژني . مسلح کسانو کښې يوزمانه مخکښې روان وو او دوېم ماپسې وو . زۀ دَ هغوي په مېنځ کښې داسې روان ووم لکه چې پښو کښې راله چا پيکړې اچولې وې. دې سره سره مِ شاهم خارتېده او په هر قدم راته دا احساس کېدو چې درنګ ساعت له راباندې دَ شانه ډز کېږي . په دغه تلوتلو کښې رومبے سړے دَ يوورمخې ته اودرېدو او ماته يې اووے ، "ما پسې راځه" زۀ چې دغه کورته ورننوتم نو بهر په غولي کښې دَ دوو کټونو په مېنځ کښې يو وړوکے مېز پروت وو. په مېز باندې دَ پلاسټك په يوه ګوتې کښې څه غوټه پرته وه او دَ غوټې دَ پاسه يوه کپړا غوړېدلې وه . رومبي زلمي ماته په کټ کښې دَ کېناستو اشاره اوکړه او دويم زلمي دَ غوټې نه کپړا پورته کړه ، دَ پلاسټك دَ ګوتې خوله يې اوسپړده او ما ته يې اووے ، "دا اوګوره څوك دے ؟" ماچې ورته اوکتل نو هغه په وينو کښې لړلے شوے دَ چا سر وو. زۀ دومره يرې واخستم چې ماترېنه مخ واړه وو . رومبي کس زمانه تپوس اوکړو، "اودے پېژندو ، دا دَ چا سردے "؟ ما هغۀ ته دَکرکې او حقارت په نظر اوکتل او ورته مِ اووے ، "نه . . .زۀ دانه پېژنم " چې ما دَ هغۀ دَ پېژندګلو نه معذرت اوکړو نو هغه اووے ، "يرېږه مه ، دا دَ هغه چا سردے چاچې ستا په سر لس لاکهه روپۍ اخستے وے او مونږ له يې راکړې دي ". دې سره هغه کوټې ته ننوتو





دَ شنو نوټونو لس بنډلونه يې راؤړل ، ماته په مېز کېښودل او وے وئېل، "که ستا يقين نه کېږي نو دا اوګوره ، دا هغه روپۍ دي چې ستاپه سر اخستې شوي دي او مونږ له راکړې شوي دي ." ماترېنه په يره تپوس اوکړو ، " دا څوك دے ؟" هغۀ راته په لاپروائۍ اووے ، "دا تپوس مۀ کوه . په خپله به درته معلوم شي ." ماترېنه بيا تپوس اوکړو ، "زما په سر دا لس لاکهه روپۍ چا ورکړي دي ؟ دوېم سړي په فېصله کن انداز اووے ، "دا به هم درته معلوم شي خو يو څو ورځې پس." ماترېنه په يره تپوس اوکړو، 'ماسره به څۀ کوئ ؟' "تاسره هيڅ نه کوو. تۀ دَ وژلو سړے نه يې بلکه دَ ساتلو سړے يې . تۀ دا روپۍ اوشماره، دا پوره لس لاکهه دي . دا واخله نو بيا به نورې خبرې کوؤ." "نورې خبرې؟ زۀ پوهـ نشوم ؟ ماترېنه په ساه نيولې انداز تپوس اوکړو ."

رومبے سړے :. مونږ دَپوليس دَيرې نه دلته راغلي يو . تۀ چې کلې ته لاړ شے نو زمونږه يوه فېصله به کوے ، "فېصله ، څۀ فېصله؟" ماترېنه په حېرانتيا تپوس اوکړو.

دوېم سړي راته اووے :. ډاکټر لائبي په مونږ دَ اغوا رپورټ کړې دې. هغې ته به اووې چې خپل رپورټ واپس واخلي. ستاد مخه مونږ هغه پرېښي ده ګينې دا انجام به دَ هغې هم وي څۀ چې دے هلك سره اوشو .ماترېنه تپوس اوکړو ، "ډاکټر لائبې سره ستاسو څۀ کېس دے ؟ دَ هغې کېس خو سوچې کاکا او دَ هغۀ زامنو سره دے ." دې سره هغوي دَ مخونو نه نقابونه لرې کړل، خټ خټ په خندا شو او



www.pukhto.net

دوارړو په يوه خوله اووے ، "مونږ دَ سوچي زامن يو کنه". ماچې هغوي ته په ځير ځير اوکتل نو دواړه مِ اوپيژندل چې واقعي دَ سوچي کاکازامن دي .بيا دواړه واره په واره راترغاړه وتل . مايوه لويه ساه واخسته او په خپله لمنه مِ دَ مخ او تندي خوله اوچه کړه . په دغه خندا خندا کښې سوچي کاکا او ګلې هم دَ کوټې نه رااووتل او دَ شېردل ښځه جان پري هم را اووته ،دَ عليك سليك نه پس ماشېردل ته اووے، "شېردله ، دا سر زما دَ مخې نه لرے کړه ." هغهٔ دَ ګوتې خوله بنده کړه ، هغه يې دَ مېز نه اوچت کړو او لرې يو ګټ کښې يې کېښودو. بيا مِ ورته اووے " دا روپۍ هم اوچتے کړه ، چې هغوي انکار اوکړو نو ما زورنه ورکړه او روپۍ يې اوچتې کړے . بياګلې او جان پري چايې راؤړه او مونږ ټولو په غونډه اوڅکله ."

مشرخان:. چې ستا تصفيه اوشوه نو بيا راتلے ولې نه ، څهٔ ته ايسارو ے؟

شاکرخان:. دوه ورځې زهٔ دَ هغوي مېلمه ووم خو په درېمه ورځ چې زهٔ راتلم نويوه الميه اوشوه .

مشرخان :. څهٔ الميه ؟

شاکرخان:. الميه دا چې کوم کمانډر چې قتلولو دَ پاره زهٔ عادل او شېر دل ته حواله کړے ووم هغه ته پته اولګېده چې هغوي زما په ځائے اغوا کار قتل کړے دے . دَ هغهٔ په بدل کښې هغه شېردل قتل کړو. دَ هغهٔ قتل زما په تېس کښې شوے وو نو ماته دا خبره ښې پښتو ښکاره شوه چې هغوي په دغه مصيبت کښې پرېږدم او زهٔ ترېنه





پښې سپکې کړم .زهٔ هم دَ هغوي په ډله کښې شامل شوم او زهٔ او عادل تر هغې ورپسې وو چې دَ شېردل بدل مو واخستو . يو څو ورځې پس زمونږ هغوي سره يوه بله مقابله راغله . په هغې کښې دوه کسان دَ هغوي نه مړهٔ شو او زمونږ دَ ډلې نه عادل مړ شو. بيا نور کمانډران او ملکان دَ جرګې په شکل کښې ترهغې ګرځېدل چې جوړه اوشوه . په دے دوران کښې يوه بله واقعه پېښه شوه او هغه دا چې دَ شېردل کونډه جان پري ژوندۍ جاړه غېبه شوه .

زرتاجه:. خان جي، هغه غېبه نه ده بلکه خپل کورته راغلي ده . ماته ډاکټرې دَ هغې خبره کړې ده دَ هغې مور ناجوړه ده او دَ هغې دَ خدمت دَ پاره راغلې ده ، هغه غرېبه خېر غواړي او په هغې دَ مور علاج کوي .

مشرخان:. اوس سوچي او دَ هغهٔ زامن څهٔ حال کښې دي؟

شاکرخان:. دَ هغوي جوړه شوې ده خو يوبل سره راشه درشه نه کوي. سوچي کاکا او دَ هغهٔ زامن هلته خوشحاله نه دي خو دَ پوليس دَ يرې هلته ډېره دي. چې زهٔ په ساه شم نو دغه مينه به ورله جوړوم چې خپل کلي ته راشي .

مشرخان:. هغه به چرې جوړېږي ، ولې نورې مينې لرې دي. دَ ګوجرانو مينه خالي ده . دَ ترکاڼانو مينه خالي ده . دلته يې را اوغواړه او جوړه جاړه ورله اوکړه .

زرتاجه:. خان جي ، تاخو دَ هما بي بي هډو تپوس اونکړو.



www.pukhto.net

شاکرخان:. دَ هغې تپوس مِ دَ زېتون نه کړے دے او دے راته ټوله خبره کړې ده . هغه غريبه زما په تيلو کښې سوزي.

زرتاجه:. په څلورمه ورځ دَ هغې پېښي ده . ډاکټرې ورله وکيل نيولې دے په دغه تاريخ به عدالت کښې دَ هغې بيان ليکلے کېږي.

شاکرخان:. دَ هغې بيان ته به ضرورت پېښ نشي انشاء الله . چې زهٔ ورشم نو ځان سره به يې راولم .

مشرخان:. شاکره بچے ، مونږ ته دَ شپې چا فون کړے وو. زما سترګې لګېدلې وې نو موبائېل ستامور اوچت کړو معلومه نه وه چې هغې ته څه اوويلے شو خو هغې يوه چغه اووهله اومړه شوه او چې کله هغه موبائيل همالور اوچت کړو نو هغه راپرېوته او بېهوشه شوه.

شاکرخان:. د دې معلومات ماته نيشته خو کېدېشي دغه دَ اغواکار مقتول دَ ژړا فرياد چغې وې او په غلطئ کښې ستاسو په موبائېل راغلې وي .

زرتاجه:. نه ، نه ، داسې نه ده . هغه ريکارډنګ ستاسو په موبائېل بلکه دَ زاهدخان په موبائېل راغلے وو خو دَ هغه موبائېل تاسو سره پاتے شوے وو او هغهٔ په غلطئ کښې ستاسو موبائېل اوړے وو. په هغه نمبر چې ورسره بيا زاهدخان خبرې اوکړے نو بيادَ خان جي دَ مرګ تصديق اوشو .

مشرخان:. سوال دا پيدا کېږي چې دغه ريکارډنګ يې زاهد ته ولې اورووو؟ داسې معلومېږي چې ستا دَ قتلولو په سازش کښې دَ زاهد لاس وو.





شاکرخان:. ابودا تاسو وای ؟ زاهدخان زما رور وو، زما لېچې او زما متے وے . زما مينه ، زما ننګ وو، هغه به داسے کارځنګه کړے وے؟ داسې نشي کېدې".

مشرخان په جېب کښې ګوتې وهي او هغه ته وائي ، پرون دَ زاهد دَ کمرې دَ صفائي په وخت دَ هغهٔ دَ کمرې نه يو خط رااوتے دے او زېتون ماله راکړے دے خو زما هغه چشمې اوس سم کارنه کوي ، زهٔ پرې پوهـ نشوم . هنّ دا خط په اوچت اواز اولوله چې مونږ ټول يې وورو. "مشر خان هغه له خط ورکوي شاکرخان چې خط اوسپړي نو هغوي ته وائي". ښه غوږ شي. خط داسے دے .

دَ زاهد له خوا          خان جي ته .

په خولهٔ مِ نهٔ جوړېږي چې تاته رورواېم . . .په خولهٔ مِ نه جوړېږي چې تاته سلام اوکړم ، ځکه چې مانهٔ دَ رورولئ څهٔ پرېښے دي او نهٔ دَ سلام . دَ خط ليکلو نه لږه شېبه پس به تهٔ دَ ډز اواز وورے ، ډز سره به دَ چا دَ ژړا اواز هم وورے . دا ژړا به زما دَ مور پلار او خويندو نه وي بلکه زمونږ دَ خدمتګارې زيتون ژړا به وي . تهٔ چې دَ ډز او دَ ژړا اواز پسې کورته راځے راځے نو هغه سترګې به پټې شوې وې کومې چې تاته کتل نه غوارې .

دَ ورك رور په راتلو رور خوشحالېږي او دَ مړ رور په ژوندي کېدو خو په جامو کښې نه ځائېږي ، خوستا په راتلو زهٔ دومره پرېشان او شرمنده شوم چې تاسره سترګې هم نشم لګولے ځکه چې تهٔ مادَ خپل طرفه



www.pukhto.net

وژلے يې. اوستا دَ سر قيمت دَلس لاکهه روپو نه علاوه دغه لس جريبه ونډه وو چې نن پرې دَ قبضې کولو دَ پاره هستم خان حمله کړے وه . زۀ دَ هغۀ په ډله کښې ناست وو او دَ خپلې کورنۍ دَ تباهۍ نظاره مې کوله ... دې نه مخکښې هستم خان زمونږ په زميدارو نهري اوبۀ بندې کړے وے او چې کله زمونږ زمېدارو اوبۀ خلاصې کړے نو هغۀ بذات خود او دَ هغۀ سرو پرې ډزے اوکړے ځکه چې زۀ دَ هغۀ په کور کښې دَ هغۀ په بستره کښې پروت ووم او هغۀ ته پته وه چې دَ مشرخان په کور کښې داسے هيڅوك نيشته چې دَ هغۀ دَ ډز جواب اوکړي ، او که زرتاجې دَ هغۀ مقابله نۀ وې کړې نو زمونږ دَ زميدارو فصلونه به اوچ شوي وو.

دې نه مخکښې ما دَ هما بابې په عزت حمله کړے وه او که چرې هغې دَ خپل عزت په خپله تحفّظ نه وې کړې نو اوس لړه شبهه پس زما کونډه بي بي زما سرته ژړېده. ستا دَ وادۀ نه مخکښې ما قاضي صيب له دَ يوې فرضي عسکري ډلې له خوا په مينګوره هوټل دَ خودکش حملې دهمکې ورکړے وه چې دَ هغوي او دَ مشرخان په ذهنونو کښې دَ عسکري ډلې له خوا يره پېدا شي او ستا دَ قتل دعوىٰ په دغه ډلې يقيني شي. ستا دَ وادۀ دَ نکريزو په شپه ته زما په سازش دَ هستم خان زوي رُستم خان او دَ هغۀ ملګرو دَ باغ دَ پټي نه اغوا کړے وے . ستا سر پرېکړے لاش ما په خپل لاس لحد ته کوز کړے دے او دَ خاؤرو په ډهېرو کښې مې ښخ کړے دے .خودا معلومه





نه ده چې ته څنګه ژوندے شوے او دَ قبر نه څنګه را اووتے . مړے نشي ژوندې کېدے خو داسې معلومه شوه چې تۀ بچ پاتے شوے يې...او...اوچې تۀ بچ پاتے شوے نو هغه سر پرېکړے لاش دَ چاوو چې مونږ ښخ کړے وو؟

اوس سوال دا پېدا کېږي چې هغه کوم وجوهات وو چې ماستا دَ وژلو سازش کوو، اوستا په وژلو کښې زما څۀ مقصد وو؟ ظاهره ده چې زر، زمين او زن . چې ته دَمينځ نه اوتے وے نوستا خاني به ماته پاتې شوې وه، ستا مال او دولت به ماته پاتے شوے وو، ستا ټوله زمکه به ماته پاتې شوې وه او دَ ټولو نه لويه خبره ، بلکه دَ لويو نه لويه خبره دا ده چې ستا ښاپېرۍ ناوې ، دَ چا حسن او اداګانو چې زۀ لېونے کړے ووم ، هغه به ماته پاتې شوې وه خو داسې اونشوه ، زما سکيم ناکام شو او ستا دَ ژوند زېرے زما دَ مرګ پېغام شو.

زما دَ سازش په وجه که تۀ مړ شوے او که مړ نشوے خو ستا دَ مرګ اواز ترلرې پورې خورشو ، ستا دَ مرګ دَ پيغام په وجه دَ اٰبو او زمونږ ټولو دَ ژوند لويه سرمايه امّي مړه شوه ، زما په وجه هما بابې پېغله کونډه شوه او ستا دَ مرګ په الزام کښې هغه دَ ګلوښاپېرۍ جېل ته لاړه . زما په وجه زرتاجه خور زخمي شوه او داسې معلومېږي چې کوم لاش مونږ ښخ کړے وو هغه ستانه بلکه دَ رستم خان وو ځکه چې ستا مرګ سره هغه هم ژوندے جاړ غېب شو . ما دَ پاره دَ ژوند ټولې لارې بندې شوې او دَ پناګي او قرار يو ځاے مې پاتے نشو . البته د



www.pukhto.net

مرګ لاره راته خلاصه ده ، ملك الموت راته په قهرېدلې سترګو ګوري او نور مهلت نهٔ راکوي ...ډز ته غوږ شه .

شاکرخان په اوچت اواز خط لوستو او هغوي ټولو ښهٔ په غور اورېدو. چې کله هغه دَ زاهدخان آخري جملې له اورسېدو چې ، ''ډز ته غوږ شه'' نو دَ هغهٔ په وينو ککړ لاش هغوي ته مخکښې شو او ټولو په چغو چغو ژړل . خط دَ شاکر خان دَ لاس نه لاندې پرېوتو ، هغه په لوندو سترګو بهر ته اووتو او حجرې ته روان شو.

﴿ دريمه برخه ﴾

دَ کله نه چې شاکرخان کورته راغلے وو نو په خپله کمره به تېرېدو را تېرېدو خونه يې خپلې کمرې ته کتل او نه دننه ورتلو بلکه بهر په حجره کښې به په خپله کمره کښې پروت وو. يوه ورځ زرتاجې هغه را اوغوښتو او هغهٔ ته يې اووې ، ''خان جي ستا دَ کمرې ور، ستا په انتظار کښې ټوله ورځ او ټوله شپه لرے وي، ته خپله کمره کښې ولې نه سملے ؟
شاکرخان:. زرتاجې دا هغه کمره ده چې دېکښې زما دَ وادهٔ په شپه، زما ناوي زما دَ راتلو انتظار کوو. په دغه انتظار انتظار کښې هغه د دغه بېړه نه اوچ فرش له لاړه . ماته دا ډېره بې مناسبه ښکاري چې هغه په جبل کښې په اوچ فرش پرته وي او زهٔ دَ هغې په بستره کښې ډډې په ډډې اوړم . ترڅو چې هغه راغلې نه وي زهٔ به نه دغه کمرې ته ورشم او نه به په دغه بېړه کښې ډډه شم .'' او واقعي هغه هم دغسې کول . هغه په حجره کښې په اوچ فرش سملاستو خو خپلې کمرې





ته نهٔ ورتلو .دَ ډزو په سبا دَ هستم خان او دَ هغهٔ دَ زامنو ضمانتونه اوشو او هغوي کور ته راغلل خو څهٔ خپله يريدل او څهٔ دَ کلي خلقو دومره يرول چې نه بهرونه شو او نه په خپل کور او حجره کښې ايسارېدے شو . هستم خان او دَ هغهٔ زامن دَ کلي په خلقو ښه نهٔ لګېدل ، هغوي غوښتل چې په څهٔ طريقه هغوي دَ کلي نه ورك شي او په کلي کښې امن راشي . دَ کلي دَ ځينے اوزګارخېلو له خوا به هر وخت هغوي له نوے نوے خبر راتلو چې شاکرخان له دَ علاقه غېر نه طالبان راغلي دي او درنګ ساعت له يا سبا بيګاه له دَ هغوي په کور او حجره خودکش حمله کېدونکي ده بله ورځ هغوي دَ مُليانو ، عالمانو او خواږ شاکلېو دَ مشرانو يوه لويه جرګه جوړه کړه او هغوي له يې دَ هرې فيصلې کولو واك ورکړو . دَ زاهدخان دَ دريمې په سبا دَ شاکرخان حجرې ته په داسے وخت کښې جرګه راغله چې دَ سو چې کاکا دَ زامنو ، قديراو کبير نه علاوه دَ هغوي دَ ډلې نور کسان هم ناست وو.
چې دَ جرګې مشرانو دَ جوړې خبره شروع کړه نو شاکرخان ورته دَ هستم خان او دَ هغهٔ دَ زامنو هغه ټولې وران کارې په ګوته کړے چې په هغې کښې دَ هغهٔ په زميدارو نهري اوبهٔ بندول ، دَ هغهٔ په زميدارو ډزے کول ، دَ هغهٔ فصل ته نقصان رسول او دَ هغهٔ په زمکه ناجائز قبضه کول وو . د دې په بدل کښې ترېنه هغهٔ دَ لاکهونو روپو تاوان مطالبه اوکړه . جرګې دَ هغهٔ مطالبه اومنله هغه سره دَ دومره لوے تاوان ادا کولو پېسې نه وي نو دَ هغې په بدل کښې ورته هغوي دَ



www.pukhto.net

هغـهٔ دَ کـور او حـجـرې پـرېښودو خواست اوکړو . هغهٔ دَ چا خبره چې غـل کـنـډر کول غوښتل چې وريې اوموندو . هغهٔ لا دَ سو چې کاکا دَ زامـنـو دَ پـاره دَ میني جوړول غوښتل چې د هستم خان کور او حجره پـه لاس ورغـلـه . وثيـقـه نـويس را اوغوښتـے شو او دَ فصل دَ تاوان په بـدل کښـې دَ هستـم خان دَ کور او حجرې دَ بيعي کاغذ دَ هغهٔ په نامه اولیـکلـے شو .البته دَ جرګې په خواست هغه له په کور کښې دَ اوسېدو دَ پاره پنځه ورځې مهلت ورکړے شو او دَ جرګې مشر دَ هغهٔ ضامن شو . شاکـرخان کبیـر تـه اووے ، پـه شپـږمه ورځ به د دے مشر نه دَ کور او حـجـرې چابیانې واخلے او دَ هستم خان کورته په کډه راؤړے ". دې نه پس دعا يې خېراوشوه ، چايې اوڅکلې شوه او ټول رخصت شو .

په دغه مازيګر دَ همايون خان او اکبرخان له خوا هم جرګه جوړه شوه او دَ مشـرخان لـه حـجـرې ته راغله . مشرخان اګر څهٔ دَ خپلو رونو نه ډېر خفـه وو خو دَ جـرګې دَ مشرانـو خبره يې کوزه نشوه غورځولے او جرګې ته کېناستو . دَ جرګې مشرانو چې دَ روغې جوړې خبره شروع کـړه نـو شـاکـرخان ورته دَ هغه ټول نقصان خبره اوکړه چې دَ هغوي په وجـه دَ هغهٔ فصل ته رسېدلي وو. هغوي دَ هغهٔ ټول تاوان هم اومنو او هغـه ټـولـه زمـکـه ، کـور او حـجـره يـې هـم ورته پرېښوده کومه چې هغوي مشـرخـان تـه دَ مشرۍ پـه تـوګـه پرېښي وه . وثيقه نويس را اوغـوښتـے شـو ، کـاغـذ اولیـکلـے شو او دَ جرګې ټولو مشرانو پرې دستـخطـونـه اوکړل . دې نه پس دعا يې خېر اوشوه ، چايې اوڅکلې





شوه او ټول رخصت شو .

زرتـاجـه اوس هـغـه زرتـاجـه نـه وه لـکـه چـې مخکښې وه . څهٔ موده مـخـکښې هغه صرف دَشاکرخان ذاتي خدمتګاره وه . دَ شاکرخان اودَ مشـرې بي بي دَ تـلـو نـه پـس دَ مشرخان ذاتي خدمتګاره شوه او چې کـلـه شـاکـرخـان راغـې او هـغـهٔ تـه دَ هـغـې دَ ايثار ، وفا اوقرباني پته اولـګـېـده نو بيا دَ ټول کور مشره شوه . دَ هرې خبرې صلا مصلات به هـغـې سره کېدو او چې کومه خبره به هغوي دواړو جوړه کړه نو مشر خـان بـه پـه پـټـو سـترګـو مـنـلـه . چې کله شاکرخان کلي ته راغی نو دَ هـغـې دا خيـال وو چې هغه نور ټول کارونه روستو کړي او هماسره زر تـر زره مـلاقات اوکړي ځکه چې يو هغه دَ هغهٔ لاثاني او لافاني مينه وه بله دَ هغوي دَ کور عزت وو او دَ هغهٔ په ټس کښې جېل ته لاړه . خو يـوخـوا مـيـلـمـانـهٔ تـلـهٔ راتلهٔ ، بل خوا دَ هستم خان او دَ هغهٔ دَ ترونو دَ روغـې جوړې خبره راغله نو په دې وجه ورته دَ هغې خولهٔ جوړه نشوه . چې کـلـه به هغه دَ بهر نه کورته لاړو نو دَ خپلې کمرې په ځاے به دَ زرتـاجې کمرې ته تلو. هغې سره به شپبه ګهړۍ کېناستو ، دَ هغې نه بـه يـې دَ هـغـې دَ بيـمـارۍ پـوښتـنـه هم کوله او په نور زړه نوې به يې تبـادلهٔ خيال هم کوو . دَ زاهد خان دَ درېمې نه پس چې کله هستم خان او دَ هغهٔ ترونو سره روغه جوړه اوشوه او ماسخوتن کورته اودَ زرتاجې کـمرې ته ورغی نو هغې ورته دَ هما دَ پېشۍ په باره کښې خبره اوکړه هـغـې ورتـه اووې چـې هغه به هم دَ هغې پېشۍ له ځي خو دَ هغې دَ



www.pukhto.net

بيماري په وجه شاکرخان هغه په سختۍ سره منعې کړه او ورته يې اووے چې ترڅو هغه ښۀ شوې نۀ وي نو هيچرته نشي تلې. بهرحال هغۀ هغې سره ښۀ پخه وعده اوکړه چې هغه به دَ هغې پېښۍ له خامخا ځي او په عدالت کښې به خپل بيان ورکوي . هغوي لا په دغه باره کښې خبرې کولے چې دَ ډاکټر لائبې له خوا هم هغۀ ته کال اوشو او هغې هم هغۀ ته دَ هما دَ پېښۍ ياد دهاني ورکړه . دَ هغې نه پس دَ زرتاجې په موبائېل رېنګ راغۍ . هغې چې موبائېل اوچت کړو نو دَ هغې دَ هېلو سره دَ يو ماشوم اواز راغۍ او ورته اوويلے شو چې "انټي دَ آپا نه خبريې ، دَ هغې څۀ اوشو؟"

زرتاجه: اوه ، سهېله دا تۀ يې، "وارمۀ خطاکوه ، سبا له دَ هغې پېښې ده . ستا خان جي راغلے دے او هغه به دَ هغې پېښۍ له ځي او ځان سره به يې راولي ".

سهېل: خان جي ...؟ هغه چې مړ شوے دے ، هغه څنګه ژوندے شو او راغۍ ؟

زرتاجه: هغه مړ نه بلکه ژوندے دے او ښۀ روغ جوړ او صحي سلامت دے دَ خېره .

سهېل : دا دومره موده هغه چرته وو . کورته ولې نه راتلو؟ او چې نه راتلو نو کال يې ولې نه کوو؟ داسې معلومېږي چې ته ماسره هسې ټوقې کوې.

زرتاجه: نه ګله نه . که ستا زما په خوله باور نشي نو دا دے ناست





دے په خپله ورسره خبرې اوکړه .

زرتاجه : . شاکرخان له موبائېل ورکوي او ورته وائي ، "خان جي ، سهېل سره خبرې اوکړه ، سهېل چې کله دَ هغۀ خبرې ووري نو ډېر خوشحاله شي او دَ هما په باره کښې ترېنه تپوس کوي . هغه ورته وائي ، "سبا له دَ هغې پېښي ده . کېدېشي هغه بري شي . سباله به هغه تاسره او نيا نيکۀ سره په خپله خبري اوکړي. ستا نيا نيکۀ دَ هغې نه خبر دي ؟"

سهېل : . نه خان جي، هغوي خبرنه دي . دا کال ما دَ هغوي نه پټ په پټه اوکړو .

شاکرخان: چې ترڅو هغه نه وي راغلې تر هغې هغوي مۀ خبره وه.

سهېل: هم دغسې مِ کړي دي او دغسې به کوم .

شاکرخان: سبا له تۀ کال مۀ کوه ، هغه به تاسو ته په خپله کال اوکړي او ټولو سره به خبرې اوکړي، چې کال ختم شي نو زرتاجې دَ هغۀ نه په مُسکا تپوس اوکړو ، "خان جي، تاسو خو داسې په يقين سره اووے لکه چې هغه به سبا له خامخا بري کېږي او کورته به راځي."

شاکرخان: هغه زما په قتل کښې ملوثه ده . چې زۀ عدالت ته حاضر شم او خپل بيان ورکړم نو خبره ختمه شوه . هغه به خامخا بري کېږي انشاء الله .

زرتاجې دواړه لاسونه دعا ته اوچت کړل په سرتور سر يې په جذباتي انداز دَ هغې دَ برېت دَ پاره دعا اوغوښتله . دعا نه پس هغې هغۀ ته



www.pukhto.net

اووې ، ”خان جي ، مونږ خو تاسره دَ يوې نه دوېمه خبره نشو کولې او نه درنه ګيله کوو، خو تا د دے هر څۀ نه هما بي بي ولې نه خبروله. هغه خو ستا لاثاني او لافاني مينه ده او د دغه مينې زۀ ګواه يم. تا داسې ولې کول ؟تا ته دومره موقعه هم نه ملاوېده چې هغې ته دے يو کال کړے وے او که دَ هغې دَ وفا ازمېښت دے اخستو ؟“

شاکرخان:. دَ هغې وفا دَ ازمېښت محتاجه نه ده . دَ هغې له خوا زۀ مطمئن ووم خو ما دَ خپلې وينې يعنې دَ خپل رور زاهد دَ رورولۍ ازمېښت اخستو . . .زرتاجې، داخبره اګرچۀ مامخکښې نه ده کړے ځکه چې مانه غوښتل چې دَ ابو په پرېشانۍ کښې اضافه اوشي خو دَ زاهد دَ خط نه پس دَ هغۀ دَ ارادو تاسو ټولو ته پته اولګېده. دَ رستم خان دَ مرګ نه پس عادل او شېردل ماته دَ زاهد متعلق ټوله خبره کړے وه . دَ هغۀ دَ زر او زمين په مقوله زۀ قائل ووم خو دَ زن متعلق مِ دَ هغۀ امتحان اخستو . زما دَ مرګ نه پس اګر چه هما هغۀ سره وادۀ کولې شو خو هغې انکار اوکړو او هله يې هغۀ سره واده ته غاړه کېښوده چې تاسو ټولو مجبوره کړه .

زرتاجه:. خان جي، ستا دَ تلو نه پس کوم ناروا سلوك چې هغې سره اوشو نو هغه زما په خوله نه جوړېږي. يوخوا هغې ستا په مرګ ژړا کوله ، بل خوا يې په خپل عزت ژړا کوله . هغې ته معلومه وه چې تۀ قتل شوے يې خو ستا دَ تلو نه پس ستا روح سره هغې رابطه کوله. په دے غرض به دَ هغې دَ کمرې ورهروخت لرے وو، چې ستا روح





مايوسه واپس نشي . ستاخوياندو به هغې ته سپېره او قاتله وېلې. دا ټولې خبرې به هغې اورېدې او په زړۀ به يې تېرولې . هغوي په دے کور کښې دَ هما بي بي وجود نشو برداشت کولې .

شاکرخان:. ماته پته ده زرتاجې خو دَ هغوي دا لوئي به دَ هغوي په سرونو کښې ماتېږي . سبا له به هغه دے کورته راځي . بيا که هغوي راځي او که نه راځي . دې سره هغه پاسي او بهر ته ځي . هغۀ چې حجرې ته لاړو نو هغه خپلې کمرې ته ورغی. او په اوچ فرش سملاستو . هغه ټوله شپه ډډې په ډډې اوختو خو خوب نۀ ورتلو . چې لږې سترګې به يې ورغلې نو هغه به ورته په مختلف شکلونو او عکسونو کښې مخکښې شوه ، کله خندېدلې ، کله ژړېدلې ،کله مروره او کله قهرېدلې . هغۀ ته په هرشکل او هر انداز کښې هغه ښکلې ، خوږه او پُرکشش ښکارېده ، په دغه مشغوله کښې هغۀ ټوله شپه تکے خوب اونکړو.

سحر چې هغه په ترخو سترګو پاسېدو او ناشته يې اوکړه نو په ګاډي کښې کېناستو او کچهرۍ ته لاړو. هغۀ دَ کچهرۍ نه بهر ګاډے يو خوا ته اودرو خو دَ ګاډي نه کوز نشو بلکه په ګاډي کښې يې دَ هما دَ راتلو انتظار کوو. لږه شيبه پس ډاکټر لائبه هم راغله . هغې ګاډے يو خوا ته اودرو او دَ کوزېدو سره يې هغۀ ته کال اوکړو . دَ کال ورتلو سره هغه دَ ګاډي نه کوز شو او دَ هغې خوا له ورغی . دَ روغ جوړ نه پس هغوي دَ هما دَ وکيل دفتر ته ورغلل . ډاکټر لائبې وکيل ته دَ هغۀ



www.pukhto.net

متعلق خبره اوکړه . دَ هغې په انکشاف هغه ډېر خوشحاله شو. بيا يې دَ هغهٔ نه هم تپوسونه اوکړل او چې کله مطمئن شو نو بيا يې په يو کاغذ دَ هغه نه حلفيه بيان واخستو او په بل يې دَ هغهٔ دَ اغوا متعلق ټول واردات اوليکل . وکيل چې مخکښې په کومو نکتو بحث کول غوښتل هغه ټولې يې رد کړے ، دَ هغې دَ ريکارډ يې بيا جائزه اخستو او په نورو نکاتو يې سوچ کوو. دَ کېس په تيارېدو او دَ نکاتو په ريفرنس کښې ښه کافي وخت اولګېدو . هغه لا دَ فائل په مطالعه کښې لګيا وو چې دَ سېشن کورټ مخې ته دَ اردلي له خوا دَ هما وغېره ، اواز اوشو . دَ اواز اورېدو سره يو خوا هما دَ پوليس په نګرانۍ کښې دَ عدالت کمرې ته دننه شوه ، بل خوا دَ هما وکيل، منشيان ، ډاکټر لائبه او شاکرخان دننه ورغلل. هما تورې چشمې اچولې وې او دَ جج مخې ته په پړوني کښې پټه ولاړه وه . جج دَ هغې فائل پاڼه په پاڼه واړه وو، بيا يې دَ هغې بيان هغې ته ، سرکاري وکيل ته او دَ هما وکيل ته په اوچت اواز ووره وو. دې نه پس يې هغې ته اوکتل او وې وئيل "تهٔ دَ خپل بيان تصديق کوې؟ هغې لا څهٔ وئيلو ته خوله جوړوله چې وکيل صفائي اووے ، "جناب عالي! دا به څنګه دَ هغه بيان تصديق اوکړي کوم چې پوليس دَ ډنډې په زور دې نه اخستے دے او په خپله مرضۍ يې ليکلے دے ".

وکيلِ سرکار:. جناب عالي! ملزمې يو ځل مخکښې دَ خپل بيان تصديق کړې دے . زما په خيال دَ بيا بيا تصديق ضرورت نيشته .





ملزمې همابي بي ښهٔ په ډاګه اقرار کړې دے . چې دا دَ خپل محبوب شاکرخان عرف خان جي دَ مرګ په سازش کښې شريکه ده . دې دَ پاره زهٔ عدالت ته خواست کوم چې دَ وخت ضائع کولو نه بغېر ملزمې له سخته سزا ورکړي چې يو خوا دَ انصاف تقاضې پوره شي بل خوا دَ نورو دَ پاره يو مثال جوړ شي .

وکيلِ صفائي:. جناب عالي! وکيلِ سرکار دَ خپل استحقاق نه نهٔ صرف تجاوز کوي بلکه په جذباتي انداز دَ بدنيتۍ اظهار کوي.

جج (وکيلِ صفائي ته) "تهٔ دَ ملزمې دَ بيان په حقله څهٔ وئيل غواړے"؟

وکيلِ صفائي:.جناب عالي! لکه څنګه چې مامخکښې عرض اوکړو چې دَ ملزمې هما بي بي نه پوليس دَ ډنډې په زور بيان اخستے دے . زما موکله ، پاکه ، معصومه او باحيا بي بي ده . زهٔ په انتهائي اعتماد سره دا وئيلے شم چې نهٔ دے بې وفائي کړې ده ، نه دَ مقتول په سازش کښې ملوثه ده او نهٔ دغه سوچ کولے شي.

وکيلِ سرکار:. جناب عالي! وکيلِ صفائي دَ يوې ايمانداره محکمې دَ ايماندار پوليس اهلِ کارو په فرض شنائي بې ځايه الزام لګوي. جناب عالي! دَ وکيل صفائي دَ الزام تراشۍ دے نوټس واخستے شي ، په سختو ټکو کښې دے د دے غندنه اوشي او آئنده دَ پاره دے وارننګ ورکړے شي چې محتاط وي او دَ ذاتي عناد نه اجتناب کوي.

وکيلِ صفائي:.جناب عالي! که دَ خپل موکل يا موکلې صفائي پېش کولو ته غلط بياني وئيلې شي نو زهٔ او زما روڼه نورو وکيلان به



www.pukhto.net

تـل دَغـلط بیانۍ مرکتب وي. خو زۀ په انتهائي ذمه وارۍ سره وېلے شم چې دا بالکل حقیقت دے او زما دَ موکلي نه بیان په زور او زیاتۍ اخستے شوے دے . زما دَ موکلې نۀ دَ هغۀ قتل سره څۀ تعلق شته او نـۀ هغـه دَمقتـول دَ قتـل پـه کـېس کښې ملوثه ده . بلکه که زۀ دا اوویـم نـو دروغ به نه وي چې دا ټول کېس دَ دروغو پلنده ده او حقیقت سره هیڅ تعلق نۀ لري .

جج:. تۀ په کوم بنیاد او کوم دلیل دے کېس ته دَ دروغو پلنده وائے ؟

وکیلِ صفائي:. نه زما موکله دَ فرضي مقتول دَ قتل په سازش کښې مـلـوثـه ده او نـه شـاکـرخان عرف خان جي قتل شوے دے بلکه هغه روغ رمـټ ، صـحي سـلامـت ستـاسو په عدالت کښې موجود دے او زمـا دَ مـوکـلـې دَ بې ګـنـاهۍ دَ ثبـوت دَ پاره عدالت ته راغلے دے .

(شاکرخان ته)

راشـه خـان جي، دَ جـج صـېـب مـخـې ته اودرېږه ، شاکرخان چې دَ جج مـخـې ته اودرېږ ي نـو جـج، سرکاري وکـیـل او هـمـا حـېرانه شي چې سرپرېکړے لاش څنګه ژوندے شو او عدالت ته راغۍ .

وکـیـلِ صـفـائي جـج له دَ هغۀ حلفیه بیان او دَهغۀ دَ اغوا وارداتي بیان ورکوي .جـج چې دَ هغۀ بیانونه اولولي نو په اوچت اواز یې سرکاري وکـیـل ته اوروي . بیـا دَ هـغـۀ نـه یـو څـو تپوسونـه کوي او چې کلـه مـطمئن شي نو بیا وکیل سرکار ته وائي ، ”دَ شاکرخان عرف خان جي په باره کښې تۀ څه وېل غواړے ؟ “





وکیـلِ سـرکـار:.نه صېب ، زۀ هیڅ وېل نه غواړم ، جج دَ هما دَ فائل یو جائـزه اخلـي ، دې نه پس دَ هغې په فائل یوه مختصره فېصله لیکي او وائي ، ”عـدالـت تـه مـعـلـومـه شوه چې دَ شاکرخان عرف خان جي دَ مـرګ کـوم الـزام چې په محترمه هما بي بي لګېدلے وو او کوم بیان چې دَ هـغـې نه اخستلے شوے وو، هغه سراسر دروغ دے ځکه چې هغـه ژونـدے دے او پـه عـدالت کښې دَ هغۀ بیان واخستے شو . په دے بـنـیـاد عـدالـت دَ مـحتـرمـه هـمـا بي بي دَباعزته بري کېدوحکم ورکـوي“. دَ جج په فېصله هغوي ټول خوشحاله شو. ډاکټر لائبه هما تـه ورتـرغاړه وته او هغې له یې مبارکي ورکړه ، خو شاکرخان دَ عدالت دَ کـمـرې نه اووتو ، اودَ هغوي په انتظار کښې بهر اودرېدو . بیا هغوي درې واړه دَ مـنشیـانـو او وکیل په څنګ کښې دفتر ته لاړل . هلته یې مـنشیـانـو لـه هـم انـعـامـونـه ورکړل او پولیس اهلکارو له هم . هما دَ وکیـل په دفتر کښې سنجېده ناسته وه ، دَ هغې په خیال وګمان کښې هـم نه راتله چې شاکرخان ژوندے شوے دے ، عدالت ته راغلے دے او دَ هـغـۀ په بیان هغه بري شوې ده ځکه چې داسے خوبونه هغې ډېر لیـدلي وو. دې نــه پــس چایـې او خـوارۀ راغـلـل ، هغوي ټولو چایې اوڅکله او دَ وکیل دَ دفتر نه اووتل . په تلو تلو کښې شاکرخان ، هماته پـه مُـسـکا اووے ، ”هما، تاماته نۀ ستړي مشي اووې او نه دې دَ نوے ژوند مبارکي راکړه .“

هـمـا:. خـان جي ، که دا خوب نه وي او حقیقت وي نو تاسره زما ډېرې



www.pukhto.net

خبرې دي . چې مخکښې درته خپلې ګېلې اوکړم نو بیابه مبارکي درکوم ". په دغه تلو تلو کښې هغوي ګاډي له اورسي. ډاکټرلائبه هغوي له یوځل بیا مبارکي ورکوي، بیادَ یو ضروري کار په بهانه اودَ مازیګر دَ ملاقات په وعده دَ هغوي نه اجازت اخلي او روانیږي. شاکر خان ، هما ته وائي، "راځه هما،ګاډي کښې کېنه چې کورته ځو، زرتاجه ډېر په شدت سره ستا انتظار کوي." هما هغهٔ ته په غټو غټو ګوري او وائي ، "خان جي تهٔ ماچرته بوځے "؟

شاکرخان :. واه ، واهٔ ، تهٔ لاخبرهم نه یې. زهٔ تا خپل کورته بوځم ، ستا دَ وادهٔ سنګار شوې کمره ستاانتظار کوي ، هلته زرتاجه ، زېتون او ابو ستا انتظار کوي .

هما:. دغه ټولو ته زماله خوا سلام وایه خو زهٔ ډېرپه افسوس سره دا وایم چې هغه کورته زهٔ نشم تلے". شاکرخان هغې ته دَ ګاډي کهړکۍ لرے کوي او وائي ، Come on Huma ، راځه پلیز، ګاډي ته خېژه چې ځو ، نورې ګېلې مانے به هلته کوو.

هما:. خفه نشے خان جي خو زهٔ تاسره هغه کورته نشم تلے په کوم کښې چې زما ارمانونه اوسوزېدل ، ایرے شول او ماسره هیڅ پاتې نشو. زهٔ به هغه جېل ته واپس لاړه شم کو م نه چې راوتې یم خو هغه کور ته به لاړه نشم.

شاکرخان:.هما . . .؟ دا تهٔ واې هما . . .؟ تهٔ . . .تهٔ ؟

هما:. خان جي، په کوم کور کښې چې ماته سپیره وېلے کېږي، په کوم





کښې چې ماته قاتله وېلے کېږي او په کوم کورکښې چې زما عزت ته لاس اچولے کېږي ، زهٔ هلته څنګه اوپه کومو سترګو لاړه شم.

شاکرخان:. بیا به داسې نه کېږي، زهٔ راغلم هرڅه به ټیك ټاك شي. اوس به تاته هیڅ قسمه تکلیف نه وي . ځه چې ځو پلیز.

هما:. خان جي ، تاته اجازت دے ، تهٔ چې ماچرته بوځے ، زهٔ درسره ځم خو هغه کور ته درسره نشم تلې . د دغه کورنه . . .د دغه کورنه ماله دَ چا دَ وینو بوئیں راځي .سوري خان جي وبري سوري، زهٔ تاسره هلته نشم تلې.

شاکرخان:. دې نه دا معلومیږي چې زمونږ دَ ژوند لارې بیلې شوې.

هما:. دَ ژوند لارې دَ هرچا بیلې وي . البته دَ مرګ لاره یوه وي.

شاکرخان:. ستا دَ بې وفائۍ په باره کښې زهٔ دا وېلے شم چې هما هغه مرغۍ ده چې دَ هغې صرف اُرزو کېدېشي خو چاله په لاس ورتلې نشي .

هما:. دغه ټکوسره دَ دے ټکو اضافه هم اوکړه چې چاله په لاس ورشي نو هغه دومره ناشکرته شي چې دَ بل په لاس یې دَ مینې او وفا دَ بنو نه سپینه کړي.

هغې ایله په مشکله دغه ټکي اووې چې یوخوا نه یو ملنګ سګریټ په لاس راغۍ او دَ هغوي په خوا کښې اودرېدو، بل خوا نه یوه رکشه راغله او هغوي سره خوا کښې اودرېده . هماچې رکشه اولیده نو هغهٔ ته یې په ډکو سترګو اوکتل او ورته یې روغوندې اووې ، "الوداع" . هغهٔ هغې ته په غټو غټو اوکتل خو دَ هغې دَ الوداع



www.pukhto.net

جواب يې اونکړو او ګاډي کښې کېناستو . دواړه په يو وخت دَ بيل بيل منزل په لور روان شو . ولاړ ملنګ چې په بيلو بيلو لارو دَ هغوي روانګۍ ته اوکتل نو دَ سګريټ يولوے کش يې واخستو او دَ کش په لوګي لوګي کښې يې اووے .

نرے نرے لوګے ترې خېژي
دَ چا په نوې يارۍ اور اولګېدونه .